# عاجز پاچا

يو وخت په يو ځای کې يو پاچا وو چې يو هوښيار مشاور يې درلود. پاچا هوښيارسړي ته وويل،«يو ځای داسې يو پاچا دی چې خپل ځان ته تکړه جنګيالی، صادق او بې کبره سړی وايي.

زه پوهېږم چې هغه يو غښتلی جنګيالی دی، ځکه چې د هغه له خاورې څخه خوا او شا سمندر راګرځېدلی دی. هغه يو د بېړيو سمندري ځواک لري چې په توپونو باندې سمبال دی؛ هغوی نه پرېږدي چې څوک دې د هغوی خاورې ته ورننژدې شي. له سمندرڅخه پورې پر يوه غاړه باندې د تورو اوبو يو رېبک روان دی. هلته يوازې يوه نری پلې لاره ده، چې پر هغې باندې په يو وخت کې يوازې يو سړی تېرېدای شي، د دې لارې امنيت هم د توپونو په واسطه نیول شوی، هر کله چې پرې کوم څوک حمله پرې وکړي، هغوی پرې د توپونو ډزې کوي. دا ښېخې ناشونې ده چې څوک ان د هغه خاورې ته نژدې ورشي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا چې هغه خپل ځان ته رېښتينى سړى او بې کبره شخص وايي، زه نه پوهېږم چې آيا هغه رېښتيا وايي که دروغ؟!. نو زه غواړم چې ته ماته د هغه پاچا يو انځور راوړې.» پاچا (چې خبرې يې کولې) له هغه پاچا پرته چې په هکله يې غږېدى، نور د ټولو پاچايانو انځورونه له ځان سره درلودل. هېڅ پاچا د هغه پاچا انځور نه درلود، ځکه چې هغه خپل ځان له ټولو خلکو څخه پټ ساتى. هغه خپل ځان له خپل رعيت څخه ليرې ساتى او د پردې تر شا به کېناستى.

هوښيارسړي هغې پاچايۍ ته سفر وکړ. هغه پرېکړه وکړه چې لومړى بايد د هغې ځمکې اصلي خاصيت وپېژني. يو څوک کولى شي چې د يوې ځمکې خاصيت د هغې د خلکو له ساعت تېرۍ څخه وپېژني. د دې لپاره چې يوڅوک د يوه ځاى په هکله څه معلومات ترلاسه کړي په کار ده چې د هغه ځاى ټوکې ټکالې يادې کړي. ټوکې ډېر ډولونه لري.

ځينې وختونه يو سړى غواړي چې بل سړى د خپلو خبرو له لارې خپه کړي. کله چې دويم سړى وښيي چې هغه د لومړي په خبرو خپه شو، هغه وايي، «ما هسې ټوکې کولې». يو متل دى چې وايي، «يو سړى د بل په وړاندې هرڅه ترسره کوي ]اورلړونکي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګونې وسلې کاروي... [او بیا وایي زه فقط ټوکې کوم»

داسې هم وي چې یو څوک په ریښتیا سره ټوکې کوي، خوله دې سره، سره هم، بل شخص د هغه په خبرو خپه کیږي. د ساعت تېرۍ نور ډولونه هم شته.

داسې یوه پاچایي ده چې نورې ټولې پاچایۍ په کې شاملې دي. په هغې پاچایۍ کې چې ټولې پاچایۍ په کې شاملې دي، یو ښار دی چې د هغې پاچایۍ ټول ښارونه پکې شامل دي. په هغې پاچایۍ کې چې ټولې پاچایۍ په کې شاملې دي په هغه ښار کې چې ټول ښارونه پکې شامل دي یوه ماڼۍ ده چې ټولې ماڼۍ په کې شاملې دي. په هغه ځای کې یو سړی دی چې هرڅه یې په هغې ماڼۍ ....کې شامل کړي دي. هلته هغه سړی ناست دی چې د هغې پاچایۍ ټولې ساعت تېرۍ او ټوکې جوړوي.

هوښیار سړي ډېرې پیسې له ځان سره واخیستې او هلته ورغی. هغه د بېلابېلو ډولونو ټوکې او ساعت تېرۍ چې هلته جوړېدې، ولیدې.

له ټوکو څخه هغه یوه شو چې هغه ځمکه ټوله، سر تر پایه، له دروغو ډکه ده. هغه ولیدل چې ټوکې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هکله جوړېدلې چې ښځه خلک په کاروبار کې وغولول شي او تېر ایستل شي، او ښځه چې به خلکو یوه قضیه محکمې ته رسوله، فیصلې به پرې د دروغو او رشوت پر بنسټ وتلې. تر دې چې که به یو ځوک ستړي محکمې ته تلی، هلته به هم له دروغو پرته بل څه نه وو، او دغه قضیې به ټولې په ټوکو اوښتلې.

له دې مسخرو ښخه هوښیار سړی پوه شو چې دغه ځمکه ټوله له دروغو او خیانت ښخه ډکه ده، او هلته ریښتیا او صداقت بېخي نشته.

بیا هغه د سوداګرۍ مالونو په پېرودلو او پلورلو باندې لاس پوري کړ، پرې يې ښودل چې دی ښځه غولول کېږي. هغه خپله قضیه محکمې ته ورسوله، او ویې لیدل چې هغوی هرڅه په دروغو او رشوت سره پرمخ بېول. يوه ورځ به هغه رشوت ورکړ او په سبا به يې هغه ته ویل کېدل چې ته ځوک يې موږ دې هیڅ نه پېژنو؟!.

هغه خپله قضیه یوې لوړې محمکې ته ورسوله، او ویې لیدل چې هلته هم ټول دروغ روان دي. په پای کې هغه ستړي محکمې ته ورغی او ویې لیدل چې هلته هم هرڅه په دروغو او رشوت سره پرمخ ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې، هغه خپله قضیه پاچا ته ورسوله. کله چې هغه پاچا ته ورغی، ورته ویې ویل، «ته پر چا پاچايي کوې؟ پاچايي دې ټوله، سر تر پایه، له دروغو ډکه ده. صداقت پکې هېڅ نشته». بیا یې پیل وکړ، او د دې پاچایۍ روانې تېرایستنې یې ټولې ورته په ګوته کړې.

پاچا چې دا خبرې واورېدې خپل غوږ یې د پردې خواته ته راکوږ کړ (ځکه چې هغه د پردې تر شا ناست و) چې د هوښیار سړي خبرې په ځیر سره واوري. پاچا په دې خبره ډېرزیات حیران شو چې داسې یو سړی هم شته چې د هغه په پاچایۍ کې په ټولو دروغو باندې خبر دی.

کله چې د دولت وزیرانو د هوښیار سړي خبرې واورېدې ډېر پرې په غوسه شول، خو هغه په دې پاچایۍ کې د دروغو د چلند په هکله خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

بیا هوښیارسړي وویل،

«دا به منطقي وي چې وویل شي چې له دې امله چې ته پاچا یې، ته هم ښځي د دې نورو په څېرېې – چې ته دروغ خوښوې، ښځي لکه په پاچايي کې چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ❁ عاجز پاچا ❁

نور خلک دي، خو يو شی شته چې ماته ښيي چې ته ريښتينی سړی يې. دا چې ته د دې پاچايۍ دروغ نشې زغملی، نوخپل ځان له خپل رعيت څخه يوې ډډې ته ساتې» له دې سره، هوښيار سړي شروع وکړه چې ډېر په لوړه سويه د پاچا ستاينه وکړي.

پاچا چې ډېر بې کبره سړی و. هرکله به يې چې د لويۍ خبره کېدله، هغه به ډېره عاجزي ښودله. کله چې يو څوک په ريښتيا سره عاجز وي، څومره چې د هغه ستاينه کيږي او لويوالی يې يادېږي، هغه خپل ځان کوچنی او عاجز ښيي. له دې امله کله چې هوښيار سړي د هغه ستاينه کوله او د هغه لويي يې يادوله، پاچا ځان ډېر کوچنی او عاجز ښودی، تر دې چې هغه په ريښتيا هم هېڅ شو.

بيا نو پاچا خپل ځان ببرته نشو پورته کولی. هغه پرده يوې خواته کړه چې هوښيار سړی ووينې. هغه غوښتل وګوري چې هغه څوک دی چې په دې ټولو خبرو باندې خبر دی، خو کله چې پاچا دا کار وکړ، هوښيار سړي د هغه مخ وليد. په دې توګه، هوښيار سړي وکولی شول چې خپل تر لاس لاندې انځور وکاږي او خپل پاچا ته يې ورووړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوښیار سږی او ساده سږی

یو وخت په یوه ښار کې دوه د کورونو ښتنان وو. هغوی پراخه شتمني او لوی کورونه لرل. دغو دواړو د کورونو ښتنانو دوه زامن (یعنې، هر یوه یې یو، یو زوی) لرل. دواړو ماشومانو یو د بل سره یو ځای په یوه ښوونځي کې زده کړې کولې. په هغوی کې یو هوښیار او بل ساده وو. (داسې نه چې کم عقل وو؛ بلکه د هغه فکر ساده او ناپیچلی وو.) د هغو دواړو زامن یو پر بل ډېر ګران وو. سره له دې چې یو یې هوښیار او بل یې ساده ذهن درلود، خو بیا هم پر یوبل ډېر سره ګران وو.

وختونه تېرېدل، د دواړو کورونو د ښتنانو شتمني پسې کمېدله. هغه همداسې پسې ښکته تلل تر هغه چې هر څه یې له لاسه ورکړل او بېوزلي شول، او له کورونو څخه پرته نور هېڅ هم ورپاتې نه شول.

زامنو په لویېدلو پیل وکړ، پلرونو خپلو زامنو ته وویل، «مونږ نور داسې څه نه لرو چې ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګښت پرې وکړو او مرسته درسره وکړو. تاسو د خپلو ځانونو له پاره هر څه چې کولی شئ ويې کړئ.»

ساده سړی لاړ او موچيتوب يې زده کړ. دا چې هوښيار سړی ځيرک وو نو داسې ساده کار ته لا نه ړی، نو پرېکړه يې وکړه چې بهر نړۍ ته ووځي او وګوري چې څه کولی شي. هغه لاړ او په بازار کې يې لټون پيل کړ. هغه يوه لويه بېړۍ وليده چې په څلورو اسونو پورې تړلې وه او چټکه، چټکه روانه وه. هغه له سوداګرو څخه پوښتنه وکړه، «تاسو د کوم ځای ياست؟»

هغوی ځواب ورکړ، «د اروپا.»

«او تاسو چېرې ځئ؟»

هغوی ځواب ورکړ، «اروپا ته.»

هغه له هغوی څخه پوښتنه وکړه، «مزدور مو په کار دی؟»

هغوی وليدل چې هغه ځيرک او لېوال دی، نو هغوی ته مناسب ښکاره شو او هغوی له ځان سره بوتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له هغوی سره روان او د سفر پر وخت يې د هغوی ډېر ښه خدمت وکړ.

کله چې هغوی په ختيځه اروپا کې وارسا ته ورسېدل، دا چې هغه هوښيار وو، هغه له ځانه سره فکر وکړ، «دا چې زه تيار وارسا ته رارسېدلی يم، ولې بايد زه له دغو سوداګرو سره پاتې شم؟ ښايي چې له دوی سره د پاتې کېدلو په پرتله ښه فرصت ترلاسه کړم. ښه دا دی چې لاړ شم او وګورم.»

هغه په بازار کې وګرځېد، او د هغو خلکو په هکله يې پوښتنې ګروېږنې پيل کړې چې دی يې دلته راوستلی وو، او دا چې آيا له هغوی څخه غوره نور څوک شته. خلکو هغه ته وويل چې دغه خلک (چا چې هغه دلته راوستلی وو) ريښتيني دي او دا به ښه وي چې دی له هغوی سره اوسي. البته، دا ډېره سخته وه چې له هغوی سره پاتې شي، ځکه چې د هغوی سوداګري په ډېرو ليرو ځايونو کې وه.

هغه وګرځېد او د يوې مغازې کارکوونکي يې وليدل چې په بازار کې ګرځېدل. هغوی په خپل مناسب دود چې هغوی ورسره اشنا وو، له خپلو خوليو او د اوږدو څوکو لرونکو بوټانو او نورو سوتره شيانو سره چې هغوی له ځانونو سره لرل او اغوستي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېدل. هغه چې ځيرک او ژر زده کوونکی ځوان سړی وو، او دا له هغه سره ډېره ښه جوړېده، ځکه چې دا يو ځانګړی شی و، او په هغه ځای کې و چېرې چې دی اوسېدی.

هغه هغو خلکو ته ورغی چې دی يې دلته راوستلی وو چې له هغوی سره د خپلې برخې په هکله خبرې وکړي او ورته ووايي چې هغه په دې قانع نه دی چې له هغوی سره پاتې شي، او د هغه څه په بدل کې چې هغوی دی دلته راوستلی دی، هغه په لاره کې د هغوی خدمت کړی دی.

هغه لاړ او له يوه هټيوال سره يې کار پيدا کړ. هلته د کار طريقه داسې وه چې هغوی له يوې ډېرې ټيټې سطحې څخه سخت کار پيلوي او لږه مزدوري ترلاسه کوي. وروسته هغه پرمختګ کوي. هټيوال هغه سخت کار ته ورکړ، داسې چې هغه به تجارتي مالونه مهمو مشتريانو ته د کارکوونکو په ډول ور وړل چې رختونه به يې په مټ باندې را ځړولي وو. دا کار د هغه له پاره ډېر سخت و. ځينې وختونه اړينه وه چې هغه بايد خپل تجارتي مال پاس يوه بل منزل ته پورته کړی وای، او دغه کار د هغه له پاره ډېر سخت و. هغه (چې يو فيلسوف او هوښيار و) له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې فکر وکړ «ولې زه دغه کار ته اړتيا لرم؟ لويه خبره دا ده چې زه اصلي هدف ترلاسه کړم: چې واده وکړم او وکولی شم چې خپل ځان سنبال کړم. زه لا تر اوسه دې ته اړتيا نه لرم چې د هغه په هکله فکر وکړم. د هغه له پاره به زه وروسته هم وخت ولرم. په دغه وخت کې، دا زما له پاره غوره ده چې په نړۍ کې وګرځم، چې ډېر هېوادونه ووينم.»

نو هغه لاړ او په بازار کې وګرځېد، هغه سوداګر وليدل چې په يوه لويه بګۍ کې سپاره وو. هغه له هغوی څخه پوښتنه وکړه، «تاسو چېرې روان يئ؟»

هغوی ځواب ورکړ، «جنوبي اروپا».

هغه له هغوی څخه غوښتنه وکړه، «کولی شئ چې ما درسره هلته بوځئ؟»

هغوی وويل، «هو»

هغوی هغه هلته بوتلی. له هغه ځای څخه هغه ايټاليا ته لاړ، او له هغه ځای څخه هغه مخکې هسپانيا ته لاړ. په دې کې ډېر کلونه تېر شول او هغه د ډېرو هېوادونو د ليدلو له امله لا ډېر د لوړ فکر خاوند شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له ځان سره فکر وکړ، «اوس مناسبه ده چې د ژوند د هدف په هکله غور وکړي.» هغه د خپلې فلسفې له مخې په دې هکله فکر کول شروع کړل چې څه وکړي. دا هغه ته ښه ښکاره شوه چې زرګري زده کړي، چې مهمه ده، ښه کار دی، ښې پوهې ته اړتيا لري؛ او ګټور کار دی. دا چې هغه ځيرک او فلسفي وو، نو دې ته يې اړتيا نه لرله چې د دغه کسب په زده کړه باندې کلونه ولګوي – يوازې د کال په څلورمه برخه وخت کې هغه دا مهارت ترلاسه کړ او يو ډېر ښه کسبګر ترې جوړ شو. دی له هغه کسبګرڅخه چې ده ته يې ښوونه کړې وه ډېر ماهر وګرځېد.

وروسته، هغه له ځان سره فکر وکړ، «سره له دې چې زه دغه کسب لرم، خو دا زما له پاره کافي نه دی. نن، دا مهمه ده. ښايي، په يوه بل وخت کې، يو بل شی مهم وګڼل شي.» هغه لاړ او د قېمتي کاڼو پرې کوونکي سره شاګرد شو. د هغه د ځيرکتيا له امله، هغه دغه مهارت په لنډ وخت – د کال په څلورمه برخه وخت کې زده کړ.

بيا هغه د خپلې فلسفې په اساس له ځان سره فکر وکړ، «سره له دې چې زه دوه کسبونه لرم، څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږي که دا دواړه خپل اهميت وبايلي. نو زما له پاره به ښه دا وي چې داسې يو مسلک زده کړم چې همېشه مهم وي. هغه د خپلې ځيرکتيا او فلسفې په وسيله پلټنه وکړه او دې نتيجې ته ورسېد چې هغه بايد طب زده کړي، چې دا داسې يو شی دی چې همېشه ورته اړتيا وي او عزت په کې وي. د طب د زده کړې په دوران کې، لومړی ضروري ده چې د لاتيني، پخوانۍ اروپايي ژبې ليک او لوست زده شي، او دا چې يو څوک بايد فلسفه زده کړي. هغه د خپلې ځيرکتيا په مرسته، دا هم په لږ وخت – د يوه کال په ځلورمه برخه وخت کې زده کړل. له هغه څخه يو لوی ډاکټر او فيلسوف جوړ شو چې د حکمت په ټولو برخو کې يې پوهه لرله.

بيا هغه له يوه داسې حالت سره مخامخ شو چې نړۍ د هغه په سترګو کې هېڅ ښکارېدله؛ يعنې هغه داسې فکر کاوه چې بل هېڅوک هم هېڅ ځيرکتيا نه لري. د هغه د لوی حکمت له امله، دا چې هغه يو لوی کسبګر، حکيم او ډاکټر و، په نړۍ کې هر څه ورته نه څه ښکارېدل.

هغه پرېکړه وکړه چې هغه وخت رارسېدلی دی چې د ژوند هدف ترلاسه شي يعنې دا چې هغه بايد يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه وکړي. هغه له ځان سره فکر وکړ: «که زه دلته واده وکړم، څوک به پوه شي چې له ما څخه څه جوړ شوی دی؟ ښه به دا وي چې بېرته کورته ستون شم، چې هغوی وګوري چې له ما څخه څه جوړ شوی دی – یعنې دا چې زه یو وړوکی هلک وم، او اوس داسې لوی سړی راڅخه جوړ شوی دی.» هغه لاړ او کور ته روان شو، او په لاره کې پرې ډېر تکلیفونه تېر شول. د هغه د لوړې پوهې له امله، هغه داسې څوک نه لرل چې خبرې ورسره وکړي، او نه یې داسې د شپې تېرولو ځای پیدا کړ چې د هغه خوښ شي، او هغه په ټول وخت کې ډېر زیات په تکلیف شو.

اوس راځئ چې د هوښیار سړي کیسه یوې خوا ته پرېږدو، او د ساده سړي کیسه پیل کړو.

ساده سړي موچیتوب زده کړ. دا چې هغه ساده و، هغه باید ډېره هڅه کړې وای چې زده یې کړي، خو بیا هم هغه په خپل کار کسب کې پوره ماهر نه و. هغه ښځه وکړه، چې د خپل لاسي کار څخه یې د ژوند معاش برابراوه. دا چې هغه ساده و، او په خپل کار کې ډېر ماهر نه و، له دې امله د هغه عاید ډېر کم او ناکافي و. تر دې چې هغه د خوراک له پاره هم وخت نه درلود – ځکه چې هغه باید تل کار کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای، په دې چې هغه دغه دنده نشول بشپړولی. هغه به چې کار کاوه، کله به يې چې په بوټ کې سوری اېستی او د موچي تار به يې په کې ننوېستی؛ په همدې وخت کې به يې له ډوډۍ څخه مړۍ کوله او خوړله به يې. د هغه طريقه تل ډېره خوندوره وه. هغه به تل خوشحال و. هغه هر ډول خوراک، څښاک او پوښاک درلودل. هغه به خپلې ښځې ته ويل، «ښځې، يو څه راکړه چې ويې خورم.» هغې به يوه ټوټه ډوډۍ ورکړه او هغه به وخوړه.

بيا به هغه وويل، «د لوبيا ښوروا راکړه» او هغې به هغه ته د ډوډۍ بله ټوټه ور غوڅه کړه او هغه به وخوړه. هغه به ډېره وستايله، او وبه يې ويل، «دا څومره ښه، او خوندوره ښوروا ده!» همداسې به، هغه هغې ته وويل چې غوښه او نور ښه خواړه ورکړي. بيا به هغې هغه ته ډوډۍ ورکړه، او هغه به وخوړه. او بيا به هغه ډېره وستايله، او و به يې ويل، «دا څومره ښه غوښه ده!» او نور ښه خواړه چې هغه به ډېری وختونه غوښتل هم همداسې وو. هغه به چې هر ډول خواړه غوښتل، هغې به همېشه هغه ته د ډوډۍ يوه ټوټه ورکوله. هغه به له دې څخه ډېر خوند اخيست او د خوړو ډېره ستاينه به يې کوله – چې هغه څنګه ښه ده، ښېخي داسې لکه هغه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریښتیا سره هماغه ډول خواږه خوړلي وي ځکه چې هغه به د ډوډۍ له خوړلو څخه د هرو غوښتل شویو خوړو خوند اخیست. د هغه د ډېرې ساده ګۍ او ډېرې خوښۍ له امله به هغه له ډوډۍ څخه هغه خوند اخیستی لکه په ریښتیا سره چې یې هماغه خواږه خوړلي وي.

په ورته ډول، هغه به ویل، «ښځې، شیدې راکړه چې ویې څښم.» هغې به اوبه ورکړې، او هغه به وستایلې: «دا څومره ښې شیدې دي!»

وروسته به هغه غوښتنه وکړه، «شربت راکړه.» هغې به هغه ته اوبه ورکړې، او هغه به په ورته ډول وستایلې: «دا څومره ښه شربت دی!»

«د شاتو شربت راکړه [یا کوم بل څښاک]» هغې به اوبه ورکړې، او هغه به خوښ شو او څښاک به یې وستایلی، ښخي داسې لکه هغه چې په ریښتیا سره څښلی وي.

د اغوستن په برخه کې هم همداسې وه. هغه او ښځې به یې د پسه یوه زیږ پوستین په شرکېډه کارولی. کله به چې هغه د نرمو ښو کورتۍ ته اړتیا لرله، د بېلګې په توګه، چې بازار ته لاړ شي، هغه به ویل، «ښځې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پسه د نرمو ښو کورتۍ راکړه.» هغې به هغه ورکړه.

کله به چې هغه اړتيا لرله چې د ميلمستيا کالي واغوندي چې د خلکو مجلس ته لاړشي، هغه به ويل، «ښځې، د ميلمستيا کالي **مې** راکړه.» هغې به د پسه پوستين ورکړ. هغه به پرې خوښ شو او و به يې ستايله: «څه ښايسته ميلمستياکالي دي!»

کله به چې هغه د کتان چپنې ته ضرورت درلود، چې لمانځه ته لاړ شي، هغه به ويل، «ښځې، چپنه راکړه.» هغې به د پسه پوستين ورکړ. هغه به وستايله او و به يې ويل، «دا څه ښايسته چپنه ده!»

همدارنګه، کله به چې هغه غوښتل چې يوه ورېښمينه کورتۍ واغوندي، بيا به هم هغې ورته د پسه پوستين ورکړ، او هغه به بيا خوشحاله شو او وبه يې ستايله [وبه يې ويل]، «دا څومره ښه د ښو ورېښمو کورتۍ ده!» او همداسې به له ټولو شيانو سره خوښ او خوشحال وو.

کله به چې هغه يو بوټ جوړ کړ – او په غالب ګومان چې درې کونجونه به يې لرل، ځکه چې هغه نشول کولی چې خپل کسب په بشپړ ډول ښه وکړي – هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به بوټ په لاس کې واخیست او ښه ډېر صفت به یې وکړ، او سخت خوند به یې ترې اخیست. هغه به ویل، «ښځې، دا څومره ښایسته او ښه بوټ دی! دا بوټګی څومره خوږ دی! دا بوټګی ښېخي د شاتو اوبورې په څېر خوږ دی!»

هغې به له هغه ځخه پوښتنه وکړه، «که داسې وي، ولې نور موچیان پر یوه جوړه بوټانو درې روپۍ اخلي، او ته پرې یوازې یوه نیمه روپۍ اخلې؟»

هغه به ځواب ورکړ، «زه د هغه پروا نه لرم. هغه د هغه کار دی، او دا زما کار دی. او سربېره پر دې – ولې د نورو خلکو په هکله خبرې وشي؟ راځه چې وشمېرو چې د دغه بوټ پر سر زه څومره ګټه کوم. د څرمنې قیمت دومره دی، د سریښو او تار، او نورو شیانو قیمت دومره دی، د څرمنې تر منځ د ډکولو قېمت دومره دی، د دې ډول نورو شیانو قېمت دومره دی؛ په دې توګه زما ګټه په کې ۷۵ پوله ده. نو د داسې ګټې په صورت کې بیا ستونزه څه ده؟» هغه به تل له خوښۍ څخه سره غوړېدی او تازه کېدی.

نورو خلکو ته هغه د خندا او ټوکو سبب ښکارېدی. هغوی به چې څومره غوښتل هومره به یې ساعت تېرې پرې کوله؛ ځکه چې هغوی داسې یو څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ● هوښیار سړی او ساده سړی ●

درلود چې هغوی به پرې مسخرې کولې او ځانونه به یې پرې خوشحالول، ځکه چې هغه به هغوی ته د یوه لېونې په څېر ښکارېدی. خلک به په ارادي توګه راتلل او له هغه سره به یې خبرې پیلولې چې مسخرې پرې وکړي. ساده سړي به هغوی ته ویل، «ملنډې به نه وهئ.» او هغوی به هغه ته داسې ځواب ورکاوه، «سمه ده، ملنډې به نه وهو،» هغه به هغه څه چې هغوی به ویلي وو ومنل او له هغوی سره به یې خبرې پیل کړې. له دې اخوا، هغه به دا هڅه نه کوله چې تحلیل کړي [چې کیدای شي د هغوی ځواب هم د هغوی د ملنډې یوه برخه وي] دا تحلیل کول په خپله ملنډه ده - ځکه چې هغه یو ساده سړی وه.

کله به چې هغه په پای کې پوه شو چې د هغوی نیت ملنډې وهل دي، هغه به وویل، «نو څه خبره ده چې تاسو ترما ډېرهوښیاران یاست؟ دا به تاسو احمق وګرځوي، ځکه چې په ما څه شوي دي؟ بل لوري ته، د دې له پاره چې تاسو تر ما ډېر هوښیاران اوسئ، دا به بیا هم تاسو احمق وګرځوي!»

(دا نو د ساده سړي حال و. اوس به زه بیا د هوښیار سړي په هکله خبرې وکړم.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورته وخت کې، هلته یو لوی شور جوړ و ځکه چې هوښیار سړي سفر کړی و او بېرته له جلال او ډېرې ځېرکتیآ سره راستون شوی و. ساده سړی هم هغه ته په منډه او خوښۍ سره ورغی چې ښه راغلاست ورته ووايي. هغه خپلې ښځې ته وویل، «هله، وریښمینه چپنه مې راکړه! ځم چې خپل ګران ملګري ته مې ښه راغلاست ووایم او ویې وینم.» هغې د پسه پوستین ورته راواخیست، او ده د هغه خواته ورمنډه کړه.

هوښیار سړي په یوه بګۍ کې په جلال سره تګ کاوه. ساده سړی په ډېره مینه او خوښۍ سره د هغه خوا ته ورغی چې ښه راغلاست ورته ووايي. هغه ده ته وویل، «زما ګرانه وروره، څه حال دې دی؟ د خدای شکر دی چې ته یې دلته راوستې، او پر ما یې رحم وکړ چې ومې کولی شول چې و دې وینم»

هوښیار سړي هغه ته وکتل ... د هغه له پاره ټوله نړۍ هېڅ وه (لکه چې مخکې یاده شوه، په نړۍ کې ټولو خلکو هغه ته هېڅ اهمیت نه درلود، ځکه چې هغه خپل ځان تر ټولې نړۍ هوښیار ګاڼه) او په ځانګړې توګه داسې یو سړی چې د یوه لېوني په څېر ښکارېدی. خو، د هغوی د کوچنیوالي د وخت د ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينې له امله، هغه وخت چې هغوی يو بل ته ډېر زيات ګران وو، ده هغه ته ښه راغلاست وويل، او ښار ته ورسره لاړ.

په ورته وخت کې، دواړه د کورونوڅښتنان يعنې د دغو دوو زامنو پلارونه (هغه وخت چې هوښيار سړی په خارج کې وو) مړه شوي وو او کورونه ترې پاتې وو.

ساده سړی، چې په خپل ځای کې پاتې وو، د خپل پلار کور ته ور کډه شو او مالکيت يې ترلاسه کړ.

هوښيار سړي، چې په بهرنيو هېوادونو کې وو، داسې څوک نه لرل چې د کور پالنه يې وکړي. د هوښيار سړي کور ولوېد او خراب شو، چې هېڅ شی هم ترې پاتې نشو. نو هوښيار سړي په راستنېدلو سره د اوسېدلو له پاره کور نه درلود. هغه يوه ځانګړي مېلمستون ته لاړ، چې هلته هغه په تکليف شو، ځکه چې مېلمستون د هغه پر خوښه نه وو برابر. په دې توګه، ساده سړي اوس يوه نوې بهانه پيدا کړه [چې خوشحاله واوسي]، او هر وخت به په مينه او خوښۍ سره په منډه له خپل کور څخه هوښيار سړي ته راتلی. هغه پوه شو چې هوښيار سړی په مېلمستون کې څنګه په تکليف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده سړي هوښیار سړي ته وویل، «زما وروره، زما کور ته راشه او له ما سره واوسېږه! ته کولی شې چې له ما سره واوسېږې، او زه به مې خپل ټول شیان یوې خوا ته ټول کړم، او ټول کور به تا ته در پرېږدم.» هوښیار سړي دا خبره ومنله، نو هغه د ده کور ته ورغی او د هغه سره یې واړول.

هوښیار سړی تل په تکلیف وو، ځکه چې هغه داسې اعتبار درلود چې یو خاص هوښیار، یو لوی کسبګر او یو لوی ډاکټر و. یوحاکم هغه ته راغی او د یوې طلایي ګوتمۍ د جوړولو وینا یې ورته وکړه. هغه د هغه له پاره یوه ډېره ښه ګوتمۍ جوړه کړه چې په ډېر ښایسته ډول پرې انځورونه کښل شوي وو، یوه ونه پرې کښل شوې وه چې ډېره ښاسته وه. حاکم راغی، او ګوتمۍ ته هېڅ خوشحاله نشو. دا د هغه له پاره ډېره د خفګان خبره وګرځېده، ځکه چې هغه پوهېدی چې که دغه ګوتمۍ چې ونه پرې کیندل شوې ده په هسپانیا؛ لویدیزه اروپا کې وای، هلته به په غیرعادي ډول ښه ګڼل شوې وای، هغې ته به د یوه ریښتیني نوښت په سترګه کتل کېدل، خو هغه سړي هېڅ خوښه نه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځل، یو لوی حاکم راغی او یو قیمتي کاڼی یې له ځان سره راوړ چې له یوه لیرې وطن څخه راغلی وو. او یو بل کاڼی هم ور سره و چې یو انځور پرې کښل شوی و، او له هغه څخه یې غوښتنه وکړه چې پر لومړني کاڼي باندې چې هغه راوړی و دغه انځور وکاږي. هغه دغه انځور له یوې غلطۍ پرته چې یوازې هغه پرې پوهېدی، په دقیق ډول جوړ کړ. حاکم راغی او کاڼی یې واخیست، او ډېر یې خوښ کړ. خو هوښیار سړی د غلطۍ له امله ډېر زیات وځورېد؛ هغه له ځان سره فکر وکړ: «زه ډېر ځیرک یم، خو بیا مې هم دا غلطي وکړه.»

د طب په برخه کې، هم هغه له ستونزو سره مخامخ شو. یو ناروغ به هغه ته راغی او هغه به یې درملنه وکړه. هغه ډېر ښه پوهېدی چې که ناروغ د جوړېدو وای هغه به په ریښتیا سره رغېدلی وای ځکه چې هغه ډېر ښه درمل ورکړي وو. خو وروسته به ناروغ مړ شو؛ خلکو به ویل چې د هغه له لاسه مړ شو، او هغه به له دې امله سخت ناراحت شو.

ځینې وختونه به هغه د یوه ناروغ درملنه وکړه او ناروغ به روغ شو، او خلکو به ویل چې دا هسې یو تصادفي کار و. هغه به په منظمه توګه په تکلیف و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه، کله به چې هغه یوه غوستن ته اړتیا لرله، هغه به درځي را وغوښت او له هغه سره به یې کار کاوه او ترهغه وخته به یې پرې فشار ور وړ چې دا به یې ور وښوده چې اغوستن څنګه د هغه له غوښتنو سره سم هسې چې هغه ورسره عادت وو، جوړ کړي. خیاط به نظر ترلاسه کړ او اغوستن به یې د هغه له غوښتنو سره سم جوړکړ خو په یخن کې چې هغه به پرې سم نه و پوه شوی ترې یوه غلطي شوې وه. په دغه کار سره به هغه ډېر ځورېدی ځکه چې هغه پوهېدی چې: «ان که دلته داسې هیڅوک هم نه وي چې پرې پوه شي، که زه له داسې یخن سره په هسپانیا کې وای، په ما پورې به خنداوې کېدلې او کم عقل به ښکارېدم» او په دې توګه هغه همېشه ډېر زیات ځورېدی.

ساده سړي به په منظمه توګه مندې وهلې، او په خوښۍ او خوشحالۍ سره به هوښیار سړي ته ورتلی، خو هغه به تل لیدل چې هغه تر فشار لاندې دی او ځورېږي.

هغه له ده څخه پوښتنه وکړه، «یو څوک چې ستا په څېر هوښیار او شتمن وي، ولې باید تل داسې وځورېږي؟ ته نه ګورې چې زه تل خوشحاله یم؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار سړي ته دا ملنډه ښکارېده او هغه ده ته لېونی ښکارېدی.

ساده سړي هغه ته وويل، «ان عادي خلک، کله چې په ما پورې ټوکې کوي، هم کم عقل دي،ځکه که څه هم چې هغوی تر ما ډېر هوښياران دي، لومړی او اصلا هغوی کم عقل دي! [لکه مخکې چې ياده شوه]. دا خبره ان د داسې چا په حق کې چې ستا په څېر هوښيار وي هم سمه ده. نوځه خبره ده چې که ته تر ما ډېر هوښيار يې؟»

ساده سړي ځواب ورکړ او هوښيار سړي ته يې وويل، «که يوازې خدای پاک داسې څه وکړي چې ته زما سطحې ته راشې [يعنې، دا چې ته هم يو ساده سړی وګرځې].»

هوښيار سړي ځواب ورکړ، «دا شونې ده چې زه ستا سطحې ته در ورسېږم. که چېرې خدای مه کړه خدای پاک له ما څخه پوهه واخلي، يا دا چې که زه ناروغ شم، خدای مه کړه، کېدای شي چې زه هم ستا په څېر لېونی شم ځکه چې ته نو څه شی يې؟ خو يو لېونی يې. خو ستا له پاره چې زما سطحې ته راورسېږې؟ دا بېخي ناشونې ده چې ته دې داسې هوښيار شې لکه زه چې يم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده سړي ځواب ورکړ، «د الله تعالی له پاره هر څه اسان دي. کېدای شي چې زه د سترګو په رپ کې ستا سطحې ته در ورسېږم.»

هوښیار سړي په دې خبرې پورې ډېر زیات وخندل.

اوس دغو دواړو زامنو ته خلکو «هوښیار سړی» او «ساده سړی» ویل. هغوی به یوه ته «هوښیار سړی» ویل او بل ته به یې «ساده سړی» ویل. که څه هم چې په نړۍ کې هوښیاران او ساده خلک ډېر وو، دلته بېخي معلومه وه، ځکه چې هغوی دواړه د یوه ښار وو، او سره یو ځای یې زده کړې کړې وې، او یو یې په ریښتیا سره ډېر زیات هوښیار شوی وو، په داسې حال کې چې بل یې ډېر زیات ساده شوی وو. د سرشمېرنې په کتابونو کې چې هر څوک د هغه د کورنۍ له نامه سره ثبت و، د هغوی لقبونه د «هوښیار سړی» او «ساده سړی» په بڼه یاد شوي وو.

یو وخت، پاچا د سرشمېرنې کتاب کتی نو ویې لیدل چې هلته دوه زامن لیکل شوي دي، چې یو د «هوښیار سړي» او بل د «ساده سړي» په نومونو یاد شوي وو. دا د پاچا له پاره ډېره جالبه ښکاره شوه چې دغه دوه کسان د «هوښیار سړي» او «ساده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي» نومونه لري. پاچا ډېر وغوښتل چې له هغوی سره وګوري. خو پاچا فکر وکړ، «که چېرې زه په هغوی پسې ناڅاپه څوک ور ولېږم چې ما ته راشي، هغوی به ډېر وډار شي. هوښیار سړی به هېڅ پوه نشي چې څنګه ځواب راکړي، او ساده سړی ښایي له ډېرې وېرې لېونی شي.»

پاچا پرېکړه وکړه چې هوښیار سړي ته یو هوښیار سړی ور ولېږي او ساده سړي ته یو ساده سړی ور ولېږي. خو په یوه لوی [د پلازمېنې] ښار کې ساده سړی چېرې پیدا کېدلی شي؟ ځکه چې په لوی ښار کې خو ډېرخلک هوښیاران وي. خو دا څرګنده خبره ده چې هغه شخص چې د خزانې مسؤل و هغه یو ساده سړی دی، ځکه چې یو څوک پر خزانه باندې یو هوښیار سړی نه ګماري، په دې چې ښایي د هغه د هوښیارۍ او ځیرکتیا له لارې د هغه وطن پیسې ځان ته ووهي. له دې امله، یو څوک یو ساده سړی د خزانې مسؤل مقرروي.

پاچا یو هوښیار سړی او یو ساده سړی (چې خزاندار و) ځان ته ور وغوښتل او هغو دواړو (یعنې، هوښیار سړي او ساده سړي) ته یې ور ولېږل. هغه هغوی دواړو ته بېل، بېل لیکونه ورکړل. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه هغوی ته د ولایت په والي باندې، چې دغه دواړه زامن يې تر واک لاندې سیمه کې اوسېدل، يو ليک ورکړ. په ليک کې هغه امر وکړ چې والي بايد هوښيار سړي او ساده سړي ته د هغه په خپل نامه ليكونه ورولېږي څو هغوی ونه ډار شي. هغه بايد هغوی ته ولیکي چې مسئله عاجله نه ده، نه هم پاچا په خاص ډول څه حکم کړی دی چې هغوی دې خامخا ورشي بلکه، د هغوی خپله خوښه ده. که چېرې هغوی غواړي، بيا نو بايد ورشي. پاچا غواړي چې هغوی هسې وګوري.

دواړو قاصدانو– هوښيار سړي او ساده سړي – سفر وکړ او والي ته راغلل او هغه ته يې ليک ورکړ. والي د هغو دواړو زامنو په هکله پوښتنې وکړې، او ورته وويل شول چې هوښيار سړی ډېر هوښيار او شتمن دی، او ساده سړی ډېر زيات ساده دی، او هر ډول پوښاک يې د پسه له پوستين څخه دی (لکه مخکې چې ياده شوه.) والي پرېکړه وکړه چې دا خو ښېخي نامناسبه ده چې هغه دې د پاچا حضور ته د پسه په پوستين کې ور ولېږي، نو د ده له پاره يې مناسب لباس جوړ کړ او د ساده سړي په بګۍ کې يې ځای پرځای کړ. هغه هغوی ته، لکه مخکې چې ياده شوه، ليكونه ورکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاصدانو سفر وکړ او هغو دواړو ته ورغلل، او ليکونه– هوښيار سړي هوښيار سړي ته او ساده سړي ساده سړي ته ورکړل. ساده سړي چې څنګه خپل ليک ترلاسه کړ، ساده قاصد ته وويل چې دا چا راوړ، «زه نه پوهېږم چې په دغه ليک کې څه ليکلي دي. ته يې راته ولوله.»

هغه ځواب ورکړ، «زه به يې تاته روښانه کړم چې په هغه کې څه ليکل شوي دي. پاچا غواړي چې ته ورشې.»

هغه سمدلاسه وويل، «ټوکه خو به نه وي.»

هغه ځواب ورکړ، «نه ټوکه نه ده، بېخي رېښتيا خبره ده.»

هغه سمدلاسه ډېرخوشحال شو. هغه منډه کړه او خپلې ښځې ته يې وويل، «ښځې، پاچا راته رالېږلی دی!»

هغې پوښتنه وکړه، «د څه له پاره؟ ولې يې درته رالېږلی دی؟»

هغه وخت نه درلود چې هغې ته هېڅ ځواب ووايي. هغه سمدلاسه په خوښۍ سره هغې بګۍ ته ورمنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه چې باید د قاصد سره پکې سفر وکړي، او پکې سپور شو. دا وخت هغه کالي ولیدل (چې والي د هغه له پاره جوړ کړي وو او د هغه په بګۍ کې یې ایښي وو). هغه نور هم خوشحال شو – اوس یې نو کالي هم پیدا کړل! هغه ډېر خوشحال وو.

په دې وخت کې، پاچا ته خبر ورغی چې والي درغلي کړې ده، او پاچا هغه له کاره ایسته کړ. پاچا پرېکړه وکړه چې دا به ښه وي چې والي یو ناپېچلی سړی وي، یعنې، یو ساده سړی وي، ځکه چې یو ساده سړی به دولت په صداقت او بشپړتیا سره وچلوي، ځکه چې هغه د پرتمین نظرونه او پلانونه نه لري. پاچا فکر وکړ چې دا به ښه وي چې ساده سړی والي کړي (یعنې هغه ساده سړی چې د هوښیار سړي ملګری و، چې پاچا قاصد ورلېږلی و). پاچا یو حکم خپور کړ چې ساده سړی، چا ته چې هغه قاصد ورلېږلی، به والي وي. دا چې هغه به د والي پر ښار باندې راتېرېږي، باید چې د ښار په دروازو کې سړي ودرول شي: د هغه په رارسېدلو سره سمدلاسه، هغوی باید هغه ودروي او هغه ته د والي په توګه د چارو واګې ور وسپاري. او هغوی همداسې وکړل: هغوی په دروازو کې ودرېدل، او د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارسېدلو سره سمدلاسه، هغوی هغه ودراوه او ورته ويې ويل چې د والي په توګه مقرر شوی يې.

هغه پوښتنه وکړه، «ټوکه خو نه ده – [که څنګه؟]»

هغوی ځواب ورکړ، «بښخي نه، مونږ خو له تا سره ټوکې نه کووا!»

ساده سړی سمدلاسه والي شو، چې پوره واک او صلاحيت يې درلود. اوس چې د هغه بخت راويښ شو (او [ښه] بخت يو څوک هوښياروي) اوس هغه يو څه پوهه ترلاسه کړه. البته، هغه له خپلې ذهني پوهې څخه هېڅ کار وانه خيست. هغه په ساده ډول خپل ځان د مخکې په څېر له خپلې ساده ګۍ سره وښود او دولت يې په ساده ګۍ، ريښتينولۍ او په سمه توګه وچلاوه. هغه داسې چلند وکړ چې بښخي پکې فساد او بې انصافي نه وه. د دولت د مديريت په برخه کې، ډېرې ځيرکتيا او د پرتمين نظرونوته اړتيا نشته، يوازې ريښتينولي او ساده ګی په کار ده. کله به چې دوه کسان هغه ته د انصاف غوښتلو له پاره ورغلل، هغه به د خپلې ساده ګۍ او ريښتينولۍ له مخې له کومې دوه مخۍ او غلطۍ پرته وويل، «ته بې ګناه او ته پړ يې،» او په دې توګه به هغه هر څه په ريښتنولۍ سره اداره کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی د هغه وطن پر خلکو ډېر ګران و. هغه وفادارمشاورين لرل چې په ريښتيا پرې ګران و. د دغه ګرانښت له امله، له هغوی څخه يوه هغه ته مشوره ورکړه، «ته بايد خامخا د پاچا په حضور کې حاضر شې، ځکه چې هغه لا له مخکې څخه په تا پسې احوال درلېږلی؛ سربېره پر دې، طريقه دا ده چې يو والي بايد د پاچا حضور ته ورشي. له دې امله، که څه هم چې ته ډېر پر سمه روان يې، او پاچا به ستا له خوا د حکومت په اداره کولو کې کوم فساد پيدا نه کړي خو بيا هم، د پاچا خوی داسې دی چې د فلسفي پوهې او بهرنيو ژبو په هکله د خبرو کولو په بهير کې پر نورو موضوعاتو باندې خبرې کوي.

له دې امله، ستا له پاره به دا ښه او مناسبه وي چې وکولی شې چې هغه ته ځواب ورکړې. نو ښه به دا وي چې زه تا ته فلسفي پوهه او ژبې در وښيم.»

ساده سړي دا خبره ومنله. هغه وويل، «په دې کې څه ستونزه ده چې که زه پوهه او ژبې زده کړم؟»نو هغه دا زده کړل او د فلسفي پوهې او بهرنۍ ژبې سره بلد شو.

بيا هغه ته ناڅاپه ور په ياد شوه چې د هغه ملګري، هوښيار سړي، ويلي وو چې دا به بېخي په خيال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راوړلو وړ نه وي چې دی دې د هغه په سطحه پوهه ترلاسه کړي: «اوس ما د هغه په سطحه پوهه ترلاسه کړې ده!» (البته، سره له دې چې هغه له ماهرانه نظریاتو سره اشنا شوی و؛ هغه له خپلې [ذهني] پوهې څخه هېڅ کار وانه خیست. بلکه هغه د مخکې په څېر خپل چلند په ساده ډول وښوده.)

تر دې وروسته، پاچا ساده سړي (والي) پسې احوال ورولیږلی. او هغه [ساده سړی] هم ورغی. په پیل کې، پاچا له ساده سړي سره د دولت د پرمخ بېولو په هکله خبرې وکړې، او پاچا په ریښتیا سره ډېر خوشحال شو، ځکه چې هغه ولیدل چې هغه په امانت او پوره ریښتنولۍ سره واک چلاوه، او هېڅ بې انصافي یا خیانت یې نه کاوه. بیا پاچا د [فلسفي] پوهې او بهرنیو ژبو په هکله خبرې اترې پیل کړې. ساده سړي په مناسب ډول ځواب ورکړ، او پاچا ته دا لا ډېره په زړه پورې ښکاره شوه! پاچا وویل، «زه چې ګورم دی ډېر هوښیار دی، خو بیا هم داسې په ساده ډول چلند کوي.» پاچا ته دا ډېره، ډېره ښه ښکاره شوه، او پاچا هغه د ټولو وزیرانو پر سر وزیر کړ. پاچا امر وکړ چې هغه ته باید یو ځانګړی ښار ورکول شي، چې هغه باید هلته واوسیږي، او امر یې وکړ چې د هغه له پاره ښایسته دېوالونه جوړ کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي – ببخي داسې لکه څنګه چې ښايي. پاچا هغه ته يو سند ورکړ چې د سر وزير په توګه د هغه مقرري يې تاييدوله. او همداسې وشول؛ چې هغوی د هغه ځای چاپېر چې پاچا ورته په ګوته کړی و ډېرعجيب او ښايسته دېوالونه جوړ کړل. هغه دغه لوړ شان په قوت سره ترلاسه کړ.

اوس هوښيار سړي، کله چې د پاچا ليک ور ورسېد، هغه هوښيار شخص ته چې راوړی يې وو ځواب ورکړ، «صبر وکړه. د شپې دلته پاتې شه، او مونږ به په دې هکله خبرې اترې وکړو او پرېکړه به وکړو.»

ماښام، ده د هغه له پاره يوه ښه مېلمستيا برابره کړه. کله چې هغوی د ماښام ډوډۍ خوړله، هوښيار سړي (د ساده سړي ملګري) ژور فکر ته مخه کړه او د خپلې هوښيارۍ او فلسفې له مخې يې تحليلونه پيل کړل. هغه غږ پورته کړ او ويې ويل، «دا څه معنی لري چې پاچا دې زما په څېر يوه عادي سړي ته سړی راولېږي؟ زه څوک يم چې پاچا بايد ماته يو څوک راولېږي؟» دا څنګه کېدای شي؟ [ځکه چې هغه] داسې يو لوی پاچا دی چې داسې واک او مقام لري، او زه د داسې يوه لوی پاچا په وړاندې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادي شخص يم. آيا دا شونې ده چې پاچا ماته يو څوک راوليږي؟ که ته دا وايې چې دا زما د حکمت له امله ده، آيا زه له پاچا سره څه د مقايسې وړيم؟ او آيا پاچا هوښيار خلک نه لري؟ همدارنګه، پاچا خپله هم يو ډېر هوښيار سړی دی. دا ټول څه روان دي، چې پاچا ماته يو څوک راليږي؟» هغه له دې امله ډېر، ډېر حيران و.

هغه چې په دې هکله په حيرانتيا سره فکر کاوه، غږ کړ (هغه بل هوښيار سړي ته، هغه قاصد چې ليک يې راوړی و)، «آيا ته پوهيږې چې زه تا ته څه وايم؟ دا زما نظر دی چې دا ثابته خبره ده چې په نړۍ کې پاچا هېڅ نشته. په دې هکله ټوله نړۍ تېروتلې ده – هغوی فکر کوي چې يو پاچا موجود دی. راځه چې په دې هکله له يوه بل اړخ څخه فکر وکړو: دا څنګه کېدای شي چې ټوله نړۍ دې د يوه واحد شخص، چې پاچا ګڼل کيږي، په لاسونو کې ورکول شي؟ نو اصلا په نړۍ کې پاچا هېڅ نشته.»

هوښيار قاصد ځواب ورکړ، «ما تا ته له پاچا څخه يو ليک راوړی دی.» هوښيار سړي (د ساده سړي ملګري پوښتنه وکړه، «آيا تا ليک په نېغه د پاچا له لاسه واخيست؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځواب ورکړ، «نه. يو چا د پاچا له خوا څخه ماته ليک راوړ.»

هغه ځواب ورکړ او ويې ويل، «اوس ته په خپلو سترګو وينې چې زما خبره سمه ده، چې پاچا هېڅ نشته!» بيا، هغه له هغه څخه پوښتنه وکړه، «دومره راته ووايه، ته د پلازمينې استوګن يې؛ ته هلته لوی شوی يې – راته ووايه، آيا تا يو ځل هم پاچا ليدلی دی؟»

هغه ځواب ورکړ، «نه.» دا سمه خبره وه چې هر چا خو پاچا نه و ليدلی، ځکه چې پاچا له ډېر غيرعادي حالتونو څخه پرته نه ليدل کېدی.

اصلي هوښيار سړي يو غږ وکړ: «اوس ته کولی شي چې په ريښتيا سره هم وګورې چې زما خبره سمه ده. پاچا اصلا هېڅ نشته، ځکه چې ان تا هم هېڅکله پاچا نه دی ليدلی.»

هوښيار قاصد پوښتنه وکړه، «که خبره داسې وي، نو پر وطن باندې واکمني څوک کوي؟»

اصلي هوښيار سړي ځواب ورکړ، «دا به زه درته تشريح کړم. دا چې زه په دې هکله ډېر پوهېږم، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هکله باید له ما څخه پوښتنه وشي. له دې امله چې ما په اروپا کې ډېرو بهرنیو هېوادونو ته سفرونه کړي دي. هلته دود داسې دی چې هغوی اویا کسیزې جرګې لري چې هغوی د یوې ځانګړې دورې له پاره پر وطن باندې واکمني کوي. او هغوی د ټول هېواد واک سره وېشلی دی، چې یو په بل پسې واکونه په لاس لري. (دا لومړی خبره، یو پکې یو د جرګې غړی وي، بیا یوه درجه ښکته، او یو بل د هغه ځای نیسي او په وطن باندې واکمني کوي – چې هرځل یو بېل سړی وي.)»

د هغه خبرو پر هغه بل هوښیار سړي (قاصد) باندې اغېز پیل کړ، او خبره دې ته ورسېده چې دا د هغوی دواړو له پاره یو حقیقت وګرځېد چې په نړۍ کې هېڅ پاچا نشته.

اصلي هوښیار سړي بیا خبرې پیل کړې او ویې ویل، «تر سهاره پورې صبر وکړه؛ زه به تا ته په لا ډېر مشخص ډول وښیم چې په نړۍ کې پاچا هېڅ نشته.»

هوښیار سړی سهار پاڅېد او هوښیار قاصد یې هم راپاڅاوه، او ورته یې وویل، «له ما سره کوڅې ته راځه، زه به تا ته دروښیم چې دا ټوله نړۍ څنګه تېروتلې ده، او دا چې پاچا هېڅ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی بازار ته لاړل، او یو عسکر یې ولید. هغوی هغه ونیولی او پوښتنه یې ترې وکړه، «ته چاته نوکري کوې؟»

هغه ځواب ورکړ، «پاچا ته.»

«آیا تا په خپل ژوند کې کله پاچا لیدلی دی؟»

هغه ځواب ورکړ، «نه»

هغه (یعنې لومړني هوښیار سړي، چې د ساده سړي ملګری و، چې مونږ یې د «لومړني» هوښیار سړي په نامه یادوو» ځواب ورکړ او ویې ویل، «وګوره! داسې کم عقلي ده!» (یعنې، عسکر د پاچا خدمت کوي، خو نه یې شي لیدلی – ځکه چې لکه چې یاده شوه هوښیار سړي همېشه غوښتل چې په خپل کم عقلتوب سره ثابته کړي چې پاچا هېڅ نشته،.»

تر هغه وروسته هغوی یوه پوځي مشر ته ورغلل او له هغه سره یې خبرې پیل کړې، هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته چا ته نوکري کوې؟»

هغه ځواب ورکړ، (پاچا ته.»

«آیا تا پاچا لیدلی دی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«نه.»

نو هغه وويل، «ښه، اوس يې ته په خپلو سترګو ګورې چې، دا څرګنده خبره ده چې هر څوک غولېدلی دی، او دا چې پاچا هېڅ نشته.» (ځکه چې افسر هېڅکله پاچا نه دی ليدلی.» هغوی په خپلو منځونو کې سره ومنله چې پاچا هېڅ نشته.

لومړنی هوښيار وويل، «راځه، چې لاړ شو او په نړۍ کې سفر وکړو، او زه به په پرله پسې توګه تا ته دروښيم چې ټوله نړۍ په لويه تېروتنه کې لوېدلې ده.»

هغوی په نړۍ کې وګرځېدل. هر چېرې چې به تلل، ليدل به يې چې خلک تېروتي دي. (يعنې، هوښياران د خپل «حکمت» له لارې په داسې بې عقلۍ کې ورپرېوتل، او تر دې حده په کې وړاندې تلل چې فکر يې کاوه چې ټوله نړۍ تېروتې ده.) او د پاچا مسئله (يعنې، د هغوی په اند دا ثابته خبره وه چې پاچا هېڅ نشته) د هغوی له پاره يو متل وګرځېد. هرچېرې به چې هغوی وليدل چې خلک تېروتي دي، هغوی به پاچا د يوې پرتلې په توګه وړاندې کړ: «دا چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



’صحیح‘ دی، همدارنګه دا چې هلته یو پاچا شته – هغه هم [’صحیح‘ ] دی.»

هغوی همداسې په نړۍ کې خپل تګ او سفر ته دوام ورکړ، تر هغه چې هر هغه څه یې خلاص کړل چې ورسره وو. هغوی پیل وکړ او یو اس یې خرڅ کړ، او بیا یې بل خرڅ کړ، تر هغه چې هغوی هر څه خرڅ کړل او پر پښو باندې تګ ته اړ شول. هغوی په منظمه توګه په نړۍ کې هر څه ازمویل، او په هر څه کې دې پایلې ته رسېدل چې نړۍ تېروتې ده. هغوی سوالګر شول، پر پښو روان شول، او اوس یې نو هېڅ له ځانونو سره نه لرل. هیچا هم د هغوی په څېر سوالګرو ته هېڅ پام نه کاوه.

نو هغوی په نړۍ کې تر هغه وګرځېدل چې په پای کې هغه ښار ته ورسېدل چېرې چې وزیر (هغه ساده سړی، د هوښیار سړي ملګری) اوسېدی. په هغه ښارکې، یو ښه سړی [یو سپېڅلی او حیرانوونکی سړی] و. ښه سړي ته ډېر زیات درناوی کېدی ځکه چې هغه په ریښتیا سره لوی کرامتونه لرل. تر دې چې د دربار اشرافو هم هغه ته ډېره لویه مرتبه او درناوی لرل. دغه هوښیار سړي ښار ته راغلل، وګرځېدل او د ښه سړي د کور مخې ته ورسېدل. هغوی هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ❁ هوښیار سړی او ساده سړی ❁

ډېرې زانګوګانې ولیدلې چې له څلوېښتو څخه تر پنځوسو پورې ناروغ خلک پکې و. هوښیار سړي فکر وکړ چې دلته به یو ډاکټر وي. هغه غوښتل چې دننه ورشي او له هغه سره وګوري ځکه چې هغه خپله هم یو لوی ډاکټر و؛ هغه غوښتل چې دننه لاړ شي او هلته تماس ونیسي.

هغه پوښتنه وکړه، «دلته څوک اوسېږي؟»

خلکو ځواب ورکړ، «یو ښه سړی»

هغه په زوره، زوره وخندل او خپل ملګري ته یې وویل، «دا بل دروغ او کم عقلي ده! دا د پاچا په هکله تر تېروتنې لا ډېره د ملنډو خبره ده! ملګریه، اجازه راکړه چې د دې غلطۍ کیسه درته وکړم، چې نړۍ د دغو دروغو په هکله څنګه تېروتې ده.»

دغه وخت هغوی وږي شول او پوه شول چې هغوی لا هم درې یا څلور پوله لري. هغوی د لنګر ځای ته ورغلل. هلته یو چا کولی شوای چې د درې یا څلورو پولو په مقابل کې خواړه ترلاسه کړي. هغوی د ځانونو له پاره د خوړو غوښتنه وکړه، او هغوی ته خواړه تیار کړای شول. کله چې هغوی خواړه خوړل، نو خبرې یې کولې او د ښه سړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دروغو» او «تېروتنې» په هکله سره غږېدل (يعنې دا چې نړۍ څنګه تېروتې ده).

لنګر پخوونکي د هغوی خبرې واورېدې او ډېر زيات خپه شو، ځکه چې ښه سړي ته هلته ډېر په درنه سترګه کتل کېدل. هغه هغوی ته وويل، «څه چې لرئ هغه وخورئ او له دغه ځای څخه وځئ.»

بيا د ښه سړي يو زوی هلته راورسېد، او هغوی د هغه په مخکې هم د هغه د پلار سپکاوي ته دوام ورکړ. د لنګر پخوونکي پر هغوی باندې د ښه سړي د زوی په مخکې د هغه د سپکاوي له امله چيغې کړې، تر دې چې پخوونکي هغوی سخت ووهل، او له خپلې ودانۍ څخه يې وايستل.

هغوی ډېر زيات په غوسه شول، او غوښتل يې چې هغه سړی چې دوی يې وهلي وو محکمې ته کش کړي. هغوی پرېکړه وکړه چې د هغه ځای مالک ته ورشي چېرې چې هغوی خپل بکسونه ايښي وو، څو په دې برخه کې د هغه مشوره واخلي چې د ارزانه خوړو د پخلنځي پخوونکی چې هغوی يې وهلي وو، څنګه محاکمه کړي. هغوی لاړل او د مېلمستون خاوند ته يې وويل چې د پخلنځي مسؤل هغوی سخت ووهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له هغوی څخه پوښتنه وکړه، «ولې؟»

هغوی ورته وویل چې د ښه سړي په هکله مو خبرې کولې.

هغه ځواب ورکړ، «بېښي، دا سمه نه ده چې خلک ووهل شي، خو تا د ښه سړي پر ضد په خبرو کولو سره هېڅ ښه کار نه دی کړی، ځکه چې ښه سړي ته دلته په ډېره درنه سترګه کتل کیږي.»

هغوی ولیدل چې هغه هم «تېروتی» دی. هغوی هغه پرېښود او یوه چارواکي ته چې یو بې دینه سړی و ورغلل.

هغوی هغه ته د خپلو وهل کېدو کیسه وکړله.

هغه له هغوی څخه پوښتنه وکړه، «ولې؟»

هغوی ورته وویل چې د ښه سړي پر ضد یې خبرې کولې.

چارواکي هغوی لا ډېر ووهل او ویې شړل.

هغوی له هغه څخه لاړل، او یوه جګپوړي چارواکي ته ورغلل. هیچا هم د هغوی په حق کې انصاف ونه کړ. هغوی له یو څخه بل او له بل څخه بل ته لاړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تل به له تېر ځخه لوړپوړی و (او هیچا هم د هغوی له پاره هیڅ ونه کړل، بلکه هر ځل هغوی ښه وهل خوړل) تر هغه چې هغوی وزیر ته (چې هغه پخوانی ساده سړی و) ور ورسېدل. د لومړي وزیر د استوګنځي په مخکې ساتونکي پر پیره ولاړ وو. هغوی لومړي وزیر ته خبر ورکړ چې یو سړی د هغه پاملرنه غواړي. هغه لارښوونه وکړه چې هغه باید دننه ورشي.

هوښیار سړی سروزیر ته ورغی. هغه چې ورننوت، لومړی وزیر سمدلاسه پوه شو چې دا هغه هوښیار سړی دی چې د هغه ملګری و. خو هوښیار سړي هغه ونه پېژاند، ځکه چې هغه دومره لویه مرتبه ترلاسه کړې وه.

لومړي وزیر سمدلاسه له هغه سره خبرې پیل کړې او ورته ویې ویل، «وینې چې زما ساده ګۍ ځنګه زه دې لوړې درجې ته راورسولم، او ستا هوښیارۍ تا ته څه درکړل؟!»

هوښیار سړي خبرې پیل کړې او ویې ویل، «دا چې ته زما ملګری ساده سړی یې په دې باندې به زه او ته وروسته خبرې وکړو. اوس ما ته محکمه برابره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه چې له هغوکسانو سره حساب وکړم چې زه يې وهلی يم.»

هغه له ده څخه پوښتنه وکړه، « هغوی ته ولې ووهلې؟»

ده ځواب ورکړ، «ځکه چې ما د هغه ښه سړي پرضد خبرې کولې او ومې ويل چې هغه فريبکار او يو لوی درغلګردی.»

ساده لومړي وزير هغه ته وويل، «ته اوس هم د خپلې هوښياری په دام کې نښتی يې. وګوره، تا به ويل چې ته کولی شې چې په ساده ډول زما سطحې ته راورسيږې، خو زه نشم کولی چې ستا هغې ته در ورسيږم. اوس يې ته وينې چې زه لا د وخته ستا درجې ته رسېدلی يم [ځکه چې لکه چې ياده شوه، ساده سړی اوس ډېر هوښيار شوی هم و] خو ته لا تر اوسه پورې زما درجې ته نه يې را رسېدلی. او زه وينم چې دا ستا له پاره لا هم سخته ده چې زما ساده ګۍ ته راورسيږې.» سره له دې چې هغه له پخوا راهيسې د هغه د لويوالي له وخته له هغه سره بلد و، هغه امر وکړ چې هغه ته دې کالي ورکول شي چې وايې غوندي، او هغه له هغه څخه غوښتنه وکړه چې له هغه سره يوځای خواړه وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغوی خواړه خوړل، هغوی یو له بل سره خبرې پيل کړې، او هوښيار سړي هڅه وکړه چې خپله (احمقانه) نظريه چې پاچا هيڅ نشته ثابته کړي. ساده لومړي وزير د هغه خبره وننګوله ، «ته څه وايې؟ ما خپله پاچا ليدلی دی!»

هوښيار سړي هغه ته په خندا ځواب ورکړ، «آيا ته په رښتيا سره ډاډه يې چې هغه پاچا و؟ ته هغه خپله پيژنې؟ آيا ته دا ثابتولی شې چې د هغه پلار او نيکه پاچايان وو؟ ته څنګه پوهيږې چې هغه پاچا دی؟ خلکو تا ته وويل چې دا پاچا دی، او هغوی ستا څخه احمق جوړ کړ.»

ساده سړی د پاچا له شتون څخه د انکار پر خبره ډېر ټينګ په غوسه شو.

په همدغه وخت کې، يو څوک راغی او ويې ويل، «شيطان په تا پسې احوال رالېږلی دی.»

ساده سړي ډېر سخت ټکان وخوړ. هغه منډه کړه او خپلې ښځې ته يې ډېر په وېره سره وويل چې شيطان په هغه پسې احوال رالېږلی دی. د هغه ښځې هغه ته مشوره ورکړه چې په ښه سړي پسې احوال ورولېږي. هغه يو څوک په هغه پسې ورولېږی. ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی راغی او هغه ته يې تعويذونه او نور د خونديتابه وردونه ورکړل، او ورته ويې ويل چې اوس نو هغه بايد له هيڅ شي څخه هم ونه وېرېږي. هغه پر دې ډېره عقيده لرله.

وروسته، هوښيار سړی او ساده سړی سره ګډ کېناستل. هوښيار سړي له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته څه شي دومره ډېر ووېرولې؟»

هغه وويل، «د شيطان له امله، چې مونږ ته يې احوال رالېږلی دی.

هغه په ده پورې وخندل او ورته ويې ويل، «ته باور لرې چې شيطان شته؟!»

ساده لومړي وزير ځواب ورکړ، «بيا نو چا احوال رالېږلی و؟»

هوښيار سړي ځواب ورکړ او ويې ويل، «ډاډه اوسه، هغه زما ورور و، چې غواړي له ما سره وګوري؛ دا چل هغه ترتيب کړی او په ما پسې يې په ټوکه کې احوال رالېږلې دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده سړي له هغه څخه پوښتنه وکړه، «که خبره داسې وي، هغه څنګه له دې ټولو ساتونکو څخه راتېر شو؟»

هغه ځواب ورکړ، «څرګنده خبره ده چې هغوی ته یې رشوت ورکړی دی، او هغوی دروغ ویلي دي، چې ویلي یې دي چې هغوی هغه نه دی لیدلی.»

په دې وخت کې، یو څوک بیا راغی او د مخکې په څېر یې وویل، «شیطان تاته احوال رالیږلی دی.» دا ځل ساده سړي ټکان ونه خوړ، او نه هم وډار شو، او دا له دې امله چې هغه له ښه سړي څخه د خوندیتوب وردونه ترلاسه کړي وو.

هغه (ساده سړي) هوښیار سړي ته وویل، «سمه ده، اوس ته څه وایې؟»

هغه وویل، «زه باید تاته دا روښانه کړم. زه یو ورور لرم چې ما ته په غوسه دی، او هغه دغه لوبه د دې له پاره جوړه کړې ده چې ما ووېروي.» هوښیار سړی پورته شو او هغه ته یې چې هغوی ته راغلی و، وویل، «هغه چې مونږ ته رالیږل شوی دی هغه څنګه ښکاري؟ د هغه وېښتان څه رنګ لري [او داسې نور]؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه نورې پوښتنې وکړې.

هغه ده ته ځواب ورکړ چې هغه په یوه خاص ډول معلومېږي.

هوښیار سړي وویل، «وګوره، زما ورور په دغه ډول ښکاري!»

ساده سړي هغه ته وویل، «آیا ته له هغه سره ځې؟»

هغه ځواب ورکړ، «هو، زه به له هغوی سره لاړ شم. یوازې داسې وکړه چې ما ته یو وسله وال ساتونکی راکړه چې کوم څوک ما ژوبل نه کړي.»

هغه ده ته یو وسله وال ساتونکی ورکړ، او دواړه هوښیار سړي له هغه سړي سره لاړل چې په هغوی پسې راغلی و. (یعنې، هغوی له شیطان سره لاړل ځکه چې هغوی نه غوښتل چې په دې باور وکړي چې هغه خپله شیطان و.»

ساتونکي بېرته ځنې راغلل. ساده وزیر له هغوی څخه پوښتنه وکړه، «هوښیار خلک څه شول؟»

هغوی ځواب ورکړ چې هغوی هېڅ پوه نشول چې هغوی چېرې لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه (یعنې، د شیطان قاصد) دغه هوښیار سړي له ځانه سره ونیول او یوه له خټو ډک لښتي یا ویالې ته یې راوستل. هلته شیطان د لښتي په منځ کې پر یوه تخت باندې کېناست. لښتی د سریښ په څېر ټینګ او نښلوونکی و، او هغوی ځانونه په ختّه کې هېڅ نشول ښورولی.

هوښیارو خلکو چیغې کړې، «خبیثانو، تاسو ولې مونږ زوروئ؟ آیا په نړۍ کې د شیطان په څېر بل څه شته؟ تاسو خبیث خلک یاست! تاسو بې ګناه مونږ کړوئ!» (دا چې دغو هوښیارو سړیو لا هم نه غوښتل چې په دې باور وکړي چې شیطان شته، نو هغوی وویل چې خبیث خلک بې ګناه هغوی کړوي.

دواړه هوښیار خلک په لښتي کې پرېوتل. هغو د دغه حالت په هکله تحلیل پیل کړ: «دا څه دی؟ دوی له بدمعاشانو څخه پرته نورهېڅ هم نه دي هغه چې یو ځل مونږ ورسره جګړه کړې وه، او اوس هغوی مونږ داسې ډېر کړوي.» هوښیار سړي یو څو کاله په لښتي کې پراته وو. هغوی هلته سخت وکړول شول.

یو ځل، ساده لومړی وزیر د هغه ښه سړي د کور مخ ته تېرېدی، او خپل ملګری هوښیار سړی وریاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. هغه دننه ورغی چې ښه سړی وګوري، او هغه ته يې په مناسب ډول درناوی وکړ. ده له هغه څخه پوښتنه وکړه چې آيا کېدای شي چې هغه هوښيار سړی را وښيي؟، او آيا کولی شي چې هغه را خوشې کړي. ساده لومړي وزير ښه سړي ته وويل، «آيا ستا هغه هوښيار سړی په ياد دی چې شيطان ورپسې احوال راولېږی او کومې خوا ته يې بوتلی، او ما بيا له هغه وخت راهيسې نه دی ليدلی؟»

ښه سړي ځواب ورکړ، «هو، زما په ياد دی.»

ده له هغه څخه غوښتنه وکړه چې که هغه ځای ور وښيي چې هوښيار سړی پکې دی، چې دی هغه له هغه ځای څخه را وباسي.

ښه سړي هغه ته وويل، «زه بېخي کولی شم چې د هغه ځای تاته دروښيم او راويې باسم، خو له ما او تا پرته بل هيڅوک هلته نشي تللی.»

هغوی سره يوځای لاړل. ښه سړي هغه څه چې پرې پوهېدی وکړل، او هغوی هلته ورسېدل. هغوی وليدل چې هوښيار خلک په تېينګ لښتي کې، په ختّه کې پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هوښيار سړي لومړی وزير وليد، هغه و هغه ته ورچيغې کړې، «زما وروره! وګوره! هغوی ما وهي! او دغه بدمعاشان ما په نه خبره سخت کړوي!»

لومړي وزير پر هغه باندې نيوکه وکړه: «ته اوس هم په خپلې هوښيارۍ پورې کلک نښتی يې، او نه غواړې چې په هېڅ شي باندې باور وکړې! ته وايې چې دا خلک دي؟ اوس به ته وګورې: دا هغه ښه سړی دی چې تا نه منلی. اوس به تا ته وښودل شي چې دی يوازنی سړی دی چې کولی شي چې تا راوباسي (او هغه به تا ته ريښتيا دروښيي).»

ساده وزيرغوښتنه وکړه چې ښه سړی دې هغوی راوباسي او ورته و دي ښيي چې دا شيطان دی، او دا چې دا خلک نه دي.

ښه سړي هغه څه وکړل چې کول يې، او هغوی پرېښودل شول چې پر وچه ځمکه باندې ودرېږي. هلته ببخي لښتی نه و. شيطاني ارواګانې په دوړه باندې بدلې شوې.

بيا هوښيارسړي په لومړي ځل ريښتيا وليدل، او مجبور شو چې د خپلې خوښې پر خلاف اعتراف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هوښیار سړی او ساده سړی

وکړي، چې یو پاچا په رېښتیا سره شته، او دا چې په رېښتیا سره یو ښه سړی شته، او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوداګر او فقیر

یو وخت په یو ځای کې یو لوی سوداګر و چې ډېره شتمني یې درلوده. هغه ډېره لویه سوداګري درلوده، او مالي اسناد او لیکونه یې ټولې نړۍ ته تلل وو. هغه تر ټولو ښه هر څه درلودل.

تر هغه کښته یو فقیراوسېدی. هغه ډېر زیات غریب او په هر څه کې د شتمن سوداګر ښېخي برعکس و (داسې چې د هغوی مقامونه یو د بل پر ضد وو، څنګه چې سوداګر ډېر زیات شته درلودل په ورته وخت کې فقیر ډېر زیات فقر درلود).

هغوی دواړو کوچنیان نه لرل .سوداګر کوچنیان نه درلودل، او همداسې فقیر هم کوچنیان نه درلودل.

یو ځل سوداګر خوب ولیدی چې خلک د هغه کورته راغلي وي او شیان په کڅوړو کې اچوي او ټولوي یې. هغه پوښتنه کوي «تاسو څه کوئ؟» هغوی ځواب ورکوي «مونږ هرڅه د فقیرکره وړو» (دا هغه فقیر و چې له هغه څخه کښته اوسېدی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په دې کار سره ډېر زيات وکرېدی او ډېر نا ارام شو، ځکه چې هغوی غوښتل چې د هغه ټول شته ترې واخلي او د فقيرکره يې يوسي، او هغه نشول کولی چې هغوی له دې کار څخه په خپله غوسه راوګرځوي ځکه چې ډېر زيات خلک په دې کار بوخت وو. نا اشنا خلکو دهغه د ټولو سوداګريزو مالونو، شتمنۍ اوملکيت هر څه په کڅوړو کې ټول کړل. هغوی هر څه د فقيرکره يوړل، او له تشو دېوالونو پرته يې هيڅ هم پرېښودل.

هغه ډېر زيات خفه و، چې راپاڅيد نو پوه شو چې دا هر څه يو خوب و، خو ان وروسته له هغه چې پوه شو چې دا هرڅه يوازې يو خوب و، او د خدای شکر يې ادا کړ چې هر څه لا هم د هغه په واک کې وو، د هغه زړه ډېرپه ډار سره ټوپونه وهل. خوب هغه ډېر خپه کړ، او هغه نشول کولی چې له ذهنه يې وباسي.

سوداګر له پخوا څخه پر فقير او د هغه پر ښځې پام کولی، او هرهغه څه به يې ورکول چې وس يې پرې رسېدی. اوس تر خوب ليدلو وروسته هغه د هغوی په هکله خپله پاملرنه له مخکې څخه نوره هم ډېره کړه، خو هرکله به چې غريب سړی او ښځه يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کور ته ورغلل، د هغه په څېره کې به تغیر راغی او ډېر به وډار شو، ځکه چې هغه ته به هغه خوب وریاد شو.

هغوی، یعنې فقیراو ښځه یې، له هغه کره ډېر ورتلل او له هغه سره به یې لیدل. یو ځل، کله چې د فقیر ښځه د هغه کره ورغله، نو هغه هغې ته څه ورکړل، د هغه په څېره کې تغیر راغی، او ډېر ووېرېد او سربدال شو.

ښځې وویل، «بخښنه غواړم، کولی شې راته ووایې چې څه دلیل دی چې هر کله چې مونږ. تا ته راشو، ستا په څېره کې ډېر زیات تغیر راځي». هغه هغې ته د خپل خوب ټوله پېښه بیان کړه، او دا چې اوس له هغه وخت راهیسې د هغه زړه له وېرې ډک شوی دی .

هغې یوه ټاکلې نېټه یاده کړه او پوښتنه یې وکړه چې، «آیا خوب په هغه شپه و؟» هغه ځواب ورکړ، «هو». « د هغه معنی څه ده؟» هغې وویل، «په هغې شپې ما هم یو خوب ولید». «ما خوب ولید چې زه ډېره شتمنه یم او دا چې خلک زما کور ته راتلل اوکڅوړې یې ډکولې. ما له هغوی څخه پوښتنه وکړه چې چېرې یې وړي، او هغوی ځواب راکړ، « د فقیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کره!» (هغوی سوداګرته اشاره کوله، خو دا وخت هغوی هغه ته فقیر ویل.) ته ولې د یوه خوب په هکله دومره فکرکوې؟ خوب خو ما هم لیدلی دی».

د هغې د خوب په اورېدلو سره سوداګر نور هم ووېرېد او وارخطا شو. داسې ښکارېدل چې د هغه شتمني او ملکیت دې فقیرته ورکول کېږي او د فقیر، فقر دې ده ته راوړل کېږي. هغه ډېر سخت ووېرېد.

یوه ورځ د سوداګر ښځې په بګۍ کې سفر وکړ. هغې له ځان سره نورې ښځې بوتللې، د فقیرښځه یې هم له ځان سره بوتله، او په چکر لاړې.

د سفر پر وخت، یو جنرال او لښکر یې هم پر دغې لارې تېرېدل. کله چې پوځ تېرېدی، هغوی واټ بند کړ. جنرال ولیدل چې ښځې روانې دي، هغه حکم وکړ چې له هغوی ښځه یوه باید له ځانه سره بوځي. د هغه عسکر لاړل او د فقیرښځه یې ترې بېله کړه او مجبوره یې کړه چې د جنرال د بګۍ خوا ته ور سره لاړه شي. هغوی بیا هغه له ځان سره بوتله.

داسې لاره نه وه چې هغه دې پرې خلاصی ومومي ځکه چې په لږ وخت کې هغوی ډېر لېرې لاړل او د دې ترڅنګ، له جنرال سره یو لښکرهم و. نو جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له ځان سره کړه او خپلې سیمې ته یې یوړله. ښځه له خدای څخه ډېره ډارېده؛ هغې د هغه د غوښتنو اورېدلو ته هېڅ غوږ ونه نیوی، او ډېر یې ژړل. هغوی هغې ته ډېرې زارۍ وکړې او له هغې سره یې ډېره مینه وښوده، خو بیا هم هغې له خدای څخه ډېره وېره ښودله.

نو هغه، د سوداګر ښځه، او نورې ښځې له خپل سفر څخه بېرته را ستنې شوې، خو د فقیر ښځه نه وه.

فقیرډېر زیات ژړل، خپل سر یې په پرېشانۍ سره پر دېوال واهه، او په پرله پسې توګه یې د خپلې ښځې ماتم کولی.

یوه ورځ سوداګر د فقیر د کور ترخنګ تېرېدی، وایې ورېدل چې هغه ډېر سخت ژاړي، او خپل سر پر دېوال وهي. هغه دننه ورغی او پوښتنه یې وکړه، « ته ولې داسې ژاړې؟»

هغه ځواب ورکړ، «زه ولې ونه ژاړم؟» «ما ته څه راپاتې شول؟ څوک به شتمني لري څوک به کوچنیان لري، خو زه نور څه لرم؟ اوس مې ښځه هم راڅخه بوړل شوه، نو ما ته څه را پاتې شول؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ❁ سوداګر او فقیر ❁

د فقیر د غم او درد په لیدلو سره د سوداګر زړه سخت ودردېد او له فقیرسره یې همدردي پیدا شوه.

بیا سوداګر یو بې پروا کار وکړ، چې بېخي لېونتوب و. هغه لاړ او پوښتنه یې وکړه چې جنرال چېرې اوسېږي، او هغه لوري ته یې سفر وکړ.

هغه ډېر بې پروا کار وکړ. هغه مخامخ د جنرال کور ته ورغی. جنرال هلته ساتونکي هم درلودل، خو سوداګر، له دې امله چې پر بل حال و، هېڅ شي ته هم پام ونه کړ. هغه ساتونکیوته هېڅ پام ونه کړ.

ساتونکیو هم سخت ټکان وخوړ او چې داسې یو سړی یې ولید چې داسې وحشیانه عمل کوي نو ډېر نا ارام شول. هغه دلته څنګه راغی؟ او د خپلې پرېشانۍ له امله، ساتونکیو د هغه مخه ونه نیوله، او هغه وکولی شول چې له ټولو ساتونکیو څخه تېر شي او د جنرال تر استوګنځي پورې، چې د فقیرښځه پکې پرته وه، ځان ورسوي.

هغه هغې ته ورغی او راویښه یې کړه. ورته ویې ویل «راځه».

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغې هغه ولید، وارخطا شوه او ووېرېده، هغه هغې ته وویل، «راځه له ماسره، چټکه راځه». ښځه له هغه سره رار روانه شوه، او بیا هغوی له ټولو ساتونکیو څخه تېرشول، تر دې چې بهر ووتل، بیا نو د هغه سوچ سرته ورغی او پوه شوچې څه کاريې کړی دی، یو ډېر بېپروا کار. هغه پوه شو چې ژر به هلته یوه لویه غوغا جوړه شي، همداسې وهم شول. د جنرال د سړیو له خوا یوه لویه غوغا جوړه شوه.

سوداګر لاړ او خپل ځان یې په یوه کنده کې چې د باران له اوبو ډکه وه پټ کړ. هغوی تر هغه وخت پورې پټ وو چې غوغا پای ته ورسېده. هغه تر دوو ورځو پورې په دې کنده کې له هغې سره یوځای پاتې و.

هغې هغه لویه قرباني چې سوداګر د هغې له پاره ورکړه، او هغه لوی کړاو چې هغه د هغې له پاره پر ځان ومانه، ولیدل، نو په خدای یې قسم یاد کړ چې خپل ټول ښه بخت او طالع (شونې وه چې هغه دې څه ښه بخت، ښایي ډېر ارزښت، او طالع ولري) به له سوداګرڅخه ونه سپموي. تر دې چې که هغه وغواړي چې د هغې ټوله بریا او لویوالی واخلي، او هغه بېخي هسې شي لکه چې هغه په اصل کې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بيا به يې هم له هغه څخه ونه سپموي، خو په داسې يو ځای کې به شواهد څنګه پيدا کړای شي؟ هغې هغه کنده د يوه شاهد په توګه ونيوله.

دوې ورځې وروسته، هغه له هغې سره لاړ. هغوی وړاندې لاړل، او لاړل. هغه پوه شو چې هلته په هغه ځای کې هم د هغې لټون کېدی. دا ځل هغه لاړ او ځان يې له هغې سره په يو مذهبي حمام کې پټ کړ.

هغې د هغې لويې قربانۍ او کړاو په هکله بيا فکر وکړ چې سوداګر د هغې له پاره ګاللي وو. هغې بيا د مخکې په څېر قسم ياد کړ، (چې د هغې ټول ښنه او داسې نور) او مذهبي حمام يې د شاهد په توګه ونيول .هغوی هلته هم د يو دوو ورځو له پاره پاتې شول. او بيا روان شول او مخکې لاړل.

بيا هغه پوه شو چې دلته هم د هغې لټون روان دی. نو بيا، هغه له هغې سره پټ شو، هر ځل په يو بل ځای کې، د اوبو په اوو بېلابېلو ځايونو کې: هغه کنده او حمام چې مخکې ياد شول، يو حوض، يوه چينه، يو لښتی، يو سيند او يو ډنډ. په هر ځای کې چې هغوی پټېدل، هغې تل د هغه د ځان قرباني او کړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه د هغې له پاره پرځان ګالل، خپل ځان ته وریادول او تل به یې هسې قسم کوی لکه چې مخکې یې یاد کړی وو. هر ځل به یې ځای د یو شاهد په توګه نیوی. هغوی سفر ته دوام ورکړ، چې هر ځل به په دغو ځایونو کې پېښېدل، تر هغه چې په پای کې هغوی یوه سمندر ته ورسېدل .

څنګه چې سیند ته راورسېدل، دا چې سوداګر یو لوی سوداګر و او د سیند لارې ورته معلومې وې، هغه وکولی شول چې داسې تیاری ونیسي چې خپل وطن ته پرې ورسیږي. هغه سفر وکړ او د فقیرله ښځې سره یو ځای کور ته راغی، او ښځه یې بېرته فقیر ته ور وسپارله. هرې خوا ته خوشحالي شوه.

پر سوداګرباندې خدای له دې امله چې داسې یو نېک کار یې وکړ، او سرببېره پردې یې هغه په پوره امانت سره راوستې وه (یعنې د خدای وېره ورسره وه او هغې ته یې لاس نه و وروړی)، خدای رحم وکړ او په هغه کال یې یو زوی ورکړ. هغې (د فقیرښځې) هم چې له جنرال او سوداګر دواړو سره د پاتې کېدلو پر وخت یې د هغوی دواړو دغوښتنې په مقابل کې مقاومت کړی و، هغه هم لایقه وګڼل شوه، او یوه لور یې وزیږوله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سوداګر او فقیر

نجلۍ په ښېښارې توګه وړ او ډېره ښکلې وه. هغه داسې یوه ښکلا وه چې هغه یې له نور بشریت څخه بېله کړې وه. داسې ښکلا هېڅکله هم په انسانانو کې نه وه لیدل شوې. خلکو به ویل، «خدای دې یې له بدو سترګو وساتي» (کله چې یوڅوک داسې بې جوړې وي هغه په سختۍ سره ثمر ته رسېږي ډېر وخت له نظره کېږي). د هغې ښکلا ډېره لوړه وه، چې بېلګه یې تر دې مخکې هېڅکله هم په نړۍ کې نه وه لیدل شوي .

ټول خلک به راتلل چې هغه وګوري، او هغوی د هغې ښکلا ته، چې ډېره ښېښارې وه، ډېر حیران وو. هغوی تل هغې ته له مینې نه سوغاتونه ورکول. هرچا دومره سوغاتونه ورولېږل چې فقیرشتمن شو.

په ورته وخت کې، له سوداګر سره داسې نظر پیدا شو چې هغه باید له فقیرې سره د هغه د لور د ډېرې ښکلا له امله چې ډېره بې جوړې وه، د خپلوۍ خبره وکړي. هغه له ځان سره وویل چې ښایي دا د هغو خوبونو معنی وي چې په کې هغه څه چې د هغه وو فقیرته راوړل کېدل، او هغه چې د فقیر وو، ده ته راوړل کېدل. د خوب معنی ښایي دا وي چې هغوی باید د خپلو کوچنیانو تر منځ یو واده رامنځته کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغوی د یوځای کېدلو په پایله کې به هغه څه چې د هغوی وو د هغوی ترمنځ سره ګډ شي.

یوه ورځ چې د فقیر ښځه د سوداګر کره راغلې وه، سوداګر د هغه د دې هیلې په هکله ورته وویل چې که هغوی د خپلو کوچنیانو ترمنځ د واده له پاره تیاری وکړي. هغه وښودله چې ښایي د دې له لارې یې هغه خوبونه ریښتیا راووځي.

هغې ځواب ورکړ، «ما هم د دې په هکله فکر کاوه»، «خو ما زړه نه شو کولی چې د داسې یو واده په هکله له تاسو سره خبره وکړم. که ته غواړې، زه ښخي تیاره یم چې داسې کار وکړم، او زه به هېڅکله هم ستا مخه ونه نیسم. ما لا پخوا قسم کړی دی چې زه به هېڅکله هم له تا څخه هیڅ ښه هم ونه سپموم.»

د سوداګر زوی او د فقیرلور سره یوځای ښوونځي ته تلل، او خارجي ژبې یې، لکه څنګه چې هلته دود و، زده کړې. په ورته وخت کې به خلک راتلل چې نجلۍ د هغې د ځانګړې ښکلا له پاره وګوري، او هغوی هغې ته هومره ډېر سوغاتونه ورکړل چې فقیرشتمن شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطنتي وزیران هم راغلل چې هغه وګوري، او هغوی په هغه څه چې ویې لیدل ډېر زیات خوشحال شول. هغوی پوه شول چې د هغې ښکلا بې جوړې او ډېره لوړه ده، ځکه چې هغه له عادي بشري حدودو څخه تېره وه .

د هغې د ډېرې خیالي ښکلا له امله، له ځینو وزیرانو سره داسې نظر پیدا شو چې له فقیرسره د واده خبره وکړي. هغو وزیرانو چې زامن یې درلودل ډېرغوښتل چې زامن دې یې له هغې سره واده وکړي، خو د هغو له پاره نامناسبه ښکارېده چې داسې د یوې ټیټې طبقې له شخص سره دې واده وکړي. له دې امله هغوی اړتیا درلوده چې هڅه وکړي چې د فقیرمقام لوړ کړي .

هغوی داسې تیاری ونیو چې فقیرلومړی د امپراتور په خدمت کې د یو ډګرمن په توګه کار پیل کړي. وروسته هغه لوړاو نورهم لوړشو، ځکه چې هر ځل هغوی د هغه د ترفیع ورکړه چټکوله، تر دې چې هغه په چټکۍ سره ډېر لوړ او جنرال شو. په دې وخت کې وزیرانو غوښتل چې ور وړاندې شي او له هغه سره د واده خبره وکړي، خو دا کار سخت و، ځکه چې ډېرو وزیرانو غوښتل چې داسې وکړي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو د هغه له پاره د ترفیع د ترلاسه کولو په برخه کې هڅه کړې وه. (له دې امله، هغه ونشول کولی چې له هېڅ یوه سره هم پر واده جوړ راشي.) د دې ترڅنګ، هغه نشول کولی چې د سوداګر له امله هم له هغوی سره پر واده جوړشي، ځکه هغه لا له وخته ځرګنده کړې وه چې د هغه لور باید د سوداګر زوی ته ور واده شي.

فقیر چې اوس یو جنرال و، نورې بریاوې یې هم ور په برخه شولې. امپراتور چې به هغه هر ځل جګړو ته لیږی، بریالی به راګرځېدی. نو امپراتور نوره ترفیع هم ورکړه، په دوامداره توګه لوړه او لوړه، او هغه به تل ډېر بریالی و.

بیا امپراتور مړ شو. ټول رعیت پرېکړه وکړه چې فقیرباید نوی امپراتور شي. کله چې وزیران سره جرګه شول، هغوی ټول پر دې سره سلا شول چې هغه دې امپراتور شي.

نو هغه سړی چې پخوا فقیر و اوس امپراتور شو. هغه جګړې وکړې او ډېر بریمن شو، او ډېرې ځمکې یې ونیولې. هغه نورې جګړې وکړې، او تل بریالی راستون شو، چې په دوامداره توګه یې بریالیتوبونه ترلاسه کول، تر هغه چې ټولو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سوداګر او فقیر

پاچاهیو پرېکړه وکړه چې هغوی به په خپله خوښه د هغه واکمنۍ او حکمونو ته غاړه ږدي. ځکه چې هغوی د هغه لوی برې ولید، چې هغه د نړۍ ټوله ښکلا او هرې ښې طالع درلودې. له دې امله ټول پاچایان سره جرګه شول او پرېکړه یې وکړه چې هغه به د ټولې ځمکې امپراتور وي، او هغوی هغه ته یو په سرو زرو لیکلی سند ورکړ.

امپراتور (هغه چې مخکې فقیر و او پر ټوله نړۍ امپراتور شو) اوس نه غوښتل چې له سوداګر سره د واده تړون وکړي، ځکه چې له یوه امپراتور سره نه ښایي چې لور یې د یوه سوداګر د زوی سره واده وکړي. خو، د هغه ښځې ملکې، د سوداګر له پرېښودلو سره مخالفت وکړ. (یعنې هغه د سوداګر پر خوا ودرېده ځکه چې هغه د هغې له پاره خپل ژوند په خطر کې اچولی و، او داسې نور) او امپراتور ولیدل چې هغه نشول کولی چې د سوداګر د زوی واده د بلې نجلۍ سره وکړي، په تېره بیا له دې امله چې د هغه ښځې په کلکه سره د سوداګر ملاتړ کاوه.

نو هغه د سوداګر په اړه د ځینو پلانونو طرحه کول پیل کړل. د هغه لومړی حرکت دا و، چې هغه بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتو کړي. هغه دا ټول پلانونه داسې ترسره کول لکه هېڅ چې د هغه له خوا څخه نه وي، او هغه په دوامداره توګه داسې ترتيبات نيول چې هغه خراب کړي. يو امپراتور بې له شکه دا توان لري. هغه په دوامداره توګه د سوداګر له پاره تاوانونه، او په سوداګرۍ کې ماتې ورواړول، تر هغه چې هغه بې شتو، او يو پوره فقير، شو.

خو، ملکې په دوامداره توګه د سوداګرملاتړ کاوه. امپراتور پوه شو چې تر هغه پورې چې يې زوی ژوندی وي، (يعنې د سوداګر زوی) دا به ناشونې وي چې له بل چا سره دې يې د لور واده وشي. نو هغه داسې هڅې پيل کړې چې د سوداګر زوی له منځه يوسي. نو يو پلان يې جوړ کړ چې له هغه څخه ځان خلاص کړي، د دروغو تورونه يې ولګول، او قاضيان يې مقرر کړل چې قضيه وچلوي. قاضيان پوه شول چې امپراتورغواړي چې ځوان يوې ډډې ته کړي، نو هغوی هغه ته داسې سزا واوروله چې هغه په يوه بوجۍ کې بند او په سيند لاهو شي.

ملکه له دې امله په زړه کې ډېره غمجنه وه خو تر دې پورې چې ان ملکې هم نه شول کولی چې د امپراتور مخالفت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکه هغو خلکو ته چې وظیفه ورکول شوې وه چې ځوان سیند ته ورواچوي، ورغله. هغه د هغوی په پښو کې پرېوته، ډېرې ننواتې یې ورته وکړې چې د هغې له پاره دې هغوی هغه ته اجازه ورکړي چې لاړ شي. تر هرڅه ایسته، خو هغه د دې وړ ګرځول شوی و چې ودې وژل شي؟ هغې غوښتنه وکړه چې هغوی دې یو بل بندي چې په مرګ محکوم شوی وي، راوباسي او سیند ته دې یې واچوي، او ځوان دې خوشې کړي .

د هغې هڅو پایله ورکړه او هغوی له هغې سره قسم وکړ چې ځوان به ژغوري او هغوی همداسې وکړل. هغوی بل سړی راونیو او سیند ته یې واچاوه، او د سوداګر زوی ته یې اجازه ورکړه چې لاړ شي. هغوی هغه ته وویل، «ځه! ځه!» او هغه هم پر خپله مخه لاړ.

ځوان لا له وخته پوخ و، نوهغه په خپله مخه ولاړ. مخکې له دې، یعنې مخکې له دې چې ځوان لاړ شي، ملکې خپله لور ځان ته وروغوښته. هغې وویل، «زما لورې، ته باید پوهه شې چې دغه د سوداګر زوی په تقدیر کې ستا د ژوند ملګری دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې بیا خپلې لور ته ټوله هغه کیسه وکړه چې پرې تېره شوې وه. «سوداګر خپل ارام او خوښي زما له پاره قرباني کړل او په اوو ځایونو کې (یعنې په اووه ډوله اوبو کې) له ما سره یو ځای و، او هر ځل ما په خدای قسم کړی دی چې زه به له هغه څخه هېڅ داسې ښه چې زه یې لرم نه سپموم، او دغه اووه ځایونه [کنده، مذهبي حمام، او د اوبو اوه نور ډولونه] مې د شاهدانو په توګه نیولي دي. نو ته چې زما ټول ښه، بخت، او بریالیتوب یې؛ بې له شکه چې ته د هغه د زوی یې او د هغه زوی ستا د ژوند ملګری دی. خو ستا پلار د خپلې لویې له امله غواړي چې هغه بې له ګناه ووژني. ما لا د وخته یوه هڅه کړې چې هغه وژغورم او په بري سره مې هغوی دې ته تیار کړي چې هغه بچ کړي. نو ته باید پوهه شې چې هغه ستا د ژوند ملګری دی او ته باید په نړۍ کې له هېڅ بل سړي سره د واده له پاره موافقه ونه کړې».

نجلۍ د خپلې مور خبرې ومنلې، ځکه چې هغه هم له خدای څخه وېرېده. هغې خپلې مور ته ځواب ورکړ چې هغه به په یقین سره د هغې په خبرو عمل کوي.

نجلۍ بیا لاړه او د سوداګر زوی ته یې چې لا په محبس کې و یو لیک واستاوه. هغې ورته ولیکل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا یم او تا د خپل ژوند ملګری ګڼم. هغې هغه ته د نقشې یوه برخه ورولېږله چې ټول هغه ځایونه پرې رسم شوي وو چې د هغې مور پکې د هغه له پلار سره پټه شوې وه، چې هغه اووه شاهدان وو: کنده، مذهبي حمام، او نور ځایونه. پر هغې باندې هغې د یوې کندې، یو مذهبي حمام، او د اوبو د نورو ځایونو انځورونه کښلي وو. هغې هغه ته ډېر سخت اخطار ورکړ چې هغه باید ډېر، ډېر پام وکړي چې دغه یادښت له ځان سره وساتي. بیا هغې د لیک په پای کې په خپل نامه لاسلیک وکړ.

تر دې وروسته، همداسې پېښ شول: مسؤل شخص د هغه پرځای بل سړی راوست او د سوداګر زوی ته یې اجازه ورکړه چې لاړ شي، اوهغه پر خپله مخه لاړ.

هغه لاړ او لاړ تر دې چې سمندر ته ورسېد، هلته هغه په یوه بېړۍ کې سپور شو او په سمندر ورګډ شو. یو غښتلی طوفاني باد راوالوت، او بېړۍ یې د یوې دښتي غاړې ته وابسته. باد دومره غښتلی و چې په زور سره یې بېړۍ ماته شوه، خو سپرلي ژوندي پاتې شول، او وچې ځمکې ته ورسېدل. هلته یوه دښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، نو د ببرۍ خلک د خوړو په لټون پسې ووتل؛ هر يو د خوړو له پاره د څه په موندلو پسې شو.

له هغه ځای څخه ببرۍ نه تېرېدې، ځکه هغه يوه دښتې سيمه وه. له دې امله، هغوی داسې تمه نشول کولی چې بله ببرۍ دې راشي او هغوی دې خپلو کورونو ته ورسوي. هغوی دښتې ته لاړل چې خواړه ولټوي. نو هغوی تيت او سره بېل شول.

ځوان سړی په دښته ورننوت، لاړ او پسې لاړ، تر هغه چې له غاړې څخه ډېر ليرې شو. کله چې هغه پرېکړه وکړه چې بېرته راوګرځي، نه يې شول کولی چې دا کار وکړي. څومره چې به هغه ډېره هڅه کوله چې بېرته راوګرځي، هومره به ليرې کېدی، تر هغه چې پوه شو چې نشي کولی چې بېرته راستون شي . له دې امله، په دښته کې وړاندې او پسې وړاندې لاړ. هغه يوه لينده درلوده چې خپل ځان پرې په دښته کې د وحشي حيواناتو په وړاندې له خطر څخه وژغوري.

چېرې چې هغه لاړ، ويې کولی شول چې د خوراک له پاره يو څه ومومي. هغه لاړ او پسې لاړ تر دې چې له دښتې څخه ووت، او يو ځای ته ورسېد .هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوتش ځای و چې اوبه پکې وې او خوا او شا ترې مېوه لرونکې ونې هم راګرځېدلې وې. هغه مېوه وخوړه او اوبه یې وڅښلې.

هغه پرېکړه وکړه چې تر هغو چې ژوندی وي، دلته به اوسېږي. هغه پوه شو چې د هغه له پاره به سخته وي چې ښاري ژوند ته بېرته وروګرځي او څوک پوهېږي چې که هغه دا ځای پرېږدي آیا هغه به د دې په څېر بل کوم ښه ځای پیدا کړي؟ له دې امله هغه پرېکړه وکړه چې هم هلته پاتې شي او خپل پاتې عمر په هغه ځای کې تېر کړي.

هغه دغه ځای ډېر ګټور وګڼلی، مېوې به یې خوړې او اوبه به یې څښلې. ځینې وختونه به هغه بهر وتلی او د خپلې لیندۍ په واسطه به یې یو سوی یا هوسۍ وویشت، او غوښه به یې وخوړه. هغه به کبان هم نیول ځکه چې هلته په هغو اوبو کې ډېر ښه کبان وو. له دې امله هغه فکر وکړ چې دا به د هغه له پاره ډېره ښه وي چې د خپل پاتې عمر له پاره هلته پاتې شي.

امپراتور وروسته تر هغه چې د سوداګر زوی یې په سزا ورساوه، او له هغه څخه بېغمه شو (ځکه امپراتور فکر کاوه چې پر ځوان سړي باندې په رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره فیصله عملي شوې ده، او هغه نور په نړۍ کې نشته)، اوس یې نو کولی شول چې د خپلې لور د واده تړون وکړي. له دې امله له بېلابېلو پاچایانو سره د هغې له پاره د یوه انډول د پیدا کولو خبرې پیل شوې.

امپراتور د خپلې لور له پاره یوه ځانګړې مانۍ جوړه کړه چې هغه هلته اوسېده. هغې د اشرافو (وزیرانو) ځواني ښځې او لونې د خپلو مجلسونو له پاره ورغوښتې، او هلته اوسېده. هغې به د موسیقۍ آلې غږولې او په ورته ساعت تېریو کې به لکه خنګه چې دود و، بوخته وه.

کله به چې هغې ته د یوې جوړې وړاندیز وشو، نو هغې به تل داسې ځواب ورکاوه چې ټولې خبرې (چې د جوړې په هکله وې) به یې رد کړې، او ویل به یې چې هغه سړی چې غواړي له دې سره واده وکړي هغه دې خپله راشي. هغه د سندرو ویلو په هنر (یعنې په ښې پوهې سره د ښایسته سندرو د ترنم کولو مهارت) کې ډېره رسېدلې وه. هغې د ماهرو صنعتګرو په وسیله یو داسې ځای برابر کړ چې هغوی (د هغې غوښتونکیو) کولی شول هلته ورشي. د هغې غوښتونکی به هغې ته مخامخ هلته درېدی او خپلې سندرې به یې ویلې چې په هغې کې به د مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونه، لکه داسې عشقي لغتونه چې يو څوک يې په مينه کې خپلې معشوقې ته بولي، شامل وو.

پاچايان به راتلل چې هغه و هڅوي. هغوی به هغه ځای ته ورتلل او هر يوه به خپل نظم لوست. نجلۍ به د هغوی له ډلې څخه ځينو خلکو ته د خپلو کنيځو له لارې په يو عشقي نظم سره ځواب ورکاوه. نورو ته به، چې د هغې به ډېر خوښ شول، هغې په خپله ځواب ورکاوه. هغې به خپل غږ په سندره کې اوچت کړ او په عشقي الفاظو به يې ځواب ورکړ. او له هغو خلکو سره به چې د هغې به لا ډېرخوښ شول هغې خپله ليدل، چې مخ به يې ورته ښودی، او په شعرونو او عاطفې سره به يې ځواب ورکاوه. البته، په پای کې به هغې ټولو ته ويل، «خو پرتاسو اوبه وانه وښتې.» هيڅوک نه پوهېدی چې د هغې هدف څه دی.

هرکله به چې هغې خپل مخ وښود، خلک به د هغې د ډېرې ښکلا په ليدلو سره پر ځمکه راپرېوتل. ځينې به ناروغ او کمزوري شول .نور به د هغې د سخت اوعجب ښايست د ليدلو له امله د رامنځته شوې ناروغۍ څخه بې سده شول. له دې سره سره چې خلک بې سده او کمزوري کېدل، پاچايان به لا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سوداګر او فقیر

راتلل او له هغې سره به يې مینه څرګندوله، خو په پای کې به هغې ټولو ته سره ورته ځواب ورکولی.

په ورته وخت کې، د سوداګر زوی هلته په هماغه ځای کې پاتې شو، او د ځان له پاره يې یو ځای جوړ کړ چې په کې واوسیږي. هغه هلته استوګن شو، هغه به هم موسیقي غږوله. د سندرو په هنرکې يې مهارت درلود. هغه داسې لرګي پیداکړل چې د موسیقۍ آلې ترې جوړېدې او دغه ډول آلې يې په خپله جوړې کړې. د حیواناتو له رګونو څخه يې ورته تارونه جوړ کړل. نو دا آلې به يې ځان ته ږغولې.

د سوداګر زوی هغه یادښت له ځان سره ساتلی و چې د امپراتور لورهغه وخت ورلیږلی و چې دی په زندان کې و. هغه یادښت راواخیست او خپلې آلې به يې غږولې. هغه به ټول هغه څه چې هغه ته ور پېښ شوي وو، لکه دا چې څنګه د هغه پلار یو سوداګر و او داسې نور او دا چې څنګه هغه ایسته غورځول شوی و، وریادول .

هغه لاړ او یادښت يې واخیست او پر یوه ونه باندې يې نښه وکړه. هلته، په ونه کې دننه، هغه یو ځای جوړ کړ، او یادښت يې پکې پټ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**❁ سوداګر او فقیر ❁**

وروسته هغه د يو څه وخت له پاره هلته و، يوه ورځ، داسې يو سخت باد راوالوت چې د هغه ځای ونې يې ټولې ماتې کړې .هغه نشول کولی چې هغه ونه وپېژني چې يادښت يې پکې پټ کړی و. تر هغه وختـه پورې چې ونې ولاړې وې هغه کولی شول چې خپله نښه وپېژني، خو اوس چې ونې لوېدلې وې، دا ونه له ډېرو نورو هغو سره چې لوېدلې وې ګډه شوې وه، او هغه د هغې ځانګړې ونې د پېژندلو هېڅ نښاني نه درلودله. د هغه له پاره ناشونې وه چې ټولې سره بېلې کړي او هغه يادښت ومومي، ځکه چې هلته ډېرې زياتې ونې وې. له دې امله هغه وژړل او ډېر غمجن شو.

د سوداګر زوی پوه شو چې که هغه هلته پاتې شي ښکاره خبره ده چې لېونی به شي، ځکه چې هغه يو ډېرلوی غم ليدلی و. نو پرېکړه يې وکړه چې بايد له دغه ځای څخه لاړ شي . پروا نه کوي چې که هرڅه وربېښ شي، خو هغه بايد دغه ځای پرېږدي. که هغه داسې کار ونه کړي، نو د خپل ژور خفګان له امله به له خطر سره مخامخ شي.

نو هغه يو څه غوښه او مېوه په يوه کڅوړه کې واچول، او پر نامعلوم لوري وخوځېد. هغه به په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې نښې لګولې چې هغه به ځنې ووت. هغه تر هغه لاړ چې یو استوګنځي ته ورسېد. هغه پوښتنه وکړه، «دا کومه ځمکه ده؟» او هغوی ځواب ورکړ. هغه پوښتنه وکړه چې آیا کله مو هم د نړۍ د امپراتور په هکله اورېدلي دي. هغوی ځواب ورکړ «هو». هغه پوښتنه وکړه چې آیا د هغه د لور، د ډېرې ښکلا په هکله مو کله اورېدلي دي. هغوی ځواب ورکړ، «هو، خو ناشونې ده چې څوک دې واده ورسره وکړي،» (ځکه چې هغه هره مرکه ردوي). هغه، د دې ټکي په پام کې نیولو سره چې هغه به ونشي کولی چې هغه ځای ته لاړ شي، یوه پرېکړه وکړه. هغه د هغه وطن پاچا ته ورغی، او خپل زړه یې ورته تش کړ. پاچا ته یې وویل چې زه د هغې د ژوند رښتینی ملګری یم، او زما له امله، هغه له بل چا سره واده نه کوي. دا چې زه نه شم کولی چې هلته لاړ شم، نو زه به تاته هغه ټولې نښې درکړم چې زما سره شته، هغه اووه ځایه اوبه دي چې د فقیر ښځې ښودلي دي. هغه غوښتنه وکړه چې پاچا دې هلته لاړ شي او له هغې سره دې کوژده وکړي، او دا چې پاچا دې هغه ته د دغو معلوماتو د ورکولو اجوره ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا پوه شو چې هغه رښتيا وايي، ځکه دا ناشونې ده چې داسې کيسه دې له ځانه جوړه شي، او په دې نظر باندې هغه خوشحاله شو. هغه سوچ وکړچې هغه له هغې خوا نه شهزادګۍ له ځان سره راولي، خو ځوان به لا هم دلته وي، نودا به ښه پايله ور نه کړي. آيا بايد ويې وژني؟ هغه دومره زړه نه درلود چې داسې کار وکړي، ځکه ويل يې چې ولې بايد هغه د دې له امله ووژل شي چې ده ته يې يو خدمت کړی دی؟ له دې امله، هغه پرېکړه وکړه چې د سوداګر زوی له دغه ځای څخه دوه سوه ميله ليرې وشړي.

هلک په دې کار ډېر خپه شو، ځکه چې هغه د پاچا له پاره د يوه خدمت په ترسره کولو وشړل شو، نو يوه بل پاچا ته ورغی او کيسه يې ورته وکړه. (هغه، ځوان سړی، د سوداګر زوی، دا چې هغه لومړنی پاچا د هغه د شړلو له امله په غوسه کړ، بل پاچا ته ورغی او ټوله کيسه يې ورته له ټولو نښو سره وکړه، چې دا پاچا بايد بيړه وکړي ترڅو له ښکلا سره واده وکړي.) هغه ټولې نښې دويم پاچا ته وويلې، او هم يې يوه بله نښه پرې ور زياته کړه. هغه پاچا ته وويل چې بايد بيړه وکړې او په چټکۍ سره کار پيل کړې، څو تر لومړني پاچا مخکې شې او ځان هلته ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوې خو که هلته ژر هم ونه رسیږې ته بیا هم له لومړني ځخه یوه نښه ډېره لرې.

دویم پاچا هم د لومړني هغه په څېر فکر وکړ (یعنې چې که ځوان هلته وي دا به د ده له پاره ښه نه وي). هغه هم هغه دوه سوه میله نورهم لیرې وشړی. هغه بیا ډېرخپه شو نوهغه یو دربیم پاچا ته لاړ .هغه ته یې هم لکه د نورو په څېرتولو کیسه تېره کړه او دربیم ته هغه نورې نښې، ډېرې ښې نښې هم ورکړې.

لومړني پاچا په چټکۍ سره سفر پیل کړ او هغه ځای ته لاړ چې د امپراتور ښکلې لور پکې وه. هغه یوه سندره کمپوز کړه، او په مهارت سره یې ټول هغه ځایونه پکې یاد کړل چې شاهدان نیول شوي وو (چې هغه اوه ډوله اوبه وې، او هغه غټې نښې وې چې هغې د واده له پاره په یوه سړي کې لټولې)، خو د سندرو د قواعدو له مخې، پاچا هغه ځایونه په ترتیب سره یاد نه کړل یعني دا چې هغه باید لومړی هغه کنده، وروسته هغه مذهبي حمام او داسې نور یاد کړي وای خو هغه دا د پای له خوا وویل. مګر هغه د سندرې د فورم په پام کې نیولو سره په دې ډول وغږېد. پاچا هغه ځای ته راغی چې د هغو خلکو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره برابر شوی و چې هغه يې بدرګه کوله او خپل غزل يې ولوست.

کله چې د امپراتور لور د دغو ځايونو، چې اوږه ډوله اوبه وې، يادونه واورېدله نو ډېره حيرانه شوه. هغې يقين وکړ چې دا د هغې په تقدير کې ليکل شوی د ژوند ملګری دی. البته، هغې يو څه ناباوري درلوده ځکه د ځايونو نومونه په صحيح ترتيب سره ياد شوي نه وو، خو هغې فکر کاوه چې ښايي هغه ترتيب د شعري هنر په پام کې نيولو سره بدل کړی وي، نو پرېکړه يې وکړه چې دا به هم هغه شخص وي. هغې هغه ته وليکل چې هغې خپل ځان د هغه له پاره په نامه کړ. هرې خوا ته خوښي او خوشحالي شوه ځکه چې لويې ښکلا خپله جوړه ومونده. دوی سمدلاسه د واده تياری پيل کړ.

په همدې وخت کې هغه بل راورسېد (يعني هغه دوهم پاچا چې ځوان هغه ته هم ټولې نښې ورښودلې وې، او يوه بله يې هم ورښودلې وه) او هغه بل هم هلته [د هغې ماڼۍ ته] ځان ور ورسولی. هغه ته وويل شول چې هغې لا له وخته له يو سړي سره د واده کولو له پاره موافقه کړې ده، خو هغه د دې خبرې پروا ونه کړه. هغه وويل چې هغه داسې څه لري چې هغې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ووايي پر حالاتو باندې به يې اغېزه وکړي. هغه ځان هغې ته ور ورساوه او خپل شعر يې ولوست، اوس نو ټول ځايونه په صحيح ترتيب سره ياد شول او يوه بله نښنه هم پکې زياته شوه.

هغې وپوښتل، «نو لومړنی هغه په دا هرڅه څنګه پوهېدی؟» که هغه ريښتيا ويلي وای (چې ځوان سړي لومړی هغه ته نښې ويلي دي) دا به د هغه له پاره هم ښه نه وای، نو هغه ويل چې نه پوهېږم. هغې ته دا حالت ډېرګنګس کوونکی شو او ډېره وارخطا شوه، ځکه چې لومړني هغه هم ټول ځايونه ياد کړي وو. له هغې سره پوښتنه دا وه چې خلک څنګه کولی شي چې په دې ټولو نښو باندې وپوهېږي؟

خو چې ويې ليدل چې دويم پاچا نښې په ترتيب سره يادې کړې او دا چې يوه نښه يې اضافه ورکړه، نو دا ورته منطقي ښکاره شوه چې ياره دويم پاچا په رښتيني توګه د هغې د ژوند ملګری دی. دا ورته شوني ښکاره شوه چې ښايي لومړني هغه دغه ځايونه د دې له پاره ياد کړي وي چې د نظم د کمپوز هنر يې ذهن ته وروستي وي، خو هغې پرېکړه وکړه چې هېڅ به نه کوي. (يعنې نه يې شول کولی چې د کوم کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کولو پرېکړه وکړي، نو هغه چوپ شوه او دا يې رد کړه چې له کوم چا سره دې واده وکړي.)

ځوان سړی، يعنې د سوداګر زوی، هغه وخت چې دويم پاچا ليرې وشاړه، بيا ډېر زيات خپه شو. هغه يو درېيم پاچا ته ورغی او ټوله کيسه يې ورته وکړه، او نورې نښې، ډېرې قانع کوونکې نښې يې هم ورته ورکړې. او درېيم ته، هغه خپل ټول زړه تش کړ، ورته ويې ويل چې له زما سره يو يادښت و چې پر هغه باندې دغه ټول ځايونه (يعنې د اوبو اووه ډوله ځايونه) رسم شوي وو. هغه پاچا ته وويل چې ټول دغه ځايونه د يو کاغذ پرمخ رسم کړي او هغې ته يې ور وړي.

درېيم پاچا هم ځوان سړی له هغه ځای څخه دوه سوه ميله نورهم ليرې وشاړه، او درېيم پاچا هم هلته ور په منډو شو. هلته په رسېدلو سره، هغه ته وويل شول چې هغه نور دوه (دوه پاچايان) لا پخوا هلته رسېدلي دي. هغه وويل چې پروا نه کوي، زه بيا هم غواړم چې خپله هڅه وکړم، ځکه هغه داسې څه درلودل چې حالات به يې بېخي بدل کړي وای. خلک نه پوهېدل چې هغې ولې دغه پاچايان تر نورو ډېرغوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربيم پاچا [د هغې مانۍ ته] راورسېد او خپل نظم يې له ډېرو روښانو ښو سره، تر لومړنيو دوو ښه، ولوست. بيا يې هغې ته هغه يادښت وښود چې ټول ځايونه پرې رسم شوي وو (چې هغه په خپله رسم کړي وو.)

هغې ټکان وخوړ، خوځه يې نشول کولی، ځکه چې د لومړني هغه په ليدلو سره هم هغې فکر کړی و چې هم هغه به وي، او بيا هغه ته ورته د دويم په هکله هم. له دې امله، هغې وويل چې هغه به تر هغه وخته پورې باور ونه کړي چې کوم څوک هغې ته هغه اصلي يادښت رانه وړي.

په دې وخت کې ځوان سړي فکر وکړ چې لا به يې تر څو پاچايان لېږي، لېږي شړي؟ له دې امله هغه فکر وکړ چې هغه بايد خپله هلته (د امپراتور لور ته) ورشي. ښايي چې هغه کوم څه وکړي. نو هغه تلی، تلی تر هغه چې په پای کې هلته ور ورسېد. هغه وويل چې هغه کوم څه لري چې په ويلو سره به يې وضعه بېخي بدله شي او هغه راغی او خپل غزل يې ولوست. هغه نورې ښې، ډېرې قانع کوونکې ښې هم وښودې. هغه هغې ته ښوونځې ته په ګډه سره د هغوی د تللو او ورته نورې ښې وويلې. هغه هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هرڅه وويل يعنې دا چې څنګه هغه نور پاچايان را لېږلي او څنګه هغه يادښت په يوه ونه کې پټ کړی و، او نور هرڅه چې هغه ته ورپېښ شول .

خو هغې د دې ټولو هېڅ پروا ونه کړه. لومړنيو درې پاچايانو هم د يادښت د نه لرلو له امله خپل معذرتونه وړاندې کړي وو او دا چې هغه دې وپېژندل شي دا هم په څرګنده شونې نه وه، ځکه چې هغه ډېر پخوا تللی و. هغې رد کړه چې د ټولو نښو په هکله دې د څه پروا وکړي ترهغه چې دی هغه اصل يادښت راوړي چې هغې په خپل لاس ورته ليکلی و. هغې مخکې هم داسې فکر کړی و چې لومړنی هغه په يقين سره اصلي سړی و، او په ورته ډول هغه نور پاچايان. له دې امله، هغې نورې نښې يا ښېلګې نه غوښتلې.

ځوان سړي پرېکړه وکړه چې هغه نشي کولی چې دلته ايسار شي (يعنې هغه نشي کولی چې تر اوږدې مودې دلته پاتې شي ځکه چې که معلومه شي چې هغه دلته دی امپراتور به يې ووژني). له دې امله، هغه پرېکړه وکړه چې بېرته په دښته کې خپل ځای ته چې پخوا پکې و، ورستون شي، او خپل پاتې ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته تېر کړي. هغه تلی، تلی چې هغې دښتې ته ورشي، او په پای کې هغه هلته ورسېد.

په دې موده کې ډېر کالونه تېر شول. ځوان سړي پرېکړه وکړه چې هغه به په دښته کې واوسېږي او خپل عمر به هلته تېروي. هغه په دې نړۍ کې د یو انسان د ټول ژوند په هکله فکر کړی و او دې پایلې ته رسېدلی و چې د هغه له پاره به غوره وي چې خپل پاتې ژوند په دښته کې تېر کړي. نو هغه هلته اوسېدی او د پخوا په څېر یې مېوه او داسې نور شیان خوړل.

په ورته وخت کې، هلته یو سمندري غل و. هغه اورېدلي وو چې داسې یوه ښکلې ښځه شته، او داسې فکر یې وکړ چې ویې تښتوي. هغه خپله له هغې سره څه نشول کولی، ځکه چې هغه شنډ و، خو هغه فکر وکړ چې که یې وتښتوي کولی شي چې پر یو پاچا باندې یې په ډېرو پیسو خرڅه کړي. هغه د عمل له پاره پر یوپلان باندې کار پیل کړ.

سمندري غل چې یو بېپروا سړی و، د خپل سر په هکله یې فکر نه کوي. که هغه بریالی کېږي، بریالی کېږي به، او که نه، نو څه پروا کوي، ځکه چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سوداګر او فقیر

لکه د نورو سمندري غلو په څېر د بل چا خبرې ته غوږ نه ږدي .

سمندري غل لاړاو یوه زیاته اندازه سودا یې واخیسته، چې په ببخي ډېره پیمانه وه. هغه همدارنګه د سرو زرو مرغان هم جوړ کړل. مرغان په داسې هنر سره جوړ شوي وو چې اصلا داسې ښکارېدل لکه ژوندي چې وي، هغه داسې ښکارېدل فقط لکه د رښتیانو مرغان. هغه همدارنګه د سرو زرو دانه خورۍ جوړې کړې، چې پر هغو باندې به مرغان درېدل. مرغانو کولی شول چې په دانه خوریو باندې بې له دې چې دانه خورۍ ماتې شي، که څه هم چې مرغان به ډېر غټ وو، ودرېږي.

هغه همدارنګه په داسې طریقه کار کړی و چې مرغان پکې داسې ښکارېدل لکه چې سندرې وایي. یوه به خپله ژبه ترکوله، یوه به هیک، هیک کول، او یوه به سندرې ویلې. دا ټول په چلونو سره کېدل: د مرغانو ترشا به پر بېړۍ باندې په یوه کوټه کې خلک ناست وو، او هرڅه به دغو خلکو کول، خو داسې به ښکارېدل لکه هر څه چې خپله مرغان کوي، ځکه چې هغه په نه لیدل کېدونکو تارونو باندې سره نښلول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وو، او سړي به فکر کوی چې دا هر څه خپله مرغان کوي .

سمندري غله دا ټول شيان را واخيستل او هغې ځمکې ته ورسېد چې د امپراتور لور پکې وه. کله چې غل هغه ښار ته راغی چې هغه پکې وه، هغه خپله بېړۍ د لنګر ځای ته وربرابره کړه او لنګر يې ور واچاوه. هغه خپل ځان د يوه لوی سوداګر په توګه ښکاره کړ او خلک راغلل چې هر ډول ظريف توکي ځنې واخلي. هغه له درې مياشتو څخه هم ډېر هلته پاتې شو په داسې حال کې چې خلکو هغه ښايسته شيان چې له هغه څخه يې اخيستې وو خپلو کورونو ته وړل.

د امپراتور لورهم غوښتل چې له هغه څخه يو څه واخلي، نو هغې يو پيغام ورولېږی، چې پکې يې له هغه څخه غوښتنه کړې وه چې خپل شيان هغې ته وروړي. هغه په يو پيغام سره ځواب ورکړ چې اړتيا نه لري چې خپل د خرڅلاو توکي د پېرودونکي کور ته، ان که د امپراتور لور هم وي، ورووړي. هرڅوک چې د هغه شيان غواړي بايد هغه ته راشي. يو سوداګر مجبورنه دی چې دا ډول کار وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ سوداګر او فقیر ۞

د امپراتور لور پرېکړه وکړه چې هغه ته ورشي. او د هغې دود و چې، کله به چې هغه د خلکو منځ ته تلله، نو پر خپل مخ باندې به يې يو شال غوړوی، چې خلک د هغې مخ ونه ګوري، که نه هغوی به بې هوښه شي او د هغې د ښکلا د ليدلو له امله به ناروغ شي .

د امپراتور لور په داسې حال کې چې مخ يې په شال پټ و، بهر ووتله، او خپلې سهيلۍ يې له ځان سره کړې. د سپاهيانو يوې ډلې د هغې ساتنه کوله. هغه په نوم سوداګر ته (چې په اصل کې غل و) ورغله، د هغه ځينې جنسونه يې واخيستل، او پر خپله لاره ولاړه.

سوداګر وويل، «که ته بيا راشې زه به لا ښايسته شيان چې په رښتيا سره حيرانوونکي دي در وښيم.» په دې سره هغه کورته ستنه شوه.

ترهغه وروسته هغه بيا راغله، ځينې جنسونه يې واخيستل، او بيا کور ته ستنه شوه. سمندري غل تر څه وخته پورې هلته پاتې شو، او هغه د هغه له ليدلو سره بلده شوه. هغه به هغه ته ډېره راتلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یوه ورځ هغه سوداګر ته راغله او هغه لاړ او د ورېږ کوټې لوري ته ور یې پرانست چې د سرو زرو مرغان او داسې نور شیان پکې وو. هغې وکولی شول چې هغوی وګوري، او هغه یوه حیرانوونکې ننداره وه. نورو خلکو چې له هغې سره وو هم غوښتل چې ورېږ کوټې ته ورشي .

هغه وویل، «نه، نه، زه دا له تا پرته بل چا ته نه ښیم ځکه ته د امپراتور لور یې، که نه زه نه غواړم چې نورو ته یې ښېخي وښیم.»

هغه دننه یوازې ور سره لاړه. هغه هم کوټې ته ورننوت، او له دننه خوا څخه یې ور قفل کړ. بیا هغه یو خام کار وکړ. له هغې څخه یې کالي واېستل او هغه یې په یوه بوجۍ کې واچوله.

هغه بیا د خپلو مانوګانو له ډلې څخه یوه ته د هغې کالي ورواغوستل، د هغه پرمخ یې شال ور وغوړاوه، او بهرته یې ټېل واهه، او ورته ویې ویل «ځه.»!

مانو نه پوهېدی چې په هغه به څه کیږي. څنګه چې هغه راووت په داسې حال کې چې مخ یې په شال باندې پټ شوی و، سپاهیان چې نه پوهېدل چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک دی په بېړه له هغه سره روان شول. هغوی فکر کاوه چې هغه د امپراتور لور ده .

مانو له ډلې سره هغه لورې ته لاړ چې هغوی ورښوده، او هغه نه پوهېدی چې هغه چېرې دی. نو هغه د امپراتور د لور کوټې ته ورغی. کله چې د هغه مخ لوڅ کړای شو هغوی ولیدل چې هغه یو مانو دی! هلته یوه لویه غوغا جوړه شوه، او د مانو مخ په ځیږو شین شو، او بهر ته وغورځول شو. هغه ګرم نه و ځکه چې هغه د دې شیانو په هکله هېڅ خبر نه و.

سمندري غل چې د امپراتور لور یې نیولې وه پوهېدی چې هغه به خامخا تعقیبیږي. هغه بېړۍ پرېښوده او خپل ځان او نجلۍ یې په یوه کنده کې چې د باران له اوبو ډکه وه، پټ کړل تر هغه چې بلوا پای ته ورسېده. هغه خپلو مانوګانو ته امر وکړ چې لنګر پرې کړي او په چټکۍ سره دغه ځای پرېږدي، ځکه چې بې له شکه چې هغوی به تعقیب شي. په یقین سره چې هغوی به پر بېړۍ باندې ډزې ونه کړي، ځکه داسې به ګڼي چې د امپراتور لور په بېړۍ کې ده. هغه وویل، «بلکې هغوی به تاسو تعقیب کړي، له دې امله تاسو باید په چټکۍ سره دغه ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږدئ!، او که هغوی تاسو ونیسي، نو څه؟». هغوی لکه د نورو غلو د خپلوځانونو هېڅ پروا نه کوله (هغوی د خپلو ځانونو هیڅ په کیسه کې نه وو).

پېښنه داسې وشوه لکه چې وړاندوینه یې شوې وه. یوه لویه غوغا جوړه شوه او په چټکۍ سره هغوی تعقیب شول، خوهغوی د امپراتور لور هلته پیدا نه کړه. سمندري غله خپل ځان له هغې سره یو ځای هلته د باران د اوبو په یوه کنده کې پټ کړ اوهغوی هلته پاتې شول.

سمندري غله هغه وګواښوله چې چیغې ونه وهي او خلک یې غږ وانه وري. هغه هغې ته وویل، «ما خپل ژوند ستا له پاره په خطر کې واچاوه چې ودې نیسم، خو که زه تا بېرته له لاسه ورکړم او که ته له ما څخه بېرته واخیستل شې، بیا به زما ژوند زما له پاره هېڅ ارزښت ونه لري. له دې امله، څنګه چې ته چیغې ووهې، سملاسي به زه ستا ستونی خفه کړم. هغه سخته وېرېدلې وه (د امپراتور لور چې له غله سره په کنده کې پرته وه د هغه د ګواښ له امله وېرېدلې وه چې چیغې ونه وهي).

وروسته هغه له هغې سره یو ځای له دغه ځای څخه لاړ او هغه یې یوه ښار ته راوستله. هغوی تلل، تلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغه چې داسې یو ځای ته ورسېدل چې هلته غل پوه شو چې خلک د هغه لټه کوي. هغه بیا خپل ځان له هغې سره یو ځای، دا ځل په یو مذهبي حمام کې پټ کړ.

وروسته هغه دا ځای هم پرېښود او یو بل ځای ته راغی، او هلته هم هغه له هغې سره په یو بل ډول اوبو کې پټ شو. په دې توګه هغه هر ځل له هغې سره په یو بل ډول اوبو کې پټېدی، تر دې چې هغه له هغې سره په اوو ډولو داسې اوبو کې پټ شو چې سوداګر د هغې له مور سره پټ شوی و، چې اووه شاهدان او داسې نورهم له هغو ښځه تشکیل شوي وو.

په پای کې، هغه له هغې سره یوه سمندر ته ورسېدی. هڅه یې وکړه چې لړترلړه یوه د کب نیونکي بېړۍ پیدا کړي چې له هغې سره پرې له سمندر څخه تېر شي. هغه یوه بېړۍ وموندله، او د امپراتور لور یې له ځان سره کړه.

هغه خپله هغې ته اړتیا نه درلوده، ځکه چې هغه شنډ و، بلکې غوښتل یې چې پر یوه پاچا باندې یې خرڅه کړي، خو وېره یې لرله چې ښایي کوم څوک هڅه وکړي او له هغه څخه یې په زور واخلي. له دې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ سوداګر او فقیر ۞

هغه هغې ته د یوه مانو کالي ورواغوستل، چې د یو سرې په بڼه ښکاره شي .

سمندري غله له هغې سره په سیند کې سفر وکړ (یعنې د امپراتور له لور سره، چې اوس به یې مونږ د یو نارینه په توګه یادوو ، ځکه چې سمندري غله د هغې جامو ته همداسې تغیر ورکړی و). بیا یو طوفاني باد راغی او بېړۍ یې یوې څنډې ته وغورځوله، او بېړۍ ماته شوه. هغوی د هماغې دښتې څنډې ته ورسېدل چې ځوان سړی پکې اوسېدی. کله چې هغوی هلته راغلل، غله د سفر د لارو په هکله تجربې درلودې او پوه شو چې دا په دښته کې داسې یو ځای دی چې بېړۍ هېڅکله ورته نه دي راغلي. نو هغه پوه شو چې هلته داسې څوک نشته چې دی ځنې ووېرېږي، نو هغه هغې ته اجازه ورکړه چې خوا او شا وګرځي .نو هغه (غل) پر دې لاره او هغه (شهزادګۍ) پر هغې لاره روان شول چې خواړه ولټوي. هغه له یاغي څخه ډېره لیرې شوه، او یاغي په خپله لاره لاړ .

کله چې هغه پوه شو چې هغه نوره د هغه په سیمه کې نشته، هغه هغې ته ور چیغې کړلې، خو هغې پرېکړه وکړه چې هېڅ ځواب به نه ورکوي. هغې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان سره فکر وکړ، « زما برخلیک دا دی چې هغه به ما وپلوري. نو ولې باید ځواب ورکړم؟ که هغه ما بیا ومومي، زه به ځواب ورکړم چې ما یې غږ نه دی اورېدلی، په ځانګړې توګه دا چې هغه نه غواړي چې ما ووژني، ځکه هغه غواړي چې ما خرڅه کړي.» هغې هغه ته ځواب ورنه کړ، او نوره هم ورانديې لیرې لاړه. غله هرې خوا ته د هغې لټون وکړ، خو ویې نه موندله. هغه وګرځېد او بیا یې هم د هغې کومه نښه ونه مونده، او فکر یې وکړ چې ښایي چې ځناورو خوړلې وي. نو هغه نوره او نوره هم مخکې لاړه.

هغې وکولی شول چې خواړه ومومي او تر هغه ورانديې لاړه چې هغه ځای یې وموند چې ځوان سړی (یعنې د سوداګر زوی) پکې اوسېدی. خو له دې امله چې د هغې وېښتان اوږده شوي وو، د سړیو کالي یې اغوستي وو او ځان یې د یوه ماښو په څېر سمبال کړی و، نو هغوی یو بل ونه پېژندل.

څنګه چې هغه راورسېده، نو ځوان سړی ډېر خوشحال شو چې بل انسان هم هلته راغی. هغه له هغې څخه پوښتنه وکړه، « ته دلته څنګه راغلې؟» هغې ځواب ورکړ، «زه له یو سوداګر سره په سمندر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې روانه وم، او داسې نور . ته دلته څنګه راغلې؟»
هغه هم ځواب ورکړ، «د يو سوداګر له لارې...».
نو دواړه هم هلته سره يو ځاى پاتې شول.

وروسته له هغه چې د امپراتور لور له امپراتور څخه واخيستل شوه، ملکې د خپلې لور په له لاسه ورکولو سره سخت وير وکړ، اوخپل سر به يې پر دېوال واهه. هغې امپراتور ګرمولی، او ورته ويل به يې، «تا د خپل کبر له امله هغه ځوان سړی له منځه يوړ، نو اوس زمونږ لور ورکه شوه»!

هغې هغه ته ويل، «هغه زمونږ ټوله نېکمرغي او برياليتوب وه! اوس مونږ هغه له لاسه ورکړه! اوس ما ته څه راپاتې شول!» هغې ډېر په سختئ سره د هغه ګرمولو ته دوام ورکړ.

امپراتور خپله هم د خپلې لور د له لاسه ورکولو له امله ډېر غمجن شو او سربېره پر دې، ملکې هم ډېرې ستغې سپورې ورته وکړې او سخت يې وکړولی، او په دې توګه د هغوی ترمنځ سختې شخړې او جنجالونه رامنځته شول. هغې هغه ته ډېرې بدې خبرې وکړې، او هغه يې ډېر زيات په غوسه کړ، تر دې چې هغه پرېکړه وکړه چې هغه له ځانه ليرې کړي. هغه قاضيان وټاکل چې ملکه محاکمه کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د هغې له پاره د ښړلو (تبعيد) حکم صادر کړ ، نو هغه وشړل شوه.

تر دې سملاسي وروسته، امپراتور جګړې ته لاړ او بری يې په برخه نه شو. نو هغه د دې پړه پر يوه جنرال ورواچوله: «دا چې تا داسې وکړل، نو جګړه دې وبايلله.» بيا هغه جنرال وشړلی.

تر هغه وروسته هغه بيا جنګ ته لاړ او بيا بريالی نشو او هغه بيا جنرال وشړلی. په دې توګه يو شمېرجنرالان وشړل شول.

د رعيت وګړي پوه شول چې هغه يوعجيب او غريب چلند کوي. لومړی يې ملکه وشړله، او اوس جنرالان. هغوی (ولس) پرېکړه وکړه چې حالات بېرته شاته راوګرځوي، هسې چې ملکه بېرته راوغواړي او دی وشړي. ملکه کولی شي چې پر خاوره واکمني وکړي.

هغوی همداسې وکړل. امپراتور وشړل شو اوملکه بېرته واک ته ورسول شوه، اوهغې پر خاوره باندې واکمني پيل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکې سملاسي يو حکم صادر کړ چې سوداګر او د هغه مېرمن دې (چې امپراتور کمزوري کړي او په فقيرانو باندې اړولي وو) بېرته پر خپل حال کړای شي. هغې هغوی خپل حرم ته بوتلل.

کله چې امپراتور ليرې بېول کېدی، هغه له هغو خلکو څخه چې دی يې بېوی غوښتنه وکړه چې خوشې يې کړي. هغه ورته وويل، «زه ستاسو امپراتور وم او بې له شکه چې ما ستاسو له پاره ښه کارونه وکړل. اوس پر ما رحم وکړئ او پرې مې ږدئ چې لاړ شم. زه به هيڅکله دې پاچايۍ ته بيا رانشم. تاسو بايد له هېڅ څه څخه هم ونه وېرېږئ. پرېږدئ چې زه لاړ شم، او زه به دا ځای پرېږدم. پرېږدئ چې لږترلږه دا څو کاله چې ژوندی يم ازاد وګرځم». هغوی هغه پرېښود او هغه پر خپله مخه لاړ. هغه تلی، تلی، چې په دې کې څو کالونه تېر شول او امپراتور سرګردان شو، تر دې چې يو سمندر ته ورسېد.

يوه باد د هغه بېړی په مخه کړه، او هغه هم هغې دښتې ته ورغی [چې هغه نور دوه ورته رارسېدلي وو]. هغه په پای کې هغه ځای ته ورغی چې هغه نور دوه پکې اوسېدل. (هغوی هغه ځوان سړی چې د سوداګر زوی و او د هغه [خپله] ښايسته لور وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اوس يې د سړيو کالي اغوستي وو). هغوی يو بل ونه پېژندل، ځکه چې د امپراتور وېښتان ډېر اوږده شوي وو او له هغه وخت راهيسي چې هغه روان شوی و ډېر کالونه تېر شوي وو. د هغوی وېښتان هم ډېراوږده شوي وو.

هغوی له هغه ښځه پوښتنه وکړه،» دلته ښنګه راورسېدې؟» هغه ځواب ورکړ، « د يو سوداګر په واسطه.»

هغوی هم د هغه پوښتنو ته ورته ځوابونه ورکړل اوهغوی درې واړه سره يوځای هلته اوسېدل او د مځکې په ښېر يې خوراک او ښښاک کولی. هغوی هلته د موسيقۍ آلې غږولې ځکه هغوی ټولو کولی شول چې ويې غږوي؛ په دې سبب چې هغه يو امپراتور و، او هغه نورو هم غږولی شولې. اوهغه، ځوان سړی، په دوی کې تر ټولو کلک و، ځکه چې هغه ډېره اوږده موده هلته تېره کړې وه. هغه به دوی ته غوښه راوړه او هغوی به خوړه. هغوی داسې لرګي سوځول چې د يوې متمدنې سيمې تر سرو زرو ډېر ارزښتناک وو.

ځوان سړي هڅه وکړه چې هغوی پر دې قانع کړي چې دا د هغوی له پاره يو ډېر ښه ځای دی چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل عمر پاتې موده پکې تېره کړي. د هغو ګټو په نسبت چې خلک يې معمولا په متمدنو سیمو کې لري غوره دا ده چې سړی دلته پاتې شي او خپل عمر دلته تېر کړي.

هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «مخکې تر دې چې ته دلته راشې تا څه ګټې درلودې چې ته وایې چې دا ځای ښه دی؟»

هغه هغوی ته ځواب ورکړ او هغه څه يې ورته وويل چې هغه ته ورپېښ شوي وو چې څنګه هغه د یوه نېکمرغه سوداګر زوی و او داسې نور، او دا چې څنګه په پای کې دغه ځای ته راغی او دا چې څومره ښه و چې دی د یوسوداګر زوی و. هغه هرهغه څه درلودل چې اړتیا يې ورته لرله، او دلته هم هر هغه څه لري چې ورته اړتیا لري. (نو ځوان سړي هغوی ته هرڅه وويل.) هغه هغوی ته وښوده چې ښه به وي چې که خپل پاتې ژوند په دې ځای کې تېر کړي.

امپراتور پوښتنه وکړه، «آیا کله دې د ځمکې د امپراتور په هکله اورېدلي دي؟» د سوداګر زوی ځواب ورکړ چې هو اورېدلي مې دي. بیا هغه له هغه څخه د ښکلا پوښتنه وکړه، چې آیا د هغې په هکله يې اورېدلي دي. هغه ځواب ورکړ، «هو».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان سړي پيل وکړ چې په غوسه سره وغړېږي، او ويې ويل«هغه قاتل!» لکه يو سړی چې بل ته غاښونه چيچي، ځوان سړی د امپراتور په هکله په غوسه سره غړېدی، خو نه پوهېدی چې امپراتور خپله له ده سره خبرې کوي.

امپراتور پوښتنه وکړه، «ولې هغه قاتل دی؟»

هغه ځواب ورکړ، «زه چې اوس دلته يم دا د هغه د ظلم پايله ده»!

امپراتور پوښتنه وکړه، «هغه څنګه پېښ شول؟»

ځوان سړي فکر وکړچې دلته خو داسې څوک نشته چې دی ترې ووېرېږي، نو د هغه څه ټوله کيسه يې وکړه چې پرې تېر شوي ول. [په ښکاره خو مخکې هغه يوازې دومره هغوی ته ويلي وو چې هغه د يو سوداګر زوی و، خو هغه اصلي کيسه نه وه کړې].

امپراتور له هغه څخه پوښتنه وکړه، «که امپراتور تا ته په لاس درشي، ته به ترې اوس هم هسې غچ واخلې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې ځوان سړی زړه سواند و نو ځواب یې ورکړ، «نه. بېخي په معکوس ډول هسې چلند به ورسره وکړم لکه له تا سره مې چې وکړ.»

اوس نو امپراتور افسوس او فریاد پیل کړل، «دا امپراتور به اوس څنګه سخت او تریخ عمر ولري!» هغه اورېدلي چې د هغه ښکلې لور ورکه شوې ده، او هغه خپله شړل شوی دی.

بیا ځوان سړي په حیرانتیا سره وویل، «دا د هغه د ظلم او کبر له امله سوي! هغه هم خپل ځان خراب کړ او هم خپله لور او زه یې دلته راوغورځولم، دا ټول د هغه له امله وشول».

نو هغه له هغه (امپراتور له ځوان سړي) څخه پوښتنه وکړه، «که هغه ستا لاس ته درشي، ته به ترې غچ واخلې؟»

هغه ځواب ورکړ، «نه. بېخي په معکوس ډول هسې چلند به ورسره وکړم لکه له تا سره مې چې وکړ.»؟

امپراتوربیا خپل هویت وروښود. هغه ځوان ته وویل چې دی خپله امپراتور دی، او بیا یې ټول هغه څه ورته وویل چې پر هغه باندې تېر شوي وو. ځوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی هغه ته ورنژدې شو، ښکل یې کړ او په غېږه کې یې ونیوی. او هغې، یعنې ښکلا، چې هغه هم هلته حاضره وه، او یوازې قیافه یې بدله وه هرهغه څه واورېدل چې هغوی پرې یو له بل سره خبرې کولې.

ځوان سړي خپل عادت جوړ کړی و چې هره ورځ به تلی او پر درې ونو باندې به یې نښې کولې او هلته به یې د یادښت لټون کاوه. دا چې هلته په زرګونو ونې وې، نو هغه به درې هغه ونې لټولې چې هغه به په نښه کولې، چې بله ورځ یې بیا ونه لټوي. هغه هره ورځ دا کار کاوه چې ښایي بیا هم هغه یادښت ومومي (هغه یادښت چې هغې ورته ورلېږلی و او له هغه ښځه د ونو په منځ کې ورک شوی و) کله به چې له هغه ځای ښځه بېرته راوګرځېدی، سترګې به یې له اوښکو ډکې وې، ځکه هغه به چې لټون وکړ او څه به یې ونه موندل، نو ژړل به یې.

هغوی (یعنې امپراتوراو ښکلا) له هغه ښځه پوښتنه وکړه، «ته د ونو په منځ کې څه لټوې؟ او ولې د بېرته راستنېدلو پر وخت ستا په سترګو کې اوښکې وي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوهغه هغوی ته ټوله کیسه وکړه چې څنګه د امپراتور لور (ښکلا)، هغه ته یو یادښت ورلیږلی و، څنګه هغه له ونو څخه په یوه ونه کې پټ کړی و، او څنګه یو طوفاني باد راغی، او داسې نور. او اوس دی هغه لټوي، او ښایي چې ویې مومي.

هغوی هغه ته وویل، «سباته چې کله ته ځې چې ویې لټوې، مونږ به هم له تاسره یوځای لاړ شو. ښایي مونږ هغه یادښت ومومو».

هغوی همداسې وکړل. هغوی له هغه سره لاړل، او د امپراتور لور یادښت په یوه ونه کې وموند. کله چې هغې پرانیست، ویې لیدل چې د هغې خپل یادښت دی، چې د هغې په خپل لاس لیکل شوی دی.

هغې له خپل ځان سره فکر وکړ، که هغه سملاسي خپل هویت هغه ته وروښیي، هغه مجبوره ده چې خپله قیافه بدله کړي، او خپل اصلي جاذبیت ته بېرته وروګرځي. او که هغه بیا لکه د پخوا په څېر یوه لویه ښکلا شي، کېدی شي چې هغه چپه او مړشي او هغې هیله لرله چې دا باید د دود له مخې په سمه توګه وشي (یعنې، هغه نشي کولی چې له هغه سره دلته په دښته کې واده وکړي، ځکه چې هغه باید یو ځانګړی واده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري.) نو له دې کبله هغې يواځې هغه ته يادښت ورکړ، او ورته و يې ويل چې دا ما پيدا کړ.

هغه سمدلاسه چپه او رنځور شو .هغوی د هغه درملنه وکړه او بېرته يې ورغولی او د هغوی ترمنځ لويه خوښي رامنځته شوه .ځوان سړي وويل، «په دې يادښت باندې زه څه وکړم؟ آيا تر دې وروسته به کله هم زه هغه ومومم؟ معلومه ده چې هغه به اوس له کوم پاچا سره وي (ځکه هغه فکر کاوه چې غله به لکه چې امپراتور هغه ته ويلي وو له وخته هغه خرڅه کړې وي). ولې زه دې ته اړتيا لرم؟ پرېږده چې خپل پاتې ژوند همدلته تېر کړم.

هغه لاړ او يادښت يې بېرته هغې ته ورکړ، او هغې ته يې وويل، «ته يادښت درسره واخله، ته کولی شې لاړ شې او له هغې سره واده وکړې»، ځکه چې هغې خپل ځان د نارينه په څېر جوړکړې و.

هغې ومنله چې لاړه شي، خو له هغه څخه يې غوښتنه وکړه چې هغه هم له هغې سره لاړ شي. هغې وويل، «دا چې زه به خامخا له هغې سره واده کوم، هر څه به زما له پاره سم شي، نو زه به تا ته هم د خپل برياليتوب له امله يو څه درکړم».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان سړی پوه شو چې «هغه» (د امپراتور لور چې هغه فکر کولی چې سړی دی) ډېر هوښيار دی، او هغه به خامخا د هغې په ودولو کې بريالی کيږي. له دې امله هغه ومنله چې له هغه سره لاړ شي.

امپراتور هلته يوازې پاتې شو، ځکه چې هغه خپلې پاچايۍ ته له ستنبدلو څخه ډاربدی. هغې له هغه څخه هم غوښتنه وکړه چې ور سره لاړ شي، ځکه چې هغه به خامخا ښکلا ترلاسه کړي، «اوس نو داسې څه نشته چې ته دې ترې ووېرېږې.» (هغې هغه ته داسې وويل چې، «زه به خامخا ښکلا [چې فکر کيږي چې بندي ده] ومومم ، نو ته نور له هيڅ شي څخه هم بايد ونه ډار شې، ځکه چې د هغې په موندلو سره به ستا بخت بېرته ښه شي او ستا څخه به هم غوښتنه وشي چې بېرته ستون شې.»)

درې واړه په ګډه روان شول .هغوی يوه بېړۍ په کرايه ونيوله او هغې پاچايۍ ته راغلل چې ملکه په کې اوسېدله. هغوی بېړۍ پرېښوده اوهغه ښار ته راغلل چې هغه پکې وه. د امپراتور لور پوه شوه چې که هغه خپل ځان سم دلاسه خپلې مور ته وروښيي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورته ووايي چې هغه بېرته راغله نو کبدی شي چې د هغې مور مړه شي (له خوښۍ څخه) .له دې امله، هغه لاړه او خپلې مور ته يې يو پيغام ورولېږی چې يو سړی پيدا شوی دی چې ستا د ورکې شوې لور په هکله يوڅه معلومات لري.

بيا هغه خپله ملکې ته ورغله اوهغې ته يې د ټولې کيسې په هکله هغه څه وويل چې د هغې پر لور باندې تېر شوي وو. کله چې هغې خبرې پای ته ورسولې، هغې وويل، «هغه هم همدلته ده.» هغې بيا حقيقت څرګند کړ: «هغه زه يم، زه هغه يم».

هغې بيا وويل چې د هغې زوم، د سوداګر زوی، هم همدلته دی، خو هغې خپلې مور ته وويل چې دا د هغې يو شرط دی چې د هغې پلار امپراتور بېرته پر خپل ځای شي. د هغې مور نه غوښتل چې داسې کار دې وشي، ځکه چې هغه لا تر اوسه پورې له دې امله ورته په قهر وه چې دا هر څه د هغه غلطي وه، خو بيا هم هغه مجبوره شوه چې د خپلې لور غوښتنه ومني. هغوی غوښتل چې هغه (امپراتور) بېرته راولي خو کله چې هغوی وکتل چې هغه به چېرې وي، پوه شول چې هغه ورک دی. نجلۍ بيا ښکاره کړه چې امپراتور هم له هغې سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده وشو او خوشحالي بشپړه شوه. جوړې پاچايي ونيوله او سلطنتي القاب يې ترلاسه کړل. يعنې د سوداګر زوی او ښکلا سره واده شول او هغوی لوی واکمن شول، يعنې په ټوله نړۍ واکمن شول.

تر دې وروسته، زاړه امپراتور کوم واقعي عظمت نه درلود، ځکه چې هر څه د هغه د غلطۍ له امله پېښ شوي وو، خو سوداګر ډېره لوړه مرتبه درلوده، ځکه چې هغه د نوي امپراتور چې اصلي اهميت يې درلود، پلار و. مانو پر مخ مخ باندې په خپېړو ووهل شو او ايسته وشړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا و. د هغه په کور کې یوه وینځه وه چې د ملکې خدمت به یې کاوه. (په عام ډول، یوه پخوونکې اجازه نه لري چې د پاچا حضور ته لاره ومومي، خو دا یوه داسې وینځه وه چې یوه ځانګړې دنده یا یوه کوچنۍ دنده یې لرله.)

داسې وخت راغی چې هم ملکې زیږون وکړ او هم وینځې. دائي لاړه او ماشومان یې سره بدل کړل، چې وګوري چې له دې ښځه څه کیسه جوړیږي، او پایله یې ځنګه راوځي. هغې ماشومان سره بدل کړل، یعنې د پاچا زوی یې د وینځې ځنګ ته پرې ایستی او د وینځې زوی یې د ملکې ځنګ ته.

بیا دغه زامن په لویېدلو شول. د پاچا زوی (یعنې هغه یو چې له پاچا سره لوی شو، ځکه چې هغوی فکر کاوه چې هغه د پاچا زوی دی) لویېدی، لویېدی چې ترڅو چې لوی شو او یو ډېر فضول خرڅه سړی ځنې جوړ شو. د وینځې زوی (یعنې هغه یو چې له خدمتګارې سره لوی شو، چې اصلا د پاچا زوی و)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞

هم په خپل کور کې لوی شو. هغوی دواړو سره یوځای په یوه ښوونځي کې زده کړې وکړې. د پاچا اصلي زوی، چې «د وینځې زوی» بلل کېدی په طبیعي توګه د پاچایۍ خویونه لرل، خو هغه د یوې وینځې په کور کې لوی شو. بلې خوا ته، د وینځې زوی، چې «د پاچا زوی» بلل کېدی په طبیعي توګه بل ډول خویونه لرل چې د یوه پاچا خویونه، نه وو، خو هغه د پاچا په کورکې لوی شو، او هغه باید د پاچایۍ د خویونو په توګه چلند کړی وای، ځکه چې هغوی هغه د دغو خویونو له مخې لویولی.

دا چې ښځې تر ډېره راز نشي ساتلی، قابله لاړه او یوچا ته یې دا خبره وکړه چې هغې دغه ماشومان سره بدل کړي وو. دا چې هر څوک یو ملګری لري، او هغه ملګری یو بل ملګری لري، نو یو سړی یې بل ته وایي او بل یې بل ته، نو د نړۍ له دود سره سم، په پای کې راز ښرګند شو، تر دې چې هر چا به په دې هکله په خپلو کې سره خبرې کولې چې د پاچا زوی څنګه بدل کړای شو، خو دا هیچا ته مناسبه نه ښکارېده چې په دې هکله ښکاره یو څه ووایي ځکه چې دا نامناسبه وه چې پاچا دې په داسې څه خبر شي. دا په دې چې پاچا به په دې هکله څه کړي وای؟ هغه نشول کولی چې خبره جوړه کړي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشول کولی چې ان باور پرې وکړي... ښايي هغه دروغ وي. او دا څنګه کېدای شول چې هغوی بېرته تللي وای او سره بدل کړي يې وای؟ له دې امله، هغوی بېخي منع شوي وو چې دا خبره پاچا ته ښکاره کړي. خلکو به یوازې په خپلو منځونو کې سره پرې خبرې کولې.

بیا، یوه ورځ، یو څوک ورغی او راز يې د پاچا زوی ته ښکاره کړ- چې هغوی څنګه ویل چې هغه بدل شوی و: «خو دا ستا له پاره ناشونې ده چې په دې هکله څېړنه وکړې، ځکه چې دا ستا له عزت څخه ټیټه خبره ده، او څنګه کېدای شي چې دغه ډول یو شی په صحیح توګه روښانه شي؟ خو زه تا په دې خبره باندې خبروم، څو په دې توګه که د پاچايۍ په هکله څه توطيه جوړېږي چې ته پرې خبر اوسې، او توطيه کېدای شي چې په دې ټکي سره قوي کړای شي، ځکه چې هغوی کولی شي ووایي چې هغوی غواړي چې د پاچا زوی واخلي او خپل پاچا يې کړي– یعنې، لکه مخکې چې یاده شوه هغه یو چې هغوی وايي چې د پاچا اصلي زوی دی. له دې امله، ته باید د زوی پر ضد داسې پلانونه جوړ کړې چې له هغه څخه مخکې شې.» (دا ټولې د هغه سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو**

خبرې دي چې د وینځې زوی ته یې، چې د پاچا زوی بلل کېدی، د پټ راز په توګه وکړلې.)

د پاچا زوی لاړ او د زوی د پلار له پاره (چې هغه په ریښتیا سره د ده خپل پلار و) د بدمرغیو د پیلیدلو سبب وګرځېد، هغه به په منظمه توګه د هغه له پاره ستونزې جوړولې- هسې چې یوه ستونزه به لا خلاصه نه وه چې بله به یې ورته جوړه کړه، څو هغه او زوی یې دې ته مجبور کړي چې دغه خاوره پرېږدي. تر هغه وخته چې پاچا ژوندی و، هغه مطلق واک نه درلود، خو بدۍ به یې ورته راوړلې.

وروسته، پاچا زوړ او بیا مړ شو. هغه پاچایي په لاس کې ونیوله (یعنې د وینځې زوی چې الیش شوی و او اوس د پاچا زوی بلل کېدی) او اوس نو هغه د یاد شوي زوی د پلار له پاره لا ډېره لویه بدمرغي جوړوله – هسې چې یوه ستونزه به نه وه هواره شوې چې بله به یې پیل شوه. هغه به دا کار په لوی لاس کولی – په داسې توګه چې خلک پوه نشي چې دی د هغه له پاره د بدمرغۍ سبب ګرځېدلی، ځکه چې دا کار بیا د خلکو له پاره د منلو وړ نه و. څه ناڅه به، هغه موضوع پټوله، خو په منظمه توګه به د هغه له پاره د بدمرغۍ سبب ګرځېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو**

د مخکې یاد شوي زوی پلار پوه شو چې هغه د مخکې یاد شوي دلیل له کبله د ده له پاره ستونزې جوړوي. نو هغه خپل زوی ته خبرې پیل کړې (یعنې، د پاچا اصلي زوی ته، چې د الیشولو له امله د هغه زوی ګڼل کېدی) او ټول حال یې ورته ووېل. ده هغه ته ووېل چې زه پر تا باندې سخت زړه سوی لرم: «که ته هر رقم یې: که ته زما زوی یې، نو زه بې له شکه له تا سره همدردي لرم. او که ته د پاچا اصلي زوی یې، بیا نو ته د لا ډېر شفقت مستحق یې، دا چې هغه غواړي چې له تا څخه ځان بېخي خلاص کړي، خدای مه کړه. نو ته باید له دې ځای څخه ووځې. او د خبرو کولو پر وخت د هغه په سترګو کې غم ښکارېدی. خو پاچا (یعنې هغه چې د پلار پرځای پاچا شو، ځکه چې د بدلون له امله داسې څرګندېده چې د پاچا زوی دی) په منظمه توګه یو په بل پسې پر هغه باندې د غم غشي اورول. نو زوی یې پرېکړه وکړه چې له هغه ځای څخه بلې خوا ته لاړ شي. د هغه پلار هغه ته ډېرې پیسې ورکړې، او هغه پر خپله مخه لاړی.

دا د وینځې د زوی له پاره ډېره خفه کوونکې وه (هغه څوک چې د پاچا اصلي زوی و) چې هغه بېله ګناه له خپل وطن څخه و ایستل شو. دا چې هغه و هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو**

ځای ته وکتل چې دی پکې اوسېدی: «ولې، او په څه دلیل زه د دې وړ یم چې اېستل کېږم؟ که زه د پاچا زوی یم، بې له شکه چې له ما سره باید داسې چلند ونشي. او که زه د پاچا زوی نه یم، بیا هم باید له ما سره داسې چلند ونشي – چې په نه دلیل دې واېستل شم – ځکه چې اخر ما څه غلطي کړې ده؟» دغه حالت هغه ډېر خفه کړ. د دې په پایله کې، هغه په شرابو معتاد شو او فاحشه خانو ته به تللی او غوښتل به یې چې خپل ژوند په دې توګه تېر کړي: چې ځان به یې نشه کړ او بیا به یې خپل هوس او نفساني غوښتنې ترسره کولې، ځکه چې هغه په نه دلیل شړل شوی و.

پاچا د پاچایۍ واګې کلک په خپل لاس کې و نیولې. کله به چې هغه واورېدل چې په یوځای کې خلک د ده د الیشولو په هکله خبرې کوي، هغه به هغوی ته سزا ورکړه او سخت انتقام به یې ترې واخیست. هغه په زور او قوت سره واکمني کوله.

یوه ورځ، پاچا له خپلو درباریانو سره ښکار ته ووت. هغوی یوه ښایسته ځای ته ورغلل، چې هلته نژدې یو سیند و، هغوی هلته تم شول چې ارام وکړي او قدم ووهي. پاچا وغزېد، او هغه عمل چې هغه کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**❁ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ❁**

و د هغه ذهن ته راغلی – یعنې چې هغه، هلک یې په نه دلیل شړلی و ځکه له هرې لارې چې ورته وګورې: که هغه د پاچا زوی ي، آیا دا کافي نه وه چې هغه لا له وختـه الیش شوی و؟ ولې باید هغه په نه دلیل شړل شوی وای؟ او که هغه د پاچا زوی نه وي، بیا هم باید هغه نه وای شړل شوی، ځکه چې هغه نو څه غلطي کړې وه؟ پاچا په دې هکله سوچ وکړ؛ هغه پر دې لویه غلطۍ او بې انصافۍ چې هغه کړې وه پښېمان شو، خو نه پوهېدی چې د راګرځولو له پاره یې څه وکړي، او دا ناشونې وه چې له کوم چا سره یې په هکله خبرې وکړي او مشوره ځنې وغواړي. هغه ډېر خفه او وارخطا و. هغه سردارانو ته امر وکړ چې بېرته لاړ شي ځکه چې وارخطایي پر هغه باندې غالبه شوې وه، او دې ته اړتیا نه وه چې چکر ته دوام ورکړي. هغوی خپلو کورونو ته ستانه شول. کله چې پاچا خپل کور ته ستون شو، هغه مالومداره ډېرې نورې چارې او اندېښنې هم لرلې. هغه په خپلو اندېښنو کې ډوب شو، او مخکینۍ مسئله ترې هېره شوه.

هلک (د پاچا اصلي زوی) چې شړل شوی و هغه څه وکړل چې کول یې او پیسې یې له لاسه ورکړې. یو ځل، هغه یوازې د قدم وهلو له پاره ووت. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېوت، او هغه څه يې ذهن ته ورغلل چې هغه ته ور پېښ شوي وو. هغه سوچ وکړ: «دا په ما خدای پاک څه وکړل؟ که زه د پاچا زوی يم، بې له شکه چې زه د دغسې حالت وړ نه يم، او که زه د پاچا زوی نه يم، بيا هم زه د دې وړ نه يم چې تښتېدلی او له وطن نه ليرې اوسم. بيا هغه سوچ وکړ: «بل لوري ته، که خبره داسې وي، چې خدای تعالی داسې څه کوي، چې د پاچا زوی بدل کړي او ټول هغه څه وشي چې ماته راپېښ شول، بيا نو آيا هغه څه چې ما وکړل دا مناسب دي؟» او هغه سخت غمجن شو او په هغو بدو کارونو يې پښېماني پيل کړه چې کړي يې وو. بيا هغه ببرته هغه ځای ته لاړ چې مخکې پکې و، او خپلې نشې يې بيا پيل کړې. څنګه چې هغه لا دمخه د پښېمانۍ احساس پيل کړی و، نو په منظمه توګه د پښېمانۍ او توبې د فکرونو په واسطه ناراحته کېدی.

يو ځل، هغه پرېووت چې ويده شي، په خوب کې يې په يوه ځانګړي ځای کې په يوه ځانګړې ورځ مېله وليدله – يعنې چې هغه بايد هلته لاړ شي، او هغه بايد هغه لومړنۍ مزدوري ترلاسه کړي چې هغه ورسره مخامخ کيږي، که څه هم چې هغه د ده له سويې څخه ټيټه وي. هغه راويښ شو، او دغه خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په ذهن کې ژور ځای ونیو. ځینې وختونه خبره له مغزو څخه ژر وځي، خو د دغه خوب جزیات د هغه د مغزو ژورو ته ورننوتل، خو د داسې دندې ترسره کول د هغه له پاره سخت کار و، نو هغه خپله نشه او خښاک لا ډېر کړ. هغه همدا یو خوب څو ځلې ولید، چې دی یې ډېر ناراحته کړ.

یو ځل، هغوی ده ته په خوب کې وویل، «که پر خپل ځان زړه سوی لرې نو دا دنده وکړه« (یعنې هغه باید مېلې ته لاړ شي، او داسې نور). نو هغه پر ځان لازمه و ګڼله چې خوب عملي کړي. هغه لاړ او خپلې پاتې پیسې یې هم شرابخونې ته ورکړې. خپل ښکلي کالي یې هم په شرابخونه کې پرېښودل؛ او د ځان له پاره یې ساده کالي برابر کړل، او مېلې ته لاړ. سهار د وخته پاڅېد او مېلې ته ورغی. یو سوداګر له هغه سره مخامخ شو او ورته ویې ویل، «آیا ته غواړې چې پر یوه دنده باندې مقررشې؟»

هغه ځواب ورکړ، «هو».

هغه ده ته وویل، «زه یو چاته اړتیا لرم چې څاروي راته وڅروي. راځه له ما سره کار وکړه.» دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**﴾ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ﴿**

ده په خوب کې لیدلي وو، نو بل سوچ یې ونه کړ، او سمدلاسه یې وویل، «سمه ده.»

سوداګرسمدلاسه دی مقرر کړ، او کار یې ور وسپاری چې د هغه د خدمتګارانو مشر شي.

هغه پر خپل حال، هغه څه باندې چې هغه کړي وو، د عکس العمل په ښودلو باندې پیل وکړ، ځکه چې دغه ډول خدمتګاري د هغه له شان سره هېڅ نه ښایېدله ځکه چې هغه یو ښاغلی انسان و، خو اوس اړ و چې څاروي وڅروي، او له څارویو سره پر پېښو باندې مزلونه وکړي، خو دا ناشونې وه چې ویې نه کړي. سوداګر له هغه سره د یوه بادار په څېر چلند کاوه.

ده له سوداګر څخه پوښتنه وکړه، «زه څنګه کولی شم چې له څارویو سره یوازې لاړ شم؟»

هغه ځواب ورکړ، «زما له څارویو سره نور شپانه هم شته. له هغوی سره یوځای لاړ شه.»

هغه ده ته ځانګړي څاروي په لاس ورکړل چې ویې څروي او ده هغه څاروي له ښار څخه بهر بوتلل. هلته هغه نور شپانه چې څاروي یې څرول هم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوځای شوي وو، او په شریکه سره ووتل. هغه خاروي روان کړي وو، او سوداګر ورپسې شاته پر اس سپور ور روان و. سوداګر جابرانه چلند کاوه، او له ده سره یې په ځانګړي ډول جابرانه رویه کوله. دی له سوداګر څخه ډېر زیات وېرېدی، ځکه چې ده هغه سخت جبر ولید چې هغه له ده سره کاوه. دی وډار شو چې هغه به یې د خپلو مزدورانو په تش پوکي سره هم والوزوي، او دی به سمدلاسه مړ شي. (یعنې، د هغه د سختې کمزورتیا له امله، ځکه چې دی ډېر ښاغلی شخص و، نو ده ته داسې ښکارېده.)

هغه له خارویو سره روان و، او سوداګر هم ورسره و. هغوی یوه ځانګړي ځای ته ورسیدل. هغوی هغه کځوړه راواخیسته چې د شپنیانو له پاره ډوډۍ پکې وه، او سوداګر هغوی ته خواړه ورکړل، او هغه له خپلو خوړو څخه یو څه ده ته هم ورکړه او ده و خوړه.

وروسته بیا، هغوی یوه ګڼ ځنګله ته ورسېدل. د ځوان له خارویو څخه، چې اوس یې د سوداګر سره شپني کوله، دوو خارویو لاره غلطه کړه. سوداګر پر هغه باندې چیغه کړه، نو هغه لاړ چې را ویې ګرځوي. خاروي مخکې تلل او دی په پسې و. دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګل ګڼ و، ځنګله ته په ننوتلو سره هغوی یو بل نه شول لیدلی، او هغه سمدلاسه د خپلو ملګرو له سترګو پټ شو. هغه په ځارویو پسې تللی، او هغوی به ترې یوې خوا بلې خوا منډې وهلې. دی تر ډېره په پسې و، تر دې چې هغه یوه ګڼ ځنګله ته ور ورسېد.

هغه اټکل وکړ، «زه به خامخا مړ شم، ځکه چې که زه له ځارویو پرته بېرته لاړ شم، سوداګر به مې ووژني.» (هغه ته د هغې وېرې له امله چې له سوداګر څخه یې لرله داسې ښکارېده – چې که له ځارویو پرته بېرته ستون شي نو هغه به یې ووژني.) «او که زه دلته پاتې شم، دلته به مې د ځنګله ځناور ووژني. ولې باید زه سوداګر ته بېرته ورستون شم؟ زه څنګه کولی شم چې له ځارویو پرته ورشم؟» ځکه چې دی له هغه څخه سخت ډارېدی.

هغه په ځارویو پسې مخکې ورغی، او هغوی ترې وتښتېدل. په دې کې شپه راغله. هغه له دې مخکې له داسې حالت سره کله نه و مخامخ شوی چې د شپې په داسې ګڼ ځنګله کې یوازې ویده شي. هغه د ځناورو د انګولاوو غږ، چې معمولا یې وهي، اورېدی. نو پرېکړه یې وکړه چې یوې ونې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخېژي او همالته په کې ویده شي. هغه د ځناورو د انګولاوو غږ چې معمولا یې وهي اورېده.

چې سهار شو نو ګوري چې ښاروي یې هلته ولاړ دي. هغه له ونې څخه راښکته شو او ورغی چې ویې نیسي، خو هغوی بیا منډې کړې. هغه تر ډېره په هغوی پسې لاړ، او هغوی نور هم ترې وتښتېدل. ښارویو هلته یو څه واښه موندل، او هغوی ودرېدل چې وښري او واښه وخوري. دی پسې ورغی چې ویې نیسي، خو هغوی وتښتېدل. هغه به چې پسې ورغی، هغوی به ترې وتښتېدل؛ هغه به پسې ورتلی او هغوی به ترې تښتېدل... چې د ځنګله یوې ډېرې ګڼې برخې ته ننوت. هلته داسې ځناور وو چې له انسانانو څخه هېڅ نه ډارېدل، ځکه چې هغوی له استوګنځایونو څخه ډېر لېرې اوسېدلي وو.

بیا شپه راغله. هغه د ځناورو د انګولاوو غږ اورېدی، او سخت وډار شو. هغه هلته نږدې یوه غټه ونه ولیدله. هغه ونې ته وروخوت. څنګه چې هغه پاس وخوت، یو سړی یې ولید چې هلته پروت و. دی وډار شو؛ خو بیا هم، دا ورته اراموونکې خبره وه چې یو څوک یې هلته وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞**

هغوی یو له بله پوښتنه وکړه «ته څوک یې؟»

«یو انسان»

«ته څوک یې؟»

«یو انسان»

«دلته څنګه راغلې؟»

ده نه غوښتل چې هغه ته ووایي چې ده ته څه ورپېښ شول، نو ده هغه ته ځواب ورکړ، «د څارویو له امله. زه د څارویو شپون وم، او دوه څاروي هلته راښخه ورک شول، نو له دې امله زه دلته راورسېدم [لکه چې مخکې یاده شوه].»

ده له هغه سړي څخه چې له ده سره په ونه کې یوځای شو، پوښتنه وکړه، «ته دلته څنګه راغلی یې؟»

هغه ځواب ورکړ، «زه په یوه اس پسې دلته راغلم. ما پر یوه آس مزل کاوه، ودرېدم چې یوڅه آرام وکړم، آس لاړ او په ځنګله کې راښخه ورک شو. زه په هغه پسې وم چې ویې نیسم، خو هغه نور هم وتښتېد، تر دې چې زه دلته راورسېدم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو**

هغوی دواړه سره ملګري او یو ځای شول او پرېکړه یې وکړه چې که ودانې ته بېرته ولاړل بیا به هم یو له بل سره ملګري وي . هغوی دواړه د شپې هلته ویده شول. هغوی د ځناورو انګولاوې اورېدې؛ هغوی ډېر زیات شور او انګولاوې اورېدلې.

د سهار خوا ته له ټول ځنګله څخه د خندا یو ډېر لوړ غږ راپورته کېدی. د خندا دا غږ په ټول ځنګله کې خپور شو، ځکه چې خندا ډېره لوړه وه، دومره لوړه چې هغه ونه له غږ څخه وخوځېده او ټکان یې وخوړ. هغه له دې کبله ډېر زیات پرېشان او وډار شو.

هغه بل سړي (یعنې هغه سړی چې د ده سره په ونه کې یوځای شو او له مخکې څخه هلته و) ده ته وویل، «زه له دې څخه نور هېڅ نه ډارېږم. زه دا څو شپې کېږي چې دلته ویده کېږم. هره شپه، چې د سهار خوا کېږي، دغه د خندا غږ اورېدل کېږي، او داسې چې دا ټولې ونې پرې غږ باسي او ښورېږي.»

هغه ډېر وارخطا شو، او خپل ملګري ته یې وویل، «ته پوهېږې چې دا ځای د چا دی (یعنې د شیطانانو دی). ځکه چې د استوګنسیمو خلکو څخه به چا هم تر اوسه په نړۍ کې داسې د خندا غږ نه وي اورېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ وروسته ورځ شوه. هغوی سترګې و غړولې او چې کتل یې د دا یوه څاروي یوې خوا ته او د هغه بل آس بلې خوا ته ولاړ وو. هغوی راښکته شول او ورپسې شول – دا یو په څارویو پسې شو، او هغه بل په آس پسې. څاروي ترې لیرې کېدل، او هغه هم [لکه چې مخکې یاده شوه] ورپسې و. هغه بل هم همداسې و، په آس پسې ور روان و او آس ځنې تللی، تر دې چې هغوی [دواړه خلک] یو له بل څخه ډېر لیري شول.

دا وخت، هغه یوه کڅوړه پیدا کړه چې ډوډۍ پکې وه، او په داسې یوازې والي کې نو دا یو لوی غنیمت و. هغه کڅوړه پر اوږه کېښوده او په څارویو پسې روان شو.

دا وخت، هغه له یوه سړي سره مخامخ شو. لومړی هغه وارخطا شو؛ خو بیا هم د هغه له پاره دا یو څه ارامونکې وه چې دلته یې یو سړی وموند.

سړي له ده څه پوښتنه وکړه، «دلته څنګه راغلې؟»

ده ورغبرګه کړه او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه، «ته دلته څنګه راغلې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ده ته ځواب ورکړ، «زه، زما پلار او زما نیکه ګان همدلته لوی شوي دي. خو ته، ته څنګه دلته راغلې؟! ځکه چې له استوګنسیمو څخه خو هیڅوک هم دلته نه راځي!»

دی وارخطا شو، ځکه چې دی پوه شو چې هغه انسان نه دی، ځکه چې هغه وویل چې پلار او نیکه ګان یې همدلته لوی شوي دي، او دا چې له ولس څخه دلته هیڅوک هم نه راځي. په دې توګه، دی پوه شو چې هغه انسان نه دی. خو هغه له ده سره هېڅ غرض ونه کړ، او له ده سره یې ښه چلند وکړ (یعنې د ځنګله سړي دغه سړي ته هېڅ زیان ور ونه رساوه چې په خارویو پسې روان و، او د پاچا اصلي زوی و، خو الیش شوی و) او ده ته یې وویل چې، (یعنې د ځنګله سړي د پاچا اصلي زوی ته وویل)، «ته دلته څه کوې؟»

ده هغه ته ځواب ورکړ چې دی په خارویو پسې دی.

سړي (د ځنګله) ده ته وویل، «په خپلو ګناهونو پسې نور مه ځه! هغه خاروي نه دي بلکې ستا ګناهونه تا هڅوي چې مخکې پسې لاړ شې. څه چې شوي هماغه درته کافي دي! تا هغه څه ترلاسه کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په تا پورې يې اړه لرله؛ يعنې، تا خپله سزا لا د وخته ليدلې ده. اوس، نور مه ورپسې ځه. له ما سره راځه، ته به هغه څه ته ورسېږې چې له تا سره ښايي.»

دی له هغه سره لاړ. دی ډارېده چې له هغه سره خبرې وکړي یا چې څه پوښتنه ځنې وکړي ځکه دی ډارېدی چې کېدای شي داسې یو سړی خوله وازه کړي او دی همداسې ښوی تېر کړي. (يعنې، د پاچا اصلي زوی د ځنګله سړي سره لاړ، او دی ډارېدی چې له هغه سره خبرې وکړي یا د یو څه پوښتنه ځنې وکړي، که نه هغه به خوله وازه کړي او دی به ژوندی تر ستوني تېر کړي، ځکه دی پوهېدی چې هغه په هيڅ ډول انسان نه دی.) دی په هغه پسې شو.

په دغه وخت کې، دی له خپل هغه ملګري سره مخامخ شو چې آس يې لټولی. څنګه چې ده هغه وليد، ده [هغه ته سترګه ووهله او په یو ډول يې ورته وويل چې]: ته بايد پوه شې چې، هغه انسان نه دی. له هغه سره هېڅ غرض ونه کړې، ځکه چې دا انسان نه دی. دی په چټکۍ سره لاړ او هغه ته يې په غوږ کې وويل چې دا انسان نه دی، او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞**

د ده ملګري (یعنې آس والا) وکتل او ویې لیدل چې د هغه پر اوږه یوه د ډوډۍ کڅوړه ده! هغه ده ته زارۍ پیل کړې چې، «وروره، ما دا څو ورځې څه نه دي خوړلي. ماته ډوډۍ راکړه!»

ده ځواب ورکړ، «دلته په دې دښته کې هېڅ شی نه په کارېږي. زما ژوند ما ته تر هرڅه غوره دی، او ډوډۍ ماته خپله په کارېږي.»

هغه ده ته سخت عذر او زارۍ وکړې، «زه به تاته هرڅه چې زما په وس پوره وي درکړم.»

(خو دلته په دې دښته کې د ډوډۍ سره هېڅ سوغات هم برابر نه و. ده ځواب ورکړ، «ته ماته څه راکولی شې؟ ته به ماته په دې دښته کې د ډوډۍ په بدل کې څه راکړې؟»

هغه ده ته ځواب ورکړ (یعنې، هغه چې ډوډۍ یې غوښته – آس والا – هغه سړي ته چې څاروي یې لرل، هغه چې د پاچا اصلي زوی و، هغه ته یې ځواب ورکړ)، «زه به مې ټول ځان تاته درکړم. زه به تاته د ډوډۍ په بدل کې خپل ځان درکړم، غلام به دې شم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞**

ده پرېکړه وکړه (یعنې هغه سړي چې څاروي یې لرل، له ځان سره یې فکر وکړ): «د یوه سړي د اخیستلو په مقابل کې دا ارزي چې ډوډۍ ورکول شي.» ده هغه د دایمي غلام په توګه واخیست. ده په هغه باندې قسمونه وخوړل چې هغه به تل د ده غلام وي، ان هغه وخت چې هغوی ولس ته ورسېږي؛ او دا چې هغه به ده ته ډوډۍ ورکړي، یعنې هغوی به په شریکه له یادې شوې کښوړې څخه تر هغه ډوډۍ خوري چې خلاصه شي.

هغوی په ګډه د ځنګله په سړي پسې روان شول. غلام د هغه شاته ورپسې روان و یعنې آس والا یا هغه سړی چې د څارویو پر خاوند باندې یې ځان خرڅ کړی و، په هغه پسې روان و او هغوی دواړه د ځنګله په سړي پسې. دغه کار د ده له پاره یو څه اساني راوستله. کله به چې هغه اړتیا لرله چې کوم څه پورته کړي، یا کوم بل کار وکړي، ده به خپل غلام ته امر کاوه (یعنې آس والا ته چې ده د غلام په څېر اخیستی و) چې پورته یې کړي، او هغه څه وکړي چې ده به غوښتل. هغوی دواړه د ځنګله په سړي پسې روان وو. داسې ځای ته ورسېدل چې هلته ماران او لړمان وو، او دی ډېر سخت وډار شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د پاچا زوی او د وينځې زوی چې سره بدل شوي وو

ده له ډاره د ځنګله له سرې ښځه وپوښتل، « مونږ به له دغه ځای څخه څنګه تېر شو؟» هغه ځواب ورکړ، «تر دې سخت لا هم شته.» هغه ده ته خپل کور چې په هوا کې ولاړ و، وښود، «ته به زما کور ته څنګه ورشې او څنګه به ور ننوځې؟ ته به زما تر کوره څنګه راورسېږې؟»

هغوی د ځنګله له سرې سره لاړل، او هغه له هغه ځای څخه سلامت تېر کړل. هغه هغوی خپل کور ته بوتلل، خوراک او څښاک يې ورکړ، او هغه لاړ.

او ده (يعنې د پاچا اصلي زوی، هغه سړی چې ښاروي ورسره و) د هر هغه څه له پاره چې اړتيا يې پيښېدله له خپل غلام څخه کار اخيست. غلام ډېر خفه و چې هغه د غلام په توګه خرڅ شوی و او هغه هم د يوه ساعت له امله چې هغه پکې ډوډۍ ته اړتيا لرله چې ويې خوري، ځکه چې اوس هغوی د خوراک شيان درلودل، او يوازې د يوه ساعت له امله، هغه اړ و شو چې ټول عمر غلام اوسي.

هغه به افسوس کاوه او اوښکې به يې ابستل، «زه څنګه په داسې حالت واوښتم چې غلام شم؟ ده له هغه ښځه پوښتنه وکړه (يعنې د پاچا اصلي زوی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د هغه بادار و، له هغه څخه پوښتنه وکړه) «ته په څه لوړه مرتبه کې وې چې اوس افسوس کوې چې ته دغسې حالت ته راغلی یې؟»

هغه ځواب ورکړ او کیسه یې ورته وکړه چې دی یو وخت یو پاچا و، او دا چې خلکو د هغه په هکله خبرې کولې چې هغه الیش شوی دی او داسې نور، [دا چې اصلا دغه سړی یعنې آس والا، هغه پخپله و، مخکینی پاچا و، چې په حقیقت کې د وینځې زوی و.] او [هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ] هغه خپل یو ملګری له هغه ځایه شړلی و. یو وخت د هغه ذهن ته دا خبره لوېدلې وه چې هغه چې څه وکړل ښه یې ونه کړل، او دا چې هغه پرې پښېمان و او داسې نور. هغه په منظمه توګه د هغې بدۍ او ناروا له امله چې هغه د خپل ملګري په وړاندې کړی وه د پښېمانۍ احساس کولی. یو ځل هغه خوب ولید چې هغه به خپله ګناه په دې جبران کړای شي چې له پاچایۍ څخه تېر شي او هلته لاړ شي چېرې چې د هغه سترګې کولی شي هغه پیدا کړي او په دې توګه به هغه خپله ګناه جبران کړي. هغه نه غوښتل چې دا کار وکړي، خو د هغه خوبونو له هغه څخه بېخي لېونی جوړ کړی و، څو هغه داسې څه وکړي چې مخکې یاد شول، تر هغه چې هغه دې پایلې ته ورسېد چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار به کوي. هغه پاچایي پرېښوده او لاړ همداسې پسې لاړ، تر هغه چې دغه ځای ته راورسېد، او اوس نو له هغه ځخه غلام جوړ شو.

ده دا ټولې خبرې واورېدې او چوپ پاتې شو. یعنې، د پاچا اصلي زوی (هغه سړی چې ځاروي ورسره وو) هغه ټولې خبرې واورېدې چې آس والا (چې اوس د ده غلام و) ورته وکړې او دی چوپ پاتې شو.

ده [له ځان سره] وویل، «زه به وګورم، او پرېکړه به وکړم چې له تا سره څنګه چلند وکړم.» د شپې، د ځنګله سړی راغی او هغوی ته یې خوراک او څښاک ورکړل. هغوی هلته ویده شول. سهار چې رانژدې شو، هغوی د خندا هغه ډېر لوړ غږ واورېد، په داسې حد چې ټولو ونو پرې لکه د مخکې په څېر غږ اېستی او ښورېدې. هغه پر ده باندې فشار ور وړ (یعنې، غلام د پاچا پر اصلي زوی باندې چې اوس د هغه بادار و فشار وروړ) چې د ځنګله له سړي څخه پوښتنه وکړي چې دا څه شی دی.

ده له هغه څخه پوښتنه وکړه، «دا د خندا زوروور غږ څه شی دی، چې د سهار خواته اورېدل کیږي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځواب ورکړ، «دا خندا ده چې ورځ په شپې پورې خاندي. شپه له ورځې څخه پوښتنه کوي، ' دا ولې داسې ده چې کله ته راشې بیا زه نوم نه لرم؟' بیا ورځ په شور سره وخاندي، او بیا ورځ پیل شي. دغه شی دا د خندا غږ بنیي.»

دا د هغه له پاره حیرانوونکی ښکاره شو، ځکه چې دا یو ډول عجب کار و، چې ورځ په شپې پورې خاندي.

په سهار کې، د ځنګله سړی بیا پر خپله مخه لاړ. هغوی هلته خوراک او څښاک وکړ. په ماښام کې، هغه بیا راغی، او هغوی خوراک او څښاک وکړ او د شپې هلته ویده شول. هغوی د ځناورو غږونه اورېدل چې شور او انګولاوې یې جوړې کړې او ډاروونکې بغارې یې وهلې. ځناورو او الوتونکیو ټولو غږونه کول. زمری به غړمبېدی، او پړانګ به بل ډول غږ ایستی. مرغانو به شپېلې وهلې او اوازونه به یې اېستل. هغه ټولې انګولاوې وې.

په پیل کې، هغوی ډېر سخت ولړزېدل. د هغوی د وېرې له امله، هغوی غږ ته ډېر پام ونه کړ. وروسته، هغوی ښه پام وکړ او وایې ورېدل چې هغه د موزیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سندرې یو عجیب او حیرانوونکی غږ و. هغوی خپل پام نور هم ډېر کړ او وایې وربېدل چې هغه د سندرې او موزیک یو ډېر عجیب او حیرانوونکی غږ و. هغه یوه ډېره عجیبه او لویه خوښي وه چې دوی اورېدله. د نړۍ ټول خوندونه - د دغې سندرې د خوند د عجب والي په وړاندې - بېخي هېڅ او له نشت سره برابر وو. هغوی یو بل ته وویل چې هغوی باید دلته پاتې شي، ځکه چې هغوی هلته د خوراک او څښاک شیان لرل، او هغوی په دغې خوږې خوشحالۍ کې چې نورې ټولې خوښۍ ورته هېڅ وې پراته وو. غلام پر خپل بادار (یعنې د پاچا پر اصلي زوی) باندې زور ور وړ چې له هغه (د ځنګله سړي) څخه په دې هکله پوښتنه وکړي. ده له هغه څخه پوښتنه وکړه.

هغه ده ته ځواب ورکړ، «دا [په دې پورې اړه لري] چې لمر د سپوږمۍ له پاره څنګه کالي جوړوي. د ځنګله ټولو ځناورو وویل چې دا چې سپوږمۍ هغوی ته لوی، لوی خدمتونه کوي – او دا چې د هغوی د واکمنۍ اصلي وخت د شپې دی، ځکه چې ځینې وختونه هغوی اړتیا لري چې یوې ګڼ مېشتې سیمې ته لاړ شي، او د ورځې په جریان کې هغوی دغه کار نشي کولی (او د هغوی د واکمنۍ اصلي وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې دی) او سپوږمۍ هغوی ته د رڼا په برابرولو سره یو خدمت کوي – له دې امله، هغوی موافقه وکړه چې یوه نوې سندره جوړه کړي چې سپوږمۍ پرې ونازوي. او دا هغه نغمه ییزه سندره ده چې تاسو یې اورئ. یعنې، دا چې ټول ځناور او الوتونکي د سپوږمۍ په ویاړ، چې له لمر څخه یې کالي ترلاسه کړي دي، یوه نوې نغمه غږوي.

کله چې هغوی پوه شول چې هغه یوه نغمه ده، هغوی نژدې پاملرنه ورته وکړه، او وایې اوریدل چې هغه یوه ډېره زیاته عجیبه او خوږه نغمه ده.

د ځنګله سړي هغوی ته وویل، «ستاسو له پاره هغه یو نوی شی دی؟! زه یوه وسیله لرم چې زما له پلرونو څخه ماته راپاتې ده، زما پلرونو ته د هغوی د پلرونو له پلرونو څخه ورپاتې وه. دغه وسیله په ځانګړیو پاڼو او رنګینو شیانو باندې جوړه شوې ده. کله چې یو څوک دغه وسیله په یوه څاروي یا الوتونکي باندې کېږدي، بیا هغه سمدلاسه دغه نغمه غږول پیلوي.»

او خندا بیا د مخکې په څېر پیل وکړ، او د ورځې مهال شو. د ځنګله سړی لاړ او ده (یعنې د پاچا اصلي زوی) د هغې وسیلې لټون پیل کړ چې مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاده شو. هغه ټوله کوټه ولټوله، خو پیدا یې نه کړای شوه. دی د هغې وسیلې له نور لټون څخه وډار شو او پرې یې ښوده. هغوی – یعنې، بادار (د پاچا اصلي زوی) او غلام (د وینځې اصلي زوی، چې مخکې پاچا و) – ډاربېدل چې د ځنګله سړي ته ووایي چې هغوی ته لاره ور وښیي څو بېرته ولس ته لاړ شي.

وروسته د ځنګله سړی راغی او هغوی ته یې وویل چې زه به ولس ته د تګ لاره تاسي ته در وښیم. هغه دوی د ولس لوري ته ور برابر کړل. هغه وسیله واخیسته او د پاچا اصلي زوی ته یې ورکړه.

هغه ده ته وویل، «زه دا وسیله تاته درکوم. او د دغه سړي په هکله (یعنې، د هغه غلام، د وینځې اصلي زوی، چې مخکې د الیشولو له امله پاچا و) – باید ته یوه شې چې له هغه سره څنګه چلند وکړې.»

دوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «مونږ چېرې لاړ شو؟»

هغه دوی ته وویل چې تاسي باید د یوه داسې وطن په هکله پوښتنه وکړي چې نوم یې دی: «د هوښیار پاچا لرونکی بې عقل وطن».

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی له هغه ښځه پوښتنه وکړه، «چیرې او په کوم لوري، باید مونږ د دغه وطن لټون پیل کړو؟

هغه یوه ځانګړي لوري ته ګوته ونیوله. د ځنګله سرې د پاچا اصلي زوی ته وویل، «هلته ور شه، هغه وطن ته [چې مخکې یاد شو]، او هلته به ته خپل لویوالی ترلاسه کړې.»

دو هم روان شول. دوی پر خپله لاره باندې روان وو، او ډېر دې ته لېوال وو چې یوځناور یا ښاروی پیدا کړي، او معلومه کړي چې یاده شوې وسیله به خپله نغمه وغږوي که ښنګه. خو هغوی هېڅ ډول ځناور پیدا نه کړ.

وروسته، هغوی په ولسمبشتې سیمې ته راغلل. هغوی یو ښاروی پیدا کړ او وسیله یې پرې کېښودله، او هغې د مخکې په څېر نغمه پیل کړه. هغوی تلل، تلل چې مخکې یادې شوې ځمکې ته ورسېدل. له هغې ځمکې ښځه یو دېوال چاپېر و. هغه ځای ته د ورننوتلو لاره نه وه، خو یوازې یوه دروازه وه او دا اړینه وه چې څو میله لاره ووهل شي څو دروازې ته ورسېږي او بیا هغه وطن ته ورننوځي. هغوی یې پر چاپېر باندې راګرځېدل پیل کړل تر هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازې ته ورسېدل. کله چې دوی دروازې ته ورسېدل، هغوی نه پرېښودل چې ورننوځي. دا چې د هغه وطن پاچا مړ شوی و، او د پاچا زوی ترې پاتې و، او پاچا په خپل وصیت کې لیکلي وو چې: «له دې امله چې، تر اوسه پورې، دغې ځمکې ته (’د هوښیار پاچا لرونکی بې عقل وطن‘)، ویل کېدل، اوس به هغې ته په چپه ډول (’د بې عقل پاچا لرونکی هوښیار وطن‘) ویل کیږي. او هر څوک چې غواړي چې دا شی پرځان قبول کړي، څو اصلي نوم بېرته پرځای راولي – یعنې چې، وطن داسې جوړ کړي چې بېرته په خپل لومړني نامه یاد (’د هوښیار پاچا لرونکی بې عقل وطن‘) شي، – نو داسې یو سړی باید پاچا شي. له دې امله، هغوی نه پرېښودل چې هیڅوک هم هغه وطن ته ورننوځي، مګر داسې یو څوک چې غواړي داسې یو نوم پر ځان ومني: او دغه وطن بېرته خپل اصلي نامه ته ور وګرځي. هغوی له ده څخه پوښتنه وکړه، «ته کولی شې چې دا پر ځان ومنې، چې دا وطن خپل پخواني نامه ته واوړي؟»

دا په یقین سره ناشونې وه چې دی ځان په داسې یو څه کې ښکېل کړي، نو هغوی ونشو کولی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورننوځي. د هغه غلام هڅه وکړه چې دی، دې ته وهڅوي چې بېرته کور ته ستون شي، خو هغه نه غوښتل چې بېرته کورته لاړ شي، ځکه چې د ځنګله سړي ورته ویلی وو چې هغه وطن ته لاړ شه، او دا چې هلته به دی خپل لویوالي ته ورسېږي.

دا وخت یو بل سړی راغلی، چې پر آس باندې سپور و. هغه هم غوښتل چې شار ته ننوځي، خو هغوی د مخکې یاد شوي دلیل له کبله پرېنښود چې ننوځي. دا وخت ده ولیدل چې د هغه سړي آس هلته ولاړ دی. ده هغه وسیله راواخیسته او پر آس باندې یې کېښوده، او هغې یوه ډېره عجیبه نغمه پیل کړه.

آس والا هغه ته ډېرې زارۍ وکړې چې وسیله پر هغه باندې خرڅه کړي، خو هغه نه غوښتل چې پر خرڅه یې کړي.

ده له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته د داسې یوې عجیبې وسیلې په بدله کې ماته څه راکولی شې؟»

آس والا ورته وویل، «ته به په دې وسیله باندې څه وکړې؟ ته پرې یوازې دومره کولی شې چې یو څه چلونه پرې کوې او ځان ته پرې یوه روپۍ پیدا کوې، خو زه داسې یو شی پېژنم چې ستا تر دې وسیلې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دی. یعنې، زه داسې یو شی پېژنم چې ماته زما د پلرونو له پلرونو څخه راپاتې دی: چې په یوه شي کې د بل شي پېژندل دي. یعنې ماته زما د پلرونو له پلرونو څخه داسې څه راپاتې دي چې له یوه شي څخه د بل شي په هکله پوهېدل شوني کوي، نو کله چې یو څوک یوڅه وایي، نو د معمول سره سم باید زه له یوه شي څخه بل شی وپېژنم. تر اوسه پورې ما په نړۍ کې هیچا ته هم دا نه دي ویلي. نو زه به تاته دا شی دروښیم، او ته به یې ما ته په بدل کې دغه وسیله راکړې.»

ده (د پاچا اصلي زوی چې هغه وسیله ورسره وه) پرېکړه وکړه چې دا په ریښتیا سره یو عجب کار دی چې له یوه شي څخه بل معلوم شي. نو ده هغه وسیله هغه ته ورکړه، او هغه (یعنې هغه سړی چې آس ورسره و) ولاړی او ده ته یې ور وښودله چې په یوه شي کې بل شی څنګه وپېژني.

د پاچا اصلي زوی، له دې امله چې هغه کولی شول چې په یوه شي کې بل شی وپېژني، د وطن دروازې ته ورغی. هغه پوه شو چې د هغه له پاره دا شونې ده چې دغه کار وکولی شي – چې هغه وطن د هغه اصلي نامه ته بېرته ور وګرځوي – ځکه چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞**

لا له مخکې کولی شول چې په یوه شي کې بل شی وپېژني؛ له دې امله دی پوه شو چې دا کار شوني دی، خو هغه بیا هم د دې کار په څنګه او څه ډول، باندې نه پوهېدی چې هغه دا کار څنګه وکړي، خو دا چې هغه ته دا وړتیا ورکول شوې وه چې په یوه شي کې بل شی وپېژني نو پوه شو چې دا کار شوني دی.

هغه پرېکړه وکړه چې د ده د ننوتلو امر باید وشي، او هغه به خپل ځان په دې کار کې بښکېل کړي (یعنې، چې وطن خپل اصلي نامه ته بېرته ور وګرځوي.) په دې کې نو تاوان څه دی؟

ده هغو خلکو (چې هیڅوک یې نه پرېښودل چې هلته ورننوځي، پرته له داسې یو چا چې دا کار پر غاړه واخلي، لکه چې مخکې یاد شو) ته وویل چې هغوی باید دی پرېږدي چې ورننوځي، او دا چې دی به دا کار پر غاړه واخلي چې وطن خپل اصلي نامه ته بېرته ور وګرځي.

هغوی ده ته د ورننوتو اجازه ورکړه، او هغوی سرداران په دې خبره باندې خبر کړل چې داسې یو سړی پیدا شوی دی چې غواړي چې دا کار پر غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو**

واخلي چې وطن خپل اصلي نامه ته بېرته ور وګرځوي. هغوی دی د هغه وطن سردارانو ته ور وست.

سردارانو ده ته وویل، «ته باید په دې خبره باندې پوه شې چې مونږ هم خدای دې نه کړي هسې کم عقلان نه یو. البته پخواني پاچا ډېره لویه او لوړه پوهه لرله، نو د هغه په پرتله، مونږ ټول کم بې عقلان ګڼل کېدلو، له دې امله دغه وطن ته 'د هوښیار پاچا لرونکی بې عقل وطن' ویل کېده. بیا پاچا مړشو. د پاچا زوی پاتې شو چې هغه هم هوښیار و، خو زمونږ په پرتله، هغه هېڅ هوښیار نه دی. له دې امله، اوس دغه وطن په سرچپه نامه 'د بې عقل پاچا لرونکی هوښیار وطن' یادېږي. پاچا داسې وصیت کړی دی چې داسې یو څوک چې دومره هوښیار وي چې وکولی شي چې دغه وطن خپل اصلي نامه ته بېرته راوګرځوي هغه سړی به پاچا کېږي. هغه خپل زوی ته امر وکړ چې کله چې داسې شخص پیدا شي، هغه باید پاچایي پرېږدي او هغه سړی باید پاچا شي. یعنې، کله چې داسې یو هوښیار سړی پیدا شي چې دومره هوښیار وي چې د نه منلو وړ وي، تر دې حده چې د هغه په پرتله نور ټول خلک بې عقلان وي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به پاچا کېږي. دغسې يو سړی کولی شي چې دا وطن خپل اصلي نامه ته بېرته راوګرځوي، چې هغوی به يې بيا د 'د هوښيار پاچا لرونکی بې عقل وطن' په نامه يادوي ځکه چې نور ټول خلک به د هغه په پرتله بې عقلان وي. نو ته بايد په دې خبره پوه شې چې ته خپل ځان په څه کې ښکېلوې.» (دا هغه څه وو چې سردارانو ورته وويل.)

هغوی ده ته وويل (يعنې، سردارانو بيا؛ دا ټول د هغه خبرو جريان دی)، «شرط دا دی چې آيا ته دومره هوښيار يې: ځکه چې هلته يو بڼ دی چې له پخواني پاچا څخه پاتې دی، هغه پاچا چې ډېر هوښيار و، او هغه باغ ډېر زيات عجيب دی – هلته فلزي وسيلې، د سپينو زرو وسيلې او د سرو زرو وسيلې راشنې کېږي - او دا ډېر عجيب او حيرانوونکی دی. خو دا ناشونې ده چې هلته څوک ورننوځي ځکه کله چې يو څوک ورننوځي، هغوی (نه ښکارېدونکي خلک) سمدلاسه په هغه پسې کېږي او تعقيبوي يې، او ننوتلی سړی چېغې وهي، خو نه پوهېږي چې څه ورسره کېږي، او نه يې همويني چې څوک يې تعقيبوي. او په دې توګه هغوی هغه تعقيبوي تر هغه چې له بڼ څخه يې پسې واخلي. نو، راځئ چې وګورو چې آيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞**

ته هوښیار یې، آیا ته کولی شې چې دغه بڼ ته ورننوځې.»

ده له هغوی څخه پوښتنه وکړه چې هغوی هغه سړی وهي چې هلته ورننوځي؟

هغوی ده ته وویل چې اصلي خبره دا ده چې هغوی دی تعقیبوي، او هغه په دې هېڅ نه پوهېږي چې هغه څوک دي چې دی تعقیبوي، او هغه په ډېر ویرجن حالت کې ترې راوځي. دا هغه څه دي چې هغو خلکو هغوی ته ویلي دي چې مخکې هلته ورننوتلي وو.

هغه (یعنې، د پاچا اصلي زوی) بڼ ته ورغی او ویې لیدل چې پر هغه باندې یو دېوال ورچاپېر دی. دروازه پرانیستې وه او هلته ساتونکي نه وو، ځکه چې د دغه بڼ له پاره ساتونکو ته هیڅ اړتیا نه وه!

دی د بڼ څنګ ته روان و، چې له بڼ سره یې یو سړی ولیدی. یعنې، هلته د سړي یو رسم و. هغه وکتل او و یې لیدل چې د سړي دپاسه یوه نښه ده او هلته لیکل شوي وو چې دغه سړی سلګونه کاله پخوا پاچا و. د هغه پاچا په وخت کې سوله وه، خو له هغه څخه مخکې جګړې وې او له هغه څخه وروسته هم جګړې وې خو د دغه پاچا په وخت کې سوله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ د پاچا زوى او د وينځې زوى چې سره بدل شوي وو ۞**

دى پوه شو، چې هرڅه په دغه سړي پورې اړه لري ځکه چې هغه لا له وخته په دې توانېدلى و چې له يوه شي څخه بل شى زده کړي. کله چې يو څوک هغه بڼ ته ورننوځي نو هغوى يې تعقيبوي، دې ته هېڅ اړتيا نشته چې څوک دې وتښتي – څنګه چې له دغه سړي سره ودرېږي، کولى شي چې خوندي پاتې شي. سربېره پر دې، که هغه دغه سړى واخلي او دننه يې د دغه بڼ په منځ کې کېږدي، بيا به هر څوک وکولى شي چې دغه بڼ ته په سلامتۍ سره ورشي. (دا ټول هغه څه وو چې د پاچا اصلي زوى پرې پوه شو، ځکه چې هغه له يوه شي څخه په بل شي باندې پوهېدى.)

هغه لاړ او بڼ ته ورننوت. څنګه چې نه ښکارېدونکو خلکو د ده تعقيب پيل کړ، هغه لاړ د بڼ تر څنګ ولاړ سړي سره ودرېد. په دې توګه هغه ښېله دې چې تېي کړل شي، کار وکړ. په داسې حال کې چې نور خلک به چې کله باغ ته ورننوتل نو نه ښکارېدونکو خلکو به د هغوى تعقيبول پيل کړل، او هغوى به په ډېره وارخطايۍ وتښتېدل چې ډېر به وهل شوي وو، خو دى د هغه سړي ترڅنګ د درېدلو له لارې روغ او جوړ راښکاره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞**

سردارانو ولیدل او په دې کار سره حیران شول چې هغه ځنګه روغ جوړ راڅرګند شو. بیا هغه (د پاچا اصلي زوی) هغوی ته امر وکړ چې سړی واخلي او دننه یې د بڼ په منځ کې کېږدي. هغوی همداسې وکړل. بیا ټول سرداران بڼ ته لاړل؛ هغوی ورننوتل او ب‌ېله دې چې ټپي کړل شي، بیرته روغ راووتل.

درباریانو هغه ته وویل، «که څه هم چې تر اوسه مونږ داسې یو کار نه و لیدلی، خو د یوې [کړنې] له مخې دا مناسبه نه ده چې مونږ پاچایي تاته درکړو. مونږ به بیا په یوه بل شي تا ازمویو.»

هغوی هغه ته وویل، «له پخواني پاچا څخه یو تخت راپاتې دی. تخت ډېر اوچت دی. له تخت سره نژدې هر ډول لرګین ځناور او الوتونکي دي (یعنې هغوی په لرګي کې توږل شوي او کیندل شوي دي). د تخت مخ ته یو کټ ولاړ دی. له کټ سره یو مېز ولاړ دی او پر مېز باندې یوه ډیوه ایښې ده. له تخت څخه پلې لارې رابښکته شوي دي او پر لارو باندې دېوالونه راچاپېر شوي دي. دغه لارې له تخت څخه هر لور ته غځېدلي دي، او هیڅوک هم په دې راز نه پوهېږي چې له تخت څخه د دغو لارو راوتل څخه مانا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاچا زوی او د وينځې زوی چې سره بدل شوي وو**

پر دغو لارو باندې چې رابنکته شوي او بيا تر يو څه واټن پورې اوږدې شوي دي – هلته يو د سرو زرو زمرى دى. که يو څوک ورنژدې شي هغه خپله خوله پرانيزي او له ستوني يې تېروي. له دغه زمري ور هاخوا، لاره نوره هم پسې غزېدلې ده، او لکه د نورو په څېر دغه لاره هم له تخت څخه راغلې ده. يعنې، هغه دويمه لاره چې په يوه بېل لوري له تخت څخه راغلې ده هم د همدې په څېر ده: چې دغه لاره تر يو څه واټن پورې غځېدلې او پسې تللې ده، او هلته يو بل ډول ځناور لکه پړانګ دى، چې له يو بل ډول فلز څخه جوړ شوى دى. هغه ته هم ورنژدې کېدل ناشوني دي ځکه چې هغه هم سړى له ستوني تېروي. او له هغه ځاى څخه ور هاخوا هغه لاره نوره هم اوږدېږي او هغه هم د نورو لارو په څېر ده. دغه لارې پسې اوږدېږي او په ټول وطن کې خپرېږي، او هيڅوک هم د تخت او د ورسره شيانو په هکله په هيڅ شيانو (لکه چې پورته ياد شول) او لارو باندې نه پوهېږي. له دې امله، ته بايد په دې سره وازمويل شې، چې آيا ته کولى شې چې د تخت او ورسره شيانو په اهميت باندې وپوهېږې.»

هغوى ده ته تخت وروښود، او ده وليدل چې هغه لوړ و، او داسې نور. هغه تخت ته ورنژدې شو، او ويې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو

لیدل او پوه شو چې تخت د هغه لرګي په څېر لرګي څخه جوړ شوی دی چې مخکینی صندوق (یعنې هغه وسیله چې د ځنګله سرې ده ته ورکړې وه) ترې جوړ شوی و. هغه وکتل او ویې لیدل چې د تخت په سر کې د یوه ځانګړي ګلاب ځای تش پاتې و. که په تخت کې هغه ګلاب وای، هغه به هغه قوت درلود لکه مخکیني صندوق چې درلود (یعنې هغه وسیله چې دا زور یې درلود چې د ځناور یا څاروي یا الوتونکي په یوه ځانګړي ډول باندې په کېښودلو سره به یې نغمه غږوله). هغه مخکې لاړ او ویې لیدل چې هغه ګلاب چې د تخت له سر څخه لیرې شوی دی هغه د تخت په لاندې برخه کې لګېدلی دی. په کار وه چې هغه له هغه ځای څخه واخیستل شي او د تخت دپاسه کېښودل شي. بیا به تخت د هغه صندوق قوت ولري چې مخکې یې یادونه و شوه.

دا چې پخواني پاچا هر څه په حکمت سره په داسې طریقه کړي وو چې هیڅوک په دې ټکي نه پوهیدل تر هغه چې داسې یو څوک چې ښځي هوښیار وای هغه راغلی وای او په دغه شي باندې پوه شوی وای، نو هغه به کولی شول چې هر څه په مناسب ډول برابر، تبدیل او ترتیب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو ۞

همدارنګه هغه پوه شو چې د خوب تخت باید له هغه ځای ځخه چې دا مهال پرې ولاړ و یو څه وښورول شي. نو مېز هم دې ته اړتیا لرله چې یو څه وښورول شي، ځو د هغه ځای یوڅه تغیر شي. په ورته ډول، ډیوه هم باید له خپل ځای ځخه یو څه ښوروول شوې وای. او همدارنګه، الوتونکي او ځناور هم باید له خپلو ځایونو څخه یو څه ښوروول شوي وای: داسې چې دا مرغه له دې ځای څخه واخیستل شي په هغه بل ځای کې کېښودل شي او بل په بل ځای کې کېښودل شي، او همدارنګه دا نور ټول شیان هم.

دا چې پاچا هر څه په حکمت سره په داسې طریقه کړي وو چې هیڅوک هم پرې نه پوهېدل، تر هغه چې هوښیار سړی باید راغلی وای او د دې وړتیا یې لرلی چې پوه شي چې هر څه څنګه په منظم ډول سره برابر کړي. همدارنګه هغه زمری چې هلته (د لارې په اوږدو کې) وه باید هلته ځای پرځای کړي، او دا نور ټول شیان هم سره منظم کړي.

هغه حکم وکړ چې هر څه دې په منظم ډول سره ترتیب شي: چې ګلاب له ښکته ځای څخه واخیستل شي او پاس کېښودل شي، او دا نور ټول شیان هم همداسې شي – یعنې چې ټول شیان په منظم ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاچا زوی او د وینځې زوی چې سره بدل شوي وو**

سره ترتیب شي. بیا، هغوی ټولو د یوې عجیبې نغمې غږول پیل کړل، او هغوی ټولو هغه چارې ترسره کړې چې د هغوی له شان سره برابرې وې.

بیا هغوی هغه ته پاچایي ورکړه.

د پاچا اصلي زوی – چې اوس پاچا شو – د وینځې اصلي زوی ته په رسمي توګه څرګندونه کړه چې: «اوس زه پوهېږم چې زه د پاچا اصلي زوی یم، او ته د وینځې اصلي زوی یې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښه سړی يوه د دعاګانو کيسه

يو وخت په يو ځای کې يو ښه سړی و - چې خلکو ته به يې دعاګانې ور ښوولې. هغه خپل ټول وخت دعاګانو؛ لمونځونو او د خدای پاک ستاينوته وقف کړی و. که څه هم هغه له ولس څخه دباندي ژوند کاوه خو له هغو سره به يې تګ را تګ هم لرلی. په داسې حالتونو کې به هغه د يوچا دروازه ورټکوله – معمولا د داسې چا چې ټيټه سويه به يې لرله، لکه غريب يا داسې نور – او له هغه سره به کښېناستی او د ژوند د اصلي مقصد په هکله به يې خبرې ور سره کولې، او ويل به يې چې په حقيقت کې له دې پرته چې يو څوک خپل ټول عمر د خدای عبادت وکړي، او خپل عمر خدای ته په دعا او د هغه په ستاينو باندې تېر کړي نور ژوند هېڅ مقصد نه لري. ده به هغه سړي ته په راښکونکيو ټکو سره اوږدې خبرې کولې تر دې چې د ده پيغام به د هغه زړه ته ورننوت او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله به ورسره پیدا شوه چې د ده پیرو وګرځي. څنګه چې به داسې وشول، ده به دغه سړی بوتلی او له ولس څخه بهر د خپل ځای په لوري به یې د تګ لاره وروښودله.

اوس، دغه ښه سړی له ټولنې څخه بهر داسې یو ځای انتخاب کړی و چې هلته یو سیند، ونې او مېوې وې چې دوی به خوړلې. دا چې چا به څه ډول کالي اغوستل هغه به یې اغوستل، دا هېڅ ستونزه نه وه.

هغه به ډېر وختونه ولس ته ورتللی، خلکو ته به یې الهام ورکاوه او هڅول به یې چې د خدای عبادت وکړي او په دعا کولو کې د هغه لاره ونیسي، او داسې نور. هرچا به چې په خپله خوښه د هغه پیروي کوله هغه به هغه له ځان سره راروان کړ او له ولس څخه بهر د خپل ځای خواته به یې ورته لارښوونه وکړه. هلته به هغوی خپل ځانونه په بشپړ ډول د لمونځونو له پاره، د داسې ذکر له پاره چې د خدای ستاینه به یې کوله، په خپلو ګناهونو باندې پښېمانیو، روژو، توبې او ریاضت، او داسې نورو کارونو له پاره وقف کړل. هغه به خپلو نویو ملګرو ته خپلې لیکلې دعاګانې، ستاینې، او په ګناهونو باندې اعترافونه ورکړل، او هغوی به خپل ټول وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې له پاره وقف کړ. په پای کې، د دغو خلکو منځ کې چې هغه به هلته راوستي وو، داسې خلک پیدا شول چې کولی به یې شوای چې نور خلک د خدای د عبادت له پاره راولي، نو بیا به هغه هغوی ته اجازه ورکوله چې ولس ته ورشي او خدای ته د خلکو د نږدې کولو په کار کې بوخت شي .

ښه سړی خپله هم تل په دغه کار کې بوخت و، چې پیروان به یې سره راټولول او له ولس څخه به یې را ایستل. په پای کې، د دغه کار نښې ولیدل شوې او خبره خپره شوه. خلک په ناڅاپي توګه له ولس څخه په ورکېدلو شول او هیڅوک نه پوهېدل چې هغوی ته څه ورپېښ شوی. یو ځل، د یو چا زوی ورک شو او نه پیدا کېدی، تر دې چې په پای کې داسې معلومه شوه چې دغه ښه سړی– چې خلکو ته به یې دعاګانې ورښوولې، ګرځي او خلک هڅوي چې د خدای عبادت وکړي. خو هغو ونشول کولی چې هغه ونیسي ځکه چې ښه سړي به په هوښیارتیا سره کار کاوه. هغه به په هرځل خپل ځان په بېله بڼه ښودی. یوه سړي ته به هغه ځان د غریب په بڼه ښودی، بل ته د سوداګر په بڼه، او بل ته په بله بڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښه سړی یوه د دعاګانو کیسه

او کله به چې ده له یوه سړي سره خبرې پیل کړې او یوه به شو چې دی پر هغه په ښکاره توګه اغېزه نشي کولی، نو سملاسي به نورو لارو خبرې پیل کړې ځو هغه ونه پوهېږي چې د ده اصلي ارادې څه دي، داسې به یې ښودله لکه ده چې خدای ته د خلکو د ورنژدې کولو له پاره هېڅ ارادې نه لرلې. که څه هم چې له خلکو سره په خبرو کولو کې د ده ټول نیت یوازې دا و چې هغوی خدای ته رانژدې کړي. دا ټول هغه څه وو چې د ده په ذهن کې وو، خو دا ناشونې وه چې معلومه شي چې د ده اراده داسې وه. بیا هم کله به چې دی پوه شو چې دی نشي کولی پر یوه ځانګړي شخص اغېزه پرېباسي، ده به د موضوع په چاپېر، خوا او شا او پټ ډول خبرې پیل کړې چې هغه شخص به بیا هېڅ نه پوهېدی چې د ده اصلي مقصد څه دی. دا هغه څه دي چې ښه سړي تر هغه وخته پورې کول چې خبره یې خپره شوه. هغوی غوښتل چې دی ونیسي، خو لکه چې یاده شوه دا کار ناشونی و.

نو ښه سړی- چې دعاګانې به یې ښوولې، او د هغه پیروان له ولس څخه بهر اوسېدل، او لکه چې یاده شوه خپل ځانونه یې په بشپړ ډول د دعا، د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاینې، په خپلو ګناهونو باندې پښیمانیو، روژو، او ریاضت ته وقف کړي وو. هغه همدارنګه د خپلو پیروانو له پاره هرهغه څه چې هغه سړي به ورته اړتیا لرله برابر کړي وو .د مثال په توګه، که هغه به پوه شو چې د هغه له پیروانو څخه د یوه پوهه دومره حد ته رسېدلې چې کولی شي د خدای عبادت وکړي او هغه اړتیا لري چې د زرو په کالیو کې وګرځي، ده به دا ورته برابرول. بلې خوا ته، کله ناکله به چې یو شتمن سړی د ده پیروي وګرځېد او ده به له ولس څخه راواېست. که دی به پوه شو چې دغه شتمن سړی اړتیا لري چې ځیرې او خراب کالي واغوندي، ده به هماغه لوري ته لارښوونه ورته کوله. ده به دا ټول د هر شخص د اړتیاوو په پام کې نیولو سره کول –یعنې هغه ته به یې له اړتیا سره سم وسایل برابرول.

او د دغو خلکو له پاره چې ده خدای ته رانژدې کړي وو، روژه نیول یا سخت ځاني ریاضت د نړۍ له ټولو خوندونو څخه ډېر ارزښت درلود- یعنې هغو له سخت ځاني ریاضت او روژه نیولو څخه د نړۍ د ټولو خوندونو په نسبت ډېر خوند اخیست.

اوس، هلته داسې یو ځانګړی وطن و چې په هغه کې لویه شتمني وه – هغوی ټول شتمن وو. خو هغوی دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا اشنا او غیرعادي دود درلود چې خپلې ټولې چارې یې د شتمنۍ پر بنسټ ترتیبولې. د هر شخص موقف به د هغه د شتمنۍ په پام کې نیولو سره درجه بندي کېدی. یو سړي به چې ډېر زرګونه یا لس ګونه زره لرل هغه به یو موقف درلود، په داسې حال کې چې بل به چې بېله اندازه پیسې لرلې هغه به بېل موقف درلود. د موقف ټوله درجه بندي د هغې شتمنۍ پر بنسټ وه چې یو چا به لرله اوهغه سړي به چې په منلې توګه زرګونه او لسګونه زره پیسې لرلې هغه به پاچا ګڼل کېدی.

همدارنګه هغوی معلوماتي ښې (نرۍ درې کونجه بیرغ ډوله ښې) لرلې. هرچا به چې یو ټاکلی مقدار پیسې لرلې هغه ته به یوه ځانګړې معلوماتي ښه ورکول کېده، چې هغه ته به هغه موقف ورکول کېدی چې د هغې معلوماتي ښې په واسطه ښودل کېدی. او هرچا به چې د هغه د شتمنۍ پر بنسټ بېل مقدار **پیسې** لرلې هغه ته به بېله معلوماتي ښه ورکول کېده چې هغه ته به یې هغه موقف ورکاوه چې د هغه د شتمنۍ پر بنسټ د هغې معلوماتي ښې په واسطه به ښودل کېدی. په دې خبره باندې د هغوی تر منځ کلکه هوکړه شوې وه چې – یو سړی باید څومره پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري چې هغه ته داسې موقف ورکول شي چې د یوې معلوماتي نښې په واسطه ښودل کېږي، او یو سړی باید څومره پیسې ولري چې د یوې بېل ډول معلوماتي نښې په واسطه وښودل شي. لکه څنګه چې هغوی په خپلو کې سره منلې وه د هر یوه موقف او مقام ټول د پیسو پر بنسټ و.

همدارنګه د هغوی تر منځ دا هوکړه هم شوې وه چې یو څوک چې یو ځانګړی مقدار پیسې ولري هغه به یو ساده سړی ګڼل کېږي، او که یو څوک تر هغه هم کمې ولري، هغه به څاروی یا مرغه، یا داسې نور ګڼل کېږي. نو هغوی په خپل منځ کې «وحشي څاروي» او مرغان هم لرل. د بېلګې په توګه، کله به چې یو چا یو ځانګړی مقدار پیسې لرلې، هغه ته به «انساني زمری» ویل کېدی، او نور وحشي څاروي او مرغان هم همداسې یادېدل. د یو چا د پیسو د نشتوالي په پام کې نیولو سره به هغه وحشي څاروی، مرغه، یا بل څه ګڼل کېدی، ځکه چې د هغوی له پاره تر ټولو مهم شی پیسې وې، او د هرچا شان او شوکت د هغه د شتو پر بنسټ و.

اوس، د دغه وطن خبره په ټوله نړۍ کې خپره شوې وه، او ښه سړي به په دې خبره سوړ اوسېلی واېست

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ویل به یې، «څوک پوهیږي چې هغوی به په دې باندې څومره بې لارې شي؟» په پایله کې، د ښه سړي ځینې پیروانو داسې احساس کړه چې باید دغه وطن ته سفر وکړي او هغوی بېرته سمې لارې ته راولي. دوی په هغوی باندې له دې امله چې د پیسو په شوق کې دومره بې لارې شوي وو ډېر زړه سوی کاوه په ځانګړې توګه له هغه وخته چې ښه سړي ویلي وه چې ښایي هغوی تر دې نور هم ډېر بې لارې شي. نو دغه پیروان دغه وطن ته په دې هیله لاړل چې هغوی بېرته سمې لارې ته راولي.

هغه وطن ته په رسېدلو او هلته په ورننوتلو سره، دوی کېناستل چې د هغه له اوسېدونکو، احتمالاً د «ښارویو» له جملې څخه له یوه سره (یعنې، یوه د ټیټ موقف سړي سره چې په نسبي توګه لږې پیسې یې لرلې، او په هغه وطن کې ورته ښاروی ویل کېده) خبرې وکړې، خو هغه دوی ته هېڅ پام ونه کړ، ځکه چې هغه په دې عقیده کې ډېر ژور ننوتی و چې پیسې تر ټولو ډېر مهم شی دی. کله چې دوی له یوه بل سړي سره خبرې وکړې بیا هم همدا شی پېښ شو. له پیروانو څخه یوه له هغه سره اوږدې خبرې وکړې، چې دا وخت هغه سړي چې خبرې ورسره کېدلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وویل، «زه نور وخت نه لرم چې له تا سره خبرې وکړم.»

«ولې نه؟» ده له هغه څخه پوښتنه وکړه.

هغه وویل، «څکه چې مونږ ټول اوس دا وطن پرېږدو او یوه بل وطن ته ځو. مونږ چې ګورو، پیسې تر ټولو ډېر مهم شی دی، نو مونږ په خپلو کې سره هوکړه کړې ده چې هغه وطن ته لاړ شو، څکه چې مونږ کولی شو چې هلته ډېرې پیسې ترلاسه کړو. مونږ به وکولی شو چې سره زر او سپین زر له ځمکې څخه راوباسو. نو مونږ ټول باید اوس هغه وطن ته لاړ شو.»

همدارنګه [د دغه وطن خلکو] په خپلو کې هوکړه کړې وه چې د ستورو او پېرونو ځای وټاکي. یعنې، که یو چا به ځانګړی منلی مقدار پیسې لرلې هغه به یو ستوری ګڼل کېدی، څکه چې که هغه هومره ډېرې پیسې لرې هغه باید د یوه ستوري زور ولري، څکه چې ستوري د دې سبب ګرځي چې د سرو زرو تیږه جوړه کړي. دا چې ولې په یوه ځانګړې ځمکه کې سره زر وي په دې سبب وي چې یوه ستوري په هغه ځای کې د سرو زرو ګرد جوړ کړی وي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه، سره زر د ستورو په واسطه جوړېږي، او که یو شخص یو ځانګړی مقدار سره زر ولري، ښکاره خبره ده چې هغه د یوه ستوري زور لري، نو هغه خپله یو «ستوری» ګڼل کېږي.

هغو همدارنګه هوکړه کړې وه چې د پېرونو له پاره یو موقف وټاکي. که یو چا به یو ځانګړی منلی مقدار پیسې لرلې، هغه به یو پېرونی ګڼل کېدی. او هغو همدارنګه د پرښتو له پاره هم یو موقف ټاکلی و. دا ټول د پیسو د مقدار په پام کې نیولو سره شوي وو. په پای کې، هغو په خپلو کې سره هوکړه کړې وه چې د یوه خدای موقف یا درجه هم وټاکي. که به یو چا د زرګونو او لسګونو زرو په اندازه یو ځانګړی منلی مقدار ډېرې پیسې لرلې، هغه به یو خدای ګڼل کېدی. دا چې خدای به خپل ځان ته ډېرې پیسې ورکړې وې، نو هغه به خپله خدای و. هغو پورتني ټول کارونه ترسره کړل.

هغو همدارنګه ومنله چې دا د هغو له پاره نامناسبه ده چې په ولس کې واوسېږي او له نورو انسانانو سره ګډ شي، که نه دوی به د هغو په واسطه ککړ کړل شي. هغو نور انسانان د خپلو ځانونو په نسبت ککړ ګڼل. په دې توګه، هغو پرېکړه و کړه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ❁ بنه سږی یوه د دعاګانو کیسه ❁

ځانونو له پاره په نړۍ کې تر ټولو لوړغرونه ولټوي او په کې واوسېږي، چې هلته به دوی د نړۍ له اتموسفیر څخه لوړ و اوسي. نو د لوړو غرونو د لټولو له پاره یې لټوونکي ولېږل، او هغوی ډېر جګ غرونه پیدا کړل.

بیا د دغه وطن ټول خلک لاړل چې هلته په دغو جګو غرونو کې ځای پرځای شي. له دغو غرونو څخه پر هر غره باندې د دغه وطن د خلکو یو ګروپ ځای پرځای شو. هغو د هر غره چاپېره ټینګ دېوالونه او سنګرونه راوګرځول. د هرغره چاپېره ژورې کندې او داسې نور وو چې دا د هر چا له پاره ښکاره ښخي ناشونې وه چې هغوی ته ور ورسېږي. غره ته یواځې یوه پټه لاره ورغلې وه چې هېڅ بهرنی به نشول کولی چې هغې ته ور ورسېږي. هغوی د هرغره چاپېره دغه ډول کلک دېوالونه جوړ کړل. هغوی همدارنګه له غره څخه په یو څه واټن داسې پر پیره ولاړ پیره داران لرل چې کتل به یې چې هېڅ بهرنی نژدې ورنشي. او هغوی، چې په دغو غرونوکې اوسېدل خپل ژوند ته د خپل یاد شوي دود له مخې دوام ورکړی و. هغوی ډېر خدایان لرل؛ چې هر یو یې د هغه د شتو له مخې ګټل کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ ښه سړی یوه د دعاګانو کیسه ۞

خو دا چې پیسې د هغو له پاره ډېرې مهمې وې چې یو غټ مقدار پیسو به یو سړی خدای جوړاوه، [دغه خدایان] ډاربېدل چې ونه وژل شي او ونه لوټل شي. دا هم شونې وه چې د هغو له ډلې څخه دې هر یو د دې له پاره ووژل شي یا ولوټل شي چې د غلا شویو پیسو په برکت یې د خدایۍ درجه بل چاته په لاس ورشي. هو، په عمل کې خلکو له خپلو ځانونو سره ویل، «دا چې دغه شخص خدای دی، نو، هغه به له لوټ او وژنې څخه خوندي وي.»

هغو دا ډول عبادت کاوه او په نوم به یې قربانۍ کولې. هغوی خدایانو ته قربانۍ او دعاګانې کولې. هغو همدارنګه انساني قربانۍ ورته راوړلې. هغو به خپل ځانونه یوه خدای ته قرباني کول څو له هغه سره ګډ شي او بیا د یوه شتمن شخص په څېر ښکاره شي. دین یې د پیسو پر بنسټ جوړ شو. بېلابېل عبادتونه، قربانۍ او عنبر به دغو «خدایانو» ته وړاندې کېدل.

خو وطن بیا هم له وژنې او لوټنې څخه ډک و، ځکه چې هر چا به چې د دغو عبادتونو په ګټه باندې باور نه درلود هغه به د شتمنۍ د ترلاسه کولو له پاره وژل کېدی او لوټل کېدی، ځکه چې پیسې د هغو له پاره تر ټولو مهم شی و. د پیسو په واسطه، یو شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شول چې هر ډول خواړه یا کالي ترلاسه کړي. د انسان ژوند (د هغو د کارونو او ګډوډ فکر له مخې) پر پیسو ولاړ و، او په دې توګه پیسې د هغو دین ګرځېدلی و.

هغو به هڅه کوله چې په وطن کې يې هېڅکله هم د پیسو کمی رانشي، ځکه چې پیسې د هغو دین او خدای و. بلې خوا ته – هغو کوښښ کاوه چې خپل د پیسو عواید وطن ته د نورو بهرنیو سرچینو په راوړلو سره لوړ کړي. سوداګر به بهرته تلل چې په نورو وطنونو کې معاملې وکړي چې پیسې وګټي او وطن ته په بېرته راتګ سره يې راوړي.

خیرات ورکول د هغو له پاره په ښکاره توګه سخت منع و، ځکه چې په دې توګه یو څوک د هغو پیسو برکت له لاسه ورکوي چې خدای هغه ته ورکړي دي. دا چې پیسې لرل ترټولو مهم شی دی، او په دې طریقه یو څوک د بل چا پیسې کموي او زیان وراړوي، له دې امله له خیرات ورکولو څخه ډېر سخت منع و.

همدارنګه هغوی داسې چارواکي وګمارل چې معلومه کړي چې هر سړی په ریښتیا سره هومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې لري چې ادعا لري. هر یو مجبور و چې کله ناکله د خپلو شتو ثبوت وړاندې کړي څو خپل هغه شان وساتي چې د هغه د پیسو پر بنسټ هغه ته ورکول شوی و. ځینې وختونه به یو ښاروی پر انسان واوښت، یا به یو انسان په حیوان بدل شو. هسې چې، که به یو سړي خپلې یوڅه پیسې له لاسه ورکړې، هغه به له انسان څخه ښاروي ته راټیټ شو، ځکه چې هغه به بیا کافي اندازه پیسې نه لرلې. او سرچپه یې هم همداسې کېدل: که یو چا به ډېرې پیسې وګټلې، هغه به له ښاروي څخه انسان ته پورته شو، او دا نورې سطحې هم همداسې وې.

د هغوی د «خدایانو» مجسمې او څېرې جوړې شوې وې. دوی هر یوه دغه مجسمې او څېرې لرلې او هغه به یې په غېږ کې نیولې او ښکلولې، ځکه چې دا یې مذهب او عقیده وه.

اوس، د ښه سړي- چې دعاګانې به یې ښوولې، هغه پیروان چې پر سمه لاره روان وو کور ته راستانه شول او ښه سړي ته یې د هغه وطن د لویې غلطۍ او حماقت په هکله وویل، یعني دا چې هغوی د پیسو په شوق کې څومره ډوب وو، څنګه هغوی له یوه ځای څخه بل ته ځي، او څنګه هغوی «ستوري» او

(c) ketabton.com: The Digital Library



«پېروني» جوړوي. ښه سړي داسې وښودله چې هغه ډاربېږي چې هغوی به نور هم د بې لاريتوب خوا ته لاړ شي. بيا هغه ته وويل شول چې هغوی د خپلو ځانونو له پاره خدايان نيولي دي، او هغه وويل چې دا هغه څه وو چې هغه يې په هکله له پيل څخه وېرېدی.

اوس ښه سړي پر هغو باندې سخت زړه سوی پيل کړ او پرېکړه يې وکړه چې هغه به خپله هلته ورځي. ښايي چې دی به وکولی شي چې د هغو پام ورواړوي چې خپلې غلطۍ ووينې.

نو ښه سړی خپله هلته لاړ او هغو ساتونکو ته ور ورسېد چې د غره چاپېر ولاړ وو. ښکاره خبره وه چې ساتونکي د ټيټې سطحې خلک وو، چې اجازه ورکول شوې وه چې د دې نړۍ د اتموسفير په وړاندې څرګند شي، ځکه چې هر چا به چې د هغه د پيسو له کبله څه شان او شوکت درلود هغه ته به‌يې اجازه نه وه چې د بهرنۍ نړۍ له خلکو سره ګډ شي يا د دې نړۍ د اتموسفير په وړاندې ښکاره شي، څو ککړ نشي. هغو ته به‌يې اجازه نه وه چې د بهرنۍ نړۍ له خلکو سره خبرې وکړي، څو د هغو د تنفس په هوا باندې ککړ نشي. (نو هغه ساتونکي چې له ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښه سړی یوه د دعاګانو کیسه**

څخه بهر ولاړ وو، په ښکاره توګه د ټیټې کچې خلک وو.) خو ان ساتونکیو هم مجسمې لرلې، او په مکرر ډول به یې په غېږ کې نیولې او ښکلولې به یې، ځکه چې د هغو له پاره هم پیسې د ایمان مرکزي ټکی و.

نو ښه سړی د ساتونکیو له ډلې څخه یوې ته ورغی او د اصلي مقصد په هکله یې ورسره خبرې پیل کړې، ویې ویل چې د خدای عبادت. د سپېڅلو کتابونو قرائت، لمونځ، نېک عملونه، او داسې نور اصلي مقصد دی، او پیسې حماقت دی نه اصلي مقصد، خو ساتونکي د هغه خبرو ته هېڅ پام ونه کړ، ځکه چې هغه لا ډېر له پخوا څخه په دې عقیده کې ډوب شوی و چې پیسې تر ټولو ډېرمهم شی دی.

ښه سړی بل ساتونکي ته ورغی او د پورته په څېر یې ورته خبرې وکړې، خو یوه هم هغه ته هیڅ پام ونه کړ. هغه په ټولو ساتونکو باندې وګرځېد، خو هېڅ چا هم هغه ته هیڅ پام ونه کړ.

ښه سړي پرېکړه وکړه چې ښار ته چې د غره په سر کې پروت و، ورننوځي. کله چې هغه هلته ورسېد، هغوی حیران شول، ځکه لکه مخکې چې یاده شوه دا نا شونې وه چې هلته دې څوک ورننوځي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی له هغه ښځه وپوښتل، «دلته ته څه ډول رانغلې؟!»

ده وویل، «دا چې زه لا له وخته دلته یم، څه توپیر کوي چې زه دلته څنګه راغلم، نو تاسو ولې پوښتنه کوئ؟» او ده د هغو له ډلې ښځه له یوه سره د اصلي مقصد په هکله خبرې پیل کړې، خو هغه ده ته هیڅ پام ونه کړ. بل هم همداسې وکړل، او ټولو همداسې وکړل، ځکه چې هغوی ټول په خپله غلطۍ کې ډوب وو.

خو د ښار د اوسېدونکو له پاره دا ډېره حیرانوونکې وه چې یو نابلده سړی راغلی و او له دوی سره یې داسې خبرې کولې چې د هغو له عقیدې سره په ټکر کې وې. هغوی داسې احساس پیل کړ چې ښایي دغه سړی هغه بنه سړی (چې دعاګانې به یې ښوولې) وي، ځکه چې هغوی لا له وخته اوریدلي و چې په نړۍ کې داسې یو بنه سړی شته. د بنه سړي اوازه لا له وخته په ټوله نړۍ کې خپره شوې وه. هغه ته «پرهیزګار بنه سړی» ویل کېده، خو دا ناشونې وه چې هغه وپېژندل شي او ونیول شي ځکه چې هغه همېشه هر سړي ته په بېله بڼه ښکاره کېدی. یوه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به  د سوداګر په ښه ښکاره شو، بل ته د سوالګر، او بیا به له هغه ځای څخه ورک شو.

اوس، دغه وخت، یو پیاوړی جنګیالی له ډېرو نورو جنګیالیو سره چې د هغه پر چاپېر ورټول شوي وو ګرځېدی او وطنونه یې فتحه کول. ټول هغه څه چې هغه غوښتل هغه [د هغوی] تسلیمي وه. کله چې د وطن خلکو ځانونه هغه ته تسلیمول، هغه به هغوی پرېښودل. که نه، له منځه به یې وړل. په دې توګه هغه تللی او فتحې یې کولې، حتی پیسې یې هم نه غوښتې. یوازې [د هغوی] تسلیمي یې غوښته، چې هغوی باید د ده تابع وګرځي. هغه به په داسې حال کې چې هغه به سل میله لیرې و، لومړی خپل جنګیالي یوه وطن ته ورولېږل [چې وغواړي چې هغوی] هغه ته تسلیم شي. په دې توګه هغه وطنونه فتحه کړل.

د شتمنیو د دغه وطن سوداګر، چې نورو وطنونو ته د سوداګرۍ له پاره تللي وو، خپل وطن ته راستانه شول او خلکو ته یې د دغه جنګیالي په هکله ویل. پر هغو یوه وېره راغله. که څه هم چې هغوی غوښتل چې هغه ته تسلیم شي، دا خبره چې هغوی اورېدلې وه چې هغه له پیسو سره علاقه نه لري او د پیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ پروا نه کوي، خو دا چې د هغو د عقيدې سره په ټکر کې و، نو په دې توګه د هغوی له پاره ناشونې وه چې هغه ته دې تسليم شي. د هغوی له پاره دا داسې وه لکه خپل دين چې پرېږدي، ځکه چې هغه د دوی په عقيده – پر پيسو باندې هېڅ باور نه درلود. په پايله کې، د هغه له کبله په دوی کې ډېره وېره خپره شوه.

هغوی خپلو خدايانو ته عبادت او قربانۍ شروع کړې. هغو به يو ځاروی راونيو (يعنې، داسې څوک چې لږې پيسې به يې لرلې او هغوی به ځاروی بالله) او هغه به يې د قربانۍ په دود خپلو خدايانو ته وروړاندې کړ، او داسې نور عبادتونه.

په دې وخت کې دغه جنګيالی دوی ته ډېر را نږدې سوی و، او خپل جنګيالي يې مخکې ورته راولېږل چې له هغوی څخه پوښتنه وکړي چې کومه لاره غوره کوي، ځکه چې دا د هغه طريقه وه. هغوی وېري واخيستل او نه پوهېدل چې څه وکړي. د هغوی خپلو ځينې سوداګرو هغوی ته توصيه وکړه چې يوه ځانګړي وطن ته تللي وو چې ټول اوسېدونکي يې خدايان وو، او دا يې وويل چې هغوی له پرښتو سره ګرځي. په نورو ټکو، په هغه وطن کې هر څوک،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تر ټولو کوچني څخه نیولې تر ټولو لوی پورې، هر یو دومره شتمن دی چې ان په هغوی کې تر ټولو کوچنی د هغوی د غلطو معیارونو له مخې خدای ګڼل کېږي (یعنې، په هغه بل وطن کې تر ټولو کوچنی دومره ډېر شتمن دی چې هغه دومره ډېرې پیسې لري چې په هغه وطن کې خدای ځنې شوی). او هغوی «له پرښتو سره سفر کوي» ځکه چې د هغوی اسونه په داسې ډېرو سرو او ورته نورو څیزونو پوښلي دي چې د یوه اس پوښ دومره قیمت لري چې له یوه سړي څخه د هغوی د معیارونو له مخې خدای جوړوي. په دې توګه، چلوونکي «له پرښتو سره سفر کوي» - هغوی درې جوړې «پرښتې» له یوې بګۍ سره تړي او سفر ورسره کوي. له دې امله، هغوی باید دغه وطن ته [یو پلاوی] ولیږي، دا یقیني خبره ده چې هغوی به وکولی شي چې له هغوی سره مرسته وکړي، ځکه چې د هغه وطن ټول اوسېدونکي خدایان دي. (دا ټوله د هغوی د سوداګرو توصیه وه.) دغه نظریه د خلکو ډېره زیاته خوښه شوه، ځکه چې هغوی باور درلود چې دوی به خامخا د هغوی په مرسته وژغورل شي، ځکه چې هغوی ټول خدایان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ❁ ښه سړی یوه د دعاګانو کیسه ❁

اوس نو ښه سړي- پرېکړه وکړه چې باید بیا دغه وطن ته لاړ شي، کېدای شي چې هغه دا ځل وکولی شي په دې کې کامیاب شي چې هغوی په خپله غلطۍ باندې اعتراف کولو ته حاضر کړي. نو هغه لاړ او ساتونکو ته ور ورسېد او د هغوی له ډلې څخه یې له یوه سره په خپله طریقه خبرې شروع کړې. ساتونکي هغه ته د دغه جنګیالي په هکله وویل چې هغوی له هغه څخه وېرېږي. ښه سړي له هغه څخه پوښتنه وکړه، «او ته څه غواړې چې په دې هکله یې وکړې؟»

ساتونکي هغه ته د پورتنۍ مشورې په هکله وویل – چې هغوی غواړي چې هغه وطن ته چې په هغه کې ټول خدایان دي [یو پلاوی] ورولېږي. ښه سړي په هغه پورې په زوره وخندل او ویې ویل، «دا خو ډېر احمقانه کار دی! د هغه وطن خلک همدا زمونږ په څېر انسانان دي. تاسو ټول، ستاسو د خدایانو په شمول، یوازې انسانان یاست، نه خدایان. په نړۍ کې یوازې یو خدای دی، چې هغه خالق دی، او یوازې له هغه سره ښایي چې عبادت یې وشي، او یوازې له هغه سره ښایي چې دعا او لمونځ ورته وشي. دا اصلي مقصد دی.» دا هغه خبرې وې چې ښه سړي ساتونکي ته وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ساتونکي د هغه خبرې ونه منلې، ځکه چې د هغه ګمراه کوونکې عقیده له ډېرې مودې راهیسې د هغه په ذهن ځای نیولی و. خو ښنه سړي له هغه سره خبرو ته دوام ورکړ، تر هغو چې په پای کې ساتونکي وویل، «هر ډول چې وي، زه څه کولی شم؟ زه یواځې یو سړی یم (او د وطن ټول اوسېدونکي تر ما ډېر زیات دي.)»

ښنه سړي په دغه ځواب کې یو څه ډاډ ومونده، ځکه چې هغه پوه شو چې د هغه خبرو د ساتونکي غوږو ته ننوتل پیل کړي دي. هغه څه چې هغه د هغوی په لومړی لیدنه او خبرو کې ساتونکي ته ویلي وو او هغه څه چې اوس یې ویلي وو سره یو ځای د هغه په زړه باندې اغېزه وکړه. هغو خبرو لکه چې د هغه له ځواب نه احساسېده هغه ته یو څه شک راپورته کړ او په ورو، ورو سره یې د هغه ذهن بدل کړ.

په دې توګه، ښنه سړی دویم ساتونکي ته ورغی او په پورته ډول یې خبرې ورسره وکړې. خو هغه هم د ده خبرې ونه منلې، خو په پای کې هغه هم د لومړني په څېر ځواب ورکړ، «زه یواځې یو سړی یم او دا نور ډېر خلک دي او داسې نور.» په پای کې، ټولو ساتونکو همدغه ځواب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ښه سړی یوه د دعاګانو کیسه

بیا ښه سړی ښار ته ننوت او له هغوی سره یې په خپله طریقه خبرې پیل کړې. هغوی ته یې وویل چې: ټول پر غلطه روان یاست؛ دا لاره د ژوند مقصد نه دی؛ اصلي مقصد د سپېڅلو کتابونو لوستل، لمونځ او داسې نور دي.

هغوی ده ته د جنګیالي په هکله وویل، او دا چې هغوی غواړي چې دغه وطن ته چې په هغه کې ټول خدایان دي [یو پلاوی] ورولېږي. هغه په هغوی پورې وخندل او هغوی ته یې وویل دا څومره احمقانه خبره ده، او دا چې هغوی ټول یوازې انسانان دي، او داسې نور. ده ورته وویل چې هغوی به ستاسې سره هیڅ مرسته ونشي کولی «ځکه چې تاسو یواځې انسانان یاست او هغوی هم یواځې انسانان دي، نه خدایان. خدای یواځې یو خدای دی، او بس.» او د جنګیالي په هکله هغه هغوی ته ( د یوې ابلاغي پوښتنې په توګه) وویل، «دا خو به هغه جنګیالی نه وي؟» (هغه، زه چې یې پېژنم!).

خوهغوی پوه نه شول چې له دې خبرې څخه یې مقصد څه و. نو هغه له یوه څخه بل ته خبره اوړ.ده کړه، چې په دې ډول یې خبرې کولې، هر یوه ته یې د جنګیالي په هکله ویل، «آیا دا هغه جنګیالی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی؟» خو هیڅوک هم نه پوهېدل چې د هغه مقصد څه و.

په دې وخت کې، په ښار کې یو غټ شور پیل شو، چې یو څوک دغه ډول خبرې کوي، د هغوی په عقایدو پورې ملنډې وهي، وایي چې یواځې یو خدای شته او داسې نور، او د جنګیالي په هکله په پورته ډول خبرې کوي. هغوی پوه شول چې دا به همدغه ښه سړی وي چې دعاګانې به یې ښوولې، ځکه چې هغه لا مخکې تر مخکې هغوی پېژندی؛ نو حکمونه وشول چې هغه دې ونیول شي. او که څه هم چې هغه تل هغوی ته په بېلو، بېلو بڼو (لکه یو ځل د سوداګر، بیا د سوالګر، لکه چې پورته یاده شوه) ښکاره کېدی، هغوی په دې هم پوهېدل چې ښه سړی تل خپله بڼه بدلوي، نو حکمونه وشول چې د هغه ښار دې وشي او و دې نیول شي.

د هغه لټون پیل شو، چې په پای کې هغوی هغه ونیو او د وزیرانو مخ ته یې ودراوه. هغوی له هغه سره خبرې پیل کړې، خو هغه هغوی ته عین شیان، لکه چې مخکې یاد شول، ووېل – دا چې هغوی په ډېره لویه غلطۍ او حماقت کې دي، او دا چې دا په هېڅ صورت مقصد نه دی (یعنې، پیسې په هېڅ صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصد نه دی)، بلکه یواځې یو دی، چې هغه خالق دی، او داسې نور. او دا چې د هغه وطن خلک چې هغوی وايي چې خدایان دي هغوی به له دوی سره هېڅ مرسته ونشي کړای، ځکه چې هغوی هم یواځې انسانان دي. خو هغوی هغه لېونی وګانه، ځکه چې د هغه وطن ټول اوسېدونکي د پیسو په غلطۍ کې داسې ډوب شوي وو چې هرچا به چې د هغوی د غلطو نظریاتو پر ضد خبرې کولې هغه به لېونی ګڼل کېدی.

هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «خو دا د جنګیالي په هکله یې چې ته وایې ’آیا دا هغه جنګیالی نه دی؟!‘ له دې څخه دې مقصد څه دی؟»0:41

هغه ځواب ورکړ، «یو وخت زه له یوه ځانګړي پاچا سره وم، او د هغه د جنګیالیو له ډلې څخه یو ورک شو. نو که دا هغه جنګیالی وي، نو زه یې پېژنم. سربېره پر دې، ستاسو دا باور چې په هغه وطن کې ټول خدایان دي دا هسې حماقت دی ځکه چې هغوی نشي کولی چې له تاسو سره مرسته وکړي. او زما په نظر، که تاسو پر هغوی زړه وتړئ، دا به ستاسو زوال وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته څنګه پوهېږې؟»

هغه وویل، «څکه چې دغه پاچا (له چا سره چې هغه وخت تېر کړی و)، یو جوړ شوی لاس درلود – یعنې هغه یو د لاس انځور درلود چې پنځه ګوتې او د لاس ټولې کرښې یې لرلې. دغه لاس داسې و لکه د ټولو نړیو او د اسمان او ځمکې له پیدایښت څخه تر زوال پورې زمانې د ټولو موجودو شیانو او ان هغه څه چې له هغه وروسته به راځي نقشه هر څه پر دغه لاس رسم شوي وو. د دغه لاس په کرښو کې د هرې نړۍ بڼه د هغې له ټولو جزیاتو سره داسې رسم شوې وه لکه پر یوه نقشه چې رسم شوې وي.

«سربېره پر دې، دغو کرښو د تورو تصویرونه جوړول، ښځي داسې لکه پر یوه نقشه، چې په هغې کې د هر ځای تر څنګ توري لیکل شوي وي څو معلومه شي چې هغه کوم ځای دی – یعنې دا چې دلته دا او دا ښار پروت دی، او دلته دا او هغه سیند دی او داسې نور. په همدې ډول، د لاس کرښو چې د هر ځای تر څنګ د تورو تصویرونه جوړول په لاس باندې داسې انځور شوې وې چې ښودل یې چې هغه د څه استازیتوب کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ ښه سړی یوه د دعاګانو کیسه ۞

«د ټولو وطنونو، ښارونو، سیندونو، پلونو، غرونو او داسې نورو جزیات او نور ټول انفرادي شیان د دغه لاس پر کرښو باندې رسم شوي وو، او د هر شي تر څنګ داسې توري وو چې ښودل یې چې دا دغه شی دی او دا هغه شی دی. همدارنګه، ټول خلک چې په یوه وطن کې ګرځي، د هغوی د ټولو تجربو په شمول، دا ټول هلته رسم شوي وو. له یوه وطن څخه بل وطن ته، له یوه ځای څخه بل ځای ته تللي ټول سرکونه هم ټول هلته رسم شوي وو. د همدې په مرسته زه پوه شوم چې دغه ښار ته څنګه راشم، او دا داسې کار دی چې بل هیڅوک به یې ونشي کولی. او که تاسو غواړئ چې ما کوم ښار ته ولیږئ، زه د دغه لاس د لارې په مرسته، پوهیږم چې هلته د تګ لاره څنګه پیدا کړم.

«له یوې نړۍ څخه بلې ته د تګ لاره هم هلته رسم شوې وه. هلته داسې لارې هم شته چې په هغو سره یو څوک کولی شي چې له ځمکې څخه اسمان ته پورته شي (دا دلیل چې اسمان ته ختل څنګه ناشوني دي دا دی چې مونږ ته لاره نه ده معلومه، خو پر دغه لاس، اسمان ته د ختلو لاره رسم شوې وه)، او پر دغه لاس د یوې او بلې نړۍ تر منځ د تګ ټولې لارې هم رسم شوې دي. د بېلګې په توګه، الیاس (ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه لاره، چې پر دغه لاس رسم شوې وه، اسمان ته وخوت، په داسې حال کې چې موسی (ع) پر یوه بله لاره پورته شو، چې هغه هم پر دغه لاس رسم شوې وه، او ادریس (ع) پر یوه بېله لاره اسمان ته وخوت، او دا هم پر دغه لاس لیکل شوې وه. او په ورته ډول، د یوې او بلې نړۍ تر منځ ټولې لارې د دغه لاس پر کرښو رسم شوې وې.

«همدارنګه پر دغه لاس هر شی داسې موجود و لکه د هغه د پیدایښت پر وخت چې و، لکه اوس چې دی، او لکه په راتلونکي کې به چې وي. د بېلګې په توګه، صدوم داسې رسم شوی و لکه هغه چې د هغه د استوګنې پر وخت، له ویجاړتیا څخه مخکې و. د صدوم ویجاړتیا – دا چې هغه ویجاړ شو – هم پر دغه لاس رسم شوې و، او له ویجاړتیا څخه وروسته هم د صدوم یو انځور هلته و، ځکه چې پر دغه لاس د پخوا، اوس او راتلونکي انځورونه وو.

«نو ما پر دغه لاس ولیدل چې دغه وطن چې تاسو یې په هکله وایاست چې هغوی ټول خدایان دي، له ټولو هغو خلکو سره چې هغوی ته د مرستې له پاره لاس ورغځوي - هغوی به ټول له منځه لاړ او پوپناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.» (دا ټول هغه څه وو چې ښه سړي ورته وويل.)

هغوی د هغه څه په هکله چې ورته وويل شول ډېر ډېر حيران شول، ځکه چې هغوی داسې احساس کړه چې هغه په ښکاره توګه ريښتيا ويل، ځکه چې کېدای شي چې هرڅه پر يوه نقشه رسم شي، هغوی پوه شول چې هغه ريښتيا ويل، ځکه چې د لاس دوې کرښې کولی شي چې داسې سره يو ځای شي چې يو توری جوړ کړي (په دې توګه، هغوی پوه شول چې هغه نشوای کولی چې ټوله کيسه له ځانه جوړه کړي نو هغوی يې خبرو ته ډېر حيران شول.)

نو هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «او دغه پاچا چېرې دی؟ ښايي چې هغه مونږ ته لاره راوښيي چې پيسې ترلاسه کړو».

هغه ورته وويل، «تاسو اوس هم پيسې غواړئ؟ له ما سره د پيسو په هکله هېڅ خبرې مه کوئ!»

هغوی بيا پوښتنه وکړه، «خو بيا هم دغه پاچا چېرې دی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ ښه سړی يوه د دعاګانو کيسه ۞

«زه خپله هم نه پوهېږم، خو زه کولی شم چې تاسو ته يې کيسه وکړم:

«يو وخت په يو ځای کې يو پاچا او يوه ملکه وه چې يوازې يوه لور يې لرله. کله چې د هغوی عمر پر تېرېدلو شو، هغوی د هوښيارو خلکو يوه جرګه ور وبلله چې هغوی ته مشوره ورکړي چې څنګه کولی شي چې خپله لور يوه مناسب سړي ته ور واده کړي. په هغې جرګې کې زه هم حاضر وم، ځکه چې د پاچا زه ډېر خوښېدم. زما مشوره دا وه چې هغه دې دا يوه جنګيالي ته ور واده کړي، ځکه چې دغه جنګيالي زمونږ له پاره ښه کارونه کړي وو، او ډېر وطنونه يې فتح کړي وو، نو دا مناسبه وه چې شهزادګۍ دې هغه ته د مېړمنې په توګه ورکول شي. زما مشوره ښه ومنل شوه، او هر چا ورسره موافقه وکړه. هلته د شهزادګۍ له پاره د زوم د پيدا کولو له امله لويه خوښي جوړه شوه.

«او په دې توګه، هغوی خپله لور هغه جنګيالي ته ور واده کړه، او په پای کې هغې زېږون وکړ. ماشوم ډېر زيات ښکلی و ــ د هغه ښکلا له انساني چوکاټ څخه بېخي وتلې وه. د هغه وېښتان د سرو زرو وو، خو په هغو کې ټول ليدل کېدونکو رنګونو شتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود. د هغه مخ د لمر په څېر ځلېدی، اوسترګې یې پړکېدې.

او دغه ماشوم ښه پوره هوښیار زیږېدلی و. څنګه چې هغه پیدا شو، هغوی ولیدل چې پخه پوهه لري، داسې چې کله به چې خلکو خبرې کولې، هغه به د خندا پر وخت خندل، او داسې نور. په لنډه به یې ووایو، هغوی ولیدل چې هغه ښه پوره هوښیار و، خو بیا هم هغه دا وړتیا نه لرله چې داسې صحیح حرکتونه وکړي لکه یو لوی سړی یې چې له خبرو سره کوي، یا داسې نور.

«پاچا یو خطیب، یعنې، یو ویناوال درلود، چې په بلاغت او فصاحت کې ماهر و. هغه کولی شول چې د پاچا په ستاینه کې ښایسته لنډې بوللې او شعرونه کمپوز کړي. دغه خطیب د خدای ورکړې وړتیا له کبله یو د ښې وړتیا لرونکی خطیب و، خو پاچا هغه ته یوه لاره ور وښوده چې د فصاحت فن پرې پیاوړی کړي چې د هغې لارې په تعقیبولو سره هغه په ریښتیا سره یو ښه ویناوال وګرځېد.

«پاچا همدارنګه یو هوښیار[سړی] درلود. هوښیار د خپلو خدای ورکړو هوښیارتیاوو له کبله هوښیار و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پاچا هغه ته يوه لاره ور وښوده چې هغه څنګه کولی شي چې نور حکمت هم ترلاسه او پياوړی شي، او په دې توګه هغه په ريښتيا سره يوحيرانوونکی هوښيار وګرځېد. په همدې ډول، جنګيالی هم د خدای ورکړي قوت له مخې جنګيالی و، خو پاچا هغه ته داسې لاره ور وښوده چې پياوړی او لا ډېر زوروړ شي، او په دې توګه هغه په ريښتيا سره يوعجيب او وېرووونکی جنګيالی وګرځېدی.

«هلته يوه داسې توره ده چې په هوا کې راڅوړنده ده، او دغه توره درې قوته لري: کله چې توره پورته شي، ټول مخالف پوځي جنرالان د خپل ژوند د ژغورلو له پاره تښتي، چې حتما د دښمن د ماتې سبب ګرځي، ځکه کله چې جنرال تښتي او د جنګ د لارښوونې له پاره څوک نه وي، داسې هېڅ لاره نشته چې پوځ دې جګړه وګټي.

«خو بيا هم، پاتې خلک ښايي جګړه بيا منظمه کړي. د دې له پاره، توره دوې څنډې (خوله) لري، چې هره څنډه يې ځانګړی قوت لري. يوه څنډه يې ټول پوځ چپه کوي، او بله يې له پښو غورځوي، چې بدنونه يې ډنګر او ناتوانه کېږي. په ساده توګه له هغه ځايه چې دغه توره پکې ده د هغې په ښورولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنان په پورته ډول هرې خوا ته په ترتیب سره له پښو لوېږي.

«پاچا جنګیالي ته وروښودله چې دغه توره څنګه ترلاسه کړي، او دا هغه څه وه چې هغه ترې داسې یو ستر ځواک ترلاسه کړ. ما هم هغه څه چې د خپلو مهارتونو له پاره مې ورته اړتیا لرله د پاچا د ښوونو په مرسته تر لاسه کړل.

«پاچا همدارنګه، یو وفادارملګری درلود. هغه او پاچا داسې نژدې ملګرتیا سره لرله، داسې یوه حیرانوونکې او عجیبه دوه طرفه اړیکه، چې د هغوی له پاره په بشپړه توګه ناشونې وه چې یو بل دې د اوږدې مودې له پاره ونه ګوري. او که څه هم چې څو ځلې هغوی یو له بل څخه د څه وخت له پاره بېل شول، خو هغوی هر یوه له ځان سره د دواړو ګډ انځور درلود، چې دوی به یو له بل څخه د لیرې والي پر وخت هغو انځورونو ته له کتنې څخه خوند اخیست. دغه انځورونه د پاچا او د هغه د وفادار ملګري انځورونه وو چې یو د بل پر وړاندې یې د هغوی سخته مینه ښودله، او یو بل یې په ډېره مینه په غېږ کې نیول او ښکلول. دغو انځورونو پر هغه چا چې دوی ته یې کتل داسې اغېزه درلودله چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره سخته مینه باندې به یې هم غلبه کوله. اوس، دغه وفادار ملګري هم له هغه ځای څخه مینه ترلاسه کړه چې پاچا ورته وښوده چې هغه کولی شي ترې ترلاسه یې کړي.

«یو وخت راغی چې پورتني هر څه لاړل، هر یو هلته چې هغه ترې ځواک ترلاسه کړی و – ویناوال، جنګیالی، او د پاچا نور ټول خلک. د هغوی هر یو د هغه سرچینې ته لاړ چې خپل قدرت بیا تازه کړي.

«خو بېخی همدغه وخت، په نړۍ کې یو ډېر زورور طوفان راغلی. دغه طوفان په نړۍ کې هر څه ګډوډ کړل، سیند یې پر وچه واړاوه، وچه پرسیند، دښته یې په ودانه واړوله او ودانه پردښته. هغه ټوله نړۍ پر بل مخ واړوله. طوفان د پاچا ماڼۍ ته ورننووت، او که څه هم چې هغه خرابه نشوه، خو طوفان پکې تېر شو او د شهزاده بچی یې له ځان سره واخیست. د ګډوډۍ په منځ کې، څنګه چې هغه طوفاني باد هغه ګران ماشوم له ځان سره واخیست، شهزاده ګۍ هم د ملکې او پاچا سره په هغه پسې منډه کړه. هغوی ټول سره تیت شول، او هیڅوک نه پوهېږي چې اوس به چېري وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت مونږ یو هم هلته نه وو، ځکه چې مونږ هلته پورته د هغه ځای ته تللي وو چې د هغه قوت بیا نوی کړو. کله چې مونږ راستانه شوو، مونږ هغوی یو هم ونه لیدل. لاس هم هغه وخت ورک شو، او تر هغه وروسته، مونږ ټول سره تیت شوو. له هغه وخت راهیسې، مونږ یو هم نشو کولی چې د هغه ځای ته لاړ شو او د هغه قوت بیا نوی کړو، ځکه وروسته له هغه چې ټوله نړۍ پر بل مخ واوښته او ټول ځایونه سره ګډوډ شول – سیند پر وچه، او داسې نور– دا ښېخي ناشونې ده چې څوک دې پر اصلي لارو باندې لاړ شي، ځکه چې مونږ ښېلو لارو ته چې د ځایونو له نویو موقعیتونو سره مناسبې وې اړتیا لرله. په دې توګه، مونږ ونشوای کولی چې هر یو خپلو ځایونو ته ستانه شو، او خپل قوتونه بیا نوي کړو. خو پر مونږ هر یو پاتې اغېزې هم ډېرې لویې دي، نو که دغه څواکمن جنګیالی د پاچا جنګیالی وي، بیا هغه خامخا یو ډېر غښتلی جنګیالی دی.» (دا ټول هغه څه وو چې ښه سړي خلکو ته وویل.)

خلک هغه څه ته چې ښه سړي وویل ډېر حیران شول. هغوی هغه له ځان سره وساتی، او (که هغه جنګیالی چې د هغوی پر لوري راروان و په حقیقت کې هغه جنګیالی وي چې ښه سړي پېژانده) هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ده ته اجازه ورنه کړي چې هغوی پرېږدي او دی لاړ شي.

اوس، جنګیالی په پرله پسې توګه رانژدې کېدی، او بیا، بیا به یې تر ځان مخکې خپل پیغامونه رالېږل. په پای کې، هغه ښار ته راورسېد او له ښار څخه دباندې یې واړول. هغه بیا هغوی ته استازي ور ولېږل. هغوی وېرې واخیستل، او له ښه سړي څخه یې وغوښتل چې مشوره ورکړي. ښه سړي ورته وویل چې د دې له پاره چې هغه پوه شي چې آیا هغه ریښتیا هم هغه جنګیالی دی (د پاچا جنګیالی دی)، هغه باید د دغه جنګیالي په کړنو او چلندونو باندې پوه شي.

نو ښه سړی خپله جنګیالي ته ور ووت. هغه د جنګیالي کمپ ته ورسېد او د جنګیالي د جنګیالیو له ډلې څخه یې له یوه سره خبرې پیل کړې (یعنې، د هغه له ساتونکو څخه له یوه سره، څو د جنګیالي په هکله پوښتنې ځنې وکړي). ښه سړي له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته د دغه جنګیالي له پاره څه کوې، او ته له هغه سره څنګه یوځای شوی یې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ښه سړي ته - ځواب ورکړ، «پېښه داسې وشوه چې، لکه چې زمونږ په تاریخونو کې لیکل شوي دي، په نړۍ کې یو ډېر لوی طوفان راغلی وو چې ټوله نړۍ یې په بله واړوله، سیند یې په وچه واړاوه او وچه په سیند، دښته په ودانه او ودانه په دښته او داسې نور، یعني ټوله نړۍ یې په بل مخ واړوله. له دغه طوفان او اوښتون څخه وروسته چې ټوله نړۍ یې په بل مخ واړوله، د نړۍ خلکو پرېکړه وکړه چې د ځانونو له پاره یو پاچا غوره کړي. هغوی خبرې اترې وکړې چې څوک د پاچا په توګه غوره کړي. د هغوی پایله دا شوه چې دا چې تر ټولو مهم شی د ژوند اصلي مقصد دی، نو هرڅوک چې د اصلي مقصد له پاره تر ټولو ډېره قرباني ورکوي هغه باید پاچا شي. خو وروسته بیا هغوی بحث پیل کړ چې اصلي مقصد څه دی، او هغوی د دې موضوع پر سر پر ډلو ووېشل شول.

«یوه ګروپ وویل چې اصلي مقصد درنښت دی. هغوی وویل، 'مونږ ګورو چې درنښت د خلکو له پاره تر ټولو مهم شی دی. کله چې یو چا ته درناوی ونه شي – یعنې، کله چې یوڅوک هغه ته سپک څه وایي – هغه داسې ښیي لکه وژل شوی چې وي. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې امله درنښت د خلکو په ژوند کې تر ټولو مهم شی دی. خلک پام کوي چې ان مړو ته درنښت ورکړي – چې يو څوک په درنښت سره ښخوي، او داسې نور. (او د ښخولو پر وخت، مونږ د مړي په هکله وايو چې هر څه چې د هغه له پاره کيږي هغه د هغه د درناوي له امله کيږي.) دا له دې حقيقت سره، سره دي چې تر مړينې وروسته، مړ شوی شخص پيسو ته هيڅ اړتيا نه لري او نه هم کومه هيله لري چې پرې ترسره يې کړي، خو بيا هم خلک دې ته پام کوي چې د مړي درناوی وکړي. په دې توګه، درنښت اصلي مقصد دی.'

«او دغه ګروپ هڅه وکړه چې خپل ټکی په داسې نورو استدلالونو (په ګډو وډو او احمقانه استدلالونو باندې) باندې ثابت کړي. نورو ګروپونو هم چې لاندې پرې بحث شوی دی همداسې وکړل. هغوی ټولو ډېر استدلالونه وکړل چې ثابته کړي چې خپل ګډوډ او احمقانه نظر پرځای ثابت کړي. د هغوی له ډلې څخه ځينې لاندې وړاندې شوي دي، خو [مؤلف] نه غوښتل چې د دغو نظرياتوله پاره ټول ګډوډ استدلالونه وړاندې کړي، ځکه چې ځينې استدلالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګډوډۍ کې دومره [مخکې دي] چې کېداى شي يو ځوک د دغو غلطو نظرياتو تر اغېزې لاندې راشي.)

«نو دغه ګروپ پرېکړه وکړه چې اصلي مقصد درنښت دی، نو هغوی بايد يو داسې دروند شخص ولټوي چې خپله هم د درناوي پلوی وي – يعنې، دا چې هغه درناوی لټوي او درناوی په پام کې نيسي (دغه ډول شخص 'د درناوي ځښتن' دی ځکه چې هغه درنښت لري). دا چې هغه يو با دروند شخص دی، دا چې د هغه درناوی کيږي او د درنښت پلوي کوي، په دې توګه انساني طبعيت ته، چې د درنښت غوښتنه کوي، وده ورکوي، له دې امله، دغه شخص خپل ځان اصلي مقصد ته وقف کړی دی او هغه يې ترلاسه کړی دی، ځکه چې اصلي مقصد درنښت دی (دا ټول د هغوی احمقانه او ګډوډ نظر و). له همدې امله، داسې يو سړی وړتيا لري چې پاچا شي. نو هغوی لاړل چې داسې يو شخص ولټوي.

«په پای کې هغوی پر داسې خلکو پيښ شول چې له يوه زاړه سوالګر سره روان وو. شا او خوا پنځه سوه کسان په هغه پسې وو. هغوی ټول جټان وو، او دغه سړی هم جټ و. دغه سوالګر ړوند، پر ملا کړوپ او ګونګی و، خو دغه ټول خلک په هغه پسې وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې هغوی ټول د هغه د کورنۍ غړي – د هغه خوېندې، د هغه ورونه او د هغه اولادونه وو چې په ګډه یې هغه ټبر جوړ کړی و چې په هغه پسې روان و او هغه یې روان کړی و. هغه د خپل درنښت په برخه کې ډېر ځیر و – هغه یو ډېر بدخویه سړی و، چې تل به هغوی ته په وړه خبره ډېر زیات په غوسه کېدی. هغه به همېشه حکم کاوه چې نور خلک یې باید یوسي، او بیا به هغوی ته په غوسه کېدی.

«نو، دغه زوړ سوالګر یو ډېر دروند شخص دی، ځکه چې هغه ډېر درناوی لري. هغه همدارنګه د درنښت پلوی هم دی، ځکه چې هغه پر خپل درنښت باندې ډېر زیات پام کوي. په دې توګه، دغه ګروپ د دغه سوالګر په موندلو خپل یو لوی ارمان ته ورسېدل، او هغوی له هغه څخه خپل پاچا جوړ کړ. دا چې جغرافیه اغېزه لري – یو وطن یوه درنښت ته وده ورکوي او پالنه یې کوي، په داسې حال کې چې یو بل وطن یوې بلې ځانګړتیا ته وده ورکوي – په دې توګه دغه ګروپ (چې په خپلو منځونو کې یې پرېکړه کړې ده چې درناوی اصلي مقصد دی) داسې یو وطن ولټاوه چې وقار ته وده ورکوي. هغوی داسې یو وطن پیدا کړ او پکې مېشت شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«یوه بل ګروپ استدلال وکړ چې درښت اصلي مقصد نه دی، او هغوی دې پایلې ته ورسېدل چې وژنه اصلي مقصد دی. دا ځکه چې مونږ ګورو چې ټول ژوندي شیان مړاوي کېږي او مړه کېږي. هر شی چې پر ځمکه باندې ژوند کوي – ګیا ګانې، بوټي، انسانان او هر شی – دا هر شی په پای کې مړاوی کېږي او له منځه ځي. په دې توګه، د هر شي اصلي مقصد مړاویتوب او مرګ دی. له دې امله، هغه ځوک چې وژل کوي او د خلکو د مړینې سبب ګرځي، په دې توګه نړی د هغې [نړیَ] د مقصد خوا ته نژدې کوي. نو هغوی پرېکړه وکړه چې اصلي مقصد وژنه ده.

«هغوی د داسې چا په لټون ووتل چې وژونکی وي – په ځانګړې توګه د یوه غوسه سوي او غچ اخیستونکي سړي، ځکه چې (د هغوی د ناوړه تعبیر شویو نظریاتو له مخې) داسې یو سړی مقصد ته نژدې وي. داسې یو سړی وړتیا لري چې پاچا شي. هغوی لټون کاوه چې یوه چیغه یې واورېده. هغوی پوښتنه وکړه، 'دغه چیغه څه ده؟'

«هغوی ته وویل شول چې دغه چیغه د دې له امله وه چې یو چا خپل مور او پلار ووژل. هغوی ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل، 'آیا تر ده لا هم چې خپل پلار او مور وژني ډېر زړور او غوسه ناک وژونکی شته؟ دغه سړي اصلي مقصد ترلاسه کړی دی!'

«نو دا چې هغه د هغوی په زړه پورې سړی و، نو هغه یې خپل پاچا کړ، او هغوی هم د داسې ځمکې په لټه کې شول چې وژونکی زیږوي. هغوی یوه ډېره غونډۍ لرونکې سیمه پیدا کړه چې وژونکي پکې اوسېدل، او هغوی هلته لاړل او له خپل پاچا سره مېشت شول.

« بل ګروپ بیا داسې استدلال وکړ چې یوڅوک چې ډېر پرېمانه خواړه لري، خو نورمال انساني خواړه نه خوري بلکه یوازې چاڼ شوي خواړه (لکه شیدې، چې مغز یې زیږ نشي) خوري هغه باید پاچا شي. خو هغوی ونشول کولی چې داسې یو څوک پیدا کړي چې نورمال انساني خواړه نه خوري، نو د لنډ مهال له پاره یې یو شتمن سړی چې ډېر خواړه یې لرل تر هغه وخته پورې وټاکی څو چې هغوی له خپل په زړه پوري سړي سره سم داسې یو څوک پیدا کړي چې هغه نورمال انساني خواړه نه خوري. په ورته وخت کې هغوی دغه شتمن شخص تر هغه پورې پاچا کړ چې هغوی داسې یو شخص پیدا کړي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت به بیا شتمن شخص تاج پرېږدي او هغوی به بیا هغه بل شخص پاچا کوي. هغوی هم داسې یوه ځمکه و ټاکله چې داسې پالنه کوي، او هغوی لاړل چې هلته مېشت شي.

«یوه بل ګروپ استدلال وکړ چې یوه ښکلې ښځه باید پاچا شي، ځکه چې اصلي مقصد دا دی چې انسان باید په ځمکه کې خپور شي، له دې امله چې دا اصلي دلیل دی چې له پاره یې نړی پیدا شوې ده. او دا چې یوه ښکلې ښځه په ځمکه باندې د انسان د خپرېدلو له پاره جنسي غوښتنه ډېروي، په دې توګه هغه اصلي مقصد رامنځته کوي، له دې امله یوه ښکلې ښځه باید پاچا وي. نو هغوی یوه ښکلې ښځه و ټاکله او خپله پاچا یې کړله. هغوی داسې یوه ځمکه و ټاکله چې ښکلا یې زیږوله او هغوی لاړل او هلته مېشت شول.

«یوه بل ګروپ استدلال کاوه چې اصلي مقصد خبرې کول دي. دا په دې چې پر حیواناتو باندې د انسان لوړوالی په خبرو کولو سره دی، او دا چې دا د سړي اصلي لویوالی دی، له دې امله دا باید اصلي مقصد وي. نو هغوی د داسې یوه سړي په لټه کې شول چې خبرې کوي – داسې یو څوک چې کولی شي چې په فصاحت سره خبرې وکړي او داسې یو څوک چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو ژبو باندې پوهېږي او همېشه ډېرې خبرې کوي. داسې يو سړی اصلي مقصد ته نژدې وي. هغوی لاړل او د [لوېديزې اروپا] يو لېونی يې پيدا کړ چې هاخوا دې خوا ګرځېدی او له ځان سره به يې خبرې کولې. هغوی پوښتنه وکړه چې هغه په کومو ژبو باندې پوهېږي، او په حقيقت کې هغه پوهېدی. نو (د هغوی د ناوړو نظرونو له مخې) دغه سړي اصلي مقصد تر لاسه کړی و، ځکه چې هغه په فصاحت سره خبرې کولې، په ډېرو ژبو پوهېدی او ډېرې خبرې يې کولې، ان تر دې چې هغه له خپل ځان سره خبرې کولې. نو له دې کبله، دغه سړی د هغوی په زړه پوري يا د ارمانونو پوره کوونکی سړی شو او هغوی د خپل پاچا په توګه و مانه. هغوی داسې يوه ځمکه و ټاکله چې د هغوی مقصدونه پکې پايلې ته رسېدل، او هغوی لاړل او له خپل پاچا سره هلته مېشت شول. داسې به يې و ګڼو چې هغه هغوی ته د سمې لارې لارښوونه وکړه...

«خو يوه بل ګروپ استدلال کاوه چې اصلي مقصد خوښي ده. ثبوت دا دی چې کله چې يو ماشوم چې هلک وي پيدا شي، مونږ خوښي کوو؛ په واده کې مونږ خوښ يو؛ کله چې يو وطن بل وطن فتح کوي هغوی خوښ وي. نو د هر شي اصلي مقصد بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښي وي. نو، هغوی د داسې چا لټون پيل کړ چې تل خوښ وي، دا چې هغه اصلي مقصد ته نژدې دی – هغه به د هغوی پاچا وي. هغوی لاړل او يو کافر يې پيدا کړ چې يو خيرن کميس يې پرغاړه و او د شرابو يو بوتل ورسره و. ډېر نور کافران هم په هغه پسې روان و. دغه کافر ډېر خوښ و ( ځکه چې هغه ډېر نشه و). هغوی وويل، دا څومره خوشحاله کافر دی، هغه هېڅ اندېښنې نه لري، نو دغه کافر د هغوی ارمان پوره کوونکی شو، ځکه چې هغه د خوښۍ اصلي مقصد ترلاسه کړی و. هغوی هغه خپل پاچا وټاکی. داسې به يې وانګېرو چې هغه هغوی په سمه لاره روان کړل... هغوی داسې يوه ځمکه غوره کړه چې د هغوی مقصد پکې پالل کېدی: يوه د انګورو د تاکونو او ورته نورو شيانو سيمه، چې هغوی به واين ځنې جوړول، او له زړو څخه يې شراب، څو هېڅ شی يې هم بې ځايه لاړنشي، ځکه چې د هغوی له پاره اصلي مقصد دا و چې شراب وڅښي او نشه شي او همېشه خوشحال اوسي. که څه هم چې دغه کار له خوند اخيستنې سره هېڅ تړاو نه درلود، خو هغوی يې په لټه کې وو، ځکه چې هغوی داسې هېڅ نه لرل چې ورته خوشحاله شي؛ له دې سره هم هغوی داسې احساسوله چې خوښي بېله دليله هغوی اصلي مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رسوي. هغوی داسې یوه ځمکه و ټاکله چې دغه ډول پالنه یې کوله، او لاړل او هلته مېشت شول.

«یوه بل ګروپ استدلال وکړ چې تر ټولو مهم شی پوهه ده. هغوی یو ډېر هوښیار شخص ولټاوه او هغه یې خپل پاچا غوره کړ، داسې یوه ځمکه یې ولټوله چې پوهه یې پاله، او لاړل او هلته مېشت شول.

«یوه بل ګروپ استدلال وکړ چې اصلي مقصد دا دی چې بدن ته د بدن جوړولو له پاره مناسب خواړه او اوبه ورسول شي. هغوی داسې یو ځوک ولټاوه چې بدن یې ښه جوړ و – چې ډېر لوی غړي یې لرل او تمرین یې کاوه چې نور یې هم غړي غټ شي – ځکه په دې چې هغه داسې لوی بدن درلود، نو هغه په نړۍ کې یوه لویه برخه لرله ( په دې چې هغه ډېر ځای نیولی و)، او هغه اصلي مقصد ته، چې د بدن جوړول دي، ډېرنژدې دی. داسې یو شخص باید پاچا وي. نو هغوی لاړل او یو جګ سړی یې پیدا کړ. هغه د هغوی د ارمانونو پوره کوونکی شو، ځکه چې یو ځوک چې لوی بدن لري هغه اصلي مقصد ته نژدې دی، او هغوی هغه خپل پاچا کړ. هغوی داسې یوه ځمکه ولټوله چې د دغه حالت د پالنې له پاره جوړه وه، او هغوی لاړل او هلته مېشت شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«بيا يو بل ګروپ و چې استدلال يې کاوه چې دا پورتني يو هم اصلي مقصد نه دی. بلکه، اصلي مقصد دا دی چې يو څوک خپل ځان خدای ته په عبادت، عاجزۍ او داسي نورو کولو کې قرباني کړي. هغوی يو ښه سړی يا لارښود ولټاوه او د خپل پاچا په توګه يې وټاکی.» (هوښيار لوستونکی به پوه شي چې لومړني ټول ګروپونه پوره په غلطه او بې لارې روان وو، او يوازې دغه وروستی ګروپ حقيقت ته رسېدلی و. هغوی نېکمرغه دي!) دا ټول هغه څه وه چې دغه جنګيالي و ښه سړي ته – وويل.

هغه همدارنګه ده ته وويل چې هغوی (هغه جنګياليان چې د جنګيالي په چاپېر راټول شوي وو) د هغو بدن جوړوونکيو له ډلې څخه دي چې د لوی بدن خاوند يې خپل پاچا جوړ کړی دی. يوه ورځ، د دغو جنګياليو يوه ټولۍ په يوه لښکر پسې چې د خوراک، څښاک، او داسې نورو واګونونه يې وړل، روان وو. دغو ښو جوړو خلکو پر نورو خلکو باندې خپله وېره اچولې وه، ځکه چې هغوی لوی او غښتلي خلک وو، او هر څوک به چې ورسره مخامخ کېدل نو بې له شکه به يې لاره ترې اړوله. نو، دغه عسکر چې روان وو، له هغې بلې خوا يو خاص جنګيالی پرې راغی (دا هغه جنګيالی و چې اوس له هغوی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



و)، او کله چې عسکرو ته راورسېد نو دغه جنګيالي له څرک څخه لاره وانه ړوله. بلکه، هغه مخامخ د عسکرو پر منځ ورغی او هغوی يې هرې خوا ته خپاره کړل. عسکر له هغه څخه ووېرېدل. په ورته وخت کې، هغه واګونونو ته چې په عسکرو پسې روان وو، ورغی، او ټول هغه څه يې چې هلته وو وخوړل. جنګيالي (د هغه لوی قوت ته، چې هغه له ټولو عسکرو څخه ونه ډار شو، او نبغ په نبغه د هغوی پر منځ ورغی او په واګونونو کې شته هر څه يې وخوړل) سخت حيران شول. نو هغوی سمدلاسه د هغه په وړاندې پړمخې پرېوتل او غږ يې وکړ چې، «ژوندی دې وي پاچا!» د هغوی د عقيدې له مخې چې اصلي مقصد بدن جوړونه ده، هغوی پوه شول چې دغه ډول جنګيالی د پاچايۍ وړتيا لري. د هغوی خپل پاچا به بې له شکه چې خپله هغه ته پاچايي ور وسپاري، ځکه چې داسې يو بنه بدن لرونکی پاچا چې د پاچايۍ وړتيا لري پيدا شوی دی.

او په حقيقت کې، دا هغه څه وو چې پېښ شول. دغه جنګيالی د دغه ګروپ له خوا د پاچايۍ له پاره ونيول شو، او، دغه عسکر خبره داسې پای ته ورسوله، «دا هغه جنګيالی دی چې اوس مونږ ورپسې روان يو چې نړۍ فتح کړو. خو زمونږ جنګيالی [پاچا] وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دی د نړۍ په فتح کولو کې يو پټ مقصد لري. د هغه اراده هېڅ داسې نه ده چې نړۍ دې د هغه تر واکمنۍ لاندې راشي، بلکې هغه يو پټ مقصد لري. (پورته ټول هغه څه وو چې دغه جنګيالي [ساتونکي] هغه ښه سړي ته وويل چې له هغه څخه يې پوښتنه کړې وه چې هغوی څنګه د جنګيالي پلويان وګرځېدل.) 0:47

ښه سړي پوښتنه وکړه، «او ستاسو د جنګيالي [ پاچا] د ځواک ماهيت څه دی؟»

جنګيالي ځواب ورکړ، «يو وخت يو ځانګړی وطن و، چې نه يې غوښتل چې تسليم شي. نو جنګيالي خپله توره راواخيسته. دغه توره درې قوتونه لري: کله چې هغه پورته شي، ټول پوځي جنرالان تښتي، او داسې نور,» (يعنې، هغه درې قوتونه چې مخکې ياد شول).

کله چې ښه سړي دا واورېده، هغه پوه شو چې دا په حقيقت کې هغه د پاچا جنګيالی دی. نو ښه سړي له جنګيالي سره چې د هغوی پاچا و د ليدو غوښتنه وکړه. هغوی ده ته وويل چې هغوی به جنګيالی خبر کړي او له هغه څخه به وپوښتي چې اجازه ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه؟!. هغوی لاړل چې له هغه څخه پوښتنه وکړي او هغه هم د ده د ورتګ له پاره اجازه ورکړه.

کله چې ښه سړی- د جنګیالي په وړاندې حاضر شو، هغوی سره و پیژندل او د یو ځل بیا لیدنې له امله ډېر زیات خوښ شول. خو د پاچا او د هغه د زوی په یادولو سره هغوی ژړا هم وکړه، په دې توګه یې هم ګډه خوښي وکړه او هم ژړا.

ښه سړي او جنګیالي هغه کیسې چې پر هغوی تر دغه ځایه پورې تر رارسېدلو تېر شوي وې یو له بل سره شریکې کړې. جنګیالي ښه سړي ته وویل چې له طوفاني باد څخه وروسته، چې هرڅوک تیت او پرک شوي وو، چې هغه له خپل ځای څخه چې هلته د خپل قوت د تازه کولو له پاره تللی و بېرته را وګرځېد، او ویې لیدل چې پاچا او د هغه ټول خلک هلته نشته، نو هغه په خپله مخه لاړ. هغه د پاچا پر ټولو خلکو وګرځېد – هغه پوهېدی چې هغه په هغه ځای کې دی چې هغوی پکې دي. په نورو ټکو، کله چې هغه یوه ځانګړي ځای ته راغی، پوه شو چې پاچا بې له شکه هلته و، خو هغه ونشو کولی چې هغه ولټوي او پیدا یې کړي. په ورته ډول، کله چې هغه یوه بل ځای ته راغی نو پوه شو چې ملکه هلته ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښه سړی يوه د دعاګانو کيسه**

خو هغه ونشول کولی چې هغه ولټوي او پيدا يې کړي. دا حالت د پاچا پر هر سړي راغلی و، جنګيالي [پاچا] وويل، «البته، زه پر تا راونه ګرځېږم» (يعنې، پر هغه ځای رانه غلم چې ته پکې وې).

ښه سړي وويل، «خو زه د هغه ځای په ګډون چې ته پکې وې پر هغو ټولو باندې راتېر شوم. کله چې زه له يوه ځانګړي ځايه راتېرېدم ما د پاچا تاج وليد، او زه پوه شوم چې بې له شکه چې پاچا هلته و، خو ما ونشول کولی چې هغه ولټوم او پيدا يې کړم. کله چې زه پر يوه بل ځای راتېرېدم، ما يو د وينو سمندر وليد، نو پوه شوم چې دغه سمندرګی خامخا د ملکې د اوښکو دی، چې پر دغو ټولو پېښنو باندې ژاړي. ملکه هرومرو هلته وه، خو لټول او موندل يې ناشونې وو.

«بيا زه د شيدو پر يوه سمندرګي راغلم، نو پوه شوم چې دغه سمندرګی د هغې شهزادګۍ د شيدو دی چې زوی يې ورک شوی و. ډېرو شيدو پر هغې باندې فشار راوړی، او دغه د شيدو سمندرګی ځنې جوړ شوی دی. شهزادګۍ هرومرو هلته وه، خو دا ناشونې وه چې هغه ولټول شي او وموندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښه سړی یوه د دعاګانو کیسه

«بیا زه مخکې لاړم او د ماشوم طلایي وېښتان مې ولیدل چې خواره واره پراته وو. ما له هغو څخه یو هم راوانه خیست، خو زه پوه شوم چې ماشوم خامخا هلته و، خو دا ناشونې وه چې هغه ولټول شي او وموندل شي.

«او زه همداسې تلم او د واینو پر یوه سمندرګي ورغلم. زه پوه شوم چې دغه سمندرګی خامخا د خطیب له خبرو څخه جوړ شوی دی، چې د پاچا او ملکې په وړاندې رېږ.ي او هغوی ته توصیه کوي، او بیا ګرځي او شهزادګۍ ته توصیه کوي. هغه لفظونه دغه د واین سمندرګی جوړوي. خو ما ونشول کولی چې هغوی ومومم.

«زه مخکې لاړم او یوه تیږ.ه مې ولیدله چې پر هغې باندې یو د لاس انځور کښل شوی و چې ټولې کرښې پکې موجودې وې، نو زه پوه شوم چې هوښیار سړی هرومرو هلته و. هغه پر دغې تیږ.ې یو د لاس انځور کیندلی و، خو دا ناشونې وه چې هغه وموندل شي.

«په مخکې تګ سره، زه یوه غره ته ورسېدم چې په هغه کې مې طلایي مېزونه، د ننداري الماری، او د پاچا نوره خزانه چې په ترتیب سره ایښې وه ولیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پوه شوم چې خزاندار هرومرو هلته دی، خو دا ناشونې وه چې هغه وموندل شي.»

جنګيالي [پاچا] وويل، «زه هم پر دغو ټولو ځايونو باندې راتېر شوم، خو ما د ماشوم له طلايي وېښتانو څخه يو څو راواخيستل. ما اووه وېښتان چې د ټولو ليدل کېدونکو رنګونو استازيتوب يې کاوه راواخيستل، او له ځان سره مې کلک وساتل. زه په هغه ځای کې پاتې شوم چې پکې وم او په هغه څه باندې مې چې وابنه وه او که بل څه چې هلته موجود و صبر وکړ، تر هغه چې داسې هېڅ هم پاتې نشول چې زه پرې وخت تېر کړم. بيا زه پر خپله مخه لاړم، خو کله چې له هغه ځای څخه تلم، له ما څخه خپله لينده هلته پاتې شوه.»

ښه سړي وويل، «ما ستا لينده وليده! او زه ښه پوه شوم چې هغه ستا لينده وه، خو ما نشو کولی چې تا ومومم.»

جنګيالي [پاچا] خبرو ته دوام ورکړ او ښه سړي ته يې هغه څه وويل چې هغه ته له هغه ځای څخه له تګ څخه وروسته ورپېښ شوي وو او دی پکې و. «ما مزل کاوه، کاوه تر هغه چې له دغو عسکرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخامخ شوم. زه د دوی کمپ ته ورننوتلم څکه چې زه ډېر وږی وم او غوښتل مې چې خوراک وکړم، خو څنګه چې زه د دوی منځ ته ورغلم، دوی زه خپل پاچا کړم. اوس زه څم چې نړۍ فتح کړم، خو زما مقصد دا دی چې ښايي زه پاچا او د هغه خلک پيدا کړم.»

بيا ښه سړي د جنګيالي [پاچا] څخه پوښتنه وکړه، «له دغو خلکو سره څه کېدای شي؟» هغه د هغه وطن خلکو ته اشاره وکړه چې د پيسو په هوس کې دومره لوېدلي وو چې داسې احمقتوب ته رسېدلي وو چې عقيده يې لرله چې شتمن خلک د هغوی په نظر خدايان دي او داسې نور حماقتونه چې دغو خلکو پرې عقيده لرله.

جنګيالي [پاچا] و ښه سړي ته ځواب ورکړ چې ده له پاچا څخه اورېدلي وو چې دا شونې ده چې يو څوک چې په هر هوس کې لوېدلی وي ترې را واېستل شي، خو که يو څوک د پيسو په هوس کې لوېدلی وي، دا ښېخي ناشونې ده چې ترې را واېستل شي. هغه وويل، «ته به پر هغوی باندې هېڅ اغېز هم ونه لرې. دا ښېخي ناشونې ده چې هغوی ترې راوباسې.» خو، هغه له پاچا څخه اورېدلي وو چې د تورې په لاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ ښنه سړی یوه د دعاګانو کیسه ۞

له کوم ځای څخه چې هغه خپل ځواک ترلاسه کړی دی، دا شونې ده چې یو څوک چې د پیسو په دغه هوس کې لوېدلی او ان ډوب شوی وي، راواپسټل شي.

ښنه سړی له جنګیالي [پاچا] سره څه وخت پاتې شو. او د دغه وطن د اوسېدونکو په هکله چې له ښنه سړي څخه یې غوښتنه کړې وه چې د هغوی په استازیتوب جنګیالي ته ورشي، هغوی وخت اوږد کړ. ښنه سړي جنګیالی دې ته وهڅاوه چې د دغه وطن د خلکو له پاره وخت اوږد کړي، نو هغه د هغوی له پاره وخت اوږد کړ. جنګیالي [پاچا] او ښنه سړي په خپلو کې شفرونه سره تبادله کړل څو دوی وکولی شي چې یو له بل سره تماس ولري، او بیا ښنه سړی پر خپله مخه لاړ.

په لاره کې، ښنه سړي- داسې خلک ولیدل چې روان وو او دعاګانې یې کولې، او د دعاګانو کتابونه یې له ځانونو سره لېږدول. دی له هغوی څخه وډار شو او هغوی له ده څخه وډار شول. دی هلته ودرېد چې دعا وکړي، او هغوی هم دعا وکړه. بیا ده له هغوی څخه پوښتنه وکړه، «تاسو څوک یاست؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ ښه سړی يوه د دعاګانو کيسه ۞

هغوی وويل، «د طوفاني باد په وخت کې، هغه وخت چې انسانان په ګروپونو کې سره تيت شول، چې هر يوه بېله بېله لاره ونيوله (لکه چې پورته ياد شول)، مونږ داسې پرېکړه وکړه چې په منظمه توګه خپل ځانونه داسې وقف کړو چې خدای ته دعا وکړو. مونږ يو ښه سړی يا لارښود پيدا کړ او خپل پاچا مو وټاکه.»

کله چې ښه سړي دا واورېدل، ډېر زيات خوښ شو، ځکه دا هغه څه و چې هغه خپله غوښتل. نو هغه له هغوی سره خبرو کولو ته دوام ورکړ او هغوی ته يې خپلې دعاګانې، تصنيفات، او طريقې ور وښودلې. د ده د وينا په اورېدلو سره، د هغو سترګې وغړېدې او پوه شول چې دی څومره د يوې لويې مرتبې خاوند سړی دی، او هغوی سمدلاسه دی د خپل پاچا په توګه و منلی. د هغوی اصلي پاچا په بې پروايۍ سره تاج ده ته ورکړ، ځکه چې هغوی پوه شول چې دی څومره لوړه مرتبه لري.

ښه سړي هغوی ته لارښوونه وکړه او هغوی يې روښانه کړل، او هغوی يې له ډېر لوی او مکمل صدق سره اشنا کړل. هغوی له اصله هم په صدق کې و (ځکه چې هغوی خپل ځانونه دعا ته وقف کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و)، خو دغه ښه سړي- هغوی دومره روښانه کړل چې د لوړې درجې صدق ته ورسېدل. ښه سړي و جنګيالي [پاچا] ته يو پيغام ورولېږی چې څنګه هغه دغه خلک وموندل او د هغوی پاچا شو.

په ورته وخت کې، د پيسو د وطن خلکو ادامه ورکړه چې خپل ځانونه خپلو زړو لارو ته، لکه چې ياده شوه، وقف کړي. هغه د وخت اوږدوالی چې جنګيالي [پاچا] هغوی ته ورکړی و، پای ته رسېدونکی و او هغوی ډېر په وېره کې وو. هغوی خپلو کارونو ته دوام ورکړ، قربانۍ او عنبربوی يې کول، او خپلو خدايانو ته يې دعاګانې کولې. هغوی په خپلو کې سره هوکړه وکړه چې هغوی بايد، ډېرشتمن وطن ته چې د هغوی د پوهې له مخې يې ټول استوګن خدايان وو، د د پلاوي د لېږلو خپل اصلي پلان تعقيب کړي. هغوی به خامخا دوی و ژغوري، ځکه چې هغوی ټول خدايان وو. نو دوی هغوی ته قاصدان ورولېږل.

کله چې دغه قاصدان پر لاره وو، هغوی ورک شول. هغوی له داسې يوه سړي سره مخامخ شول چې پر لکړه روان و، او د هغه لکړې د هغوی له ټولو خدايانو څخه ډېر ارزښت درلود ــ د هغه په لکړه کې ظريف کاڼي لګېدلي وو او د هغوی د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایانو له شتمنۍ څخه یې ډېر ارزښت درلود (یعنې د هغوی د خپل وطن او د هغه وطن چې هغوی ور روان وو د دواړو خدایان – لکړې د هغوی ټولو له شتمنۍ څخه ډېر ارزښت درلود). همدارنګه هغه داسې یوه خولۍ پر سر کړې وه چې په داسې ظریفو کاڼو باندې سینګار شوې وه چې د یوه لوی بخت ارزښت یې درلود. هغوی سمدلاسه پر ځمکه پرېوتل او د هغه په وړاندې سجده شول، ځکه چې د هغوی د عقیدې له مخې، دغه سړی د هغوی د ټولو خدایانو پر سر خدای و، ځکه چې هغه داسې لوړه شتمني درلوده. (دغه سړی په اصل کې هغه د پاچا خزاندار و.)

سړي له هغوی څخه پوښتنه وکړه، «دا ستاسو له پاره نا اشنا ده؟ له ما سره راځئ، زه به تاسو ته وښیم چې شتمني څه وي!»

نو ده هغوی هغه غره ته بوتلل چې د پاچا خزانه پرې ایښې وه او هغوی ته یې خزانه وروښوده. هغوی سمدلاسه پر ځمکه پرېوتل او ځانونه یې تابع وګرځول، ځکه چې (د هغوی د احمقانه او ګډوډو نظریاتو له مخې چې پیسې او شتمني پکې اصلي شیان دي) د هغوی په سترګو کې هغه د ټولو خدایانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر سر خدای و. البته هغوی هلته څه قربانۍ وړاندې نه کړې - خو د هغوی د عقیدې له مخې چې هغه یو خدای و هغوی باید خامخا دغه خدای ته قربانۍ وړاندې کړې وای. دا له دې امله چې کله چې دغه قاصدان لیږل کېدل، هغوی ته ویل شوي وو چې په لاره کې هېڅ قرباني وړاندې نه کړي. که هغوی په لاره کې قرباني وړاندې کړې وای، هغوی به یو هم نه وای پاتې، ځکه چې ښایي هغوی په څه خزانه وربرابر شوي وای، یا کوم یو یې په کوم تشناب کې یوه خزانه موندلې وای (او هغه به بیا د هغوی له پاره خدای ګرځېدلی وای)، او هغوی به خپل ځانونه هغه خدای ته قرباني کړي او هېڅ به هم نه وای پاتې. په دې توګه، د وطن اوسېدونکو قاصدانو ته اخطار ورکړی و چې په لاره کې هېڅ قرباني ونه کړي. که څه هم چې هغوی ډاډه وو چې هغه د ټولو خدایانو پر سر خدای دی ځکه چې هغه داسې بې شانه ډېره شتمني لري، خو په دې دلیل هغوی دغه خزاندار ته هېڅ قرباني وړاندې نه کړه.

قاصدانو بیا په خپلو منځونو کې پوښتنه راپورته کړه چې ولې باید هغو خدایانو ته ورشي – یعنې، هغه وطن ته چې خلک په کې ډېر شتمن وو او هغوی خدایان ګڼل – ځکه چې بې له شکه دغه سړی کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې دوی و ژغوري، ځکه چې دغه سړی (د هغوی د ګډوو ډو عقایدو له مخې) تر ټولو لوی خدای دی، په دې چې هغه داسې بې شانه ډېره شتمني لري (چې له نورو څخه څو برابره ډېره ده). له دې امله، هغوی له دغه سړي څخه هیله وکړه چې د هغوی وطن ته ور سره لاړ شي، او هغه هم ومنله چې ورسره لاړ شي.

کله چې هغوی وطن ته بېرته ستانه شول، اوسېدونکي د داسې خدای په پیدا کولو سره ډېر زیات خوښ شول. هغوی ډاډه شول چې دا سړی به یې و ژغوري، ځکه چې (د هغوی د عقیدې له مخې) هغه داسې یو خدای و چې بې شانه شتمني یې لرله.

اوس نو، دغه سړي (د پاچا خزاندار چې د دغه وطن د خلکو له خوا د یوه خدای په توګه منل شوی و) لارښوونه وکړه چې تر هغه چې په وطن کې بدلونونه او پرمختګونه، نه وي شوي، هیڅوک هم باید هېڅ قربانۍ وړاندې نه کړي. (دغه خزاندار اصلا یو لوی ولي و، ځکه چې هغه د پاچا له خلکو څخه و، چې هغوی ټول ډېر لوی ولیان وو. د هغه په یقیني او ژوره توګه، د دغه وطن له سپکوونکیو او احمقانه کارونو څخه کلکه کرکه کېده، خو هغه نشول کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغوی داسې جوړ کړي چې پر خپلو کړو لارو باندې اعتراف وکړي، نو په ورته وخت کې هغه هغوی ته لارښوونه وکړه چې لږ تر لږه د قربانیو له وړاندې کولو څخه ځان وساتي.)

خو د وطن خلکو له هغه څخه د دغه جنګیالي په هکله چې بهر یې اړولي وو پوښتنې پیل کړې. خزاندار هم وویل، «کېدای شي دا هغه جنګیالی وي؟!»

نو خزاندار جنګیالي ته ور ووت او د جنګیالي له خلکو څخه یې غوښتنه وکړه چې آیا شونې ده چې دی له جنګیالي سره یوه لیدنه وکړي. هغوی وویل چې هغوی به هغه خبر کړي او پوښتنه به ترې وکړي. نو هغوی لاړل او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه او هغه اجازه ورکړه، او خزاندار د هغه حضور ته ورغی. هغوی سره و پېژندل، او هغوی د یو بل په لیدو ډېرې خوښۍ او ژړاوې و کړلې.

جنګیالي بیا خزاندار ته وویل، «ته باید پوه شې چې ما زمونږ له هغه پرهېزکار ښه سړي سره هم ولیدل، او دا چې هغه پاچا شوی دی.» (هغوی یو بل ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وویل چې هغوی څنګه هغه ځای ته راغلل چې اوس پکې وو.)

خزاندار جنګيالي ته وویل چې هغه د پاچا پر ځای او د هغه د ټولو خلکو پر خوا راغلی، خو هغه د هغوی دواړو پر خوا رانه غلی یعنې، د ښه سړي- او جنګيالي پر خوا نه و راغلی.

خزاندار له جنګيالي سره د دغه وطن په هکله چې خلک یې دومره بې لارې شوي دي خبرې وکړې او ويې ویل چې دی په داسې حماقت باندې سربدال شوی دی. جنګيالي و خزاندار ته هغه څه وویل چې ښه سړي ته یې ویلي وو، یعنې، چې هغه له پاچا څخه اوربېدلي وو چې دا ببخي ناشونې ده چې یو څوک چې د پیسو په هوس کې ډوب شوی وي د تورې له لارې څخه پرته په بله لاره را واېستل شي (او دا هغه لاره وه چې جنګيالي ترې خپل ځواک ترلاسه کړی و). دغه یوازنۍ لاره ده چې دوی پرې را اېستل کېدای شي.

خو هغوی یو ځل بیا وخت اوږد کړ – خزاندار جنګيالی دې ته وهڅاوه چې د دغه وطن له پاره یو ځل بیا وخت اوږد کړي، نو جنګيالي هغوی ته بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ورکړ. خزاندار او جنګيالي يو له بل سره پټ شفرونه تبادله کړل. بيا خزاندار له جنګيالي څخه رخصت واخيست او دغه وطن ته ستون شو.

(خزاندار هغوی د هغوی د کړو لارو د تعقيبولو، بې لارې کېدنې او د پيسو په هوس کې د ورکېدنې له امله سخت ګرم وګڼل او سمې لارې ته يې ور وبلل، خو هېڅ ګټه يې ونه رسوله، ځکه چې هغوی مخکې تر مخکې پکې سخت ډوب شوي وو، خو دا چې اوس هغوی ډېر ځلې د ښه سړي او خزاندار له خوا ګرم کړل شوي وو—— هغوی سربدال شوي وو او ويې ويل، «سمه ده، مونږ زمونږ له غلطۍ څخه راوباسئ.» خو بيا هم دوی پر خپلو نظرياتو ټينګ وو او علاقه يې نه لرله چې خپلې ناوړې غلطۍ پرېږدي، بيا هم دوی هغو ته چې دوی يې ګرمول وويل، «سمه ده، که تاسو رېښتيا واياست، چې مونږ ډېر په غلطه او ګډوډۍ سر يو، بيا تاسو مونږ زمونږ له غلطۍ څخه راوباسئ!»)

خزاندار هغوی ته مشوره ورکړه چې دی پوهېږي چې جنګيالي خپل ځواک له کومه ترلاسه کړی دی، ده د هغې تورې په هکله هغوی ته وويل چې هغه ترې خپل لوړ ځواک ترلاسه کوي. «نو راځئ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګډه هلته لاړ شو چېرې چې دغه توره پرته ده، او تاسو به وکولی شئ چې پر جنګيالي باندې برى ومومئ.» اوس، د خزاندار اراده دا وه چې يو ځل چې هغوى هلته لاړ شي، هغوى به وکولی شي چې له خپلې غلطۍ څخه راووځي (ځکه چې دغې تورې ته تللې لاره داسې وه چې څنګه يو څوک کولی شي چې د پيسو له هوس څخه پرې راووځي).

هغوى د هغه نصيحت ومنلی. خزاندار او د وطن مشران چې د وطن خلکو ټاکلي وو– هغه چې هغوى خدايان ګڼل (او هغوى په رېښتيا د سرو او سپينو زرو په ګاڼو داسې پوښلي وو چې ښېځي پرې راځنګېدلې، چې د دوى له پاره تر ټولو مهم شی وو) – سره ګډ لاړل.

خزاندار جنګيالي ته خبر ورولېږی چې هغه هغوى بيايي چې توره ولټوي، په دې نيت چې هيله لري چې پاچا او د هغه خلک به په لاره کې پيدا کړي. جنګيالي بېرته پيغام ورولېږی، «زه به هم له تاسو سره لاړ شم!»

جنګيالي داسې کالي واغوستل چې هغه خلک چې له خزاندار سره تلل پوه نشي چې هغه جنګيال دی خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، نو هغه خپله جامه بدله کړه او له خزاندار سره روان شو. هغوی پرېکړه وکړه چې ښه سړی هم خبر کړي. هغوی هغه خبر کړ، او هغه هم وویل چې هغه به له دوی سره لاړ شي.

ښه سړی هغوی ته ورووت، او شاته یې خپلو خلکو ته داسې لارښوونې پرېښودې چې داسې دعا وکړي چې خدای پاک هغوی ته بری ورپه برخه کړي – یعنې چې هغوی بری ومومي چې پاچا او د هغه خلک پیدا کړي. ښه سړي- تل د دې له پاره دعا کوله، او دعاګانې یې جوړې کړې وې چې په دې خاطر ولوستل شي. اوس، که څه هم، چې هغه له خزاندار او جنګیالي سره تلی چې پاچا او د هغه خلک ولټوي، هغه پر خپلو خلکو باندې له هر وخت څخه ډېر ټینګار وکړ چې په منظمه توګه دعا وکړي چې دوی هغوی پیدا کړي.

ښه سړی، خزاندار او جنګیالي ته ور ورسېد، چې د هغوی ترمنځ ډېره خوښي– خوښي او ژړا جوړه شوه. هغوی درې واړه – خزاندار، جنګیالی او ښه سړی- له "خدایانو" ، د وطن له ډېرو شتمنو خلکو (چې په دغه وطن کې خدایان ګڼل کېدل)، سره یوځای په سفر ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ ښه سړی يوه د دعاګانو کيسه ۞

په يوه ځانګړي لوري له سفر کولو څخه وروسته، هغوی يوه ځانګړي وطن ته ورسېدل. هلته د وطن خوا او شا ته ساتونکي وو، او هغوی له ساتونکيو څخه د وطن د څرنګوالي په هکله پوښتنه وکړه، او دا چې د هغوی پاچا څوک دی. ساتونکيو هغوی ته روښانه کړه چې د طوفاني باد په وخت کې، چې انسانان پر ګروپونو وویشل شول، د هغوی د وطن خلکو پرېکړه وکړه چې ترټولو مهم شی پوهه ده، او هغوی يو لوی هوښيار شخص د خپل پاچا په توګه غوره کړ. خو په دا نژدې وختونو کې هغوی يو ډېر لوی هوښيار سړی موندلی، او اصلي پاچا خپل تخت هغه ته تسليم کړ او هغوی هغه نوی هوښيار د پاچا په توګه ونيو، ځکه چې هوښياري د هغوی له پاره ترټولو مهم شی دی، او دا چې هغوی داسې لوړ هوښيار شخص موندلی دی، نو د پاچا په توګه يې ونيو.

هغوی درې واړو (يعنې خزاندار، جنګيالي او ښه سړي) يو بل ته وويل چې ښايي دا زمونږ حکيم وي (يعنې، د پاچا حکيم). هغوی غوښتنه وکړه چې آيا کېدای شي چې له هغه سره وګوري، او ساتونکيو ځواب ورکړ چې هغوی به هغه خبر کړي او پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ترې وکړي. هغوی لاړل او پوښتنه یې وکړه، او هغه هم اجازه ورکړه.

نو هغوی درې واړه حکیم ته، چې د دغه وطن نوی پاچا و، ورغلل، او هغوی له یو بل سره وپېژندل ځکه چې دغه حکیم اصلا هغه د پاچا حکیم و. هلته ډېره زیاته خوښي – خوښي او ژړا، جوړه شوه. هغوی پر دې خبره وژړل چې ځنګه به هغوی پاچا او د هغه خلک پیدا کړي. هغوی له حکیم څخه پوښتنه وکړه چې آیا هغه د پاچا د لاس په هکله څه خبر لري. ده هغوی ته وویل چې دی هغه لاس لري، خو له هغه وخت راهیسې چې هر څوک، د هغه طوفاني باد له امله چې پاچا او نور یې ورک کړل، سره تیت شول، دی نه غواړي چې هغه لاس وګوري، ځکه چې هغه یوازې په پاچا پورې اړه لري. خو هغه پر یوه تیږه باندې د هغه لاس یو انځور کښلی دی چې د خپلو شخصي اړتیاوو له پاره یې‌کاروي، خو خپله لاس ته هغه هېڅکله هم نه ګوري.

هغوی له حکیم سره خبرې وکړې چې هغه څنګه وکولی شول چې دې ځای ته چې اوس پکې و، راشي. هغه دوی ته وویل چې د طوفاني باد په وخت کې، هغه پر خپله مخه لاړ (او په لاره کې هغه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی درېِ واړو – ښه سړي، جنګيالي او خزاندار، پرته د پاچا د نورو ټولو خلکو پر خوا راغلی) تر هغه چې د دغه وطن خلکو هغه ومونډ او د خپل پاچا په توګه يې ومنلی. او اوس، باید هغوی ته د هغوی د سطحې په پام کې نیولو، د هغوی د حکمت په پام کې نیولو سره لارښوونه وکړي، تر دې چې د وخت په تېرېدلو سره به و کولای شي چې هغوی حقیقت ته راولي.

هغوی درېِ واړو له حکیم سره د دغه وطن په هکله چې په حماقت او د پیسو په عبادت کې داسې غرق لوېدلې وو خبرې وکړې. هغوی هغه ته وویل، «که مونږ له دې پرته چې هغوی سمې لارې او حقیقت ته بېرته راولو په بل دلیل تیت او پرک شو، دا به زمونږ له پاره بېخي پوره وي، هغوی ډېر زیات احمق او لار ورکي شوي دي.»

په حقیقت کې، بیاهم، ټولو ډلو لاره خطا کړې او پرېشان وو، او اړتیا يې لرله چې سمې لارې ته راوستل شي، چې بېرته د هغوی له غلطیو څخه راوګرځول شي او د ژوند اصلي مقصد ته راستانه کړای شي. ان هغه ډله چې حکمت يې د خپل مقصد په توګه ټاکلی و، هم اصلي مقصد ته نه وه رسېدلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اړتیا یې لرله چې سمه او بېرته لارې ته برابره کړای شي، ځکه چې هغوی بهرنۍ پوهې او الحاد غوره کړي و. خو، له پورتنیو ټولو غلطیو څخه دا اسانه ده چې خلک بېرته راوګرځول شي او حقیقت ته راستانه کړای شي، خو دغې ډلې د پیسو داسې عبادت کاوه چې ناشونې وه چې بېرته لارې ته راوستل شي.

(حکیم هغوی ته وویل چې هغه هم له پاچا څخه اورېدلي وو چې یو څوک چې په هر شوق کې لوېدلی وي کېدای شي ځنې را واپستل شي، خو دا ناشونې ده چې یو څوک چې د پیسو عبادت یې شروع کړی وي هغه دې د تورې له کارولو څخه پرته په بله لاره وژغورل شي.)

نو حکیم موافقه وکړه چې له هغوی سره لاړ شي، او هغوی څلور واړه سره ګډ روان شول. دغه احمق «خدایان» هم له هغوی سره یوځای لاړل.

دوی مزل کاوه، کاوه چې یوه ځانګړي وطن ته ورسېدل. دوی له ساتونکیو څخه د هغه وطن د څرنګوالي په هکله پوښتنه وکړه، او هغوی دوی ته وویل چې له طوفاني باد څخه وروسته، د دغه وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو وينا د اصلي مقصد په توګه غوره کړه، او د ځانونو له پاره يې يو وياند چې په ژبو پوهېږي د پاچا په توګه غوره کړ. خو وروسته بيا هغوی بل داسې يو سړی چې په بلاغت او فصاحت کې لوی ماهر او وياند و، ومونډ. او هغوی هغه د پاچا په توګه ونيو، ځکه له دې امله چې اوس هلته داسې يو وياند شتون درلود نو لومړني پاچا خپل تخت هغه ته ور وسپاری. هغوی څلور واړه پوه شول چې دا به خامخا د هغوی خطيب (يعنې د پاچا خطيب وي)، او هغوی بيا پوښتنه وکړه چې آيا کولی شي چې له دغه پاچا سره وګوري. ساتونکيو دوی ته وويل چې هغوی به يې خبر کړي او اجازه به ځنې واخلي. هغوی لاړل او غوښتنه يې وکړه او پاچا هم اجازه ورکړه؛ نو دوی څلور واړه د دغه وطن د پاچا حضور ته ورغلل. هغه په رښتيا هم هغه د پاچا خطيب و، او هغوی سره و پيژندل. د هغوی تر منځ ډېره خوښي او خوښۍ او ژړاوې جوړې شوې.

او اوس چې خطيب له هغوی سره يو ځای شو، نو هغوی خپل لټون ته نور هم دوام ورکړ، چې ښايي هغوی نورخلک– يعنې، پاچا، او داسې نور هم ومومي. هغوی پوه شول چې خدای پاک له هغوی سره يو په بل پسې د ملګرو په موندلو کې مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، او هغوی دا د خپل ښه سړي له برکته ګڼل، چې تل يې د دې له پاره دعا کوله. د هغوی د دعاوو له برکته وه چې هغوی يو د بل په موندلو بريالي شول، نو په دې هيله چې نور به وموميې مخکې لاړل.

هغوی يوه ځانګړي وطن ته ورسېدل او د هغه د ځرنګوالي په هکله يې پوښتنه وکړه، او دا چې څوک يې پاچا دی. هغوی ته وويل شول چې هغوی له هغې ډلې څخه دي چې خوند او شراب يې د اصلي مقصد په توګه ټاکلي وو، او يو شرابخور يې د خپل پاچا په توګه ټاکلی و، ځکه چې هغه به تل خوشحال و. خو په پای کې هغوی داسې يو څوک وموند چې د واينو [د انګورو شراب] پر سمندر باندې ناست و، او د هغوی تر سترګو لا نور هم مناسب ښکاره شو، ځکه چې [هغوی فکر کاوه چې] هغه بې له شکه يو ډېر لوړ شرابي و، نو هغوی هغه خپل پاچا جوړ کړ. اوس، بيا هم، هغوی له هغه سره د ليدني غوښتنه وکړه، او ساتونکي لاړل او اجازه يې ترلاسه کړه او هغوی دننه دغه پاچا ته ورغلل. هغه د پاچا هغه ايماندار ملګری و چې د هغو واينو پر سمندر باندې ناست و چې د خطيب د دلاساينې له ټکو څخه جوړ و. (خو د دغه وطن خلکو هغه د دې له پاره پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی و چې هغوی فکر کاوه چې هغه يو لوی شرابي دی، ځکه چې هغه د واينو پر سمندر باندې ناست و.) هغوی يو بل وپېژندل، او هلته د هغوی تر منځ ډېرې لويې خوښۍ او ژړاوې جوړې شولې، او ايماندار ملګری له هغوی سره لاړ.

هغوی مخکې لاړل او يوه ځانګړي وطن ته ورسېدل او له ساتونکيو څخه يې پوښتنه وکړه، «ستاسو پاچا څوک دی؟»

هغوی ځواب ورکړ، «زمونږ پاچا يوه ښايسته ښځه ده، ځکه چې هغه اصلي مقصد چې په ټوله نړۍ کې د انسان خپرول دي ترسره کوي.» په اول کې هغوی يوه ښايسته ښځه د پاچا په توګه ټاکلې وه، خو وروسته بيا هغوی داسې يو څوک پيدا کړه چې ببخي ډېره ښايسته وه، نو هغوی هغه د پاچا په توګه وټاکله. هغوی پوه شول چې هغه به خامخا شهزادګۍ وي، نو هغوی له هغې سره د ليدنې غوښتنه وکړه. ساتونکي لاړل او اجازه يې ترلاسه کړه، او هغوی د ملکې حضور ته ورغلل او ويې ليدل چې هماغه شهزادګۍ وه. هلته له تصور څخه زياته خوښي جوړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی له هغې څخه پوښتنه وکړه، «ته دلته څنګه راورسېدې؟» هغې ورته وویل چې له طوفاني باد څخه چې ګران ماشوم یې یوړ هغه د لېونۍ په څېر د ماشوم په لټون پسې ووتله، خو هغه یې ونه موند. شیدو پر هغې باندې زور وروړ چې د شیدو سمندر ترې جوړ شو. په پای کې، د دغه وطن خلکو هغه وموندله او د خپلې پاچا په توګه یې وټاکله.

د هغوی ترمنځ سخته خوښي جوړه شوه، خو د ګران ماشوم په هکله یې چې له هغوی څخه ورک شوی و، او د هغې د مور او پلار په هکله چې ځای-ځایګی یې هغې ته ورمعلوم نه و، سخت وژړل، خو د دغې ملکې (یعنې، شهزادګۍ چې په دغه وطن کې ملکه شوې وه) خاوند و موندل شو، ځکه چې جنګیالی د هغې خاوند و. اوس نو دغه وطن پاچا هم پیدا کړ.

شهزادګۍ ( د دغه وطن ملکې) بیا له ښه سړي څخه غوښتنه وکړه چې د هغې په وطن کې وګرځي او له دغې لویې مردارۍ څخه یې پاک کړي. هغوی عقیده لرله چې اصلي مقصد د ښکلو ښځو چاپېر څرخیږي، هغوی په دغه شوق سخت اخته شوي وو. نو هغې له ښه سړي څخه هیله وکړه چې لاړ شي اوهغوی یو څه سوچه کړي، څو هغوی د څه مودې له پاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغې مرداری کې له افراط څخه پاک کړي، ځکه چې د شوق د اصلي زور تر څنګ، دا د هغوی له پاره د ایمان په څېر وه، او په دې توګه دا د هغوی له پاره اصلي مقصد و (له دې امله چې دغو ټولو ډلو چې له یادو بدو خاصیتونوڅخه یې یو د خپل اصلي مقصد په توګه ټاکلی و له هغه خاصیت څخه پخه عقیده جوړه کړې وه.) په دې توګه، هغوی په دې کې سخت ډوب شوي وو، نو هغې له هغه څخه غوښتنه وکړه چې وګرځي او په ورته وخت کې هغوی یو څه سوچه کړي.

بیا دوی ټول د نورو، یعنې، د پاچا او نورو، په لټون پسې لاړل. دوی یوه ځانګړي وطن ته ورغلل او پوښتنه یې وکړه، «ستاسو پاچا څوک دی؟» دوی ته وویل شول چې د هغوی پاچا یو کلن دی، ځکه چې هغوی له هغې ډلې څخه وو چې پرېکړه یې کړې وه چې هر څوک چې ډېر زیات خواړه لري او په عادي انساني خوړو نه پایي هغه باید پاچا وي. په اول کې هغوی یو شتمن سړی خپل پاچا ټاکلی وو، خو وروسته بیا هغوی داسې یو څوک وموند چې د شیدو په سمندر کې ناست و، او هغوی دا خپل په زړه پوري سړی وګڼلی. دغه سړي خپل ټول ژوند د شیدو په واسطه تېر کړی و، او د نورې نړۍ د خوړو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطه یې ژوند نه تېروی، نو هغوی هغه خپل پاچا وټاکی. او دا دلیل چې ولې هغه ته «یوکلن» ویل کېږي له دې امله دی چې هغه د شیدو په واسطه داسې پایي لکه یو کلن ماشوم.

دوی پوه شول چې دا به حتما هغه ماشوم وي، نو دوی له هغه سره د لیدنې غوښتنه وکړه. ساتونکي لاړل او اجازه یې وغوښته او ترلاسه یې کړه. کله چې دوی د هغه حضور ته ورغلل دوی یو بل وپېژندل. که څه هم چې هغه وخت چې هغه له دوی څخه ورکېدی هغه یو وړوکی ماشوم و خو دا چې هغه له پیدایښت څخه پخه زیرکتیا لرله نو هغه هم دوی وپېژندل، او دوی خو په رښتیا سره هغه وپېژاند. د دوی خوښي ډېره رنګینه وه، خو بیا هم دوی وژړل ځکه چې دوی نه پوهېدل چې پاچا او ملکې ته به څه ورپېښ شوي وي.

دوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، « ته څنګه دلته راورسېدې؟» هغه دوی ته وویل وروسته له هغه چې طوفاني باد هغه لیرې یوه ځنګړي ځای ته یوړی، هغه هلته پاتې شو او په هغه څه چې کولی یې شول ځان یې پرې وساتی. په پای کې هغه دغه د شیدو سمندر ته ور ورسېد، او هغه پوه شو چې دغه سمندر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامخا د هغه د مور له شیدو څخه جوړ شوی دی، ځکه چې شیدو بې له شکه پر هغې باندې زور ور وړی و. په دې ډول سمندرجوړ شو. نو هغه دغه د شیدو په سمندر کې ژوند پیل کړ او په شیدو باندې پایېدی تر دې چې د دغه وطن خلکو هغه وموند او خپل پاچا یې کړ.

دوی مخکې لاړل او یوه ځانګړي وطن ته ورسېدل. دوی پوښتنه وکړه، «ستاسو پاچا څوک دی؟» خلکو ځواب ورکړ چې هغوی وژنه اصلي مقصد ګڼي او یو وژونکی یې خپل پاچا ټاکلی و. وروسته، هغو یوه ځانګړې ښځه پیدا کړه چې د وینو په سمندر کې ناسته وه، او هغوی هغه د خپلې پاچا په توګه غوره کړه. هغوی داسې وانګېرله چې هغه په رښتیا یوه لویه وژونکې وه ځکه چې هغه د وینو په سمندر کې ناسته وه. دوی له هغې سره د لیدنې غوښتنه وکړه، او خلک لاړل او اجازه یې ترلاسه کړه، نو دوی د هغې حضور ته ورغلل، او هغه هماغه ملکه وه! هغې تل ژړل، نو له اوښکو څخه یې د وینو سمندر جوړ شوی و. دوی یو بل وپېژندل، او یوه ستره خوښي جوړه شوه، خو دوی بیا ژړل، ځکه چې دوی لا هم د پاچا په هکله هېڅ نه پوهېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دوی مخکې لاړل او یوه ځانګړي وطن ته ورسېدل. دوی پوښتنه وکړه، «ستاسو پاچا څوک دی؟» دوی ته وویل شول چې دغو خلکو یو دروند شخص د خپل پاچا په توګه غوره کړی و، ځکه چې درنښت (عزت) د هغوی تر سترګو اصلي مقصد ښکارېدی. وروسته هغوی یو زوړ سړی وموند چې په یوه پټي کې ناست او تاج یې پر سر و. هغوی هغه خپل د خوښې سړی وګڼلی، ځکه چې هغه ان په پټي کې له تاج سره ناست و، نو هغوی هغه خپل پاچا وټاکه.

دوی پوه شول چې دا به خامخا هماغه پاچا وي (یعنې، د دوی پاچا به وي)، او دوی له هغه سره د لیدنې غوښتنه وکړه. غوښتنه وشوه او اجازه ورکول شوه، او دوی د هغه حضور ته ورغلل. دوی پوه شول چې هغه خپله د دوی پاچا و. داسې خوښي جوړه شوه چې ښېخي له تصور څخه وتلې وه.

په ورته وخت کې، هغه احمق «خدایان» (یعنې، د شتمن وطن هغه شتمن خلک چې هغوی په خپل وطن کې خدایان ګڼل کېدل) هم له هغوی سره روان وو، خو په دې هېڅ نه پوهېدل چې دغه خوښي د څه له امله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ ښه سړی يوه د دعاګانو کيسه ۞

او اوس، هغه سپېڅلې ټولۍ يو ځل بيا سره يوځای شوه. نو هغوی ښه سړی- دغو ټولو وطنونو ته (د هغو ډلو وطنونو ته چې بېلابېل بد خاصيتونه يې د اصلي مقصد په توګه ټاکلي وو) ولېږی څو هغوی سمې لارې ته راولي، چې هغوی سوچه کړي او له حماقت څخه يې راوباسي، هر وطن له خپل اړوند حماقت او غلطۍ څخه راوباسي، ځکه چې هغوی ټول بې لارې او مغشوش شوي وو. ښه سړي اوس په رښتينې توګه دا زور درلود چې هغوی ته ورشي او هغوی بېرته راوګرځوي، ځکه چې له هغه سره اوس د دغو ټولو وطنونو د پاچايانو زور و، ځکه چې ټول پاچايان هلته وو (د پاچا د سپېڅلي ټولۍ چې اوس بېرته سره يوځای شوې وه هرغړی د هغو ډلو د دغو وطنونو پر سر پاچا و). نو ښه سړی د هغوی په زور سره لاړ چې هغوی سوچه کړي او بېرته يې سمې لارې ته راولي.

جنګيالي بيا له پاچا سره د هغه وطن په هکله خبرې وکړې چې د پيسو په لمانځنه کې لوېدلي وو. جنګيالي پاچا ته وويل، «آيا مونږ له تا څخه نه وو اورېدلي چې هغه خلک چې د پيسو په عبادت کې ډوب شوي وي کېدای شي چې تورې ته د تللې لارې په زور ځنې را واپستل شي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا وویل، «هو». او پاچا جنګیالي ته وویل چې تورې ته د تللې لارې په اوږدو کې یوه اړخیزه لاره هم شته چې د اور پر غره تېرېږي، او پر هغه غره باندې یو زمری کښېني. نو کله چې دغه زمری غواړي چې خوراک وکړي، هغه ځي او پر رمو باندې حمله کوي او پسونه او غوایان نیسي او خوري يې. شپانه په دې پوهېږي او پسونه په ډېر پام ځنې ساتي، خو په دې کار سره زمری هېڅ نه ایساربږي – هر کله چې هغه غواړي چې خوراک وکړي، هغه پر رمو باندې حمله کوي. شپانه يې وهي او شړي او چیغې پرې وهي، خو د زمري ببخي چورت نه په خرابیږي. هغه فقط پسه او غویی اخلي، غوړمبيږي او خوري يې. او دغه د اور غر په سترګو نه ښکاري.

یوه بله اړخیزه لاره یوه پخلنځي ته تللې ده. په دغه پخلنځي کې د خوړو ټول ډولونه شته دي، خو په پخلنځي کې اور نشته. پرځای يې، خواړه په غره کې د شته اور په واسطه پخیږي. او که څه هم چې د اور غر له هغه ځای څخه ډېر لیرې دی، د اور له غره څخه دغه پخلنځي ته پایپونه او لښتي ورغلي دي، او په دې توګه دغه ټول خواړه هلته پخیږي. دغه پخلنځی هم په سترګو نه ښکاري، خو داسې یوه لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته چې کېدای شي د هغه ځای معلوم شي: مرغۍ د دغه پخلنځي پر سر باندې وزرونه رپوي، چې په دې توګه یو څوک کولی شي وپوهېږي چې پخلنځي هلته دی. دغه مرغۍ د خپلو وزرونو په وسیله هلته پاس درېږي او وزر وهي او په دې توګه اور ډېرېږي او کمېږي. په نورو ټکو، د مرغیو پاس درېدل او وزر وهل اور ډېروي او تېزوي، او هم یې کموي چې ډېرې زیاتې لمبې ونه کړي. هغوی اور د خوړو ډول ته په کتو، تېزوي. یو ډول خواړه یو ډول اور ته اړتیا لري، خو یو بل ډول خواړه بل ډول اور ته اړتیا لري. اور د خوړو له پاره په مناسب ډول جوړېږي. (دا هغه څه وو چې پاچا جنګیالي ته وویل.)

پاچا وویل، «نو اوس دوی (یعنې، د هغو خلکو استازي چې د پیسو عبادت کوي، دا خلک چې په خپل وطن کې خدایان دي) درسره بوځه او د باد په مقابل کې یې برابر کړه چې د خوړو خوشبویي پرې ولګېږي. وروسته له هغه چې ته دوی ته یو څه خواړه ورکړې، دوی به خامخا خپل د پیسو عبادت پرېږدي.»

جنګیالي له لاربنوونې سره سم کار وکړ، او د شتمنۍ د وطن دغه مشران، یې چې په خپل وطن کې خدایان

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، بوتلل – ځکه چې دغه «خدايان» لکه چې پورته ياده شوه هلته له خزاندار سره راغلي وو. او، کله چې هغوی له خپل وطن څخه له خزاندار سره را روانېدل، د وطن خلکو هغوی ته وکالت او واک ورکړی و، يعني داسې هوکړه يې کړې وه چې هر څه چې دغه استازي يې کوي هغه به د منلو وي، او د وطن ټول اوسېدونکي به مجبور وي چې هر هغه څه ومني چې دغه استازي (چې د هغوی مشران او خدايان وو) يې کوي، او اجازه به نه لري چې سرغړونه وکړي.

نو، جنګيالي دغه خلک چې په خپل وطن کې د دوی د شتمنۍ له کبله خدايان ګڼل کېدل راروان کړل او پر دغې لارې يې ورسيخ کړل. پخلنځي ته يې نژدې وروستل، او هغوی يې د باد مخامخ برابر کړل، چې د خوړو بوی ور ورسېږي. هغوی زاری پيل کړې چې له دغو خوندورو خوړو څخه يو څه ورکول شي. خو بيا ده د هغوی مخونه د باد د لوري په لوري (شا ته) وګرځول او هغوی چيغې پيل کړې چې ډېر بد بوی پرې لګېږي. نو هغه د دوی مخونه بېرته د باد مقابل لوري ته ور وګرځول او بيا د خوړو اشتها راوړونکی بوی هغوی ته ور ورسېد نو بيا هغوی زاری پيل کړې چې که له هغو خوړو څخه يو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول شي. او بيا ده هغوی د باد د لوري په لوري ور وګرځول او بيا هغوی د بد بوی له امله چيغې پيل کړې.

بيا جنګيالي هغوی ته وويل، «آيا تاسو نه ګورئ چې دلته داسې څه نشته چې د بد بوی سبب وګرځي. دا به حتما داسې وي چې تاسو خپله د دغه بد بوی سرچينه ياست، ځکه چې دلته خو هېڅ وروست شی هم نشته.»

بيا ده هغوی ته له دغو خوړو څخه يو څه ورکړل. څنګه چې هغوی دغه خواړه وخوړل، هغوی له خپلو ځانونو څخه د سرو او سپينو زرو غورځول پيل کړل. هر يوه د خپل ځان له پاره يوه کنده وابسته او له ډېره شرمه يې خپل ځان په کنده کې ښخ کړ. هغوی د پيسو د سختې بدبويۍ (چې د انسان د مردارۍ په څېر بوی يې کاوه) په هکله په پوهېدلو سره و شرمېدل. دا له دې امله وشول چې هغوی د هغو خوړو خوند و کتی.

هغوی خپل مخونه نوکارې کول او ځانونه يې ښخ کړل، او نه يې شول کولی چې خپل مخونه راپورته کړي. هر يو د بل په وړاندې شرمېدلی و. پيسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی له پاره د ټولې بې‌عزتۍ تر ټولو لويه سرچينه ګرځېدلې وه، او هر چا به چې غوښتل چې د بل په وړاندې سپکاوی وکړي ويل به يې چې هغه پيسې لري، ځکه چې اوس نو پيسې د بې‌عزتۍ يوه لويه سرچينه ګرځېدلې وه. هر چا به چې ډېرې پيسې لرلې هغه به ډېر سپک و. نو هغوی له ډېره شرمه خپل ځانونه ښخ کړل. تر دې چې يوه يې هم نشول کولی چې خپل مخ بل ته، په ځانګړې توګه جنګيالي ته، ورپورته کړي. هرچا به چې په خپل جيب کې يوه سکه پيدا کړه ژر به يې چيته کړه او ايسته به يې وغورځوله.

بيا جنګيالی هغوی ته ورغی او (له کندو او قبرونو څخه يې) را واېستل. هغه وويل، «له ما سره راځئ. اوس نور تاسو اړتيا نه لرئ چې له جنګيالي څخه وډار شئ، ځکه چې هغه جنګيالی زه خپله يم!»

هغوی له جنګيالي څخه غوښتنه وکړه چې له دغو خوړو څخه هغوی ته يو څه ورکړي چې خپل وطن ته يې يوسي. د هغوی لا له وړاندې څخه له پيسو څخه بد راتلل، خو هغوی غوښتل چې د هغوی وطنوال هم د پيسو له دغه شوق څخه راووځي. هغه له دغو خوړو څخه يو څه ورکړل او هغوی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن ته یوړل. څنګه چې دوی هغوی ته خواړه ورکړل، هغوی هم له خپلو ځانونو څخه د سرو او سپینو زرو غورځول او له ډېره شرمه د ځمکې لاندې سوريو کې د ځانونو ښخول پیل کړل.

ډېر شتمن او هغه چې «خدایان» ګڼل کېدل هغوی تر ټولو سپک وګرځېدل، خو ان هغه د تر ټولو ټیټې مرتبې خلکو چې «وحشي ښاروي» ګڼل کېدل هغوی هم له دې امله چې ځانونه یې د پیسو د نه لرلو له امله ټیټ ګڼل د سپکاوي احساس کاوه. اوس نو هغوی پوه شول چې پیسې د بېعزتۍ او سپکاوي اصلي سرچینه ده.

دغو خوړو داسې اغېزه درلوده چې هر چا به وخوړل نو د پیسو څخه به یې داسې بد راتلل چې بوی به یې پرې د انسان د مردارۍ په څېر لګېدی. نو له دې کبله، هغوی خپل د سپینو او سرو زرو خدایان ایسته وغورځول.

تر دې وروسته، هغه وطن ته هغه ښه سړی ولیږل شو، او هغه هغوی ته وښودل چې څنګه توبه وباسي او خپلې لارې بدلې کړي. هغه هغوی سوچه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۞ بله سړی یوه د دعاګانو کیسه ۞

بیا پاچا پر ټوله نړۍ واکمن شو او ټوله نړۍ خدای ته راجع شوه، چې خپل ځانونه یې د سپیڅلو کتابونو لوستلو او لمونځونو، توبې او نېکو عملونو ته وقف کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووه سوالګر

زه به درته ووایم چې یو وخت څنګه خوښ شول.

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا و. پاچا یوازې یو زوی درلود. پاچا غوښتل چې پاچایي په خپل ژوند خپل زوی ته وروسپاري، نو یو لوی مجلس یې جوړ کړ، او کله چې پاچا یو مجلس جوړوي بې له شکه چې دا یوه د خوشحالۍ [موقع] وي. په تېره بیا چې هغه پاچایي په خپل ژوند خپل زوی ته سپارله؛ دا نو بې له شکه چې یو خوندور کار و، او مجلس ته راغلي خلک ټول وزیران، مشران او لویان وو.

دغه کارپه مجلس کې ډېر خوند کولی. دا چې پاچا په خپل ژوند کې پاچایي خپل زوی ته سپارله نو د هېواد خلک ډېر خوشحال وو، ځکه چې د پاچا له پاره دا یوه ډېره ډېره د عزت خبره [ګڼل کېږي چې پاچایي وسپاري]، نو ځکه مجلس ډېرخوندور و. هلته په مجلس کې هر ډول ساعت تېرۍ؛ شاعران، ټوکیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نور داسې څه چې سړی به يې خوشحالولی موجود وو.

هغه وخت چې ټوله فضا خوشحالۍ نيولې وه، پاچا پاڅېد او خپل زوی ته يې وويل، «دا چې زه يو نجومي (ستوري پېژندونکی) يم، زه پوهېږم چې يوه ورځ به ته تخت له لاسه ورکړې، نو [کله چې داسې پېښه وشوه] پام به کوې چې خپه [يعنې پرېشان] نشې چې تا پاچايي له لاسه ورکړې ده. د خپه کېدو پر ځای خوشحاله اوسه.

او کله چې ته خوشحاله يې، زه به هم خوشحاله يم خوکه ته خپه هم شې زه به بيا هم خوشحاله يم چې ته پاچا نه يې، ځکه چې که ته خوشحاله نشې پاتې کېدلی، ته بيا د پاچايۍ وړتيا هم نه لرې. (په بله وينا، که ته داسې څوک يې چې د پاچايۍ په له لاسه ورکولو سره هم تل خوشحاله نشي پاتې کېدلی بيا نو [داسې ښکاري] چې ته د تخت لايق نه يې)، خو که ته خوشحاله پاتې شې، زه به ډېر زيات خوښ اوسم.

د پاچا زوی په بري سره د پاچايۍ کنټرول تر لاسه کړ او وزيران يې وټاکل. هغه لويان، مشران او يو لښکر هم لرل. د پاچا زوی يو هوښيار سړی و، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ریښتیا سره یې له پوهې سره مینه لرله. پر هغه به لوی، لوی پوهان راټول وو. هغه به هر هغه چا ته چې هغه ته به یې ښه نظرونه راوړل اهمیت ورکولی. هغه به هغوی ته د هغوی د پوهې په اساس ډېر عزت او مال او هر هغه څه چې هغوی به غوښتل ورکول. که چا به پیسې غوښتې هغه ته به یې پیسې ورکولې؛ که چا به عزت غوښت هغه ته به یې د هغه د پوهې له کبله عزت ورکولی. او دا چې پوهه د هغه له پاره ډېره مهمه وه، هرچا د [اکاډمیکې] پوهې لاره ونیوله، او ټولې پاچایۍ ځانونه د پوهې[یعنې استدلال] لارویان وګرځول. چا به چې پیسې غوښتې هغه ته به یې پیسې ورکولې او چا به چې عزت او درناوی غوښت هغه ته به یې عزت او درناوی ورکاوه.

دا چې په هغه وطن کې هرچا خپل ځان له [اکاډمیکې] پوهې سره په ځانګړې توګه تړلی ګاڼه نو هغوی د جنګ هنر بېخي هېر کړ. دا چې هغوی ټولو خپل ځانونه د حکمت لارویان ګڼل، له دې امله د هغه وطن هغه تر ټولو لږ هوښیار به په بل هر وطن کې تر ټولو لوی حکیم ګڼل کېدی.

د دغه وطن پوهان ډېر لوی هوښیاران وګرځېدل او د [نظري یا تیوریکي] پوهې د تعقیبولو له امله د وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهانو الحاد یا د خدای له شتون څخه انکار ته مخه کړه، او هغوی ولیعهد (شهزاده) الحاد [منلو] ته برابر کړ، خو دغه کار پر ولس باندې اغېزه ونه کړه. هغوی د خدای له شتون څخه منکر نه شول ځکه چې د حکیمانو حکمت ډېر پېچلی و او ولسي خلکو نشول کولی چې د هغوی نظریات وڅېړي. له دې امله دې کار پر هغوی اغېزه ونه کړله، خو پوهان او د پاچا زوی د خدای له شتون څخه منکر شول.

له دې امله چې د پاچا زوی په خپل ځان کې «ښه» درلودل (ځکه چې هغه د «ښو» پر لوري [په یوه میلان سره] پیدا شوی و، او ښې ځانګړتیاوې یې لرلې) نو په پرله پسې توګه به یې له ځان سره فکر کاوه چې، «زه د نړۍ په کوم ځای کې یم؟ [یعنې زه په څه ډول حالت کې یم؟] زه [مې له ځان سره] څه کوم؟»

هغه به اوږده اوسېلي اېستل، او په زوره به یې ورسره چیغې وهلې. هغه په حیرانتیا سره وویل «دا څه معنی چې زه مې وخت په داسې شیانو باندې تېروم؟ دا په ما څه کیږي؟ زه د نړۍ په کوم ځای کې یم؟ او ډېر اوسېلي به یې اېستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو څنګه به چې هغه د خپل عقل کارول پیل کړل، نو ناسالم حکمت به یې فکر بیا په خپله غیږه کې ونیولی. دا کارڅو ځلې وشو، چې هغه به په پرله پسې توګه فکر کولی چې هغه په څه حالت کې دی؟، هغه څه کوي؟، او داسې نور. هغه به اوسېلي واېستل او چیغې به یې کړې، خو سمدلاسه به چې هغه له خپل عقل څخه کار اخیستل پیل کړل، د الحادي فکر به یې بیا په مغز باندې منګولې ورخښې کړې.

یوه ورځ راغله چې په یوه وطن کې یوه لویه تېښته پیل شوه – هرچا منډې وهلې. هغوی به چې تښتېدل نو له یوه ځنګله څخه به تېرېدل. دوه ماشومان چې یو هلک او یوه نجلۍ وه هلته ورک شول. یوه سړي یو هلک ورک کړ او بل یوه نجلۍ. هغوی په دغه وخت کې واړه ماشومان وو چې څلور یا پنځه کاله عمرونه یې لرل. له ماشومانو سره هېڅ شی نه وو چې ویې خوري. هغوی وژړل او چیغې یې ووهلې ځکه چې خواړه ورسره نه وو.

په دې وخت کې یو سوالګر هغوی ته راغی؛ هغه له خپلو د خیرات کڅوړو سره راروان و. ماشومانو هغه ته ورمنډه کړه او ځانونه یې ورپورې ونښلول. هغه هغوی ته ډوډۍ ورکړه او هغوی وخوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له هغوی څخه پوښتنه وکړه «تاسو څنګه دلته راغلاست؟»

هغوی ځواب ورکړ، «مونږ نه پوهیږو» (ځکه چې هغوی واړه ماشومان وو).

هغه هغوی پرېښودل. هغوی وغوښتل چې هغه دوی هم له ځان سره بوځي.

خو هغه ورته وویل، «زه نه غواړم چې تاسو له ماسره لاړشئ».

کله چې هغوی [له هغه سره خبرې کولې] هغوی ولیدل چې سوالګر ړوند دی. هغوی په دې خبره حیران شول چې هغه ړوند دی نو هغه څنګه خپله لاره پیدا کوي؟ (او په حقیقت کې، دا خپله یوه لویه خبره وه، چې ماشومان [د هغه په ړوندوالي] پوه شول، دا چې هغوی واړه ماشومان وو نو دا ورته نا اشنا ښکاره شوه. په حقیقت کې، هغوی هوښیار ماشومان وو، نو ځکه هغوی په دې کار باندې حیران شول). نو هغه (ړانده سوالګر) هغوی ته دعا وکړه، [هغه هغوی ته وویل]، «تاسو دې ببخي داسې شئ لکه زه چې یم – تاسو دې داسې زاړه شئ لکه زه چې یم. هغه هغوی ته څه نوره ډوډۍ هم ورپرېښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خپله مخه لاړ. ماشومان پوه شول چې خدای پاک هغوی ساتي، او هغه هغوی ته یو ړوند سوالګر د همدې له پاره ورولیږی چې هغوی ته ډوډۍ ورکړي.

وروسته د هغوی ډوډۍ بیا خلاصه شوه. بیا هغوی د خوړو له پاره چیغې پیل کړې. بیا شپه راغله او هغوی شپه همالته تېره کړه. سهار بیا هم هغوی څه نه لرل چې ویې خوري، نو په چیغو شول او ویې ژړل.

بیا یو سوالګر راغی- چې کوڼ و. هغوی له هغه سره خبرې پیل کړې. هغه په خپلو لاسونو باندې حرکتونه وکړل چې هغوی پوه کړي چې هغه څه نه اوري. دغه سوالګرهم هغوی ته ډوډۍ ورکړه چې ویې خوري او هغوی یې پرېښودل او روان شو. هغوی غوښتل چې هغه یې له ځان سره بوځي، خو هغه نه غوښتل چې داسې کار وکړي. هغه هم هغوی ته دعا وکړه چې هغوی دې داسې شي لکه هغه چې دی. هغه هم هغوی پرېښودل او پر خپله مخه لاړ.

وروسته د هغوی ډوډۍ بیا خلاصه شوه، او هغوی بیا د مخکې په څېر ژړا پیل کړه، او بیا یو سوالګر هغوی ته راغی. هغه خبرې سمې نشوې کولی (یعنې په ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تتله و). هغوی له هغه سره خبرې پیل کړې او هغه په نیمه ژبه ورسره خبرې کولې. هغوی نه پوهېدل چې هغه څه وایي، خو هغه په هغه څه چې هغوی ویل پوهېدی. دغه سوالګر هم هغوی ته ډوډۍ ورکړه چې ویې خوري، او هغه هم لاړ. هغه هم هغوی ته دعا وکړه چې هغوی دې داسې شي لکه هغه چې دی، او بیا یې د هغو نورو په څېر خپله لاره ونیوله او لاړ.

وروسته بیا یو سوالګر راغی - چې غاړه یې کږه وه، او هر څه داسې وشول لکه مخکې چې شوي وو. وروسته بیا یو بل سوالګر راغی - چې پر ملا کړوپ و، او وروسته بیا بل راغی چې لاسونه یې نه لرل. بیا بل سوالګر راغی چې پښې یې نه لرلې. هغو ټولو دوی ته ډوډۍ ورکړه، او [دغو ماشومانو] ته یې دعا وکړه چې دوی دې داسې شي لکه هغه چې دی. هر یوه په ورته ډول چلند وکړ.

وروسته د دوی ډوډۍ بیا خلاصه شوه. دوی روان شول او ابادۍ ته یې مخه کړه، یوه ځړک ته ورسېدل. ځړک یې ونیوی او تلل، تلل چې یوه کلي ته ورسېدل. د کلي خلکو یوه کور ته بوتلل. هغوی پر دوی باندې مهرباني وکړه او دوی ته یې ډوډۍ ورکړه. بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووه سوالګر**

یوه بل کور ته بوتلل، هلته هم هغوی دوی ته ډوډۍ ورکړه. نو دوی کور په کور ګرځېدل پیل کړل، او ویې لیدل چې دا کار د دوی له پاره ښه دی چې دوی ته ډوډۍ ورکول کېږي.

ماشومانو یو له بل سره هوکړه وکړه چې د تل له پاره به سره یوځای پاتې کېږي. هغوی د ځانونو له پاره د سوالګرو لویې کڅوړې جوړې کړې. هغوی کورونو ته تلل، او هغوی ټولو مجلسونو لکه د سنتۍ مراسمو او ودونو ته تلل. او هغوی مخکې لاړل، او ښارونو ته یې تګ پیل کړ.

هغوی به د خلکو کورونو ته تلل، سوداګریزو مېلو ته به تلل او د سوالګرو په منځ کې به، د ودانیو د دېوالونو ترڅنګ د خپلو کچکولونو سره کېناستل. په پای کې دغه ماشومان د ټولو ملنګانو په منځ کې ډېر مشهور شول، ځکه چې هرچا هغوی پېژندل، او پوهېدل چې هغوی هغه ماشومان دي چې (لکه چې مخکې یاده شوه) په ځنګله کې ورک شوي وو.

یو ځل په یوه لوی ښار کې یوه لویه مېله وه. ټول سوالګر هلته لاړل، او دغه ماشومان هم هلته ورغلل. سوالګرو له ځانونو سره سوچ وکړ چې دغه ماشومان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووه سوالګر

يوه ډېره ښه جوړه ده او دا چې هغوی بايد يو له بل سره واده وکړي. څنګه چې يو شمېر سوالګرو په دې هکله خبرې پيل کړې دا د هغوی ټولو له پاره يو ښه نظر ښکاره شو، نو جوړه سره جوړه شوه. خو هغوی واده څنګه تيارولی شو؟ هغوی پرېکړه وکړه چې څنګه چې په يوه ټاکلې نېټه پاچا د زېړ.کليزې يوه لويه مېلمستيا لري نو ټول سوالګر به هلته لاړ شي او د ښو خوړو او غوښې غوښتنه به وکړي. په هغې باندې هغوی کولی شي چې واده تيار کړي. او همداسې وشول، چې ټول سوالګر هغې مېلمستيا ته لاړل، او هلته يې د غوښې او ډوډۍ غوښتنه وکړه.

سربېره پر دې، هغوی هغه غوښه او ښه ډوډۍ چې تر مېلمستيا وروسته پاتې شوې وه هم له ځانونو سره واخيسته. هغوی لاړل او يوه دومره لويه کنده يې وابسته چې سل کسه په کې ځايېدل. هغوی هغه د نلانو په بوټو، خاورې او خوشايو باندې پټه کړه. ټول په کې ورننوتل، او هلته يې د ماشومانو واده جوړ کړ او د ماشومانو له پاره يې يو د واده چتر ودرولی.

هغوی ډېر زيات خوشحاله وو. زوم او ناوې هم ډېر خوشحاله وو. زوم او ناوې د خدای پاک د هغې لويې مهربانۍ يادونه پيل کړه چې پر هغوی باندې يې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ولورولـه چې هغوی په ځنګل کې وو، او هغوی ژړا پیل کړه، او د زړه له تله یې داسې هیله وکړه [ویې ویل] «څنګه کېدی شي چې مونږ. هغه لومړنی سوالګر دلته راولو، هغه ړوند سړی چې مونږ. ته یې په ځنګله کې ډوډۍ راوړه؟»

# [لومړۍ ورځ]

هغوی د ړانده سوالګر د راتلو هیله کوله، هغه ناڅاپه پورته شو او غږ یې وکړ: زه دلته یم! زه ستاسو واده ته راغلی یم. او ما تاسو ته یو «د واده د وینا سوغات» [یو د واده سوغات] راوړی دی چې تاسو دې زما په خبر زاړه شئ. پخوا ما [یوازې] داسې *هیله لرله* چې تاسو دې زما په څېر زاړه شئ. اوس یې زه پر تاسو د یوه پوره سوغات په توګه لوروم، یو «د وینا سوغات»،چې تاسو دې زما په څېر زاړه شئ.

تاسو فکر کوئ چې زه یو ړوند سړی یم - زه بېخي ړوند نه یم! یوازې دا ده چې زما له پاره، د ټولې نړۍ [دپاییښت موده] د یوې سترګې له یوه رپ څخه ډېره نه ده. (هغه د دې له پاره د یوه ړانده سړي بڼه جوړه کړې وه چې هغه نړۍ ته هېڅ نه کتل ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ [په هغې کې د ټولو پېښنو تېرېدنه] هغه ته د یوې سترګې د یوه رپ په اندازه هم نه ښکارېده، نو نړۍ ته کتلو د هغه له پاره هېڅ اهمیت نه درلود). دا چې زه ډېر زیات زوړ یم، او زه لا تر اوسه هم پوره ځوان یم؛ که څه هم چې زه ډېر زیات زوړ یم خو ما لا ژوند هېڅ نه دی پیل کړی او دا زه یوازې د خپل ځان په هکله نه وایم بلکه په دې خبره باندې لوی شاهین هم شاهد دی. زه به تاسو ته یوه کیسه ووایم (دا ټول ړانده سوالګر وویل).

یو وخت په یو ځای کې یو څو خلک وو چې پر یو شمېر بېړیو باندې سمندر ته ووتل. یو طوفان راغی او بېړۍ یې دړې وړې کړې، خو خلک و ژغورل شول. هغوی یوه برج ته راغلل او وروختل. هلته هغوی هر ډول خوراک، څښاک، کالي، او هرڅه چې ورته اړتیا وه وموندل. په هغه ځای کې بې شمېره نعمتونه او د نړۍ خوشحالۍ موجودې وې.

هغوی اعلان وکړ چې هرسړی باید یوه داسې پخوانۍ کیسه وکړي چې هغه ته له خپل لومړني یاد څخه ور په یاد وي، یعنې څه چې د هغه له هغه وخت څخه په یاد وي چې د هغه حافظې د لومړي ځل له پاره کار پیل کړ. په هغه ځای کې هم زاړه خلک موجود وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هم ځوانان، او هغوی په خپل منځ کې له تر ټولو زاړه سړي څخه هیله وکړه چې لومړی هغه [خپله کیسه] وکړي.

هغه (یعنې تر ټولو زاړه مشر) خپل اواز پورته کړ او ویې ویل، «زه به تاسو ته څه ووایم؟ زما په یاد دي چې مڼه له څانګې نه پرې شوه.»

هیڅوک پوه نشو چې هغه څه وایي، خو هلته هوښیار خلک ناست وو، هغوی وویل، «په حقیقت کې، دغه یوه ډېره پخوانۍ کیسه ده!» [یعنې، یوه ډېره لرغونې خاطره ده].

هغوی بیا بل مشر ته چې تر له لومړني یې عمر لږ وو بلنه ورکړه چې خپله کیسه وکړي. هغه په یوه حیرانوونکي ډول غږ پورته کړ، «هغه یوه لرغونې کیسه ده؟! دغه کیسه زما په یاد ده، او زما دا هم په یاد دي چې شمع بلېده.» هغوی و منله چې دا ترلومړنۍ هغې هم زړه کیسه ده. او د هغوی له پاره دا د یاد وړ وګرځېده چې دویم سړی تر لومړني ځوان دی خو تر هغه یې هم ډېره زړه کیسه په یاد ده.

تر هغه وروسته هغوی دریېم مشر ته بلنه ورکړه چې خبرې وکړي. د دریېم سړي عمر تر هغوی لږ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربیم مشر وویل، «زما دا هم په یاد دي چې مېوې د جوړښت نیول پیل کړل، یعنې چې مېوې د لومړي ځل له پاره پیل وکړ چې مېوه شي.»

هغوی ځواب ورکړ چې، «دغه کیسه لاډېره پخوانۍ ده!».

بیا څلورم سړي خبرې وکړې چې د هغه عمر تر مخکنیو هغو هم لږ و. هغه وویل، «زما هغه وخت یاد دی چې تخم یې څنګه راوړ چې ویې کړي اومېوه شي».

بیا پنځم سړي چې د هغه عمر تر مخکنیو هم لږ و، غږ پورته کړ او ویې ویل، «زما هغه پوهان هم په یاد دي چې د تخم په هکله یې نظر ورکړ.

شپږم سړي چې تر یادو ټولو ځوان و غږ پورته کړ او ویې ویل، «زما ان د مېوې خوند په یاد دی، مخکې تر دې چې خوند مېوې ته ورننوت».

اووم سړي په لوړ غږ وویل، «زما د مېوې بوی په یاد دی، مخکې تر دې چې بوی مېوې ته ورننوت».

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم سړي غږ کړ او ويې ويل، «زما حتی د مېوې بڼه په ياد ده، مخکې تر دې چې د مېوې بڼه برابره شوه».

او په هغه وخت کې زه وړوکی ماشوم وم (ړانده سوالګرچې دا ټوله کيسه يې وکړه وويل) او زه هم هلته وم. ما غږ پورته کړ او ومې ويل، «زما دا ټولې کيسې په ياد دي، او ان عدم يا هغه وخت چې هېڅ مخلوق نه وو، هم زما په ياد دی».

هغوی و منله چې، «دغه يوه ښېخې لرغونې کيسه ده، ترټولو پخوانۍ!». او د هغوی له پاره دېره په زړه پورې وه چې ماشوم تربل هر چا ډېر څه په ياد لرل.

دا وخت لوی شاهين راورسېد او برج يې وټکاوه. هغه هغوی ته وويل، «ځانونه دومره مه خوارویځ! خپلو خزانو ته ورشئ! له خپلوخزانو څخه کار واخلئ!» او هغه هغوی ته وويل چې هغوی بايد له برج څخه ترټولو مشر لومړی او [ترټولو کشر] وروستی راووځي. هرڅوک چې ترټولو زوړ وي بايد لومړی لاړ شي. هغه ټول له برج څخه واېستل. لومړی هغه ماشوم واېست، ځکه چې په حقيقت کې، هغه په هغوی کې تر ټولو زوړ و، او هر څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان و، هغه يې په ترتيب سره مخکې واېست. او ترټولو زوړېيې د ټولو په پای کې واېست، ځکه څوک چې ځوان و هغه [په حقيقت کې] زوړ و (ځکه هرهغه څوک چې عمر يې لږ و هغه پخوانۍ کيسه کړې وه) او تر ټولو ډېر زوړ ترټولو ډېر ځوان و.

لوی شاهين هغوی ته اعلان وکړ: زه به تاسو ته ټولې هغه کيسې چې هر سړي وکړې تحليل کړم. هغه سړي چې ويې ويل چې هغه وخت يې په ياد دی چې هغوی منه له څانګې څخه پرې کړه، د هغه هدف دا دی چې د هغه ان هغه وخت په ياد دی چې خلکو د هغه له نامه [سره اړيکه] پرې کړه» (په دې معنی چې، هغه څه چې د هغه په زوکړې پسې سملاسي وروسته هغه ته پيښ شول، يعنې هغه وخت يې په ياد دی چې خلکو د هغه نوم پرې کړ). او هغه ورپسې سړی چې ويې ويل چې د هغه ان هغه وخت په ياد دی چې ډېوه بله شوه، د هغه هدف دا دی چې هغه ته هغه وخت ياد دی چې هغه په رحم کې و، ځکه چې په هغه وخت کې د يو چا پر سر دپاسه ډېوه بلېږي (وايي کله چې يو ماشوم د مور په رحم کې وي، د هغه پر سر يوه ډېوه بلېږي، چې د هغې په وسيله هغه د نړۍ له يوه سره تربل سر پورې وينې). او هغه سړی چې ويې ويل چې د هغه ان هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد دی چې مېوې په مېوه کېدلو باندې پيل وکړ، په دې معنی چې، هغه د هغه وخت په یاد دی چې د هغه وجود د لومړي ځل له پاره جوړېدل پيل کړل، هغه وخت چې جنين جوړ شو.

او د هغه سړی چې هغه وخت يې په یاد دی چې هغوی تخم راوړ چې مېوه وکړي، هدف دا دی چې، هغه ته ان هغه وخت يادېږي چې ځاځکی څنګه [د بلاربېدو پر وخت] واخيستل شو. او هغه سړی چې هغه وخت يې يادېږي چې حکيمانو د تخم په هکله نظر ورکړ داسې ښيي چې د هغه ان هغه وخت یاد دی چې ځاځکی په ذهن کې و [ځکه چې د پلار ذهن ځاځکی رامنځته کوي]. او هغه چې خوند يې په یاد دی هغه [ټيټه] اروا ده. او بوی چې دی هغه [منځنۍ] اروا ده. او بڼه چې ده، هغه [جګه] اروا ده. او ماشوم وويل چې د هغه عدم الوجود په یاد دی، ځکه چې هغه تر تاسو ټولو ډېر مشردی، ځکه د هغه ان تر هغه مخکې وخت په یاد دی چې [ټيټه] اروا، [منځنۍ] اروا، او [جګه] اروا [پيدا شوه]. له دې امله دی هغه وخت ته اشاره کوي چې عدم الوجود ګڼل کيږي (يعنې د هغه ان هغه وخت په یاد دی چې هېڅ شي هم شتون نه درلود؛ هغه ته هغه څه په یاد دي چې هغه په هغه ځای کې وکړل چې تر هرڅه لوړ دی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی شاهین هغوی ته وویل، «خپلو ببړیو ته بېرته ورستانه شئ، هغه ستاسو بدنونه دي چې مات شوي دي؛ هغه به بېرته جوړشي. اوس هغو ته بېرته ور وګرځئ». او هغه هغوی ته دعا وکړه.

او ما ته هم (یعني هغه ړانده سوالګر ته چې دا ټوله کیسه یې وکړه) هغه (یعني لوی شاهین) وویل، «ته له ما سره راځه ځکه چې ته زما په څېریې، هغه داسې چې ته ډېر زوړ او بېخي ځوان یې. او تا لا تر اوسه پورې ژوند کول نه دي پیل کړي، او سربېره پر دې هم، ته ډېر زوړ یې. زه هم همداسې یم – ځکه چې زه ډېر زوړ یم، خو لا هم بېخي ځوان یم [او داسې نور]».

په دې توګه مونږ وینو چې زه د لوی شاهین خاطره لرم، یعني چې زه ډېر زوړ، او بېخي ځوان یم. اوس زه دا پر تاسو د یوه پوره سوغات په توګه لوروم، د «واده له پاره د وینا سوغات»، چې تاسو باید زما په څېر پخواني شئ. هلته ډېره لویه خوښي او خوشحالي جوړه شوه او هغوی ډېر خوشحاله شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# [دویمه ورځ]

د اوه ورځني [واده] د مراسمو په بله ورځ زوم او ناوې بیا د دویم سوالګر، چې کوڼ و، او هغوی ته یې د ډوډۍ په ورکولو سره هغوی له لوږې څخه ژغورلي وو، خاطرې پیل کړې. هغوی ژړل او د هغه غوښتنه یې کوله، [هغوی ویل] «څنګه کېدی شي چې مونږ. هغه کوڼ سوالګر چې مونږ. یې ژغورلي وو دلته راولو؟» په داسې حال کې چې هغوی د هغه غوښتنه کوله هغه ناڅاپه راننوت او ویې ویل، «زه دلته یم». اوهغوی یې په غیږ. کې ونیول او ښکل یې کړل.

هغه دوی ته وویل: اوس به زه تاسو ته یوه ډالۍ درکړم، چې تاسو باید ښېخي داسې شئ لکه زه چې یم، یعنې تاسو باید داسې ښېخي زما په څېر ښه ژوند ولرئ. په داسې حال کې چې پخوا ما تاسو ته د دې دعا کړې وه، اوس زه خپل ښه ژوند پر تاسو د یوې پوره ډالۍ په توګه لوروم - یو «د واده د وینا سوغات».

تاسو فکر کوئ چې زه کوڼ یم. زه ښېخي کوڼ نه یم! بلکې، دا ټوله نړۍ زما له پاره هېڅ اهمیت نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زه نه غواړم چې د هغې نیمګړتیاوې واورم ځکه چې د نړۍ ټول غړونه – له عیبونو نه راپورته کیږي. هرشخص د یوې نیمګړتیا، کمښت له امله فریاد کوي. او ان چې د نړۍ ټولې خوشحالۍ له نیمګړتیاوو څخه راپورته کیږي، ځکه چې یو څوک له دې امله خوشحالیږي چې [پخوا] یې څه نه درلودل، او وروسته یې داسې څه ترلاسه کړي وي چې پخوا یې نه لرل. او زما له پاره، ټوله نړۍ دومره اهمیت نه لري چې زه یې باید نیمګړتیاوې واورم. نو زه یو داسې ښه ژوند کوم چې هېڅ پکې کم نه دي، او زه یو شاهد لرم چې زه د شتمنیو په وطن کې یو ښه ژوند لرم. د هغه ښه ژوند دا و چې هغه ډوډۍ خوړله او اوبه یې څښلې.

هغه یوه کیسه وکړله: هلته یو وطن دی چې ډېره زیاته شتمني لري. خلک یې سترې زېرمې لري. یوه ورځ شتمن خلک سره راټول شول، او هر یوه د خپل ښه ژوند په هکله، چې څنګه پرې تېرېږي، ستاینې پیل کړې. هر یوه د خپل ښه ژوند کړنلارې بیان کړې.

زه (یعنې کوڼ سوالګر چې دا کیسه یې کوله) پورته شوم او هغوی ته مې وویل: زه یو ښه ژوند لرم - تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ښه! او شاهد هم دلته شته: که تاسو داسې ښه ژوند وکړئ، بیا راځئ وګورو چې آیا تاسو له هغه وطن سره مرسته کولی شئ؟ ځکه چې هلته یو وطن دی چې په هغه کې خلکو یو ښ درلود، او په ښ کې داسې مېوه وه چې د نړۍ ټول خوندونه پکې وو. او [په ښ کې] هغوی [همدارنګه] د نړۍ ټوله خوشبویي لرله او هلته هر ډول منظرې – د نړۍ ټول رنګونه او ګلونه وو. په ښ کې هر څه موجود وو.

او یوه ښوال د ښ پالنه کوله. د دغه ښ له امله د هغه وطن خلکو ښه ژوند درلود. خو بیابه ښوال ورک شو نو طبیعي وه چې څه چې هلته په هغه ښ کې وه هغه باید له منځه تللي وای ځکه چې هلته ښوال نه و او دا له دې امله چې هغه مسؤل و چې د ښ څوکیوالي وکړي او وګوري چې هلته باید څه وشي.0:24

په هرحال، هغوی بیا هم کولی شول چې د نباتاتو هغه پر خپل سر وده وساتي. خو یو ظالم پاچا راغی چې پر دغه وطن باندې یرغل وکړی، خو پاچا د هغوی له پاره هېڅ ونشول کولی. نو هغه لاړ او د وطن ښه ژوند چې هغوی د هغه ښ له امله درلود هغه یې پای ته ورسولی. هغه داسې نه چې هغه ښ ویجاړ کړ؛ هغه یوازې په هغه وطن کې خپل درې ګروپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپلوسان پرېښودل. او هغوی ته يې وويل چې هغوی بايد هغه څه وکړي چې هغه ورته امر کوي.

هغوی د پاچا د حکمونو په تعقيبولو سره داسې عملونه وکړل چې په دغه وطن کې يې د خوند حس له منځه يوړی. هغوی داسې عمل وکړ چې داسې يو [حالت] يې رامنځته کړ چې کله به چې چا غوښتل چې د يو شي خوند وڅکي هغه به د يوه وراسته جسد د خوند په څېر و. همدارنګه هغوی د بوی حس هم له منځه يوړی؛ هغوی ټول ورمونه داسې کړل چې د ګالبانوم [چې يو مردار بويه بوټی دی] بوی به يې کولی. او په همدې توګه هغوی د ليدلو حس هم خراب کړ، ځکه هغوی د خلکو سترګې داسې تياره کړې لکه په مخکې يې چې ټينګې وربځې وي (دا ټول کارونه د چاپلوسانو د هغو دريو ګروپونو له خوا وشول چې په وطن کې موجود وو، او لکه چې ياده شوه هغوی به هر هغه څه کول چې ظالم پاچا به ورته حکم کولی). اوس، دا چې تاسو داسې ښه ژوند کوئ، دا وطن وساتئ! (دا ټول کانه سوالګر د شتمنيو وطن ته وويل، چېرې چې هغوی لاپې وهلې چې هغوی ښه ژوند لري، لکه چې مخکې يې يادونه وشوه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زه تاسو ته وایم، که تاسو نشئ کولی چې له هغوی سره مرسته وکړئ، تاسو به هم ژوبل شئ. (په بله وینا، هغه څوک چې د هغه وطن لید، خوند، او بوی یې خراب ورته کړي وو هغوی به تاسو هم ژوبل کړي).

نو شتمن خلک راټول شول او هغه وطن ته لاړل، او زه هم له هغوی سره لاړم. او په لاره کې هم، هرچا د خپل ښه ژوند ستاینه کوله، ځکه چې هغوی (لکه چې مخکې یاده شوه) خزانې لرلې، خو څنګه چې هغه وطن ته ورننژدې شول د هغوی خوند او نورو حسونو په خرابېدو پیل وکړ. هغوی خپل ځانونه خرابېدونکي احساس کړل. ما هغوی یادونه وکړله ، «دا چې اوس، چې تاسو لا دې وطن ته نه یاست ننوتي، ستاسو خوند، لید او بوی لا له وخته خراب دي، که تاسو دننه ورشئ نو څه حال به مو وي؟ او سربېره پر دې، څنګه به وکولای شئ چې له هغوی سره مرسته وکړئ؟»

ما مې ډوډۍ او اوبه راواخیستې او هغوی ته مې ترې یو څه ورکړل. زما په ډوډۍ او اوبو کې هغوی هرډول خوند (او هربوی، او داسې نور) وموندل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه چې په هغوی کې خراب شوي وو (یعنې خوند، لید، او بوی) هغه سم شول.

په هغه وطن کې، هغه وطن چې بڼ یې درلود (چېرې چې د هغوی د خوند او داسې نور حسونه خراب شوي وو) هغوی په دې پوهېدل پیل کړل چې هغوی اړتیا لري چې د خپلو خلکو علاج وکړي، ځکه چې د هغوی د خوند (او داسې نورو) حس خراب شوی و. هغوی خبر شول چې هلته یو د شتمن وطن دی (یعنې د شتمنۍ هغه وطن چې سوالګر ورسره خبرې کړې وې). او له هغوی سره داسې نظریه پیدا شوه (یعنې د هغه وطن له خلکو سره چې یو بڼ یې درلود، داسې نظریه پیدا شوه) چې د هغوی بنوال، چې ورک شوی و (چې د هغه له کبله هغوی یو بنه ژوند درلود) د شتمنۍ له وطن سره، چې هلته هم هغوی یو بنه ژوند لري، یوه ګډه ریښه لري. نو هغوی داسې فکر وکړ چې باید د شتمنۍ وطن ته لاس ور اوږد کړي [په دې فکر چې] هغوی خامخا کولی شي چې له هغوی سره مرسته وکړي.

او هغوی همداسې وکړل. هغوی د شتمنۍ وطن ته استازي ورولېږل. استازي لاړل او هغوی یو له بل سره مخامخ شول (یعنې، په لاره کې [د بڼ لرونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکې] استازي د شتمنۍ د وطن له خلکو سره مخامخ شول ځکه چې د شتمنۍ د وطن خلکو اراده لرله چې هغوی ته راشي [چې له هغوی سره مرسته وکړي] لکه چې مځکې یاده شوه.)

«تاسو چېرې ځئ؟» هغوی (شتمنو خلکو) د بې لرونکې ځمکې له استازو څخه پوښتنه وکړه.

هغوی [د شتمن وطن هیئت ته] ځواب ورکړ «مونږ ځو د شتمنۍ وطن ته چې له مونږ سره مرسته وکړي.

هغوی غږ کړ، «مونږ خپله د شتمنو خلکو له وطنه یو، او مونږ ستاسو خوا ته درځو!».

نو ما غږ پورته کړ(یعنې کوم سوالګر چې دا ټوله کیسه یې کوله) او [د شتمنۍ د وطن استازو] ته مې وویل، «تاسو ماته اړتیا لرئ، ځکه چې تاسو نشئ کولی چې د دوی وطن ته ورننوځئ او له هغوی سره مرسته وکړئ.» (ځکه، څنګه چې هغوی هغه وطن ته ورسېږي، هغوی مځکې ترمځکې (لکه چې مځکې یاده شوه په خرابو شویو حسونو) اخته کېدل پیلوي. «نو تاسو دلته پاتې شئ او زه به [د بې لرونکي وطن له] استازو سره لاړ شم چې ویې ژغورم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه له استازو سره لاړم او هغه وطن ته ورننوتلم. زه يوه ښار ته ورسېدلم. ما خلک وليدل چې مخې ته راغلل، او يوه يې يوه کيسه کوله. او وروسته، نور هم راغلل، تر هغه چې د خلکو يوه حلقه جوړه شوه، او هغوی ټوکې کولې او خندل يې.

ما هغه څه چې دوی پرې ږغېدل، اورېدل. ما واورېدل چې هغوی د سپېڅلو شيانو سپکاوی کولی. يوه به يوه خرابه ټوکه وکړه، بل به په ماهرانه توګه تاييد کړه، بل به وخندل، او د هغه ملګري به هغه ساعت تېري وګڼله او همداسې به نورو خلکو هم کول.

تردې وروسته زه (د هغه وطن) يوه بل ښارته لاړم. دوه خلک مي وليدل چې پر يوې سوداګريزې معاملې يې د يو بل سره شخړه وه. هغوی لاړل محکمې ته چې حل يې کړي، او د محکمې پرېکړه داسې وه چې يو سپين او بل ګرم يا مسؤل دی. هغوی محکمه پرېښوده او بيا يې جګړه پيل کړه، او هغوی وويل چې هغوی نه غواړي چې پخوانۍ محکمې ته لاړ شي، بلکه پرځای يې هغوی يوه بله محکمه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی یوه بله محکمه انتخاب کړه، او محکمې د هغوی فیصله وکړه. وروسته د دعوې یوه طرف بیا له بل سړي سره شخړه شوله، او بیا هغوی یوه بله محکمه انتخاب کړه. او هلته هغوی یو له بل سره، او هغه [بیاهم] له یوه بل سره شخړو ته دوام ورکړ، او هرځل هغوی د بلې محکمې غوښتنه کوله تر دې چې ټول ښار له محکمو څخه ډک شو.

ما هغوی وکتل او ومې لیدل چې دا ځکه پېښ شول چې هلته رېښتیا نه وو. یوې [محکمې] به پرېکړه کړه وکړه او یوه سړي ته به یې ځانګړې پاملرنه وکړه. وروسته به بیا هغه سړی چې پاملرنه به ورته شوې وه له هغه سړي سره علاقه لرله چې له هغه سره به یې مرسته کړې وه، ځکه چې هغوی به رشوت اخیستی و او هلته رېښتیا نه وو.

وروسته زه پوه شوم چې هغوی له شهوت څخه ډک وو، او هلته دومره ډېر شهوانیتوب و چې هغه د منلو وړ وګرځېد، نو ما هغوی ته وویل، «دا دلیل دی چې د خوند، بوی، او لید حسونه خراب شوي دي، ځکه چې ظالم پاچا هلته خپل درې ګروپه چاپلوسان پرېښي چې هغوی ته دنده ورکول شوې ده چې لاړ شي او (لکه چې مخکې یاده شوه) وطن خراب کړي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دلیل چې هغوی به هرې خوا ته تلل نو په خپلو کې به يې ښکنځلې کولې، او په دې توګه هغوی په دغه وطن کې ښکنځلې دود کړې. د چټلې ژبې له لارې هغوی وکولی شول چې د خوند حس خراب کړي، چې په دې توګه ټول خوندونه د وراسته جسد د خوند په څېر وګرځېدل.

همدارنګه، هغوی دغه وطن ته رشوت خوري هم راوړه، او د هغې له لارې هغوی د لیدلو حس خراب کړ او هرڅه د هغوی سترګو ته تیاره ښکارېدل. لکه چې ویل کیږي: «رشوت د نېک سړي سترګې ړندوي».

په همدې توګه چاپلوسانو دغه وطن ته شهوانیتوب هم راوړ، او د هغه له لارې د بوی خوند خراب شو ځکه شهوانیتوب د بوی خوند خرابوي. (او په هماغه دلیل ظالم پاچا په دغه وطن کې خپل درې ګروپه چاپلوسان پرېښودل، او هغه هغوی ته دنده ورکړه چې لاړ شي او په یاد وطن کې درې ګناهونه دود کړي، او (لکه چې یاده شوه) په دې توګه سره، هغوی د لید، خوند او بوی حسونه خراب کړل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه، تاسو باید هغه ته وګورئ او وطن د دغو درې ګناهونو په پام کې نیولو سره جوړ کړئ او باید هغه خلک (یعنې، چاپلوسان چې وطن ته یې، لکه چې مخکې یاده شوه، درې ګناهونه راوړل) وشړئ. که تاسو دا کار وکړئ، او تاسو وطن له دغو درې ګناهونو څخه پاک کړئ، بیا زه په ډاګه وایم، چې نه یوازې ستاسو د خوند، لید او بوی حس به جوړ شي، بلکه تاسو به وکولی شئ چې ورک بڼوال هم بېرته پیدا کړئ.

نو هغوی دا ټول وکړل. هغوی له دغو درې ګناهونو څخه د وطن پاکول پیل کړل. هغوی هغه خلک (یاد شوي چاپلوسان) له وطن څخه وشړل؛ هغوی به خلک ونیول او ترې وبه یې پوښتل، «ته د کوم ځای یې؟» [یعنې، هغوی پلټنه کوله او هغه خلک به یې په ګوته کول چې د ستونزو سبب ګرځېدلي وو] تر هغه چې هغوی د ظالم پاچا ملګري (یعنې لکه چې مخکې یاده شوه د چاپلوسانو درې ګروپونه) بندیان کړل. هغوی دغه خلک وشړل او وطن یې له دغو ګناهونو څخه پاک کړ.

په ورته وخت کې هلته [د خلکو په منځ کې] یو څه ګډوډې روانه وه. [هغوی وویل] «کېدی شي چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی بنوال چې خوا او شا د یوه لېوني په څېر ګرځي او هر چاته وايي چې دی هغه [ورک شوی] بنوال دی، او هغه سړی چې هرڅوک يې لېونی ګڼي (او خلک يې په تیږو ولي، او له ځانونو څخه يې شړي) ښايي چې هغه په ریښتیا هم [زمونږ] بنوال وي!».

هغوی لاړل او هغه يې راوست، او ما (کوڼ سوالګر چې داکیسه يې کوله) وويل، «ای، دا بې له شکه هماغه بنوال دی!» (یعنې هغه چې هغوی مخکې ویل چې لېونی دی).

نو مونږ ګورو، زه [د شتمنۍ د وطن په هکله] چې زه پکې ښه ژوند لرم یوه خاطره لرم، ځکه چې ما وطن رغولی دی. (او د هغه له لارې، هغوی ان بنوال پیدا کړ، او لکه چې یاده شوه بیا يې ښه ژوند کول پیل کړل). اوس زه خپل ښه ژوند پر تاسو باندې لوروم. هلته یوه لویه خوښي او خوشحالي جوړه شوه، او هغوی له خوښۍ څخه په کالیو کې نه ځایېدل. لومړني [سوالګر] پر هغوی باندې یو اوږد ژوند ولوراوه، او وروسته هغه پر هغوی باندې یو ښه ژوند ولوروله. تر دې وروسته، ټول سوالګر واده ته راغلل او هغوی ته يې یوه «د واده د وینا» ډالۍ ورکړه. څه چې هغوی پخوا د دوی له پاره هیله کوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغوی [ماشومان] دې د هغوی په خېر وي، اوس هغوی پر دوی باندې د يوې بشپړې ډالۍ («د واده د وينا» ډالۍ) په توګه ولوروله.

# [درېيمه ورځ]

په درېيمه ورځ، زوم او ناوې بيا خاطرې پيل کړې، او په ژړا شول، او سخته هيله يې کوله [ويل يې چې] «څنګه کېدی شي چې مونږ هغه سوالګر چې خبرې يې سمې نشوې کولی (يعنې تتله و) دلته راولو؟» دا وخت هغه راننوت او ويې ويل، «زه دلته يم!» او هغه دوی په غېږ کې ونيول او ښکل يې کړل.

هغه هم لکه د هغو نورو په څېر له دوی سره خبرې وکړې: مخکې ما تاسو ته *دعا* کړې وه چې زما په څېر دې شئ. اوس زه تاسو ته «د واده وينا» ډالۍ درکوم چې تاسو دې زما په څېرشئ. تاسو فکر کوئ چې زه په خبرو کولو کې ستونزه لرم؛ زه په خبرو کولو کې هېڅ ستونزه نه لرم! خبره دا ده چې د نړۍ خبرې چې د خدای هېڅ ستاينه په کې نه وي په هېڅ ډول بشپړې نه دي (يعنې هغه داسې ښکاري لکه تتله، چې نشي کولی خبرې وکړي، يوازې له دې امله چې هغه نه غواړي چې د نړۍ اړوندې خبرې وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې خبرې چې د خدای ستاینه پکې نه وي ځکه چې هغه خبرې چې د خدای ستاینه پکې نه وي هغه هېڅ کمال نه لري. له دې امله کله چې هغه خبرې کوي ژبه یې نښلي).

په حقیقت کې زه هېڅ تتله نه یم! بلکې زه یو ویناوال او ویاند یم، یو ډېر وړ، او پیاوړی ویاند. زه کولی شم چې ډېرې ښې غزلې، شعرونه او سندرې ووایم. په ټوله نړۍ کې داسې څوک نشته چې نه غواړي چې هغه څه ته غوږ ونیسي چې زه یې وایم. او په هغو کې (یعنې په دغو غزلو او شعرونو کې چې هغه یې وایي) ټول حکمت [چې په ځمکه کې دی] پروت دی، او زه په دې هکله له یو لوی شخص څخه چې د خیر حقیقي شخص ګڼل کېږي یوه خاطره لرم:

یو وخت ټول هوښیارکسان سره یوځای ناست وو، او هریوه په خپلې پوهې ویاړ کولی. یوه ویل چې ما اوسپنه په خپل حکمت سره جوړه کړې ده (یعنې په هغه طریقه چې یو څوک اوسپنه د اوسپنې له کانې څخه رابېلوي)، بل ویل چې ما یو بېل ډول فلز (لکه قلعي یا سرپ او داسې نور) کشف کړی دی. بل ویل چې ما په خپل حکمت سره سپین زر رامنځته کړي دي چې تر یادو هغو ډېر مهم دي. یوه بل هم د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخليق په هکله لاپه وکړه او ويې ويل چې زه کولی شم چې سره زر جوړکړي.

يوه بل لاپه وکړه چې زه وسلې (لکه توپکونه، توپونه او داسې نور) اختراع کړي دي – هغه وښوده چې داسې پوهه لري چې دغه وسلې جوړې کړي. يوه بل لاپه وکړه چې زه پوهيږم چې څنګه دغه ټول فلزونه رامنځته کړم، خو له داسې [ورته] موادو څخه نه چې دا [نور] خلک يې په خپل حکمت سره استعمالوي. يوه بل د پوهې د نورو ډولونو د لرلو په هکله لاپه وکړه، څکه چې په نړۍ کې يو شمېر نور داسې شيان شته چې د حکمت له لارې کشف شوي دي، لکه ښوره او باروت، او دې ته ورته نور څيزونه. هغه د دغو [شيانو] له ډلې څخه د ځينو هغو په هکله د خپلې پوهې لاپې ووهلې.

يوه سړي ننګونه وکړه او ويې ويل، «زه تر تاسو ټولو ډېر هوښيار يم ځکه چې زه د ورځې په څېر روښانه يم». هلته ناست خلک پوه نه شول چې «د ورځې په څېر روښانه» څخه د هغه هدف څه دی.

هغه دا نورو ته مخ وروا ړولی او ويې ويل: دا چې ستاسو ټولو پوهه له يوه ساعت څخه ډېر وخت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیسي، که څه هم چې د پوهې هر ډول له یوې بېلې ورځې څخه را اخیستلی شوی، د هغه څه له مخې چې [خدای پاک] [د نړۍ د پیدایښت د ورځو] [په برابره] ورځ پیدا کړي دي. دا چې د حکمت ټول ډولونه سره ترکیب شوي دي (یعنې یو څوک یو شی له بل سره ګډوي او له هغه څخه یو بل شی جوړېږي)، په دې توګه، د حکمت هر ډول [د شیانو د تولید په اساس] له هغې ورځې څخه ریښه اخلي چې خدای پاک هغه شیان [یعنې اومه مواد] پیدا کړل چې دغه [مصنوعي] شیان ځنې راوځي یا جوړېږي. یو څوک دغه مواد د حکمت په کارولو سره، سره ګډوي او داسې شیان ترې جوړوي چې غواړي یې لکه: سپین زر، مس یا ورته نور.)

[د ایډیټر یادښت: ښکاره خبره ده چې د پیدایښت ورځې د کایناتو ریښه ده. هرڅه چې د نړۍ په تاریخ کې وجود لري، او په نړۍ کې موجود ټول حکمت، یوازې د نړۍ د پیدایښت د ورځو د یوې نتیجې او امتداد په توګه پایي. داسې ښکاري چې د پیدایښت ورځې تل ترتله وي، او تل د حقیقت سرچینه وي].

خو د پوهې [د یوه بل ډول] له لارې دا شوني ده چې د هغوی د پوهې ټول ډولونه [د خدای له خوا د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پيدا کولو د ورځو] په يوازې [يوه ساعت] کې سره رالنډ کړي خو زه لکه د ټولې ورځې په څېر روښانه يم. (په دې توګه دی د هوښيارو خلکو په لړ کې وروستی سړی و چې خبرې يې وکړې).

ما (يعني، هغه تتله چې دا ټوله کيسه يې وکړه) هغه ته ځواب ورکړ، «لکه کومه ورځ؟» (يعنې د هغه پوهه [د خلقت] له کومې ورځې سره برابره ده؟)

هغه، [هغه پوه چې هغه ترې پوښتنه وکړه] غږ کړ، «هغه [سړی چې په وينا کې يې نيمګړتيا وه] تر ما ډېر هوښيار دی، ځکه چې هغه پوښتنه کوي، 'لکه کومه ورځ؟' په داسې حال کې چې، [د هغه د پوښتنې ځواب دا دی چې] زه د هرې ورځې په څېر چې يو څوک يې ټاکي روښانه يم نو ولې دا [تتله] بيا [له مونږ څخه] يوازې په دې چې ويې پوښتل چې 'لکه کومه ورځ'» ډېر هوښيار دی. (ځکه چې هغه هوښيارسړی هم د هرې هغې ورځې په څېر دی چې هغه يې غواړي.

خو دلته يوه پوره کيسه پرته ده چې دا [ څرګندوي] چې د خير اصلي سړی يو ډېر لوی سړی دی. او زه (يعني تتله چې دا کيسه کوي) هر چېرې ځم او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې- مهربانۍ [یعنې ورکړې] ټول ریښتیني [عملونه] راټولوم ، او د خیر اصلي سرې ته یې راوړم، او د «وخت» اصلي اړخ د خیر له حقیقي [عملونو څخه] جوړشوی دی (یعنې هلته داسې یو شی دی لکه خپله «وخت»، او دا چې هلته د نړۍ کالونه او ورځې شتون لري – دا خپله د خدای له خوا پیدا شوي دي)، او زه ګرځم راګرځم او د اصلي خیر ټول [عملونه] راټولوم، او د خیر اصلي سرې ته یې راوړم. او له دې څخه «وخت» رامنځته کیږي.

هلته یو غر دی او په غره کې یوه ډبره ده او له ډبرې څخه یوه چینه رابهیږي، او هر شی یو زړه لري، او ټوله نړۍ هم یو زړه لري، او د نړۍ زړه یو پوره بدن لري، چې مخ او لاسونه، او پښې، او داسې نور لري خو د نړۍ د زړه د پښې د ګوتې یو نوک هم د بل هر زړه په نسبت ډېر له مهربانۍ څخه ډک دی.

او هغه غر چې چینه پکې ده هغه د نړۍ پر یوه سر دی، او د نړۍ زړه د نړۍ په بل سر کې دی. او زړه د چینې په مقابل کې پروت دی، او په دوامداره توګه هیله او ارزو لري چې چینې ته راشي او چینه د زړه هیله او ارزو ډېر په شدت سره څرګندوي. زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ اووه سوالګر ۞

همېشه چيغې وهي او غواړي چې چينې ته راشي، او چينه هم د زړه له پاره همداسې هيله لري.

زړه اوس دوې کمزورتياوې لري يعنې هغه شيان چې د ستړيا سبب يې ګرځي؛ يوه دا چې لمر پر هغه لګېږي اوسوځوي يې (ځکه چې هغه تل هيله کوي چې چينې ته ورشي) او بله د هغه د هيلې کولو او ارزو لرلو، ځکه چې زړه تل د ستړيا تر وروستي ټکي پورې د چينې هيله او ارزو لري. هغه تل چيغې وهي چې چينې ته ورشي، ځکه چې زړه تل د چينې لورې ته ګوري او چيغې وهي، «رحم!»، ځکه چې هغه تل د چينې ډېره زياته هيله لري.

کله چې زړه اړتيا لري چې لږ ارام وکړي اوساه واخلي يو لوی مرغه راځي او پر هغه باندې خپل وزرونه غوړوي چې هغه له لمر څخه وساتي. بيا نو زړه کولی شي چې يو څه ارام وکړي، خوکله چې هغه ارام کوي هغه بيا هم د چينې پر لوري ګوري او په دوامداره توګه د چينې د ليدلو هيله کوي.

خو که هغه د چينې له پاره ډېره هيله لري ولې چينې ته نه ورځي؟ ځکه څنګه چې زړه د هغه غره خوا ته مخه کوي چې چينه پکې واقع ده نو هغه نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی چې نور د غره څوکه ویني. په دې توګه هغه نورنشي کولی چې چینه ویني، او څومره ژر چې هغه چینې ته کتل ودروي، هغه بیا مړ شي، ځکه چې د زړه د ژوند ټول زور یوازې له چینې څخه راوځي.

نو دا چې هغه غره ته مخامخ پروت دی، هغه کولی شي چې د هغه غره څوکه چې چینه پکې پرته ده وویني، خو څنګه چې هغه د غره خوا ته ورځي، هغه نور نشي کولی چې د غره څوکه وویني (ځکه چې د جګ غره طبعیت همداسې دی. کله چې یو سړی لیرې ولاړ وي، کولی شي چې لوړه څوکه وویني، خو چې ورنژدې شي، بیا نو نشي کولی چې لوړه څوکه وویني). له دې امله هغه نشي کولی چې چینې ته په ځیر سره وګوري، له دې وېرې چې (خدای مه کړه) هغه مړ شي.

که، خدای مه کړه، زړه مړ شوی وای، ټوله نړۍ به ورانه شوې وای، ځکه چې هر شی د زړه په مټ ژوند کوي، او څنګه کېدی شي چې نړۍ له زړه پرته پاتې شي؟ په دې توګه، زړه نشي کولی چې چینې ته لاړ شي، هغه یوازې دا کولی شي چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان چينې ته مخامخ پرېباسي او (لکه چې مخکې ياده شوه) تل چينې ته د ورتګ هيله وکړي او چيغې ووهي.

اوس چينه ببخي وخت نه لري، ځکه چې چينه په وخت کې دننه نه اوسي. (په نورو ټکو، چينه ورځې نه لري او نه په نړۍ کې د وخت [تېرېدل] لري، ځکه چې د هغې سويه د نړۍ د «وخت» د سويې په پرتله ډېره لوړه ده).

نو بيا څنګه کېدى شي چې چينه دې په نړۍ کې شتون ولري؟ (ځکه چې په نړۍ کې هېڅ شی له وخت پرته نه شي اوسېدلای). [البته مونږ وينو چې] يوازنی وخت چې چينه يې لري هغه وخت وي چې زړه په چينه باندې يوه ورځ د يوې ډالۍ په توګه ولوروي، او کله چې ورځ پای ته رسېږي، او ورځ نوره نه وي پاتې، بيا به نو چينه هېڅ وخت ونه لري، او چينه به بيا نړۍ پرېږدي. او که چينه نوره پاتې نشي، (خدای مه کړه) زړه به هم مړ شي او (لکه چې مخکې ياده شوه) ټوله نړۍ به (خدای مه کړه) له منځه لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کله چې د ورځې پای رارسېږي نو، زړه او چینه، یو له بل سره د خدای په اماني کوي او یو بل ته بوللې، نظمونه او سندرې وايي- ډېرې ښایستې بوللې او سندرې، په ډېره مینه او یو د بل په وړاندې په ډېره هیله، زړه د چینې له پاره، او چینه د زړه له پاره.

د دې ټولو مسؤل د خیر ریښتینی سړی دی. د ورځې په بېخي وروستۍ برخه کې، کله چې [ورځ] پای ته رسېدلو ته نژدې شي (او ځنګه چې ورځ پای ته رسېږي او، لکه چې یاده شوه، چینه هېڅ ورځ نه لري، هغه به مړه شي، او په پای کې به – خدای مه کړه – زړه هم مړ شي، او ټوله نړۍ به ورانه شي)، نو ریښتینی سړی راځي او زړه ته یوه ورځ ورکوي. زړه ورځ چینې ته ورکوي، او په دې توګه چینه بیا «وخت» ترلاسه کوي (یعنې، ورځ چینې ته دا وړتیا ورکوي چې وجود یې دوام ومومي، او زړه هم په دې توګه دوام مومي، او داسې نور).

اوس کله چې ورځ له خپله ځایه راورسېږي، ورځ هم په بوللو او ښایستو نظمونو سره چې د پوهې او حکمت ټول ډولونه پکې وي راځي، او هره ورځ له بلې څخه توپیر لري، ځکه چې یکشنبه، او دوشنبه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسې نور په کې وي، او بيا د نوې مياشتې لمانځنه او رخصتۍ وي (يعنې د هرځه له پاره چې ورځ رارسيږي، د هغې ورځې ځانګړي نظمونه ورسره وي).

ټول وخت چې د خير ريښتينی سړی يې لري، هغه ټول زما (يعنې د تتله سړي چې دا ټوله کيسه يې کوله) له لارې کيږي، ځکه چې زه ځم او د خير ټول ريښتيني [عملونه] راټولوم، چې د هغو له لارې (لکه چې مخکې ياده شوه) خپله «وخت» رامنځته کيږي.

(په دې توګه تتله سړی ان له هغه هوښيار سړي څخه هم ډېر هوښيار دی چې لاپې يې وهلې چې هغه د هرې هغې ورځې په څېر روښانه دی چې په ګوته کيږي ځکه چې «وخت» خپله او ورځې يوازې د هغه له لارې، [په داسې حال کې چې] ورځ لکه چې مخکې ياده شوه له سندرو او بوللو سره راځي چې د حکمت او داسې نورو ټول ډولونه پکې وي.) [هغه (تتله) د مينې کولو - مهربانۍ هغه ريښتيني عملونه چې «وخت» ترې راوتلی دی ټولوي، او د خير ريښتيني سړي ته يې راوړي، چې هغه بيا يوه ورځ زړه ته ورکوي، او زړه يې چينې ته ورکوي، او له دې لارې ټوله نړۍ کولی شي چې دوام وکړي].

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ وينو چې د خير ريښتيني سرې ما ته دا تصديق کړې ده چې زه کولی شم چې داسې بوللې او شعرونه ووايم چې د پوهې او حکمت ټول ډولونه لري (ځکه چې لکه چې مخکې ياده شوه د ورځې ټولې بوللې او نظمونه د هغه له خوا دي)، اوس زه دا په تاسو باندې د يوې پوره ډالۍ، «د واده د وينا ډالۍ» په توګه لوروم، چې تاسو دې زما په خبر اوسئ. هلته لويه خوښي او خوشحالي جوړه وه، او هغوی يو لوی جشن درلود!

# [ځلورمه ورځ]

هغوی د هغې ورځې د خوښۍ مراسم پای ته ورسول او کټ ته سره لاړل. سهار هغوی [جوړې] بيا خاطرې پيل کړې او د هغه سوالګر د ليدو هيله يې کوله چې غاړه يې کړه وه. په همدغه وخت کې هغه رانووت او ويې ويل، «زه دلته يم» [او داسې نور].

پخوا ما [يوازې] داسې *هيله لرله* چې تاسو دې زما په څېر اوسئ. اوس يې زه پر تاسو د «واده د يوې ډالۍ» په توګه درباندې لوروم چې تاسو دې زما په څېرشئ. تاسو فکر کوئ چې زما غاړه کړه ده. زما غاړه هېڅ کوږوالی نه لري! بلکې زه يوه ډېره نېغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړه لرم، یوه ډېره ښایسته غاړه. هغه [ځکه] چې په نړۍ کې بخارونه (یعنې د نړۍ بې عقل او مزخرف څیزونه) دي او زه نه غواړم چې خپل هیڅ نفس په دې نړۍ کې وباسم. (نو د هغه غاړه له دې امله کږه ښکارېده چې هغه غونجه کړې وه څو پرې نه ږدي چې د هغه کوم نفس [یعنې د هغه اروا] د نړۍ بخارونو [مزخرفاتو] ته ور ونه وځي). په حقیقت کې زه یوه ډېره ښایسته غاړه لرم، یوه ځانګړې غاړه. له دې امله زه یو ډېر ځانګړی غږ لرم. د نړۍ ټول غږونه چې خبرې نه دي واخلئ، زه کولی شم چې په خپل غږ کې د دغو ټولو غږونو پېښې وکړم ځکه چې زه یوه ډېره ځانګړې غاړه او غږ لرم.

په دې هکله زه د یوه خاص وطن یوه خاطره لرم. هلته یو وطن دی چې په هغه کې هرڅوک په موسیقۍ (یعنې لوبولو او سندرو ویلو) کې ډېره لویه تجربه لري، او هلته هرڅوک – ان واړه ماشومان – د پوهې په دې برخه کې مشغول دي. هلته داسې ماشوم نشته چې یوه د موسیقۍ آله دې نه غږوي. او د موسیقۍ په پوهه کې د هغه وطن ترټولو د ټیټې درجې څښتن په بل وطن کې د موسیقۍ ترټولو لوی استاد وي، او د هغه وطن هوښیارخلک او پاچا، او سرودغږوونکي ټول د [موسیقۍ] په برخه کې ډېره لویه پوهه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت د هغه وطن د موسیقۍ استادان سره ګډ کېناستل او هر یوه د موسیقۍ په برخه کې د خپلې پوهې لاپې کولې؛ یوه لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې د موسیقۍ یوه ځانګړې آله وغږوي، بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې یوه بېله آله وغږوي. په داسې حال کې چې بل بیا د یوې ځانګړې وسیلې په هکله د خپلې تجربې لاپه وکړه. بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې د موزیک د وسایلو بېلابېل ډولونه وغږوي. ورپسې سړي لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې هره آله وغږوي، او یوه لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د موسیقۍ د آلو په څېر غږونه وباسي، بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د موسیقۍ د یوې بېلې وسیلې په څېر غږ جوړ کړي. او یوه بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د موسیقۍ د بېلابېلو نورو آلو په څېر غږونه جوړ کړي. یوه بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د یوه ډول په څېر- بېخي داسې لکه ډول چې وهل کېږي غږونه راوباسي. او یوه بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د توپ د ډز په څېر غږ جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زه هم هلته وم (یعنې هغه سړی چې غاړه یې کږه وه او دا کیسه یې کوله). ما په لوړ غږ هغوی ته وویل: زما غږ ستاسو له هغو څخه ډېر ښه دی، او دا یې هم ثبوت. که تاسو د موسیقۍ په برخه کې دومره ښه یاست، بیا نو له هغو دوه وطنونو سره مرسته وکړئ.

هلته دوه وطنونه دي، او هغه دوه وطنونه یو له بل څخه زرمیله لیرې دي او هلته په دواړو وطنونو کې، کله چې شپه راځي، هېڅ څوک هم نشي کولی چې ویده شي، ځکه کله چې شپه شي، هرڅوک – سړي، ښځې او ماشومان – فریاد کوي او چیغې وهي ځکه چې د شپې پر وخت هلته سخت فریاد (یعنې د ژړا او فریاد غږ) اورېدل کېږي او په دې توګه هرڅوک: مېړونه، مېرمنې او واړه ماشومان اړکېږي چې فریاد وکړي، داسې یو حالت وي چې که هلته څوک یوه ډېره کېږدي هم به ویلې شي.

نوتاسو هغو دواړو وطنونو ته داخل شئ، ځکه کله چې هغوی په هغه وطن کې فریاد واوري، لکه چې یاده شوه هرڅوک اړکېږي چې ویر وکړي. او په هغه بل وطن کې هم ورته شی پېښېږي. او د دغو دواړو وطنونو ترمنځ زرمیله واټن دی نو که تاسو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسیقۍ کې دومره ماهران یاست، له هغو دواړو وطنونو سره مرسته وکړئ؛ یا، راځئ چې وګورو چې آیا تاسو کولی شئ چې لږ ترلږه د عین غږ پېښې وکړئ (یعنې د هغه فریاد غږ چې هلته اورېدل کیږي).

هوښیارانو له هغه څخه پوښتنه وکړه «ته به مونږ هلته ورولې؟»

هغه وویل، «هو. زه به تاسو هلته بوځم.»

هغوی ټولو تیاری ونیو چې هلته لاړ شي. هغوی لاړل او هلته ورسېدل (یعنې، له هغو دوو وطنونو څخه چې پورته یاد شول یوه ته لاړل). کله چې شپه شوه، بیا د پخوا په څېر وشول: هغوی ټولو فریاد پیل کړ. هنرپوهانو هم فریاد پیل کړ. (نو هغوی ولیدل چې هغوی نشي کولی چې [له هغه وطن سره] مرسته وکړي). هغه هغوی ته وویل (یعنې هغه سړي چې غاړه یې کږه وه هنرپوهانوته وویل) «لږترلږه، ما ته دا ووایاست چې د دغه فریاد چې هلته اورېدل کیږي ریښه په څه کې ده- دا شور له کومه راځي؟» هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه «او ته پر دې پوهیږې؟» هغه ځواب ورکړ، «هو، زه پوهیږم».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې هلته دوه مرغان دي، چې يو يې نر دی او بل ښځه. او په نړی کې د هغوی يوازې يوه جوړه ده، ښځينه يې ورکه شوې ده. نارينه يې د ښځينه لټون کولی او ښځينې يې د نارينه. هغوی د اوږدې مودې له پاره يو د بل لټون وکړ، تر دې چې هغوی خپله لاره ورکه کړه، نو هغوی وليدل چې هغوی نشي کولی چې يو بل ومومي. په دې توګه هغوی په هغو ځايونو کې پاتې شول چېرې چې وو او ځانونو ته يې ځالې جوړې کړې. نارينه د دوو وطنونو څخه يوه ته نژدې يوه ځاله جوړه کړه. هغه د هغه [يعنې وطن] په څنګ کې نه و. يوازې د مرغه غږ ورته نژدې و، چې له هغه ځای څخه چې هغه په کې ځاله جوړه کړې وه يوه سړي کولی شوای چې په هغه وطن کې د هغه غږ واوري.

همدارنګه هغې هم د هغه بل وطن سره نژدې يوه ځاله جوړه کړه (يعنې، هغه هم بېخي د هغه په څنګ کې نه وه، يوازې هسې چې له هغه ځای څخه د هغې غږ اورېدل کېدی). او کله به چې شپه راوختله، جوړه مرغانو به فرياد پيل کړ، ځکه چې هغه به د هغې په بېلتون فرياد کاوه، اوهغې به د هغه په بېلتون فرياد کاوه. هغوی ډېر زيات فرياد وکړ، ډېر په زور او نا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارامۍ سره، او هغه د هغه فریاد غږ دی چې په دواړو وطنونو کې اوریدل کیږي.

د هغه غږ له امله، هغوی ټول ځانونه مجبور ګڼي چې فریاد وکړي، او نشي کولی چې ویده شي، (دا خبرې ټولې هغه سړي وکړې چې غاړه یې کږه وه.) خو هغوی په هغه باندې باور ونه کړ.

هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «آیا ته به مونږ. هلته (یعنې مرغانو ته) بوځې؟»

هغه ځواب ورکړ، «هو. زه کولی شم چې تاسو هلته بوځم.»

خو تاسو څنګه کولی شئ چې هلته لاړ شئ [هغه پسې وغزوله]؟ چې [ان دلته] تاسو د فریاد د غږ د اوریدلو زغم نه لرئ، او تاسو ټول ځانونه اړ ګڼئ چې ویر وکړئ، بیا نو کله چې تاسو هلته لاړ شئ، ښکاره خبره ده چې بیا به تاسو ونشئ کولی چې د فریاد غږ ته تېینګ شئ.

خو د ورځې په اوږدو کې څوک نشي کولی چې هلته هغه خوښي وزغمي. ځکه چې هلته د ورځې په اوږدو کې مرغان سره راټولیږي، یعنې، پر هغه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر هغې ورتوليږي. هغوی دوی ته ډاډينه ورکوي او په ډېرې خوښۍ سره تسليت ورکوي. هغوی دوی ته ډاډينه ورکوي او دوی ته وايي چې دوی به يو بل سره پيدا کړي. هغوی هلته ډېره خوښي جوړوي، داسې چې د ورځې يې څوک خوښۍ ته نشي ټينګېدلی.

اوس د خوښۍ غږ له ليرې ځای څخه نه اورېدل کيږي، بلکې يوازې هغه وخت چې څوک هلته نژدې ورشي. خو د فرياد غږ– له ليرې څخه اورېدل کيږي. نو تاسو نشئ کولی چې هلته لاړ شئ.

هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «آيا ته کولی شې چې [دغه حالت] سم کړې؟»

هغه ځواب ورکړ، «هو. زه کولی شم چې هغه سم کړم، ځکه چې زه کولی شم چې په نړۍ کې د ټولو غږونو پېښې وکړم».

سربېره پردې [هغه دوام ورکړ] زه کولی شم چې ورولېږدوم، يعنې، زه کولی شم چې خپل غږ ورولېږدوم، ځکه په هغه ځای کې چې زه يو غږ جوړوم، يو څوک نشي کولی چې غږ ببخي واوري؛ خو يو څوک کولی شي چې دا غږ له ليرې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوري. په دې توګه زه کولی شم چې د هغې غږ هغه ته ور ولېږدوم. یعنې هغه غږ چې زه پکې د هغې پېښې کوم هغه به هغه ځای ته نژدې راشي چې هغه پکې دی. په ورته ډول، زه کولی شم چې د هغه غږ داسې ولېږدوم چې هغې ته نژدې ورشي. په دې توګه به زه هغوی یو بل ته سره رانژدې کړم.

خو څوک دی چې په هغه باندې باور وکړي؟

نو هغه هغوی یوه ځنګله ته بوتلل. او هغوی داسې یو غږ واورېد لکه یو څوک چې یو ور پرانیزي او بیا یې په درز سره بندوي، او یو څوک په یوه توپک باندې ډزې کوي، او یوڅوک سپی بهر لېږي چې [ښکار] ومومي. او بیا سپی په واوره کې ننوځي.

هغوی دا ټول واورېدل، او هغوی خواوشا وکتل، خوهېڅ شی یې هم ونه لید. او نه هغوی واورېدل چې له هغه څخه دې کوم غږ راوځي. (یوازې دا چې هغه، هغه سړي چې غاړه یې کړه وه، خپل غږ له نورو بېلابېلو غږونو سره لېږدولی و. هغوی په دې توګه وپوهېدل چې هغه کولی شي چې د غږونو ټول ډولونه جوړ کړي، او کولی شي چې خپل غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولېږدوي.) [ د کیسې ویونکي نور څه ونه ویل، او ښکاره خبره ده چې هغه د کیسې یوه برخه پرېښوده.]

مونږ ګورو چې زه د هغه وطن په هکله یوه خاطره لرم، چې زه یو حیرانوونکی غږ لرم، او (لکه چې مخکې یاده شوه) زه کولی شم چې په نړۍ کې د ټولو غږونو پېښې وکړم. اوس زه دا په تاسو باندې د یوه پوره سوغات په توګه لوروم، یو «د واده د وینا سوغات» چې تاسو دې ښځې زما په څېرشئ. هلته ډېره لویه خوښي او لویه خوشحالي روانه وه.

# [پنځمه ورځ]

په پنځمه ورځ هم هغوی خوشحاله وو. هغوی د هغه سوالګر خاطرې پیل کړې چې پر ملا کړوپ و. هغوی ډېره هیله لرله [او ویل یې] «کاش چې وکولی شو چې هغه سوالګر چې ملا یې کړوپه وه دلته راولو؟ ځکه چې که هغه دلته وای، ډېر خوند به یې کړی وای.» او بیا هغه راننوت!

هغه وویل «زه دلته یم! زه تاسو ته ستاسو د واده له پاره راغلی یم». هغه هغوی په غېږ کې ونیول اوښکل یې کړل. (هغه هغوی ته وویل) پخوا ما تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دعا کړې وه چې تاسو دې زما په څېر شئ. اوس زه پر تاسو باندې یوه «د واده د وینا ډالۍ» لوروم چې تاسو دې ببخي زما په څېر شئ ځکه چې زه پر ملا باندې هېڅ کړوپ نه یم، بلکې زه داسې اوږې لرم چې د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» یوه ځانګړتیا ده، او زه په دې هکله یوه خاطره لرم.

یو وخت په یوځای کې یو باندار وو چې خلکو په کې داسې لاپې وهلې. هر یوه به ویل چې هغه د «ډېر څه لرونکي وړوکي یعني داسې وړوکی ځای چې تر خپل ظرفیت زیات شیان پکې ځایېدلی شي» دغه ځانګړتیا لري. هغوی یو په بل پورې خندل. نورو به چې لاپې یې وهلې چې هغوی د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» دا ځانګړتیا لري هغوی ته به بنه راغلاست ویل کېدی خو د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» په برخه کې زما ځانګړتیا له هغوی ټولو څخه لویه ده.

له هغوی څخه یوه لاپه وکړه چې د هغه مغز د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» یو اړخ دی، ځکه چې هغه په زرګونو او په لسګونو زرو خلکو ته د هغوی د ټولو اړتیاوو، او د هغوی د ټولو چلندونو، د هغوی د ټولو تجربو، او د هغوی د ټولو حرکتونو په پام کې نیولو سره پام کوي. هغه دا ټول په خپل مغز کې ساتي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» [یو اړخ] دی څکه چې یو [واحد] مغز دومره ډېر خلک د هغوی له اړتیاوو او داسې نورو سره ساتي. (په دې توګه هغه د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» په کټګورۍ کې دی. یعنې یو کوچنی ځای له خپل ظرفیت څخه ډېر څه ترسره کوي، په دې معنی چې په یوه [واحد] مغزکې ډېر خلک لکه چې پورته یاده شوه د هغوی له ټولو ډولونو او داسې نورو سره ځای شوي وي).

خلکو په هغه پورې وخندل. هغوی په هغه باندې ورغبر کړ «ته هېڅ څوک هم نه یې! او ستا خلک هم همداسې دي!».

یو بل چا غبرکړ، «ما په حقیقت کې د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» [یو مثال] لیدلی دی».

[هغه زیاته کړه]، یو وخت ما په یوه غره کې مزل کولی. ما ولیدل چې هلته په غره کې ډېرې خځلې او ککړتیا وه. زه د هغو په لیدلو حیران شوم چې پر دې غره دومره خځلې او ککړتیا له کومه شوې؟ هلته له غره سره نژدې یو سړی و. هغه وویل، «دا ټول زما له لاسه شوي دي». هغه هلته په غره کې اوسېږي، او هغه دا ټولې خځلې او اضافي مواد چې د هغه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوراک او څښاک څخه پاتې کیږي په هغه غره کې یې غورځوي. هغه خځلې او ککړتیا ټول د هغه له لاسه رامنځته شوي دي. له دې امله، دغه سړی یو «ډېر څه نیوونکی وړوکی» دی، ځکه چې یوه سړي دومره خځلې رامنځته کړي دي. او دا هم (د هغه د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» د [پخواني] سړي د [ځانګړتیا] یوه بېلګه ده، د هغه سړي چې لاپه یې کړې وه چې د هغه په مغز کې ډېر زیات خلک، او داسې نور شتون لري).

یوه بل لاپه وکړه چې هغه د «ډېره څه نیوونکي وړوکي» کیفیت لري ځکه چې، هغه د یوه داسې وطن یوه ټوټه ځمکه لري چې یوه ډېره زیاته اندازه مېوه تولیدوي. کله چې یو څوک د هغې مېوې مقدار حسابوي چې هغه وطن یې تولیدوي، هغه به ووینې چې وطن هومره ډېره ساحه نه لري چې هغه مېوه پکې ځای شي. په وطن کې داسې کافي ځای نشته چې مېوه یې نیسي. له دې امله، دا د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» یو هبڼه ده. هغوی هغه څه چې هغه وویل تایید کړل، ځکه چې دا په روښانه توګه د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» یوه بېلګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه بل وويل، دا چې هغه يو ډېر ښايسته بڼ لري چې ببلابېلې مېوې او داسې نور شيان لري له دې امله يو زيات شمېر خلک او لويان هلته ورځي او ګوري يې ځکه چې هغه يو ډېر ښايسته بڼ دی. او کله چې اوړی رارسيږي، [ټول دغه] ډېر، ډېرخلک او لويان هلته ورځي چې هلته خوا او شا ته وګرځي راوګرځي. په حقيقت کې هلته په بڼ کې په کافي اندازه ځای نشته چې دومره ډېر خلک پکې ځای شي. دا د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يو ډول دی. هغوی [هغو خلکو چې سره را ټول سوي وو او غوږ يې نيولی و] دا هم تاييد کړه.

يوه بل وويل چې د هغه وينا د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يوه بېلګه ده. هغه د يوه لوی پاچا سکرټر دی، او ډېر زيات خلک پاچا ته راځي. يو يې راځي چې د پاچا ستاينه وکړي، بل راځي چې له پاچا څخه يو څه وغواړي، او داسې نور. او بې له شکه چې پاچا نشي کولی چې د هغوی ټولې خبرې واوري. زه د هغوی ټوله وينا يوازې په يو څو ټکو کې راټولوم او پاچا ته يې يوازې په يو څو ټکو کې وايم. د هغوی ټوله ستاينه او د هغوی ټولې غوښتنې – هرڅه چې هغوی يې وايي – ټول پکې شامل وي، او په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ټکو کې وې چې زه يې پاچا ته وايم. په دې توګه زما وينا د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يوه بېلګه ده.

يوه بل وويل چې د هغه چوپتيا د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يوه بېلګه ده، ځکه چې هلته يوه لويه ډله نيوکې کوونکي او دروغجن خلک دي چې د هغه پر ضد ډېرې زياتې خبرې کوي. خلک پر هغه باندې بريد کوي او د هغه پر ضد ډېرې خبرې کوي، او هغه هغو ټولو ته چې د هغه په هکله خبرې کوي په چوپه خوله ځواب وايي. دغه [چوپتيا] د ټولو هغو [ښکاره کېدونکو] نيمګړتياوو ځواب وايي چې هغوی يې په هغه کې ګوري او ټولې هغه ډنډورې چې هغوی د ده په هکله جوړې کړې دي. يوازې د هغه په چوپتيا سره هغه د هر څه ځواب وايي. له دې امله د هغه چوپتيا د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يوه بېلګه ده.

يوه بل وويل چې هغه د «ډېره څه نيوونکي وړوکي» يوه بېلګه دی، ځکه چې هلته يو غريب سړی دی، هغه غريب سړی ړوند دی، او هغه ډېر غټ دی. او هلته يو ډېر وړوکی سړی دی، او هغه دا غټ غريب ړانده سړي ته لاره ښيي. نو ويلی شو چې هغه د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يوه بېلګه دی، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدی شي چې ړوند سړی وښويېږي او ولوېږي، خو هغه په لاربښوونې سره د ده مرسته کوي نو ويلی شي چې هغه د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يو ډول دی، ځکه چې هغه يو وړوکی سړی دی، او هغه له دغه غټ ړانده سړي سره مرسته کوي.

زه (يعنې پر ملا کړوپ چې دا کيسه يې کوله) هم هلته وم. ما ورغږ کړ: دغه خبره سمه ده چې تاسو د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يوه ځانګړتيا لرئ او زه د هغه څه په معنی پوهېږم چې تاسو ټولو ويل (يعنې هغه پوه شو چې د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» [د ځانګړتيا] په هکله له لاپو وهلو څخه د هغوی هدف څه وه).

وروستي سړی چې لاپه يې وکړه چې هغه غټ ړانده سړي ته لاربښوونه کوي، هغه له تاسو ټولو څخه غټ دی، خو زه له هغه څخه هم ډېر غټ او لوړ يم، ځکه چې هغه چې لاپه يې وکړه چې هغه غټ ړانده سړي ته لاره ښيي، د هغه هدف دا دی چې هغه د سپوږمۍ کرې ته (د هغې پر اسماني مدار) لاربښوونه کوي. له دې امله کېدی شي چې سپوږمۍ ته «ړوند سړی» ويل شي، ځکه چې د هغې هېڅ رڼا خپله له هغې څخه نه راوځي. [هغه له خپل ځانه هېڅ هم نه لري]

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که څه هم چې هغه ډېر کوچنی دی اوسپوږمۍ ډېره لویه ده بیا هم هغه سپوږمۍ ته لاربښوونه کوي او د [سپوږمۍ] له کبله ټوله نړۍ کولی شي چې دوام وکړي، ځکه چې نړۍ سپوږمۍ ته اړتیا لري. مونږ بیا ګورو چې هغه په ښکاره د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» یو صحیح شکل دی، خو له «ډېر څه نیوونکي وړوکي» څخه زما [ځانګړتیا] له بل هرچا څخه ډېره لوړه ده، او دایې هم ثبوت دی:

هلته یوه ډله خلک وو چې د داسې حقیقت پلټنه یې کوله چې هر مخلوق یو سیوری لري، او هغه غواړي چې یوازې په هغه ځانګړي سیوري کې واوسېږي. نو هرمخلوق په سیوري کې خپل ځانګړی ځای لري، ځکه چې هر مخلوق د ځان له پاره یو سیوری ټاکي، او هغه به یوازې په هغه ځانګړي سیوري کې اوسېږي.

همدارنګه هرمرغه یوه ځانګړې ځانګه لري چې هغه غواړي پر هغې باندې کېني – او نه په بله ځانګه باندې، او هر مرغه یوه بېله ځانګه لري چې هغه پرې یوازې کېني، او په بله ځانګه باندې نه کېني. او هرمرغه خپله ځانګړې ځانګه لري. د دغه ټکي [په پام کې نیولو] سره، ګروپ لټون کولی چې ایا هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شي چې داسې یوه ونه پیدا کړي چې د هغې په سیوري کې ټول مخلوق واوسېږي – چېرې چې ټول مخلوقات وغواړي چې د هغې ونې په سیوري کې واوسېږي، او چېرې چې ټول مرغان وکولی شي چې د هغې ونې په څانګو کې کېني.

هغوی د خپلو څېړنو له لارې داسې یوه ونه کشف کړه. هغوی غوښتل چې هلته هغې ونې ته ورشي، ځکه چې هلته له هغې ونې سره موجود خوند بې اندازې دی. د مرغانو په شمول ټول حیوانات هلته شته او هېڅ مخلوق هلته له ستونزې سره نه مخامخ کېږي (یعنې هلته شته مخلوق یو بل نه ځوبلوي). ټول مخلوق هلته سره یوځای دی؛ هغوی ټول سره په ګډه لوبې کوي، او بې له شکه چې ډېره د نېکمرغۍ خبره ده چې څوک هلته له هغې ونې سره نژدې واوسي.

نو هغوی پلټنه پیل کړه چې یو څوک باید چېرې لاړ شي چې هلته هغې ونې ته ورسېږي. د هغوی په منځ کې د مسئلې پر سر اختلاف و، او د هغوی ترمنځ هېڅ داسې څوک نه وه چې په دې هکله پرېکړه وکړي، ځکه چې یوه ویل چې هغوی کولی شي چې ختیځ خوا ته په تګ سره هلته ورسېږي، بل ویل چې لوېدیځ خوا ته په تګ سره کولی شي چې هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېږي. يوه ويل چې پر دې لوري، او بل ويل چې پر هغه لوري، تر دې چې هغوی ونشول کولی چې د داسې صحيح لوري په هکله پرېکړه وکړي چې د هغه له لارې ونې ته ورسېږي.

يو پوه راغی او هغوی ته يې وويل: ولې تاسو داسې لوری امتحانوئ چې د هغه له لارې تاسو کولی شئ چې ونې ته ورسېږئ؟ لومړی فکر وکړئ چې هغه خلک څوک دي چې کولی شي چې ونې ته ورنژدې شي (ځکه چې هرڅوک ونې ته نشي ورتللی). هرڅوک نشي کولی چې دې ونې ته ورنژدې شي؛ يوازې هغه خلک چې د ونې خوی او ځانګړتياوې ولري کولی شي چې ورشي، ځکه چې ونه درې ريښې لري: يوه ريښه يې «ايمان» ده (يعنې که د خدای رضا وي، يو څوک بايد پر خدای عقيده ولري، خدای پرې رحم وکړي)، بله ريښه يې «تقوی» [له خدای نه وېره] ده، او درېيمه ريښه يې «عاجزي» ده (يعنې يو څوک بايد ځان داسې ونه ګڼي چې ډېر لوی دی). او «ريښتيا» د ونې تنه ده - يعنې، خپله ونه حقيقت دی او له هغه ځايه يې څانګې خپرېږي.

له دې امله، هېڅ څوک نشي کولی چې ونې ته ورنژدې شي مګر دا چې يوڅوک په خپل ځان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونې صفتونه ولري. يعنې، «ايمان» (پر خدای باور)، «تقوی» (له خدای څخه وېره)، «عاجزي» (په دې معنی چې هغه بايد خپل ځان داسې ونه ګڼي چې تر ټولو لوی دی) او «حقيقت»، (هوښيارسړي مجلس ته داسې خبرې وکړې).

خو په مجلس کې هېڅ چا هم د خوی دغه ډول ځانګړتياوې نه درلودې. يوازې يو شمېر خلکو په خپلو ځانونو کې ياد شوي صفتونه لرل، خو د هغوی ترمنځ ډېر لوی يووالی وه (يعنې هغوی يو له بل سره مينه او ملګرتيا لرل). هغوی نه غوښتل چې يو له بله بېل شي، يعنې د هغوی هغه برخه دې ونې ته لاړه شي (چې له پخوا يې د ونې صفتونه لرل) په داسې حال کې چې نورترې بېرته پاتې شي. هغوی داسې نه غوښتل ځکه چې هغوی ډېر په کلکه سره پېيل شوي او يومټي وو. د دې پر ځای هغوی غوښتل چې تر هغه وخته انتظار وباسي چې هغوی ټول مبارزه وکړي او ياد شوي صفتونه ترلاسه کړي، او په دې توګه هغوی ټول وکولی شي چې ونې ته راشي.

هغوی همداسې وکړل. ترهغه وخته پورې يې خپلو هڅو ته دوام ورکړ چې هغوی ټولو ياد شوي کوايف ترلاسه کړل (يعنې هر يوه ترهغه وخته پورې د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري انتظار وکړ چې هغوی ټولو هڅه وکړه او صحیح ځانګړتیاوې یې ترلاسه کړې، یعنې چې هغوی ټولو «ایمان»، «وېره» او داسې نور ترلاسه کړل). وروسته له هغه چې هغوی ټولو دغه ځانګړتیاوې ترلاسه کړې، هغوی ټول [په طبیعي ډول] سره ورته نظریې ته ورسېدل، او ټولو پر داسې یوه واحده لاره توافق سره وکړ چې د هغه له لارې ونې ته ورسېږي.

هغوی ټول [هلته] روان شول، تر یوه وخته پورې یې سفر وکړ، تر دې چې ویې کولی شول چې له لیرې څخه ونه ووینې. څنګه چې د هغوی سترګې پر ونې ولګېدې، [هغوی ولیدل چې] ونه پر هېڅ ځای باندې نه ده ولاړه ځکه چې ونه هېڅ ځای نه لري. او دا چې هغه هېڅ ځای نه لري، بیا نو څنګه کېدی شي چې څوک دې ورشي؟

او زه (یعنې پر ملا کړوپ چې دا ټوله کیسه یې کوله) هم هلته له هغوی سره وم. ما غږ وکړ او هغوی ته مې وویل: زه ډاډه یم چې زه کولی شم چې تاسو ونې ته راولم، ځکه چې ونه هېڅ ځای نه لري، او له دې کبله چې ونه له فضا څخه لوړه ده (یعنې هغه په نړۍ کې د فضا تر [لوړوالي] ډېره لوړه ده — هغه هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای نه لري). په توپير سره، د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» اړخ بيا هم د فضا په سرحدونو کې دننه پاتې کيږي، ځکه چې په هره بيه هغه لا هم دومره فضا لري چې ډېرخه لري (يعنې د فضا يوه لږه اندازه چې له هغه څه څخه ډېر څيزونه لري چې بايد په کې دننه ځای شي)، خو دغه مفهوم لا هم د فضا [د بعد په واسطه] محدود شوی دی، ځکه چې هغه لا هم [د فضا يوې لږې اندازې] ته اړتيا لري.

او زه (يعنې پر ملا کړوپ) په حقيقت کې د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يوه ځانګړتيا لرم چې په هغه کې هغه کوچنۍ اندازه چې ډېرمقدار ساتي د فضا په وروستۍ يا نهايي برخه کې [واقع] ده. له هغه ځای او له لوړ ځای څخه هېڅ فضا وجود نه لري. په دې توګه زه کولی شم چې تاسو ټول ونې ته چې له «فضا» څخه لوړه ده، انتقال کړم. (ځکه چې پر ملا کړوپ سړی د «فضا» او له هغه څه څخه چې تر «فضا» لوړ دي د منځګړي رول لري. هغه په حقيقت کې د «ډېر څه نيوونکي وړوکي» يو [ژوندی ثبوت] دی. دا د «فضا» ببخي وروستۍ برخه ده، او دا له هغه ځای څخه لوړه ده چې هلته هېڅ «فضا» وجود نه لري. په دې توګه پر ملا کړوپ سړی کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې هغوی له «فضا» څخه بېل کړي، او له «فضا» څخه پورته یې یوسي).

ما هغوی واخیستل او ونې ته مې انتقال کړل. تاسو ګورئ چې زه یوه خاطره لرم چې زه په ریښتیا سره د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» یوه ځانګړتیا لرم. (په دې توګه، هغه داسې ښکاري لکه پر ملا چې کړوپ وي، ځکه چې هغه ډېر زیات انتقالات کوي، او دا له دې کبله چې هغه د «ډېر څه نیوونکي وړوکي» یو [استازی] دی. اوس زه دا پر تاسو باندې د یوې ډالۍ په توګه لوروم چې تاسو باید ببخي زما په څېر شئ. هلته لویه خوښي او خوشحالي روانه وه.

# [شپږمه ورځ]

په شپږمه ورځ هم هغوی خوشحاله وو. هغوی بیا په دې هیله وو [او ویل یې] چې «څنګه کولی شو چې مونږ هغه سړی دلته راولو چې لاسونه یې نه درلودل؟» دا وخت هغه سړی راننوت او ویې ویل، «زه دغه یم! زه ستاسو د واده له پاره دلته راغلی یم».

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه هم هغوی ته لکه د نورو هغو په څېرخبرې وکړې، او پر هغوی باندې ورښکته شو ، هغوی ته یې وویل: تاسو فکر کوئ چې زما په لاسونو باندې څه چل شوی دی؟ زما په لاسونو باندې هېڅ هم نه دي شوي! زه په ریښتیا سره غښتلي لاسونه لرم. خبره دا ده چې زه اصلاً په دې نړۍ کې له خپلو لاسونو څخه کار نه اخلم، ځکه چې زه د خپلو لاسونو غښتلتیا ته د یوه بل کار له پاره اړتیا لرم. او زه په دې هکله د اوبو له کلا څخه یوه خاطره لرم.

یو ځل زه له یو شمېرخلکو سره ناست وم. هر یوه د خپلو لاسونو د غښتلتیا په هکله لاپې کولې. یوه لاپه وکړه چې هغه په خپلو لاسونو کې یوه ځانګړې غښتلتیا لري، یوه بل وویل چې د هغه په لاسونو کې یوه ځانګړې غښتلتیا شته. په همدې ډول نورو هم د خپلو لاسونو د ځواک په هکله لاپې وهلې. یعنې یوه لاپه وهله چې هغه په خپلو لاسونو کې دومره زور او ځواک لري چې کله چې هغه یو غشي وولي، کولی شي چې ببرته یې [هغه ځای ته چې ترې تللی و] راوګرځوي، ځکه چې هغه په خپلو لاسونو کې دومره ځواک لري چې ان که هغه غشی خوشې کړی وي بیا هم کولی شي چې ببرته یې راوګرځوي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی شي چې غشی [مخکې تر دې چې پر نښه باندې ولګېږي] بېرته د خپل ځان لور ته راکش کړي.

ما (یعنې هغه سړی چې لاسونه یې نه وو او دا کیسه یې کوله) له هغه څخه پوښتنه وکړه: څه ډول غشی ته کولی شې چې بېرته یې راوګرځوې؟ ځکه چې غشي خو په لس ډوله دي، او لس ډوله زهر دي. کله چې یو څوک غواړي چې یو غشی وولي هغه یې په یو ډول زهرو باندې ککړوي. د زهرو لس ډولونه شته. کله چې یو څوک زهر پر غشي باندې لګوي، غشی هم د [زهرو د ډول له مخې] خرابېږي، او کله چې یو څوک غشی په یوه بېل ډول زهرو باندې ککړوي، هغه ډېر زیان اړوي. په دې توګه د زهرو لس ډولونه دي؛ چې هر ډول یې له بل څخه ډېر غښتلي دي، یعنې، هغه ډېر زیان اړوي.

هغه پوښتنه وکړه «څه ډول غشي ته کولی شې چې بېرته یې راوګرځوې؟»

هغه بله پوښتنه وکړه چې – آیا هغه کولی شي چې [یوازې] هغه غشی مخکې له هغه بېرته راوګرځوي چې په نښه شوي شخص باندې ولګېږي که نه هغه وخت هم کولی شي چې بېرته یې راوګرځوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په نښه شوی شخص وولي؟ په ځواب کې د هغوی له جملې څخه یوه وویل، «زه کولی شم چې غشی وروسته له هغه هم بېرته راوګرځوم چې یو څوک وولي».

[پوښتونکي پوښتنه وکړه]، «خو کوم ډول غشی ته کولی شې چې بېرته راوګرځوې؟»

هغه ځواب ورکړ، «زه کولی شم چې [دا ډول او دا ډول] غشی بېرته راوګرځوم».

هغه ته ما (یعنې بې لاسونو سړي چې دا کیسه یې کوله) وویل، «ته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې. دا چې ته نشې کولی چې له یوه څخه ډېر ډولونه غشي بېرته راوګرځوې، نو ته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې».

یوه بل لاپه وکړه چې هغه په خپلو لاسونو کې داسې زور لري چې کله چې هغه [له چا څخه څه] ترلاسه کوي هغه یې په حقیقت کې [هغوی ته] ورکوي (یعنې ویل کېدی شي چې د هغه له پاره، خپله ترلاسه کول یو د ورکولو عمل دی). هغه یو نېک انسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له هغه ځخه پوښتنه وکړه «ته څه ډول خيرات ورکوې؟»

هغه ځواب ورکړ « زه مې د خپلې ګټې په سلو کې لس يا عشر ورکوم.

نو ما هغه ته وويل، «که خبره داسې وي، بيا نو ته نشې کولی چې د ملکې د لورعلاج وکړې، ځکه چې ته بالکل نشې کولی چې د هغې ځای ته ورورسيږې [په دې دليل چې ته يوازې په سلو کې لس عشر ورکوې]. ته کولی شې چې يوازې له يوه دېوال ځخه [چې پر هغه ځای باندې راچاپير دی چې د ملکې لور پکې ده] تېر شې، نو ته نشې کولی چې هغه ځای ته ورورسيږې چې هغه پکې ده».

يوه بل لاپه وکړه چې د هغه په لاسونو کې زور دی، ځکه چې په نړۍ کې داسې چاروا کي (يعنې داسې خلک چې مشران دي چې په يوه ښار يا وطن او داسې نورو باندې واکمني کوي) شته. هر يو يې حکمت ته اړتيا لري. زه په خپلو لاسونو کې داسې زور لرم چې کولی شم چې پر يو چا باندې يوازې په لاس لګولو سره هغه ته پوهه ور وبخښم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له هغه څخه پوښتنه وکړه «ته په خپلو لاسونو باندې هغه ته څه ډول پوهه وربخښلی شې؟ ځکه چې لس درجې پوهه شته» (یعنې لس بېلابېل ډولونه پوهه شتون لري). هغه ځواب ورکړ چې هغه کولی شي چې یو ځانګړی ډول پوهه وروبخښي. نو ما هغه ته وویل، «ته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې، ځکه چې ته نشې کولی چې د هغې نبض تشخیص کړې او دا له دې امله چې لس ډوله نبضونه شتون لري او ته نشې کولی چې له یو څخه ډېر ډولونه نبض تشخیص کړې. ته کولی شې چې په خپلو لاسونو باندې یوازې یو ډول پوهه ورکړې».

یوه بل لاپه وکړه چې هغه په خپلو لاسونو کې قدرت لري، ځکه چې هلته یو باد دی او هغه کولی شي چې هغه باد په خپلو لاسونو باندې ایسارکړي. هغه کولی شي چې باد په خپلو لاسونو کې ونیسي او په یوه ځانګړي ځواک سره یې بیا رامنځته کړي او د ځواک په یوه مناسبه درجه یې والوزوي. ما له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته څه ډول باد په خپلولاسونو نیولی شې؟ ځکه چې لس ډوله بادونه وجود لري».

هغه ځواب راکړ چې هغه د باد یو خاص ډول [کولی شي ونیسي].

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل، «ته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې ځکه چې ته نشې کولی چې د هغې نغمې وغږوې. او دا له دې امله چې نغمې پر لس ډوله دي، او د ملکې د لور علاج د نغمو له لارې کېږي، په داسې حال کې چې ته نشې کولی چې له یوې څخه ډېرې نغمې ولوبوې».

هغوی پوښتنه وکړه، «ته څه کولی شې؟»

هغه ځواب ورکړ «زه کولی شم چې داسې څه وکړم چې تاسو ټول یې نشئ کولی». «یعنې زه کولی شم چې د هرې هغې کټګورۍ چې تاسو یې په هکله لاپې وکړې نهه [پاتې] برخې چې تاسو نشئ کولی ترسره یې کړئ بشپړې کړم».

په دې هکله یوه کیسه شته: یو ځل یو وخت یو پاچا و چې د یوې ملکې د یوې خاصې لور سخته هیله یې لرله. هغه ډېرې هڅې وکړې او پلانونه یې جوړ کړل چې هغه ترلاسه کړي. په پای کې هغه د هغې په ترلاسه کولو بریالی شو، او هغه له هغه سره شوه. یو ځل پاچا خوب لیدی چې هغه د ملکې لور پر هغه باندې دپاسه ولاړه ده او هغې هغه وواژه. هغه په ډار سره پاخېد، او خوب په ژوره توګه د هغه زړه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره وکړه. هغه د خوب ټول تعبیروونکي وروغوښتل، او هغوی خوب ټکی په ټکی تعبیر کړ، چې خوب به ریښتیا راوځي – یعنې هغه به دی ووژني.

پاچا هېڅ نه پوهېدی چې له هغې سره څه وکړي. آیا دی باید هغه ووژني؟ دا کار به یې غمجن کړي. آیا دی باید هغه وشړي؟ دا کار به یې ډېر سخت نا ارام کړي، ځکه چې یو بل څوک به یې ونیسي. په دې کار سره به هغه ډېر زیات خپه شي ځکه چې هغه د هغې د خپلولو له پاره ډېرې هڅې کړي دي، او اوس به هغه د کوم بل چا لاس ته ورشي. سربېره پر دې، که دی هغه وشړي او هغه له کوم بل چا سره یوځای شي، بیا به نو خوب بې له شکه ریښتیا شي. هغه به وکولی شي چې دی ووژني، ځکه چې هغه به له یو بل چا سره وي. آیا دی باید هغه له ځان سره نژدې وساتي؟ هغه له خوب څخه وډار شو چې نه چې هغه دی ووژني. نو پاچا نه پوهېدی چې له هغې سره څه وکړي.

په عین حال کې، د خوب له کبله له هغې سره د ده مینه ورو، ورو پر کمېدو شوه. له هغې سره د هغه په مینه کې کمی په دوامداره توګه ډېرېدی. همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې له خوا [له هغه سره هم] د هغې د مينې کمی په دوامداره توګه زياتېدی، تر دې چې هغې له هغه څخه کرکه پيل کړه.

نو هغه ورڅخه وتښتېده. پاچا ځواکونه پسې ولېږل چې هغه ولټوي. يو څوک راغی او هغه ته يې حال راوړ چې هغه د اوبو د کلا چاپېره ګرځی راګرځي، او دا چې هلته يوه د اوبو کلا ده چې لس دېوالونه لري او يو يې د بل دننه دی، او لس واړه دېوالونه يې له اوبو څخه جوړ دي. د کلا فرش چې خلک پرې ځي راځي هم له اوبو څخه جوړ دی. په انګړ کې يې د مېوې ونې دي – او نور هر څه يې له اوبو څخه جوړ دي. او د کلا د ښکلا او عجبوالي په هکله ويلی شي چې په دقت سره شرحه کولو ته يې اړتيا نشته، هغه بې له شکه چې يو حيرانوونکی اعجاز دی، ځکه چې ټوله کلا له اوبو څخه جوړه ده.

کلا ته څوک هېڅ ننوتلی نشي، ځکه چې ډوبېږي، او دا په دې چې ټوله کلا له اوبو څخه جوړه شوې ده. د ملکې لور تښتېدلې، هغې کلا ته رسېدلې ده، او هلته پر کلا خوا او شا راګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو یو چا پاچا خبر کړ چې هغه د اوبو د کلا پر شا او خوا راګرځي. پاچا له خپل لښکر سره ورووت چې هغه راونیسي. کله چې د ملکې لور ولیدل (چې پاچا او د هغه لښکر غواړي چې هغه ونیسي) هغې پرېکړه وکړه چې کلا ته ورننوځي، ځکه چې هغې د دې پر ځای چې پاچا یې ونیسي او له ځان سره یې وساتي غوره ګڼله چې ډوبه شي. او [هغې فکر کولی] چې ښایي داسې یو چانس ترلاسه کړي چې ژوندۍ پاتې شي، او دا چې وبه کولی شي چې د اوبو کلا ته ورننوځي.

کله چې پاچا ولیدل چې هغه اوبو ته منډې وروهي هغه وویل، اوس نو بله لاره نه ده پاتې نو حکم یې وکړ چې هغوی یې باید وولي، [ویې ویل] «او که هغه مړه کیږي نو مړه کیږي به».

هغوی په هغې باندې ګزارونه وکړل او ټول غشي چې د زهرو په لسو واړو ډولونو باندې ککړ شوي وو پر هغې باندې ولګېدل. هغې، د ملکې لور، د اوبو کلا ته ورمنډه کړه او وردننه شوه. هغه د اوبو د دېوالونو له ټولو دروازو څخه تېره شوه، ځکه چې د اوبو دېوالونه دروازې لري، او هغه د اوبو د کلا د لس واړو دېوالونو له ټولو دروازو څخه تېره شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې چې هغه خپله کلا ته ورننوته. هغه هلته پرېوته، او له زوره بېخي ولوېده او ما (یعنې هغه سړي چې لاسونه یې نه لرل او دا ټوله کیسه یې کوله) د هغې علاج وکړ.

نو هغه [څوک چې نشي کولی] چې په خپلو لاسونو باندې د خیر لس ټول ډولونه ترسره کړي، نشي کولی چې د اوبو د کلا له لسو واړو دېوالونو څخه تېر شي – ځکه چې هغه به په اوبو کې ډوب شي. پاچا او د هغه عسکرو د ملکې لور تعقیب کړه، او هغوی ټول په اوبو کې ډوب شول، او ما وکولی شول چې د کلا له لسو واړو دېوالونو څخه تېر شم.

اوس د اوبو دېوالونه د سیند څپې دي، چې ځانونه د دېوال په څېر پورته کوي، ځکه چې بادونه د سیند څپې تېله کوي، او هغوی څپې پورته کوي. او څپې، چې لس دېوالونه دي، هلته په دوامداره توګه درېږي – داسې چې بادونه هلته څپې نیسي او پورته یې ساتي.

زه د اوبو د کلا له لسو واړو دېوالونو څخه تېرېږم، او کولی شم چې له هغې (یعنې د ملکې له لور څخه) د غشو لس واړه ډولونه لیرې کړم، او کولی شم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو لاسونو د لس واړو ګوتو په واسطه د نبض لس واړه ډولونه وپېژنم، ځکه چې د يو چا د لسو واړو ګوتو څخه د هرې يوې په واسطه يو څوک کولی شي چې د نبض له لسو ډولونو څخه يو ډول احساس کړي، او زه کولی شم چې د نغمې په لسو ډولونو د ملکې د لورعلاج وکړم (ځکه لکه چې ياده شوه د هغې علاج د نغمو په واسطه کېږي).

په دې توګه زه کولی شم چې په ريښتيا سره د ملکې د لور علاج وکړم. نو وګورئ چې زه په ريښتيا سره په خپلو لاسونو کې زور لرم. اوس زه دا پر تاسو باندې د يوې ډالۍ په توګه لوروم. هلته ډېره زياته خوښي او خوشحالي وه، او هغوی له خوښۍ څخه په کاليوکې نه ځايېدل.

کله چې ليکوال د دغې کيسې ويل پای ته ورسول، هغه زياته کړه:

د دې کيسې ويل زما له پاره ډېر ګران دي، خو دا چې ما يې ويل مخکې پيل کړي وو، نو بايد پای ته يې ورسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووه سوالګر**

که زه له دې کيسې پرته په بل څه نه پوهېدم، زه به بيا هم يو حيرانوونکی اعجاز وم، ځکه چې دا کيسه يوه ډېره حيرانوونکې عجوبه ده.

د اصلي پلي کوونکي تبصره:

د کيسې پای، يعنې څه چې په اومه ورځ د بې پښو سوالګر له پاره پېښ شول، او د کيسې په پيل کې د پاچا د زوی د برخې ادامه، هغه ونه ويله، نو پايله به مونږ [د ورځو تر پايه] پورې وانه ورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سپوږمۍ له پاره کالي

سپوږمۍ لمر ته شکایت وکړ، دعوه یې وکړه چې لمر د ورځې پر وخت او په تاوده موسم کې یو مرکزي رول لوبوي، خو هغه [سپوږمۍ] یوازې په اوږدو، یخو د ژمي شپو کې مهم رول لوبوي. نو لمرچې غوښتل یې چې سپوږمۍ ارامه کړي وویل چې د هغې له پاره به یوه جوړه کالي وکړي.

ټول لوی او مشهورخیاطان راوغوښتل شول چې د هغې کالي برابر کړي. عادي خیاطانو هم غوښتل چې په دې کار کې برخه واخلي خو ویې ویل، «داچې هغوی مونږ نه یو غوښتي، نو زمونږ له پاره دا مناسبه نه ده چې ورشو».

مشهورو خیاطانو [خپلو کارکوونکو] ته وویل چې نشو کولی چې داسې کالي جوړ کړو چې پر سپوږمۍ دې سم وي، ځکه چې ځینې وختونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د سپوږمۍ له پاره کالي

سپوږمۍ وړه وي او ځینې وختونه لویه، له دې امله دا ناشونې ده چې د هغې اندازه دې معلومه شي.

بیا عادي خیاطان راغلل او ویې ویل چې هغوی کولی شي چې د سپوږمۍ اندازه معلومه کړي او د هغې له پاره کالي جوړ کړي، خو هغوی ته وویل شول، «لوی خیاطان چې دا کار نشي کولی، نو تاسو څنګه کولی شئ چې ویې کړئ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه د باور کيسه

يو وخت په يو ځای کې يو پاچا و، هغه خپل ځان ته وويل، « څوک تر ما لږ اندېښنې لري؟ زه له ښو پرته بل هېڅ نه لرم او سربېره پر دې، زه يو پاچا او واکمن هم يم.»

پاچا پرېکړه وکړه چې په دې برخه کې پلټنه وکړي. هغه به د شپې ګرځېدی او د کورونو تر شا به درېدی چې هغه څه چې خلکو ويل واوري او معلومات ترلاسه کړي. د هرچا اندېښنې يې واورېدې. يوه سړي د خپلې هټۍ په برخه کې ستونزې لرلې. بيا يوه بل کور ته لاړی، هلته يې واورېدل چې يو سړی ستونزې لري او غواړي چې د پاچايۍ په محکمه کې د ليدنې له پاره وخت واخلي. په دې توګه، هغه د هرچا شکايتونه واورېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې یو ډېر تیت کور تر سترګو سو، چې په ځمکه کې دومره ننوتلی و چې کړکۍ یې بېخي د ځمکې پر سر وې. بام یې زمبېل شوی او وران و. دننه یو سړی پکښې ناست و او خپل رباب یې غږاوه. پاچا ښه ورته غوږ شو چې د سړي غږ واوري. سړی ډېر زیات خوشحاله و. هغه یوه کاسه خواړه او یو څښاک لرل چې مخ ته یې ایښي وو. څښاک [قیمتي] و او خواړه په ترتیب سره د هغه په مخکې ایښي وو. او هغه ډېر خوښ او خوشحاله و او هېڅ اندېښنې یې نه لرلې!

پاچا کور ته ورننوت او پوښتنه یې وکړه چې سړه ته څنګه یواځې ژوند تېروې؟؛ سړي ځواب ورکړ. پاچا هغه څښاک او بېلابېل خواړه چې د سړي مخته پراته وو، وکتل، او د هغه په مخ کې یې خوښي ولیدل. سړي پاچا ته په څښاک کې د برخې اخیستو ست وکړ او دواړو په ګډه د زړه له تله په خوښۍ څښاک وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا پربووت چې ویده شي. هغه پوه شو چې سړی پوره خوشحاله دی، او هېڅ اندېښنې نه لري. سهار پاچا راپورته شو، او سړی هم راپورته شو او له پاچا سره ملګری شو.

پاچا پوښتنه وکړه، دا شیان دې له کومه کړي دي؟

سړي ځواب ورکړ، «زه یو مستري یم. زه کولی شم چې هرشی چې مات وي هغه ترمیم کړم. زه نشم کولی چې کوم څه سره جوړ کړم، مګر کولی شم چې داسې شیان بیاجوړ کړم چې مات شوي وي. زه سهار وځم او بېلابېل شیان جوړوم. کله چې پنځه یا شپږ روپۍ ترلاسه کړم دا خواړه او اوبه پرې اخلم.»

کله چې پاچا دا واورېدل، له ځان سره یې وویل، «زه به هغه خراب کړم.» پاچا کورته ستون شو او داسې یو فرمان یې صادر کړ چې که د چا څه خراب وي، بل چاته یې باید د جوړولو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره ورنه کړي. یا یې باید خپله ترمیم کړي او یا بل نوی شی واخلي.

بل سهارمستري دباندې ووت او هڅه یې پیل کړه چې شیان د جوړونې له پاره وګوري. هغه ته وویل شول چې پاچا فرمان صادر کړی دی چې هېڅ شی دې د جوړولو له پاره نورو ته نه ورکول کېږي. هغه پوه شو چې دا ښه کار نه دی شوی، خو پر خدای یې یقین درلود.

هغه یوڅه وخت وګرځېد تر هغه چې یو شتمن سړی یې ولید چې لرګي یې پرې کول. مستري پوښتنه ځنې وکړه، « ته ولې لرګي په خپله پرې کوې؟ آیا دا کار ستا له شان او شوکت څخه ټیټ نه دی؟»

سړي ځواب ورکړ او ویې ویل، «ما هڅه وکړه چې یو څوک پیدا کړم چې لرګي راته پرې کړي، خو هیڅوک مې پیدا نه کړ، نو اړ شوم چې خپله یې پرې کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستري ځواب ورکړ، «ما ته اجازه راکړه چې زه يې درته پرې کړم».

هغه لرګي پرې کړل، او شتمن سړي يې په بدل کې يوه روپۍ ورکړه. سړي وليدل چې بريالی شو، نو نور لرګي يې هم پرې کړل، تر دې چې شپږ روپۍ يې وګټلې. هغه پيسې راواخيستې او د ځان له پاره يې پرې خواړه واخيستل. او خواړه يوه خوښي وه! سړی يو ځل بيا ډېر خوښ شو.

پاچا بيا په هغه شپه دباندې ووت او د مستري له کړکۍ څخه بهر ودرېد چې وګوري چې څه حال يې دی. و يې ليدل چې مستري ناست دی او خواړه او اوبه يې مخ ته پراته دي، او ډېر خوښ دی. پاچا دننه ورننوت، او بيا هم د تبر په څېر کار وشو. هغوی بيا لاړل چې د تبرې شپې په څېر ويده شي، او سهار سړی راپورته شو او له پاچا سره روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا پوښتنه ځنې وکړه، «خواړه دې له کومه پیدا کړل؟ پیسې دې چېرې وګټلې؟»

مستري ځواب ورکړ، «هغه کار چې ما به تل کوی دا و چې شیان به مې ترمیمول، خو پاچا یو قانون وضع کړی دی چې هېڅ شی باید د بیاجوړونې له پاره بل چاته ورنه کول شي. نو ما لرګي مات کړل او په دې توګه مې دومره پیسې ترلاسه کړې چې زما اړتیاوې یې راپوره کړې.»

د مستري څخه تر تلو وروسته، پاچا یو فرمان صادر کړ چې دا منع ده چې څوک دې د لرګیو د ماتولو له پاره ونیول شي. او کله چې سړی خپل مشتري ته راغی چې لرګي مات کړي، مشتري یې ورته وویل چې پاچا داسې یو بندیز لګولی چې نه پرېږدي چې یو څوک دې د بل چا لرګي پرې کړي. هغه له دې امله اندېښمن شو، ځکه چې هغه پیسې نه لرلې، خو پر خدای یې یقین درلود. هغه یوڅه وخت وګرځېد، او یو سړی یې ولید چې د ځارویو غوجله خپله پاکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي پوښتنه ځنې وکړه، «ستا په څېر يو څوک ولې بايد يوه غوجله خپله پاکه کړي؟

هغه ځواب ورکړ، «ما هره خوا ولټوله، خو هېڅوک مې پيدا نه کړ چې راته پاکه يې کړي، نو پخپله اړ شوم چې پيل يې کړم».

مستري ځواب ورکړ، «اجازه راکړه چې زه يې درته پاکه کړم.»

هغه دننه ورغی اوغوجله يې پاکه کړ. وروسته سړي هغه ته دوې روپۍ ورکړې. هغه يو څو نورې غوجلې هم پاکې کړې او خپلې شپږ روپۍ يې وګټلې. هغه خپل ټول خواړه وپېرل او کور ته ستون شو. او خواړه يوه خوښي وه! او هغه ډېرخوشحاله و.

پاچا بيا دباندې ووت چې وګوري چې څه پېښ شوي دي، خو سړی يې بيا هم خوښ وليد. پاچا بيا ورننوت او شپه يې ورسره تېره کړه، او سهار، مستري يوځل بيا پاچا بدرګه کړ. د تېر په څېر، پاچا له هغه شخه پوښتنه وکړه چې پيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ځنګه ترلاسه کړلې، او هغه د هغه څه په هکله چې ترسره کړي يې وو معلومات ورکړل. پاچا بیا یو فرمان صادرکړ چې هیڅوک نشي کولی چې د بل چا د ځارویو غوجله د اجورې په بدل کې پاکه کړي.

سهار مستري بهر ووت چې غوجلې پاکې کړي، خو هغه ته وویل شول چې پاچا پر دغه ډول کار بندیز لګولی دی. دا چې هغه ډېر انتخابونه نه لرل، نو مستري کمیسارۍ ته لاړ او په پوځ کې يې خپل نوم ورکړ.

یو شمېرعسکر د حکومت له خوا په زور سره په نظام کې شاملول کېږي په داسې حال کې چې نور بیا د معاش په مقابل کې په کار ګومارل کېږي. نو مستري خپل ځان د یوه تنخاخواره عسکر په توګه په کار وګوماره، خو د تقرر پر مدیر يې یو شرط کېښود چې هغه به یوازې د لنډ وخت له پاره له هغوی سره کېږي او دا چې هغه ته به هرسهار اجوره ورکول کېږي. هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته د هغه یونیفورم ورکړ، یوه توره یې ورکړه او خپلې پوستې ته یې ولېږی.

د شپې پر وخت، وروسته له هغه چې هغه خپلې دندې ترسره کړې، خپل یونیفورم یې یوې خواته کېښود، او په خپل معاش یې د ځان له پاره خواړه واخیستل او کور ته لاړ. او خواړه یوه خوښي وه! او هغه ډېر خوشحاله و.

پاچا د پخوا په څېر بهر ووت چې وګوري چې څه حال دی. هغه ولیدل چې د مستري په مخکې هر څه په ترتیب سره پراته دي، او هغه د تل په څېر ډېر خوشحاله دی. پاچا کور ته ورننوت او شپه یې لکه د تېر په ورسره تېره کړه. هغه بیا پوښتنه وکړه چې څه حال دې دی، او مستري هغه ته ټوله کیسه تېره کړه. پاچا مسؤل مامور راوغوښت او ورته ویې ویل چې هغه باید په دغې ورځ خزانې ته هېڅ لاس ورنه وړي چې چاته ترې څه ورکول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل سهار هغه له مامور څخه غوښتنه وکړه چې د هغې ورځې اجوره ورکړي، خو مامور رد کړه. هغه په خفګان سره پوښتنه وکړه، «آیا مونږ داسې هوکړه نه وه کړې چې ته به ماته هره ورځ اجوره راکوې؟» مامور ځواب ورکړ چې پاچا امر کړی دی چې نن دې هیچا ته هم اجوره نه ورکول کیږي.

مستري عذر او زارۍ وکړې، خو هېڅ یې ترلاسه نه کړل. مامور ورته وویل، «سبا ته به زه تا ته د دوو ورځو معاش درکړم، خو نن نه کیږي».

نو مستري څه وکړل؟ هغه له خپلې تورې (خوله) راوایستله، او پرځای یې د لرګي یوه ټوټه داسې ورواچوله چې له دباندې څوک نه پرې پوهېدی. او بیا یې د تورې دا خوله په ګرو ورکړه او د تل په څېر یې خپل خواړه پرې واخیستل. او خواړه، یوه خوښي وه او هغه ډېرخوشحاله و!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا بیا راوګرځېد، او ویې لیدل چې مستري د تل په څېر خوښ دی. هغه د لیدنې له پاره ورغی، شپه یې ورسره تېره کړه، او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې څه حال دی. مستري هغه ته ټوله کیسه وکړه، چې څنګه اړ شو چې د توري خوله له لاستي څخه وباسي او په ګرو یې ورکړي او خواړه پرې راونیسي. هغه وویل، «کله چې ماته د تېرې ورځې معاش راکول شي زه به د توري خوله بېرته راواخلم او د لاس وهنې له کومې نښې پرته به یې بېرته جوړه کړم. زه کولی شم چې هرڅه جوړ کړم! چې پاچا ته به هېڅ تاوان ونه رسېږي»

پاچا خپل حرم ته ورستون شو او د کمیسارۍ مدیر یې ور وغوښت. هغه وویل، «هلته یو مجرم و چې په مرګ محکوم شوی و. هغه مستري چې د یوه اجیر په توګه یې کار پیل کړی دی راوغواړه، او حکم ورته وکړه چې د بندي سر پرې کړي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ❁ یوه د باور کیسه ❁

مدیر مستري وروغوښت او پاچا ته یې ور وست. پاچا بیا خپلو ټولو وزیرانو ته حکم وکړ چې راشي او د ټوکې سیل وکړي، هغوی ته یې وویل چې د هغه یوه عسکر د خپلې تورې خوله د لرګي په یوه ټوټه بدله کړې ده.

مستري خپل ځان د پاچا مخ ته حاضر کړ، پر خاورو پرېوت، او پوښتنه یې وکړه، «اعلیحضرته، ولې دې راغوښتی یم؟»

پاچا ځواب ورکړ، «چې د یوه مجرم سر پرې کړې».

مستري عذر او زارۍ وکړې او ویې ویل، «خو ما هېڅکله هم څوک نه دی وژلی! هیله ده چې یو بل څوک راوغواړې چې دا کار وکړي».

پاچا ځواب ورکړ، «نه، او یوازې ته باید اوس حکم ترسره کړې».

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستري پوښتنه وکړه، «آیا قضیه په ریښتیا هم روښانه ده؟ ښایي دا خبره پوره یقیني نه وي چې هغه دې د وژنې وړ وي. ما هېڅکله هم په خپل ژوند کې څوک نه دی وژلی. څنګه کېدی شي چې زه داسې یو څوک ووژنم چې هغه ان د وژلو وړ نه وي؟»

پاچا ځواب ورکړ، «په دې کې هېڅ داسې پوښتننه نشته چې هغه دې د مړینې مستحق نه وي. د هغه محاکمه وشوه او مجرم وپېژندل شو. ته او یوازې ته باید اوس هغه ووژنې».

مستري ولیدل چې نشي کولی چې پاچا له خپلې خبرې څخه وګرځوي. نو د اسمان خوا ته یې وکتل او ویې ویل، «لویه خدایه، ما په خپل ژوند کې هېڅکله هم څوک نه دی وژلی. که دغه سړی د مرګ مستحق نه وي، زما د تورې خوله د لرګي وګرځوې!»

په دې توګه هغه خپله توره راوابسته، او هرچا ولیدل چې خوله یې د لرګي یوه ټوټه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یوه د باور کیسه**

ټولو هغو کسانو چې هلته حاضر وو ټوکې ته وخندل. پاچا پوه شو چې مستري څومره ښه سړی دی، او هغه یې په ارام سره کور ته ولېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرغه

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا و چې ستوري پېژندونکی و. یو کال هغه [په ستورو کې] ولیدل چې که غنم له یوه ټاکلې وخت څخه مخکې لو نشي، ټول غنم به خراب شي او داسې نور. هغه ولیدل چې وخت ډېر لنډ دی.

هغه داسې پرېکړه وکړه چې لوګرو ته باید هر ډول اسانتیاوې برابرې کړي او د هغوی ټولې اړتیاوې ور پوره کړي ترڅو هغوی په پوره ارامو مغزو سره شپه او ورځ کار وکړي نو په دې توګه به فصل تر ټاکلې نېټې مخکې ټول کړي.

خو کارکوونکو د پاچا د هیلې خلاف کار وکړ، او هغوی په خوشحالۍ کې دومره ډوب شول چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لو یې هېر شو. وخت راغی، غنم نه وو رېبل شوي، او ټول خراب شول.

له خلکو څخه لاره ورکه شوه. ځکه هغوی پوهېدل چې پاچا به سخت په غوسه وي. یوه پوه سړي هغوی ته یو نظر ورکړ چې پاچا له یوې ځنګړې چوغکې سره سخته مینه لري. که تاسې هغه ته هغسې یوه چوغکه وروړي، هغه به دومره خوښ او خوشحال شي چې هر څه به دروبخښي. خو د هغې چوغکې نیول ډېر سخت و، ځکه چې هغه په هوا کې ډېره جیګه اوسېده. او دوی زینه نه لرله، او بلې خوا ته وخت هم لږ پاتې و.

هغه پوه سړي دوی ته یو بل نظ هم ورکړ. هغه ورته وویل چې تاسې خو ډېر خلک یاست، کېدی شي چې یو د بل د پاسه و دریږئ او تر چوغکې پورې ځان ورسوئ.

خو هغوی یو له بل سره لانجې پیل کړې، ځکه چې هر یوه غوښتل چې پاس په سر کې اوسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مرغه**

داسې چې ملګرى يې ترې لاندې وي. هغوى په خپلو کې د شخړو له امله هيڅ هم ونشو کولى، تردې چې چوغکه والوته او پر خپله مخ لاړه. پاچا پر دوى همغسې په غوسه شو ځکه چې فصل يې پر وخت نه و رېبلى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چوغکه او هګۍ

یوې چوغکې ډېرې هګۍ اچولې وې، دا دومره ډېرې وې چې هغې په هیڅ ډول نشول کولی چې ټولې و ټومبي او بچې ځنې راوباسي. نو خدای پاک هغې ته داسې یو حیواني شعور ورکړ چې خپلې هګۍ په پټه د بلې چوغکې په ځاله کې کېږدي. بیا هغې خپلې هګۍ په یوه بله ځاله کې کېښودل، او همدې کار ته یې ادامه ورکړه.

هغه نورې چوغکې نه پوهېدلې چې هګۍ د هغوی خپلې نه دي، نو هغوی و ټومبلې تر هغو چې بچې یې ځنې راوایستل. او دغه [ځانګړې] چوغکې یو شمېر هګۍ د خپل ځان له پاره پرېښودلې، او پخپله پرې کېناستله تر هغه چې بچې یې ترې وزېږول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۞ چوغکه او هګۍ ۞

وروسته بيا چوغکه له خپلو بچيانو سره والوتله، او ترهغه وخته پورې وچغېدله چې ټولو هغو مرغان چې په نورو ځالو کې زيږېدلي وو دغه د دې غږ و پېژندلی. د هغوی پام چوغکې ته وروا وښت او سم دلاسه هغې ته راغلل. دا چې په واقعيت کې هغوی د هغې اولادونه وي نو هغې ته ورګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قندیل

یو وخت یو څوک له خپله کوره لاړ او ډېرکالونه په یوه لیرې سیمه کې له ناپېژاندو خلکو سره و اوسېد. یو څه وخت وروسته بیرته را ستون شو. ده په ځان له دې کبله ویاړ کولی چې د قندیلونو جوړولو هنر یې زده کړی و. هغه [خپل پلار] ته وویل چې د دغه هنر ټول [ځایي] استادان وروغواړي چې دی ورته خپل هنر څرګند کړي.

د هغه پلار ټول قندیل جوړوونکي راټول کړل چې هغه وړتیا ووینې چې د ده زوی له نورو سره د اوږدې مودې تېرولو پر وخت ترلاسه کړې ده، خو کله چې یې زوی هغه ډېوه راوابېسته چې ده جوړه کړې وه، هغوی ټول پوه شول چې ډېوه ډېره زیاته بدرنګه ده. ترهغه وروسته یې پلار هغوی ته ورغی او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



صنعتګرانو څخه يې د هغوی د ريښتينې نظريې پوښتنه وکړه. هغوی پرته له دې چې ريښتيا ووايي بله هيڅ لاره نه لرله، او هغه دا چې ډېره بېډوله ده.

وروسته زوی [خپل پلار ته] په لاپه وويل، «زما د هنر پوهه دې وليدله؟»

پلار ځواب ورکړچې ټول وايي چې ښکلې نه ده.

زوی ځواب ورکړ، «پرعکس د دغې ډيوې له لارې هر يوه ته د هغه د کميو په ورپه ګوته کولو سره ما خپل مهارت و ښود. په دغه ډيوه کې ما د دغه هنر د ټولو ځايي استادانو کمزورتياوې شاملې کړې دي. ودې نه ليدل چې يوه يې يوه برخه بدرنګه وګڼله خو بله برخه يې په ښه ډول جوړه شوې وګڼله. په داسې حال کې چې بل بيا هغه برخه چې هغه بدرنګه ګڼلې وه ښکلې او عجيبه وګڼله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی ټولو خبرې سمې دي. څه چې یو یې بد ګڼي بل ته ښه ښکاري، او هغه چې لومړی یې ښه ګڼي بل ته ښه نه ښکاري. ما دغه ډیوه یوازې له کمزوریو څخه جوړې کړې ده او بس، او دا د دې له پاره چې هغوی ټولو ته وښیم چې هغوی کمال نه دی ترلاسه کړی. هریو یوه کمزورتیا لري، ځکه څه چې د یوه له پاره ښایسته وي هغه د بل له پاره نیمګړي دی، خو که زه وغواړم زه کولی شم چې یوه ډېره ښه ډیوه جوړه کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوسۍ

يو ځل يوه پاچا يوه هوسۍ پسې اخيستې وه، خو نيولی يې نشوه. پاچايي وزيرانو هغه ته مخ کړ او ورته ويې ويل، «اعليحضرته، راځه چې بېرته ځو».

پاچا ځواب ورکړ، «زه بايد دغه هوسۍ ونيسم، خو هرڅوک چې غواړي چې بېرته ولاړ شي کولی شي چې لاړ شي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قیمتي کاڼی

یو وخت یو ښوونکي سړی و چې د ژوند لګښت به یې د خاورې له کیندلو او پلورلو څخه ترلاسه کاوه. یوه ورځ، چې هغه خاوره کیندله یو قیمتي کاڼی یې وموند چې ډېر زیات ارزښت یې درلود. دا چې هغه د کاڼي په ارزښت نه پوهېدی نو یوه پوه سړي ته یې وروړ چې ارزښت یې ورته څرګند کړي. هغه ده ته وویل، «په دې وطن کې یې هېڅ څوک هم د اخیستلو وس نه لري. ته باید د لندن امپراتورۍ ښار ته ولاړ شې.»

خو هغه یو ښوونکي سړی و! هغه د سفر اسانتیاوې نه لرلې، نو هرڅه یې چې لرل هغه یې خرڅ کړل، او کور په کور وګرځېد او پیسې یې ټولې کړې. په پای کې یې دومره پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړې چې کولی یې شول د سمندر تر غاړې پورې پرې ورسېږي.

هغه غوښتل چې په یوه کښتۍ کې سپور شي خونورې پیسې یې نه لرلې، نو کښتیوان ته ورغی او هغه قیمتي کاڼی یې وروښود. کښتیوان سمدلاسه هغه ته په ډېر درنښت سره په کښتۍ کې د سپرېدلو له پاره ښه راغلاست وویل، او ویې ویل، «بې له شکه چې ته یو ډېرشتمن او مهم سړی یې.» هغه ده ته یو د لومړۍ درجې کابین ورکړ او داسې چلند یې ورسره وکړ لکه دی چې د پاچایۍ کورنۍ سړی وي.

د هغه کابین د سمندر لوري ته یوه لاره لرله، او هغه هلته کېناست، چې په منظمه توګه یې قېمتي کاڼي ته کتل او خوند یې ترې اخیست. هغه به په ځانګړې توګه د خوړو پر وخت دا کار کاوه، ځکه چې په ارام او خوښۍ سره خواړه خوړل د هاضمې له پاره هم ډېر ګټور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ هغه کېناست چې خواړه وخوري، او الماس یې خپل مخ ته پر مېز ایښی و ترڅو خوند ترې واخلي. دی هلته ناست و چې خوب یوړی. په همدغه وخت کې، د کابین هلک (په داسې حال کې چې له الماس څخه خبر نه و) سرمېزي او د خوړو میده ګي پورته کړل او هر څه یې په سمندر کې وغړځول. کله چې سړی راویښ شو او پوه شو چې څه پېښ شوي دي، دومره خپه شو-چې ان د لېونتوب تر کچې پورې ورسېد. هغه څه کولی شوی؟! کښتیوان داسې یو قاتل انسان و چې په دې کې هېڅ شک نه پاتې کېدی چې د کرایې د نه ورکولو له امله دې دی ووژني. په دې توګه، هغه خپل چلند ته په خوښۍ سره دوام ورکړ، او داسې یې ښودله لکه هېڅ چې هم نه وي پېښ شوي.

کښتیوان چې د عادت له مخې به یې هره ورځ له ده سره څو ساعته خبرې کولې، په دې ورځ هم راغی. هغه خپل مورال داسې لوړ وښود چې کښتیوان پوه نشو چې څه بده پېښه دې شوې وي. کښتیوان هغه ته وویل، «زه په دې پوهېږم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یو ښه او باوري سړی یې. زه غواړم چې ډېر زیات غنم واخلم او په لندن کې یې خرڅ کړم او ډېره ګټه پکې وکړم، خو زه ډارېږم چې په ما باندې به داسې تور ولګېږي چې د پاچا له خزانو نه مې غلا کړې ده، نو زه به داسې ترتیب ونیسم چې غنم ستا په نوم واخیستل شي. زه به ستا د زحمت په بدل کې تاته ښه اجوره درکړم.»

غریب سړي هوکړه وکړه او معامله ترسره شوه، خو څنګه چې هغه لندن ته ورسېد، کښتیوان مړ شو. د کښتۍ د غنمو ټول بار د غریب سړي په ملکیت کې پاتې شو، چې ارزښت یې د الماس تر ارزښت ډېر زیات و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مېلمه

د رخصتۍ په شپه، د ډېوو تر بلولو وروسته، يوه مېلمه د کور له څښتن څخه مېلمه پالنه وغوښته. مېلمه له خپل کوربه څخه پوښتنه وکړه، «ته د ژوند څوری څنګه ګټې؟»

هغه ځواب ورکړ، «زه مې له ملکيت څخه منظم عايد نه لرم، خو زه د ژوند د خرڅ ترلاسه کولو له پاره سفر کوم».

نو مېلمه پوښتنه ځنې وکړه، «ته کوم [سپېڅلي کتابونه] لولې؟» او هغه ځواب ورکړ.

هغوی دومره مخکې لاړل چې خبرې اترې يې د زړه حساسو موضوعاتو ته ورسېدې. د کوربه په زړه کې د سپېڅلتيا د يوې لوړې مرتبې د ترلاسه کولو هيله پيدا شوه. مېلمه هغه ته وويل، «زه به له تا سره درس ووايم» او کوربه حيران

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۞ مبلمه ۞**

شو [چې مبلمه د ده د ذهن په حال ځنګه پوه شو]. هغه داسې ګومان وکړ چې د هغه مبلمه يو روحاني شخص دی، خو بيا يې دغه تصور پرېښود، ځکه چې ويې ليدل چې هغه له ده سره د يوه عادي شخص په توګه خبرې کوي. سمدلاسه [د نا اشنا شخص پر سپېڅلتيا باندې] د هغه عقيده بيا کلکه شوه، اوهغه ته يې په «پيرصاحب» سره خطاب وکړ.

کوربه مبلمه ته وويل، «ترټولو مخکې، زه غواړم چې ته ما پوه کړې چې زه ځنګه خپل ځان سم کړم او تاته لکه ځنګه چې ښايي هاغسې درناوی وکړم. په دې کې شک نشته چې زه به هېڅکله هم له تاسره (خدای مه کړه) سپک چلند ونه کړم خو په مناسبه اندازه د درناوي کولو ته پام کول هم سخت دی، نو زه غواړم چې ته يې ماته راوښيې چې ستا درناوی په څه ډول وکړم».

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځواب ورکړ، «اوس زه وخت نه لرم. په دې هکله به بیا یو بل وخت سره وګورو، اوس باید زه لاړ شم».

کوربه ورته وویل، «زه غواړم چې ته دا هم راته ووایې چې: زه باید ترکوم ځای پورې تا بدرګه کړم».

مېلمه ځواب ورکړ، «له دروازې څخه دباندې ځای پورې».

کوربه له ځان سره فکر وکړ، «زه څنګه کولی شم چې له هغه سره بهر لاړ شم؟ دا وخت خو مونږ له نورو خلکو سره یو، خو که زه له هغه سره یوازې بهر لاړ شم، څوک پوهېږي چې هغه څه ډول مخلوق دی؟»

مېلمه پوښتنه ځنې وکړه چې ولې په سوچ کې ډوب شولې، او هغه ځواب ورکړ، «زه ډارېږم چې له تا سره بهر وځم».

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مېلمه

مېلمه ورته وویل، «تا ولیدل چې زمونږ د زده کړې مجلس په لوړه سویه و؛ نو که ما غوښتلی چې په تا باندې څه وکړم، چا به مې مخه نیولې وای؟» نو هغه له هغه سره له دروازې څخه ووت.

بیا مېلمه ناڅاپه کوربه ونیو او ورسره والوت. د سړي ساړه کېدل، نو مېلمه یوه جامه راواخیسته او هغه ته یې ورکړه، او ورته ویې ویل، «دا کالی واخله، په کار به دې شي؛ ته به خواړه، اوبه او ټول ښه شیان ولرې، او ته به په خپل کور کې واوسېږې». او دواړه سره والوتل.

په همدغه وخت کې، هغه وکتل او ویې لیدل چې په خپل کور کې دی! هغه نه غوښتل چې په خپلو دې احساساتو باندې باور وکړي چې دی په رښتیا سره په خپل کور کې دی، خو ویې لیدل چې له خلکو سره خبرې کولې، او د نورکله په څېر یې خوړل او څښل. خو بیا به چې هغه خپل ځان ته وکتل، نو و به یې لیدل چې، د مخکې په څېر الوتی دی. بیا یې وکتل، او ویې لیدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې دی؛ خو بیا یې ولیدل، او و یې کتل چې په الوتی دی. دا کار د ښه وخت له پاره همداسې روان و.

وروسته، مېلمه هغه د دوو غرونو ترمنځ په یوه دره کې ښکته کړ. هلته هغه یو کتاب وموند چې د نړۍ د پیدایښت د ډېرې پخوانۍ الفبا توري پکې وو. په کتاب کې د لوبو رسمونه وو، او په لوبو کې دننه په خپله د لوبو توري وو. د دغو تورو په کارولو سره سړي کولی شول چې لوبې جوړ کړي. هغه ډېره زیاته هیله لرله چې دغه کتاب ولولي. په داسې حال کې چې دا حالت روان و پام یې واوښت او ویې لیدل چې په خپل کور کې دی. خو بیا وکتل، او چې ویې لیدل نو [په هغه دره کې] و.

هغه پرېکړه وکړه چې غره ته وروخېژي؛ چې ښایي څه ابادي ومومي. څنګه چې یې غره ته مخه کړه یوه د سرو زرو ونه یې ولیده چې څانګې یې د سرو زرو وې. په څانګو پورې یې لوبې راځوړند وو، او دا داسې لوبې وو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۞ مېلمه ۞

په کتاب کې چې ښکارېدل. په لوښو کې دننه نور وسایل وو، چې په هغو باندې یو چا کولی شول چې لوښي جوړ کړي.

ده غوښتل چې [له ونې څخه] لوښي راواخلي خو نه یې شول کولی ځکه چې هغه د تاو راتاو څانګو په تاوونو کې نغښتې وو. بیا یې وکتل، او چې ویې لیدل نو په خپل کور کې و.

دا د هغه له پاره حیرانوونکې وو، دا پېښه چې په یوه شېبه کې هغه دلته و، او په بله کې هلته. هغه غوښتل چې په دې هکله خلکو ته ووایي، خو داسې یوه د باور نه وړ عجائبه به یې څنګه ورته بیان کړې وای؟ په داسې حال کې چې په دې هکله یې فکر کاوه، هغه [د خپل کور] له کړکۍ څخه بهر وکتل او مېلمه یې [بیا] ولید. ده له هغه څخه وغوښتل چې دننه ورشي. مېلمه وویل، «زه اوس وخت نه لرم، ځکه زه ځم چې تا وګورم».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ورته وويل، « دا ما ته ببخي د عجوبې په څېر ښکاري. زه خو دلته یم، دا نو څه معنی چې ته ځې چې ما وويني»؟

هغه ځواب ورکړ، «په هغه شېبه چې تا ومنله چې له ما سره لاړ شې او له دروازې ایسته زما ملګرتیا وکړې، ما ستا عالي روح واخیسته او د جنت د ټیټ پوړ په کالیو کې مې ونغښتله، خو ستا ټيټه روح له تا سره پاتې شوله. نو کله چې ته خپل فکرونه په هغه ځای پورې وتړې، ته هلته یې، او د هغه ځای په واسطه نوراني یې. او کله چې ستا ذهن دلته راګرځي، بیا نو ته دلته یې».

زه نه پوهیږم چې هغه د کومې نړۍ دی، خو په دې کې شک نشته چې هغه د یوې ښې نړۍ دی. او دا لا تر اوسه هم بشپړه نه ده، او پای ته نه ده رسېدلې ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیک

یو وخت په یو ځای کې یو د پاچا زوی و چې له خپل پلار څخه لیرې و او هغه یې ډېر زیات یادېدی. یوه ورځ یې د پلا یو لیک ورته راغلی چې ډېر پرې خوشحاله شو. هغه ډېره زیاته علاقه مندي وښوده چې لږترلږه خپل لاس وغزوي او که له هغې خوا څخه هم یو لاس را اوږد شي، دی به یې کلک ونیسي او ښکل به یې کړي.

زوی یې بیا داسې سوچ وکړ چې لیک خپله د پاچا د لاس لیک دی، نو هغه د پاچا «لاس» دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو ډول مرغه

په نړۍ کې يومرغه دی چې په خپل ډول کې همدا يو پيدا شوی دی. کله چې هغه زړېږي نو کمزوری کيږي. کله چې هغه په خپله کمزورۍ پوهيږي نو يوه ټاکلي غره ته ورالوزي چې هلته هغه د ډول خوږوږمو بوټو څوکري راټولوي او د ځالي جوړولو له پاره ترې کار اخلي. هغه تر هغه وخته پورې په ځاله کې کېني چې داسې احساس وکړي چې قوت يې بېرته ترلاسه کړ. هغه بيا الوزي او ترټولو لوړو ځايونو پورې الوتل کوي تر دې چې د لمر تر ببخه پورې ورسيږي. لمر هغه سوزوي، او هغه سمندر ته رالويږي او په کې ډوبيږي. سمدلاسه وروسته همداسې يو بل مرغه پيدا کيږي چې د هغه ځای نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پمپ

یو وخت په یوځای کې یو سړی و چې د خلکو په دې خبرو به یې باور نه کاوه چې د شیطانانو په پاچایۍ کې داسې ټوکي شیطانان هم شته چې کله کله راځي او خلک بې لارې کوي. هلته یوشمېر داسې پیښې شوې هم وې، خو بیا هم دغه سړي پرې باور نه کاوه.

یوه شپه یو ټوکي شیطان هغه ته راغی او غږ یې وروکړ چې دباندې راووځه. هغه دباندې ورووت، او شیطان هغه ته یو ښایسته آس چې د خرڅلاو له پاره و، ورښکاره کړ. هغه آس وکوت او ویې لیدل چې په رښتیا هم چې ډېرښایسته آس دی. هغه پوښتنه وکړه: « په څو یې خرڅوې؟»

شیطان ځواب ورکړ: « په څلور روپۍ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی پوه شو چې د آس قیمت خو لږترلږه اته روپۍ دی. هغه یو اصلي او د ښه ذات آس و. هغه آس په څلور روپۍ واخیست او فکر یې وکړ چې ښه ګټوره معامله یې وکړه.

بله ورځ یې آس را واېست چې خرڅ یې کړي. خلک راغلل، او د آس پر سر یې ده ته یو څه ګټه ورکوله. هغه له ځان سره وویل، «ښکاره خبره ده چې که هغوی غواړي چې ماته هغه پیسې راکړي بې له شکه چې آس د دې دوه برابره ارزښت لري». نو دی د آس تر خرڅولو تېر شو.

هغه آس بل ځای ته راوست، او خلک دې ته هم تیار ول چې د ده د غوښتې قیمت دوه برابره ورکړي. هغه له ځان سره وویل، «داسې ښکاري چې د آس ارزښت د دغې اندازې پیسو له دوه برابره څخه هم ډېر دی».

هغه آس همداسې مخکې راوست، راوست تر دې چې قیمت یې زرګونو ته ورسېد. هغه بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه منله چې پر چا باندې يې خرڅ کړي، ځکه چې د هرڅو وړانديز به چې ورته وشو، نو ده به ويل، «داسې ښکاري چې د هغه ارزښت د دې دوه برابره دی». په پای کې داسې وشول چې له پاچا پرته يې بل هيچا د اخيستلو وس نه درلود.

کله چې يې آس پاچا ته راوست، پاچا يې په بدل کې د ډېرو زياتو پيسو وړانديز وکړ، ځکه چې هرچا دا منله چې آس يو ډېر ښه آس دی خو سړی له پاچا سره هم هوکړې ته ونه رسېد، ځکه چې ويل يې، «داسې ښکاري چې د آس قيمت تر دې هم ډېر دی». په دې ډول، نو پاچا هم ونشول کولی چې آس ځنې رانيسي.

سړی له پاچا څخه لاړ او آس يې اوبولو ته بوت. هلته يې يو پمپ وموند چې څارويو ته يې اوبه ورکولې. آس د سړي له لاسه پمپ ته ورټوپ کړ او ورک شو او له منځه لاړ (يعنې هغه ته داسې ښکارېده، که نه په حقيقت کې د آس ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع يو خيال و چې ټوکي شيطانانو جوړ کړی و).

سړي د وریښن شوي حالت له امله چيغې پيل کړې، او خلکو چيغې واورېدې او پر هغه باندې ورټول شول. هغوی پوښتنه ځنې وکړه، «ولې چيغې وهې؟» هغه ځواب ورکړ چې آس مې په پمپ ننوت. خلکو هغه سخت وواهه ، ځکه چې هغوی فکر کاوه چې دی لېونی دی. د پمپ خوله ډېره وړه وه. څنګه کېدای شول چې آس دې په هغه ورننوتلی وای؟!

هغه پوه شو چې هغوی دی د دې له پاره وهي چې هغوی ته لېونی ښکاري، او ده غوښتل چې له هغه ځای څخه لاړ شي. څنګه چې هغه تیاری و نیوی چې لاړ شي، آس له پمپ څخه خپل سر راوابېست! هغه بیا چیغې پیل کړې، «آه آه!» ځکه چې داسې خیال يې وکړ چې آس يې هلته دی. خلک بیا د هغه پر چاپېر ورټول شول او هغه يې بیا وواهه، ځکه چې هغه د مخکې په څېر بیا لکه د لېوني غوندې کار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ❂ پمپ ❂

بیا هغه وغوښتل چې لاړ شي، خو څنګه چې یې ځان تګ ته تیاراوه، آس بیا خپل سر له پمپ څخه راوایست. هغه بیا لکه د مخکې په څېر چیغې پیل کړې، او خلک پرې ورټول شول او هغه یې یو ځل بیا وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باران

یو پاچا یو وخت ښکار کولو ته لاړ، او سفر ته یې د یوه عام سړي په څېر کالي واغوستل، څو خپل کار په ښه ډول ترسره کړي. ناڅاپه یو سخت باران په ورېدو شو– یو سېل راغی! د پاچا وزیران یو پر یوه لاره لاړ او بل پر بله، او پاچا له سخت خطر سره مخامخ شو. هغه لټون پیل کړ تر دې چې یو ساده غوندې کور یې پیدا کړ. هغه کلیوال چې هلته اوسېدی هغه پاچا کورته دننه بوت، کالي یې ورته بدل کړل، او هغه ته یې هغه د وربشو خواړه په مخکې کېښودل چې په کورکې یې لرل. هغه بخاری ولګوله او پرې یې ښود چې پاچا له بخاری سره نژدې پر هوارو شویو تختو باندې ویده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د پاچا له پاره ډېره خوږه او په زړه پورې ولګېده. هغه دومره ستړی او ستومانه شوی و چې داسې يې احساس کړه لکه هغه چې هېڅکله هم داسې خوندور حالت نه وي ليدلی. په دې وخت کې، پاچايي وزيرانو د پاچا لټول پيل کړل ترهغه چې په دې کور کې يې پيدا کړ او چې ويې ليدل نو پاچا ويده و.

هغوی غوښتل چې هغه له هغوی سره يوځای ببرته کور ته ستون شي. پاچا وويل، «تاسو زما د ژغورلو هڅه هيڅ ونه کړله. تاسو هر يوه منډه کړه چې خپل ځان بچ کړئ، خو دغه سړي زه خلاص کړم. دلته ما تر ټولو خوږه تجربه ولیده، نو دی به ما په خپله بګۍ کې په دغو کاليو کې درولي او همدی به ما زما پر تخت باندې کېښنوي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خرابه دانه

یو پاچا یو وخت خپل لومړي وزیرته چې د هغه ښه ملګری هم و، وویل، «زه په ستورو کې وینم چې هرڅوک چې هره هغه غله دانه چې سږکال شنه کېږي وخوري هغه به لېونی شي. ستا مشوره څه ده؟»

لومړي وزیر ځواب ورکړ، «مونږ باید دومره غله وساتو چې دې ته مو اړتیا پیښه نشي چې د سږکال د فصل غله وخورو.»

پاچا و منله، او و یې ویل چې موږ باید د سږ کال غله و نه خورو، او د دې غلې په په خوړلو سره که د ټولې نړۍ خلک لېوني سي نو موږ به جوړ یو. او که په دې سره هغو ته موږ لېوني ښکاره شو، نو څه پروا کوي! دا دلیل نه سي کېدلای چې موږ باید هغه غله وخورو چې خلک لېوني کوي. نو پرېکړه یې وکړه چې باید د ځان له پاره غله وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خزانه

یوه سړي یو وخت خوب ولید چې په [یوه ځانګړي ښارکې] تر یوه پله لاندې یوه لویه خزانه ده. نو هغه [هلته] لاړ، او د پله سره نژدې ودرېد، او هڅه يې کوله چې څرګنده کړي چې څه وکړي. هغه نشول کولی چې خزانه د ورځې له مخې ولټوي ځکه چې هلته نورو خلکو په منظمه توګه تګ راتګ کاوه.

یو پولیس چې له هغه ځایه تېرېدی پوښتنه ځنې وکړه، «ته څه کوې چې دلته ولاړ يې او فکر کوې؟» سړي پرېکړه وکړه چې دا به ترټولو ښه وي چې هغه ته ټوله کیسه وکړي، د هغه مرسته ترلاسه کړي، او بیا هغوی خزانه سره شریکه کړي. هغه پولیس ته ټوله کیسه وکړه. پولیس ځواب ورکړ، «[تاسو خلک] یوازې خوبونو ته اهمیت ورکوئ! ما هم یو خوب لیدلی و، او ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم يوه خزانه وليده. هغه په [داسې او داسې يوه ځای] کې وه.»

د هغه د خوب په اړه، پوليس د سړي د ښار نوم او د سړي نوم ذکر کړل، او داسې يې پای ته ورسوله، «په خوب کې هلته په تلخونه کې يوه خزانه وه، خو ته فکر کوې چې [زه دومره کم عقل يم] چې هلته دې ورشم؟»

نو سړی بېرته کور ته ستون شو، خپله تلخونه يې وکيندله، او خزانه يې وموندله. هغه وويل، «زه اوس پوه شوم چې ما لا له پخوا څخه خزانه لرله، خو د دې له پاره چې ويې مومم، ما بايد سفر کړی وای...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ماڼۍ

په یوه ځای کې دوې ماڼۍ دي چې دواړې سره ببخي سره ورته دي. خو په یوه کې یو پاچا اوسي او په بله کې یو غلام. ښکاره خبره ده چې د پاچا د ماڼۍ او د غلام د ماڼۍ تر منځ یو ډېر لوی توپیر دی، خو دا شونې ده چې هغه دواړه سره غلطې شي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**